CSRS

# افغانستان او چین

دوه اړخیزې اړیکې (۱۹۵۵ - ۲۰۱۵)



احمد بلال خلیل

بسم الله الرحمن الرحيم

افغانستان او چین دوه اړخیزې اړیکې (۱۹۵۵-۲۰۱۵)

---

لیکوال
**احمد بلال خلیل**
چاپشمېر
**۱۰۰۰ ټوکه**
چاپ کال
**(۱۳۹۶ هـ ش)**
خپرندوی
**د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز**
بیه
**۱۵۰ افغانۍ**

---

د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز
خوشحال خان مېنه، کابل-افغانستان
**د اړیکې شمېرې:** ۰۷۸۴۰۸۹۵۹۰ (۹۳+) - ۰۲۰۲۵۶۴۰۴۹ (۹۳+)
**برېښنالیک:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

**له لیکوال سره اړیکه:**
**abilalnajeeb@gmail.com**

**د افغانستان او چین اړیکې (۱۹۵۵ - ۲۰۱۵)**

څېړنه

---

د دغه کتاب ټول حقوق © ۱۳۹٦ له ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز سره خوندي دي.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز یو غیر انتفاعي، غیر حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ کال کې تاسیس شوی دی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو ارزولو او د هغو د پراختیا لپاره فعالیت کوي. د نورو معلوماتو لپاره د مرکز وېبپاڼه وګورئ. (com.csrskabul.www)

## د مرکز خبره

افغانستان جګړه‌ځپلی هېواد دی او د تېرو څو لسیزو جګړو د هېواد هر څه وران کړي دي. له ښې حکومتولۍ رانیولې تر اقتصادي زېربناوو، بشري توان، کاري فرصتونو او نورو پورې. له همدې امله د هېواد بیارغونه هم همدومره ډېرو هلو ځلو ته اړتیا لري.

دغه جګړه او د هېواد ویجاړی یوازې د افغانانو په لاس نه دی شوی؛ بلکې د نورو هېوادونو رول هم پکې جوت و. د نړۍ دوو زبرځواکونو (امریکا او روسیې) په تېرو دېرشو کالو کې دغې جګړې ته ټول وسایل برابر کړي؛ نه یوازې وسایل بلکې خپل پوځونه یې هم دلته رالېږلي دي. د نړۍ نور هېوادونه هم په دې جګړه کې ښکېل وو او دي؛ او دا چې د افغانستان د ورانېدو تر شا د نورو هېوادونو رول جوت دی، اخلاقي ژمنتیا دا ایجابوي چې اوسمهال د افغانستان په بیارغونه کې هم پوره ونډه واخلي.

نن ورځ ټول هېوادونه د بل هر وخت په پرتله یو بل ته ډېره اړتیا لري. هېڅ هېواد له خپل ټول پرمختګ سره له نورو هېوادونو څخه مستغني کېدلی نه شي؛ ځکه هر هېواد په یوه مشخص اړخ کې بډای دی، چې یو بل هېواد بیا په همغه مشخصه خوا کې کمی لري او دوه‌اړخیزې همکارۍ د دغو کمیو پوره کولو ته لاره جوړوي. دغه همکارۍ د نړۍ د ټولو هېوادونو ترمنځ شونې دي او اړتیا یې هم شته ده؛ خو تر ټولو ډېره اړتیا یې بیا د ګاونډیو هېوادونو ترمنځ وي. په دې توګه له یوې خوا د ګاونډیتوب حق پرځای کېږي او له بلې خوا د ګډو ګټو تبادله د ګاونډیانو ترمنځ اسانه وي، ډېرو لګښتونو ته اړتیا نه لري او هم د دغسې

همکاريو زياتېدل په سيمه کې د هراړخيزې ودې او ثبات لامل هم کېږي.

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز هوډ کړی، چې د هېواد په بيارغونه کې د مرستې په پار له ګاونډيو او د سيمې له هېوادونو سره د افغانستان اړيکې په هراړخيز ډول وڅېړي او ترمنځ يې شته فرصتونه په نښه کړي. دا څېړنې روښانه کړي، چې هېوادونه بايد له دغو فرصتونو څخه د ګټې اخېستلو هڅې وکړي او که په اړه يې کومې اندېښنې وي، د لرې کولو لپاره يې څه ډول اقدامات وشي؟ دا ډول څېړنې زموږ د پرمختګ په لوري له شته فرصتونو څخه د ګټې اخېستلو لپاره يو اړين ګام دی؛ خو شرط دا دی چې په دقيق او بې‌طرفانه ډول وشي او د څېړنې علمي معيارونه پکې مراعات شي. نه دا چې د ځينو سياسي ملحوظاتو له کبله، يا د فرصتونو له يادولو سترګې پټې شي او يا هم کم‌اهميته فرصتونه د سياسي موخو لپاره مهم او ستر وښودل شي.

چين د افغانستان هغه پياوړی ګاونډی دی، چې په تېرو پېړيو کې د افغانستان دوست هېواد پاتې شوی او د افغانستان په ورانولو کې يې رول نه دی لرلی. د افغانستان خلک چين ته د يوه ډېر دوست هېواد په سترګه ګوري. تر څنګ يې چين په سيمه او نړۍ کې ستر اقتصادي او نظامي ځواک هم دی؛ خو د خپلو ګاونډيانو په تړاو استعماري او ظالمانه نيت نه لري.

چين له افغانستان سره له زېرمو او سرچينو څخه د ګټې اخېستنې په برخه کې ډېره مرسته کولی شي. افغانستان د بېلابېلو کانونو له پلوه يو بډايه هېواد دی او چين بيا د کانونو د استخراج لويه تجربه لري. افغانستان اوبه او ځمکه دواړه لري، په افغانستان کې اوسنی کرنيز حالت ډېر تقليدي او زوړ دی او د بل هر وخت په پرتله د چين له پرمختللې کرنيزې تجربې څخه استفادې ته اړ دی. افغانستان د يوه جګړه‌ځپلي هېواد په توګه اړتيا لري، چې د وړو او متوسطو توکو د توليد لپاره چينايي پانګې په شراکتي ډول په‌کار واچوي او په دې توګه افغانستان له يوه وارداتي هېواد څخه په يوه توليدي هېواد بدل شي. په ځانګړې توګه په وړو او متوسطو توکو کې لږ تر لږه خپلو داخلي اړتياوو ته ځواب ووايي.

چين د سيمې له هېوادونو سره اغېزناکې ستراتېژيکې اړيکې هم لري، چې د افغانستان په ثبات کې په سم ډول ګټه ترې اخېستل کېدای شي. همدغو اړيکو ته په کتلو سره، چين په افغانستان کې د روانې جګړې په پای ته رسولو کې رغنده رول لوبولی شي. چين د طالبانو له تحريک سره، چې د افغان قضيې يو لوری دی، د تفاهم په کچه کې اړيکې لري. د روسيې او امريکا په تفاهماتو کې هم رول لوبولی شي. د افغاني لورو ترمنځ

د تفاهم او خبرو اترو زمینه هم برابرولی شي. په داسې حال کې چې افغانستان اوس تر هرڅه زیات د سولې ټینګښت او د سیمې په کچه تفاهم او د نیکو اړیکو رامنځ ته کولو ته کلکه اړتیا لري. ځکه نو چین ته د افغانانو سترګه وراوړي، ترڅو خپل دغه رول نور هم ګړندی کړي.

د افغانستان اړتیاوې خو د چین همکاریو ته ډېرې زیاتې دي؛ خو بیا هم دغه اړتیاوې یوطرفه نه دي، په افغانستان کې ثبات او د سولې ټینګښت د سیمې د ټولو هېوادونو د ثبات لپاره د شارګ حیثیت لري. په افغانستان کې د نشه‌يي توکو تولید د ټولې سیمې او بیا ټولې نړۍ لپاره ګواښ دی او د کنترول هڅې یې د سیمې او نړۍ د هېوادونو اتفاقي ټکی دی. افغانستان اوس د سوېلي او منځنۍ آسیا ترمنځ د ترانزیټي پُل حیثیت لري. برېښنا، ګاز او د تولیداتو لېږد رالېږد ټول، افغانستان ته ستراتېژیک اهمیت ورکوي او چین دغه اهمیت پوره درک کوي او له همدې امله یې په خپل بهرني سیاست کې افغانستان ته مهم ځای ورکړی دی.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د افغانستان او نورو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په څېړنه کې د افغانستان-چین اړیکو اهمیت ته په کتلو سره، دغې څېړنې ته اقدام وکړ. په دې څېړنه کې له تاریخي شالید وروسته په هغو فرصتونو خبره شوې، چې افغانستان او چین یې په متبادل ډول لري. همدارنګه په هغو اندېښنو هم خبره شوې چې دواړه هېوادونه کولی شي، په خپل مثبتو سیاستونو او تګلارو سره یې په فرصتونو واړوي.

د سوکاله او باثباته افغانستان په هیله

دکتور عبدالباقي امین

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر

## لړلیک

سریزه ........................................ ۱
افغانستان او چین؛ دوه ګاونډیان ........................................ ۳
د کتاب لیکلو اړتیا ........................................ ۵
د کتاب موخې ........................................ ٦
د کتاب ارزښت ........................................ ۷
د موضوع اړوند د شته لیکنو جاج (Literature Review) ........................................ ۷
د کتاب څېړندود ........................................ ۱۰
د څېړنې پر وړاندې خنډونه ........................................ ۱۲

## لومړی فصل

د چین او افغانستان لرغونې اړیکې ........................................ ۱۵
د پخواني چین د نړیوال سیاست نظام ........................................ ۱٦
د کوشانیانو د چینایي ریښې تیوري ........................................ ۱۷
د وربښمو لاره ........................................ ۱۹
په چین کې د بودیېزم په خپرولو کې د افغانانو رول ........................................ ۲۱
د هپتالیانو چینایي ریښه ........................................ ۲۵
تاریخي - فرهنګي اړیکې ........................................ ۲٦

د دوه‌اړخیزو سیاسي اړیکو تاریخي شالید ........ ۲۹
افغان-چین اړیکې؛ د کوشانیانو په دوره کې ........ ۳۰
افغان-چین اړیکې؛ د غزنویانو په دوره کې ........ ۳۲
افغان-چین اړیکې؛ د تیموریانو په دوره کې ........ ۳۴
افغان-چین اړیکې؛ له احمد شاه بابا د شلمې پېړۍ تر نیمایي ........ ۳۶

## دویم فصل

د افغانستان او چین اړیکې (۱۹۵۰-۲۰۰۱) ........ ۴۰
۱ - لومړی: د هویت او ملګرتوب پړاو (۱۹۵۰-۱۹۶۳) ........ ۴۱
افغانستان او چین؛ «د پامیر دنګو خنډونو هم جلا نه کړای شول!» ........ ۴۴
چین او افغانستان ولې یو بل ته نږدې شول؟ ........ ۴۵
افغانستان ته د چو این لای سفر ........ ۴۹
چین ته د محمد داوود خان سفر ........ ۵۱
چین ته د محمد نعیم خان سفر ........ ۵۱
کابل ته د چین د بهرنیو چارو وزیر سفر ........ ۵۲
د ملګرتوب او نه لاسوهنې تړون ........ ۵۳
د هند او چین د ۱۹۶۲ کال جګړه کې د کابل دریځ ........ ۵۵
۲ - دویم پړاو؛ د دېموکراسۍ لسیزه او چین (۱۹۶۳-۱۹۷۳) ........ ۵۷
چین ته د افغانستان د کورنیو چارو وزیر سفر ........ ۵۸
له چین سره د پولې تړون او پوله په نښه کول ........ ۵۹
چین ته د ظاهر شاه سفر ........ ۶۰
کابل ته د چین د بهرنیو چارو وزیر سفر ........ ۶۲
کابل ته د لیوشاوچي سفر ........ ۶۴
په ملګرو ملتونو کې د چین له غړیتوبه د کابل ملاتړ ........ ۶۶
چین ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر سفر ........ ۷۰
له افغانستان سره اقتصادي مرستې ........ ۷۱
۳ - درېیم پړاو؛ محمد داوود خان او چین (۱۹۷۳-۱۹۷۷) ........ ۷۱
چین ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر سفر ........ ۷۳
د شوروي او چین په سره جګړه کې د کابل دریځ ........ ۷۵

۴ - څلورم پړاو؛ جهاد، امنیتي ګټې او له اخلاقي او ... ۷۹
د ثور له کودتا د شورویانو تر یرغله ۸۱
د شورویانو یرغل پړاو ۸۲
افغان-چین اړیکې؛ چین ولې له افغان مجاهدینو ملاتړ وکړ؟ ۸۲
۵ - پنځم پړاو؛ لږه لاسوهنه او ډېره پاملرنه (۱۹۸۹- ۲۰۰۱) ۹۰
افغان-چین اړیکې؛ د شورویانو له وتلو وروسته او د مجاهدینو له حکومت مخکې ۹۱
افغان-چین اړیکې؛ د مجاهدینو په دوره کې ۹۴
افغان-چین اړیکې؛ د طالبانو د امارت پرمهال ۹۶

## درېیم فصل

افغان-چین اړیکې؛ د سپټمبر له یوولسمې تر اوسه (۲۰۰۱ - ۲۰۱۵) ۹۹
لومړی؛ د حامد کرزي لنډمهاله او منځمهاله حکومتونه ۱۰۰
دویم؛ د حامد کرزي د واکمنۍ لومړۍ دوره ۱۰۶
په امریکا کې د ۲۰۰۸ کال ولسمشریزې ټاکنې او د ... ۱۰۸
د کابل-واشنګټن اړیکو ترېنګلتیا ۱۱۱
درېیم؛ د حامد کرزي د واکمنۍ دویمه دوره ۱۱۲
د کابل په تړاو د بیجینګ بدلېدونکې فعاله ډیپلوماسي ۱۱۵
د افغانستان-پاکستان-چین درې اړخیزې غونډې ۱۱۶
چین ته د حامد کرزي سفر (۲۰۱۲) او د اوږد مهاله اړیکو تاداب ایښودل ۱۱۹
د چین زیاتېدونکې پاملرنه؛ کابل ته د چین د استخباراتو مشر سفر ۱۲۱
د شي جینپینګ راتګ او چین ته د کرزي سفر ۱۲۲
د سیکا د ۲۰۱۴ کال غونډه او چین ته د حامد کرزي سفر ۱۲۶
حامد کرزي؛ له چین سره د نویو اړیکو بنسټ ایښودونکی! ۱۲۷
لومړی پړاو؛ د ښه ګاونډیتوب او ملګرتوب اړیکې ۱۲۸
دویم پړاو؛ اقتصادي اړیکې ۱۲۹
درېیم پړاو؛ ستراتیژیکې او اوږدمهاله اړیکې ۱۲۹
د اشرف غني د واکمنۍ دوره ۱۳۰
د اشرف غني د بهرنیو چارو تګلاره ۱۳۱
د اشرف غني د بهرني سیاست محورونه ۱۳۳

د چین-افغانستان د اړیکو نوی فصل ........................................ ۱۳۴
د ورېښمو لارې بیا احیا ........................................ ۱۳۵
له افغانستان سره د چین مرستې (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې) ......... ۱۳۶
د افغانستان او چین سوداګریزې اړیکې (۱۹۹۹-۲۰۱۵) ........................................ ۱۳۸

## څلورم فصل

په افغانستان کې د چین ګټې، اندېښنې او ... ........................................ ۱۴۲
لومړۍ برخه: په افغانستان کې د چین ګټې ... ........................................ ۱۴۴
امنیتي ګټې ........................................ ۱۴۴
د افغانستان امنیت او د چین داخلي چارې ........................................ ۱۴۴
سینکیانګ او د قاشغر ځانګړې اقتصادي زون ........................................ ۱۵۱
داعش ډله په افغانستان کې ........................................ ۱۵۲
د سینکیانګ طبیعي زېرمې ........................................ ۱۵۴
د نشه‌يي توکو قاچاق ........................................ ۱۵۵
د افغانستان امنیت او د چین سیمه‌ییزې ګټې ........................................ ۱۵۶
په افغانستان کې د چین اقتصادي ګټې (له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۵ کال) ........................................ ۱۵۷
ترانزیټي ګټې ........................................ ۱۶۱
سوداګریزې ګټې ........................................ ۱۶۳
نړیوالې ګټې - نرم ځواک ترلاسه کول ........................................ ۱۶۳
په لومړي ځل په بهرني هېواد کې د سولې په اړه رول لوبول ........................................ ۱۶۷
درېیمه برخه: د افغانستان په تړاو د چین بهرنی سیاست ........................................ ۱۷۱
له پوځي حضور ډډه ........................................ ۱۷۱
چین په افغانستان کې د امریکا د اکمالاتي ترانزیټي لارو برخه نه دی ........................................ ۱۷۱
اقتصادي حضور ........................................ ۱۷۲
مرستې او نرم ځواک ګټل ........................................ ۱۷۳
د امریکایانو د وتلو له اعلان سره یې حضور مخ پر زیاتېدلو دی ........................................ ۱۷۳
له هر لوري سره اړیکې لري ........................................ ۱۷۳
د افغانستان په لور څو اړخیزه ډیپلوماسي ........................................ ۱۷۳
۲۰۱۴ کال او د چین بهرنی سیاست ........................................ ۱۷۵

چین څه ډول افغانستان غواړي؟ ........ ۱۷۵

## پنځم فصل

په چین کې د افغانستان ګټې او د افغانستان بهرنی سیاست ........ ۱۸۰
په چین کې د افغانستان ګټې او بهرنی سیاست ........ ۱۸۲

## وروستی فصل

لنډیز، پایله او سپارښتنې ........ ۱۸۸
وړاندیزونه او سپارښتنې ........ ۱۹۵
لومړی؛ افغانستان ته: ........ ۱۹۵
دویم؛ چین ته: ........ ۲۰۴
چین او افغانستان له یو بل سره په کومو برخو کې مرسته کولای شي؟ ........ ۲۰۹
ضمیمې: ۲۱۳

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

په یویشتمه پېړۍ کې د ځواک انډول د بدلون په حال کې دی. په دې پېړۍ کې د ځواک انډول له لوېدیځه ختیځ ته روان دی او له همدې کبله دغه پېړۍ د ځواک د انتقال یا لېږد په نامه هم یادېږي.

له لرغوني زماني نیولې د تاریخ تر منځني پړاوه، په نړېواله کچه د واکمنۍ قمچینه له ختیځوالو سره وه؛ خو په اروپا کې د رنېسانس او مدرنېزم پړاو له پیل کېدو سره د نړېوال سیاست پر بازار د اروپایانو په تېره بیا د انګریزانو، فرانسویانو او جرمنیانو راج پیل شو. دوو نړېوالو جګړو د اروپایانو دغې پورته کېدا ته د پای ټکی کېښود او داسې د زور په ژبه دغه حق د نړۍ ځوان قوم امریکا، چې آزادي یې په ۱۷۷٦ کال کې اخیستې وه، ترلاسه کړ.

د دویمې نړېوالې جګړې وروسته، په نړېوال سیاست کې دوه رقیبان امریکا او شوروي اتحاد وو؛ خو دوی دواړه بیا د لویدیځ برخې وې. هغه مهال چې د نړېوال سیاست له دغو دوو رقیبانو یو د افغانستان پر دنګو غرونو د خپلې رېندې د ځړولو «خوبونه» لیدل او د همدې «خوب» له کبله بیا د تورو او ژورو ګړنګونو ښکار شو، نو بل رقیب دا سوبه خپله سوبه وګڼله. دا یې د «تاریخ پای[1]» وباله او دا یې د خپلې غربي «ډیموکراسۍ»

---

۱- د تاریخ پای د امریکایي مفکر فرانسس فوکویاما اصطلاح ده، چې د سړې جګړې په وروستي پړاو کې یې د یوې لیکنې په توګه رابرسیره وکړه او وروسته یې پرې یو پنډ کتاب هم ولیکه. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ د فرانسس فوکویاما مقاله Francis Fukuyama, “The End of History,”The National Interest(Summer 1989), pp. 3–18 او کتاب Francis

تلپاتې فتح اعلان کړه. خو کله چې د وارسا له ختمېدو سره ناټو منحل نه شو، نو راتلونکې جګړه پکې د «تمدنونو جګړه[2]» اعلان شوه او کله چې نیوکانزرویتانو (Neo-Conservative) په ۲۰۰۰ کال کې سپینه ماڼۍ اشغال کړه، نو نړیوال سیاست د (Pre-emptive Strikes) د نوې امنیتي دوکترین له کبله پر همغې زړې معقولې روان شو، چې زور حق دی!

په بل اړخ کې، چې کله له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، آسیایي هېوادونو خپلواکي ترلاسه کړې، نو ځینې یې د څو لسیزو دننه د «آسیا پړانګان» شول او ځینو بیا تر څو لسیزو خپل اقتصادي پرمختګ ګړندی وساته. خو د شلمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې د ځینو اسیایي رهبرانو لکه ډاکټر مهاتیر محمد[3] او د لویدیځ لیکوالانو لکه جان پرکېنز[4] په اندونو «آسیایي پړانګان» د «اقتصادي ښکاریانو» له‌خواپه نښه شول. له دې سره، بیا هم، دوو نورو اسیایي هېوادونو- چین او هند- خپل اقتصادي وده او پرمختګ مخ پر پورته وساته.

د آسیا پرمختیایي بانک د یو راپور له مخې، په ۲۰۵۰ کال کې به په نړیواله جي ډي پي یا ناخالص پیداوار کې د آسیایي هېوادونو برخه ۵۲ سلنه وي. له همدې ځایه ده، چې د نړیوالو اړیکو ځینې مفکرین روانه پېړۍ د آسیا پېړۍ بولي[5] او داسې له ۱۷۵۰

Fukuyama, The End of History and the Last Man, New York: Free Press, 1992

۲ د امریکایي مفکر سامیول هنتنګټن اصطلاح او نظریه ده، چې لومړی یې د یوې لیکنې په توګه رابرسېره کړه او بیا یې ورته کتابي بڼه ورکړه. ده په دغه لیکنه او نظریه کې د فوکویاما د تاریخ پای نظریه رد کړه او ویې وویل، تاریخ خپل پای ته نه دی رسیدلی او نه غربي ډیموکراسۍ تلپاتې سوبه ترلاسه کړې، بلکې د سړې جګړې پر ختمېدو به تمدني جګړې پیل کېږي. د ده په اند په نړۍ کې څو ځانګړي تمدنونه دي او په یوویشتمه پېړۍ کې به د دغه تمدنونو ترمنځ جګړې کېږي. د غربي تمدن سره به د اسلامي تمدن او چینایي تمدن جګړې نښلي. دغه هغه څه و، چې په اسلامي او چینایي نړۍ کې یې مفکرین اندېښمن کړل. په دې تړاو وګورئ په فارن آفئیرز کې د ده لیکنه:
https://www.foreignaffairs.com/articles/united-states/۱۹۹۳-۰٦-۰۱/clash-civilizations او کتاب Samuel Huntington, The Clash of Civilizations and the Remaking of World Order, New York: Simon & Schuster, 1996

۳ ډاکټر مهاتیر محمد د مالیزیا پخوانی ولسمشر دی. ده تقریباً ۱۹ کلونه پر مالیزیا واکمني وکړه او په ۱۹۹۷ کال کې، چې د آسیان سازمان غړي هېوادونه په یو ډول اقتصادي بحرانونو کې راګېر شول نو په دغو کې یوازې مالیزیا د مهاتیر محمد د ځانګړي اقتصادي فکر له کبله له دغه ګرداب څخه ووت. له همدغه مهاله ده پر لویدیځ ډېرې نیوکې پیل کړې، او دغه اقتصادي بحرانونه یې مصنوعي وبلل. دی په دې اند وو، چې له غرب څخه د مالیزیا پرمختګ نه هضمیږي. ده په پر لویدیځ همغه ډول نیوکې وکړې، لکه نن یې چې د ترکیې رئیس جمهور اردوګان ځینې مهال کوي.

٤ جان پرکېنیز امریکایي لیکوال دی، چې د خپل کتاب له کبله ډېر مشهور شو. ده په خپل کتاب کې ویلي و، چې دی یو له هغو کسانو څخه و، چې درېیمه نړۍ یې په اقتصادي مستعمرې بدلول. د ده د کتاب نوم دی: The confessions of an economic hit man

۵ که څه هم دغه بحث ډېر پیچلی دی، په دې تړاو ځینې مني، چې روانه پېړۍ به د اسیایانو وي؛ خو ځینې نور داسې هم شته دي، چې روانه پېړۍ د اسیایانو نه بولي. په دې اړه اسیایان روانه پېړۍ خپله بولي، په دې کې ورسره د لویدیز ځینې مفکرین هم

کال وروسته به دا لومړی ځل وي، چې د نړۍ نیمه پرګنۍ لرونکې اسیا به د نړۍ نیم پیداوار تولید کړي.

د اسیا په دغه پورته کېدا کې به د چین رول تر ټولو زیات وي.

له همدې ځایه ده، چې د اوسنۍ نړۍ د ریښتینوالي تیورۍ نامتو امریکایي پروفیسور جان میرشیمر هم د امریکا د (Pivot of Asia) تګلارې موخه د چین د پورته کېدونکي اقتصاد مهارول ګڼي[٦].

د نامتو امریکایي مفکر،پروفیسور او د سافټ پاور اصطلاح مبتکر جوسیف نای هم په دې اند دی، چې په اوسمهالي نړۍ کې نه دا چې ځواک آسیا ته روان دی، بلکې خپله د ځواک فلسفه هم چوي، او نور ځواک پر دریبیو برخو وېشل کېږي: کلک ځواک (Hard Power)، نرم ځواک ( Soft Power) او ځیرک ځواک (Smart Power).

له دغې اوړدې مقدمې مو موخه دا ده، چې په راروانو لسیزو کې نړیوال سیاست د بدلون پر حال دی. باید دغه حالت ته ځیرک واوسو او له دغه بدلون سره ځان عیار کړو. نوره زموږ نړۍ نه د سړې جګړې د مهال نړۍ ده او نه هم له سړې جګړې وروسته یو قطبه امریکایي نړۍ!

دا چې ځواک بېرته آسیا ته روان دی، دا خوشې خیالي او ذوقي څرګندونې نه دي، بلکې په دې تړاو که د نړیوال بانک او د اسیا پرمختیایي بانک د وروستیو لسیزو ارقامو او راتلونکو کلونو اټکلي ارقامو ته وګورو، نو د ۲۰۵۰ کال پر مهال به په نړیوال تجارت کې د اسیایانو برخه ۵۲ سلنه وي او په دې کې به د چین ونډه تر ټولو زیاته او پرېکنده وي.

## افغانستان او چین؛ دوه ګاونډیان

افغانستان یا پخوانی آریانا او خراسان د هند او چین ترڅنګ د سیمې او نړۍ په لرغوني مدنیتونو کې شمېرل کېږي، او له پیله یې له نورو سره اړیکې ټینګې کړي. په دې

---

همغږي دي؛ خو د لویدیز نور مفکرین بیا روانه پېړۍ اسیایي نه بولي، بلکې دوی په دې اند دي، چې اسیا د یووالي ځانګړتیا نه لري. چین، جاپان او هند یو ناخوښه ایتلاف دی، چې په ډېره مشکله به سره یوځای شي. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ د آسیا پېړۍ سیمپوزیم کې د نړیوالو مفکرینو- د بیلګې په ډول بریزنیسکي، جوسیف نای او نورو- د آسیا پېړۍ په تړاو څرګندونې.
The Asian Century: Reality or Hype? In the International Economy (Summer 2013), available online at:<
http://www.international-economy.com/TIE_Su13_AsiaCenturySymposium.pdf>

٦ د چېکاګو د امنیت پروژه کې د پروفیسور جان میرشیمر او یان زوتانګ د بحث په غونډه کې جان میرشیمر پورته ادعا وکړه، د بحث کتلو لپاره وګورئ: https://www.youtube.com/watch?v=bQw-sR033Fo

تـړاو پـه سـیمه کـې د آریایانـو د کډوالـۍ لـړۍ، د افغانانـو لەخـوا امپراتـورۍ جوړوونـه او د بودېیـزم او اسـلام پـه ترویـج کـې یـې رول تـر اوسـه جـوت دی.

افغانسـتان پـه لرغونـې زمانـه کـې لـه چیـن سره نـږدې اړیکـې درلـودې. دغـه اړیکـې لـه فرهنګـي اړیکـو نیولـې تـر اقتصـادي او ډیپلوماتیکـي اړیکـو غځېدلـې وې؛ پـه هېـواد کـې د کوشـانیانو امپراتـوري، د وربښـمو تنګـي او وربښـمو لاره، پـه چیـن کـې د بودایـي دیـن ترویـج، کابـل تـه د چینایـي ګرځندویانـو راتـګ او چیـن تـه د فـارسي ژبـې ادبیاتـو ریښـې کـول د دغـو تاریخـي اړیکـو یـو څـو بېلګـې دي.

وروسـته پـه چیـن کـې د کمونیسـتي انقـلاب لـه راتـګ سره افغانسـتان د چیـن دا انقـلاب پـه رسـمیت وپېژنـده او د ۱۹۵۵ کال د جنـورۍ پـر ۲۰مـه نېټـه د دواړو هېوادونـو ترمنـځ ډیپلوماتیکـي اړیکـې ټینګـې شـوې، چـې پـه ۲۰۱۵ کال کـې یـې د دواړو هېوادونـو لـه خـوا شـپیتمه کلیـزه ونمانځـل شـوه.

کـه څـه هـم مـوږ لـه چیـن سره ګـډ مشـترکات لـرو؛ خـو بیـا هـم لـه ۱۹۴۹ کال راهیسـې پـه ډېـرو نـورو برخـو کـې لـه یـو بـل سره روښـانه توپیرونـه هـم لـرو. خـو دغـو تفاوتونـو هېـڅ مهـال هـم زمـوږ پـر اړیکـو اغېـزې نـه دي کـړې او نـه یـې هـم پـر دوه اړخیـزو اړیکـو سـیوری غوړولـی دی. دا د دواړو هېوادونـو کـمال دی، چـې دغـه تفاوتونـه یـې شـاته غورځـولي او تـل یـې د ښـو اړیکـو پـر درشـل یـو بـل تـه د ښـه ګاونډیتـوب لاسـونه ورکـړي.

د سـتراتیژیکو او سـیمه ییـزو څېړنـو مرکـز د همـدې دوو پورتنیـو لاملونـو لـه کبلـه وغوښـتل، چـې د افغانسـتان او چیـن پـر اړیکـو یـو ځغلنـده کتنـه وکـړي. پـه دغـه کتـاب کـې د چیـن او افغانسـتان پـر تاریخـي اړیکـو رڼـا ښـندل شـوې او بیـا پـه تفصیـلي توګـه د وروسـتېو شـپږو لسـیزو اړیکـې تحلیـل او څېـړل شـوي. د دې ترڅنـګ پـه وروسـتېو پنځلسـو کلونـو کـې، پـه افغانسـتان کـې د چیـن ګټـې او اندېښـنې پـه نښـه شـوي او دغـه راز پـه چیـن کـې د افغانسـتان ګټـو او د بهـرني سیاسـت تـه هـم اشـاره شـوې.

دغـه کتـاب پـه مجمـوع کـې پنځـه فصلونـه، یـوه سریـزه او د (لنډیـز، پایلـې او سپارښـتنو) یـو ځانګـړی فصـل هـم لـري. د کتـاب پـه سریـزه کـې د کتـاب اړتیـا، د کتـاب موخـې او ارزښـت، د موضـوع ادبي جـاج، علمـي څېړنښـود او د څېړنـې پـر وړانـدې خنډونـه راغـلي دي.

پـه لومـړي فصـل کـې د کوشـانیانو او وربښـمو لارې نیولـې پـه چیـن کـې تـر کمونیسـتي انقلابـه د افغانسـتان او چیـن لرغونـې اړیکـې بیـان شـوي.

په دویم فصل کې د افغانستان او چین د خلکو جمهوریت پر اړیکو څېړنه او تحلیل وړاندې شوی، چې له ۱۹۵۰ کال څخه د طالبانو د امارت تر ړنګېدو دوام لري. په دغه فصل کې مو دغه د پنځو لسېزو اوږده مرحله په پنځو پړاوونو کې ویشلې.

په درېیم فصل کې د ۲۰۰۱ کال د سپټامبر له یوولسمې د اشرف غني تر ولسمشرۍ دوه اړخیزه اړیکې تحلیل شوي. دغه راز په دغه فصل کې به تاسو دا هم ولولئ، چې چین له افغانستان سره په کومو برخو کې مرستې کړې او څرنګه یې دلته پاملرنه ورځ تر بلې زیاتېږي؟

په څلورم فصل کې په افغانستان کې د چین ګټې، اندېښنې او بهرنۍ سیاست بیان شوی. د چین دغه ګټې په اقتصادي، امنیتي، سیاسي او نړیوالو ډګرونو کې په نښه شوي. اندېښنې یې تر ډېره امنیتي اړخ لري. د خپلو ګټو د خوندیتوب او اندېښنو د لرېتوب په موخه ځانګړی بهرنی سیاست هم لري،چې په دې فصل کې ترې یادونه شوې.

پنځم فصل بیا په چین کې د افغانستان ګټو او بهرني سیاست ته ځانګړی شوی دی.

په وروستي فصل کې د کتاب پایله او د پالیسۍ لپاره یو شمېر وړاندیزونه او سپارښتنې شوي دي.

## د کتاب لیکلو اړتیا

هر لیکوال باید د کتاب له لیکلو وړاندې پر دې خبر وي، چې دی ولې په نوموړې موضوع لیکل کوي؟ هر کله چې لیکوال پر دې پوه شو، نو بیا همغه مهال کولای شي، چې په علمي مېتود برابره څېړنه او په علمي ډګر کې یو نوی څېز وړاندې کړي. دا چې موږ ولې د دغه کتاب لیکلو ته تابیا ونیوله، لاندې لاملونه لري:

**لومړی**؛ د افغانستان له شپږو ګاونډیانو د پنځو ګاونډیانو په تړاو ډېر څه ویل شوي او په دې اړه ډېرو لیکنې او کتابونه هم لیکلي، چې منابع یې له ملي ژبو نیولې تر بهرنیو ژبو متنوع دي؛ خو له بده مرغه د افغانستان د یو داسې مهم ګاونډي په اړه، چې موږ ورسره د واخان په تړانګه نښتي یو، ډېر څه په لاسونو کې نه لرو او نه پرې دواړو بهرني او داخلي څېړونکو او لیکوالانو ډېر څه لیکلي. موږ د همدې علمي تشې سره مخ وو او د همدې علمي تشې د ډکولو په موخه مو دغه څېړنه او تحلیل پیل کړ.

**دویم**؛ چین د افغانستان یوازینی ګاونډی دی، چې د نورو ګاونډیانو په پرتله ورسره د ټکر کم سوابق لري، بلکې په تاریخ کې ورسره ډېر ګډ راغلی دی. د دواړو دغه ملګرتوب اوس هم د وریښمو لارې پر سمبول تعبیرولای شو.

د دې ترڅنګ افغانستان او چین ډېر نور ګډ روابط هم لري، د بېلګې په ډول د کوشانیانو او هفتلیانو په تړاو یوه پیاوړې نظریه دا هم ده، چې دوی افغانستان ته اصلاً له چین راغلي وو. دغه راز چین ته بودییزم هم په ډېری توګه د افغانانو لخوا ورسېد او په دې تړاو داسې هم ویل کېږي، چې لومړنی چینایي هم د یو افغان راهب له خوا بودایي شو.

**درییم**؛ په روانه یوویشتمه پېړۍ کې د چین رول ډېر مهم دی. چین اوسمهال د نړۍ دویم اقتصادي ځواک دی او شونې ده، چې لومړی مقام هم راخپل کړي. له همدې ځایه ده چې د چین او ځینو نورو اسیایي هېوادونو د پورته کېدا له کبله روانه پېړۍ د اسیایي پېړۍ (Asian Century) په نامه یادیږي. په دغه پېړۍ کې به د چین ارزښت او ونډه تر ټولو زیاته وي. د چین همدې راتلونکي ته په کتو سره مو د افغانستان او چین پر اړیکو رڼا واچوله او هڅه مو وکړه، چې د پالیسیو لپاره خپل وړاندیزونه او سپارښتنې له پالیسۍ جوړوونکو سره شریکې کړو.

**څلورم**؛ له دې سره، چین د افغانستان په قضیه کې هم مهم رول لوبولای شي او د نړۍ یوازینی زبرځواک دی، چې د افغانستان د قضیې دواړه داخلي مهم لوري یعنې طالبان او افغان حکومت پرې باور لري. د دې ترڅنګ د افغانستان په قضیه کې خارجي لوری یعنې امریکا هم د افغانستان په قضیه کې ښکېلول غواړي. چین هم، د خپلو اندېښنو او ګټو له مخې له ۲۰۰۹ کال راهیسې په افغانستان کې ډېره لېوالتیا ښیي او په دې اړه یې ډیپلوماسي هم متحرکه شوې.

همدغو پورتنیو عواملو لیکوال وهڅاوه، چې دغه علمي او څېړنیز اثر ولیکي.

## د کتاب موخې

د دغه کتاب موخې په لاندې ډول دي:

- د دواړو هېوادونو د اړیکو پېښ لیک یا کرونولوژي ؛
- له لرغوني زمانې تر اوسه د دواړو هېوادونو پر اړیکو بحث او تحلیل کول؛

- د افغانستان او چین پر اړیکو د سړې جګړې سیوری ارزول؛
- په افغانستان کې د چین د زیاتېدونکې پاملرنې تر شا عوامل په نښه کول؛
- د افغانستان په بهرني سیاست کې د چین کارډ ارزول؛
- په ملګرو ملتونو کې د چین له داعیې د افغانانو ملاتړ؛
- د چیـن او هنـد پـه جګړه او د چیـن او شـوروي پـه سـړه جګـړه کـې د افغانانـو دریـځ بیانـول؛
- په افغانستان کې د چین ګټې او اندېښنې په نښه کول؛
- همدا راز په چین کې د افغانستان ګټې او اندېښنې په نښه کول؛
- د افغانستان په لور د چین بهرنی سیاست ښودل؛

## د کتاب ارزښت

- په دغه کتاب کې د افغانستان او چین اړیکو تاریخي څېړنه وړاندې شوې؛
- دغـه کتـاب پـر دې بحـث کـوي، چـې د ۱۹۵۵ کال راهیسـې د افغانسـتان او چیـن اړیکـې پـه مختلفـو پړاوونـو کـې څـه ډول روانــې وې؟
- دغـه کتـاب تـر ډېـره دا پوښـتنې ځوابـوي، چـې پـه مختلفـو پړاوونـو کـې د افغانسـتان او چیـن ترمنـځ اړیکـې ولـې ټینګـې، ښـې، خرابـې او تـم شـوې؟
- د چین افغان پالیسي بیان شوې؛
- د افغانستان چین پالیسي پکې بیان شوې ده.

## د موضوع اړوند د شته لیکنو جاج (Literature Review)

پـه تاریخـي او څېړنیـزو لیکنـو کـې ډېـره شـونې ده، چـې د انتخـاب شـوې موضـوع پـه اړه نـورو هـم لیـکل کـړي وي. لـه همـدې ځایـه ده، چـې مـوږ بایـد د نـورو لیکنـې ولولـو، خپلـې موضـوع تـه تـرې شـالید یـا پـه ځینـو قضایـاو کـې مـواد راټـول کـړو او کـه چیـرې زمـوږ د څېړنـې موخـه هـم د تېـرو تاریخـي څېړنـو پـه تـړاو وي، نـو بایـد تېـرې څېړنیـزې لیکنـې پـه دقـت ولولـو، ویـې ارزوو، نیمګړتیـاوې او علمـي تشـه یـې ځـان تـه معلومـه کـړو. هـر کلـه چـې مـوږ پـر دې بریـالي شـو، نـو بیـا هغـه مهـال کـولای شـو، چـې پـه نومـوړې موضـوع کـې نـوی څېـز او یـا پـه حقیقـي معنـا یـوه څېړنـه وړانـدې کـړو.

لـه همـدې ځایـه ده، چـې پـه لویدیـځ کـې پـه علمـي او څېړنیـزو لیکلـو کـې د موضـوع

اړونـد د شــته ليکنــو جــاج عــام دود دی.

مـوږ هـم دلتـه د خپلـې هغـې محـدودې موضـوع، چـې تـر اوسـه پـرې کـم ليـکل شـوي، د موضـوع اړونـد د شـته ليکنـو جـاج وړانـدې کـړو.

د افغانســتان او چيــن د لرغونــو اړيکــو پــه تــړاو مــو تــر ډېــره تکيــه پــر تاريخــي کتابونــو کــړې. د بيلگــې پــه ډول د علامــه حبيبــي دوه کتابونــه، چــې يــو يــې د افغانســتان تاريخــي پېښــې ليـک او بـل يـې د افغانسـتان لنډ تاريـخ دی. پـه لومړي کتـاب کـې لـه لرغونـې زمانـې تـر ۱۹٦۳ کالـه د افغانسـتان پـه تـړاو د مهمـو پېښـو پېښ ليـک  يـا کرونولـوژي وړانـدې شـوې ده او  پــه دويــم کتــاب کــې بيــا پــه مختــصره توگــه د افغانســتان تاريــخ وړانــدې شــوی دی. همـدا راز د احمـد علـی کهـزاد د افغانسـتان تاريـخ (پـه درېيـو جلدونـو کـې)، د تيموريانـو د ډيپلوماسـۍ پـه اړه د تيموريانـو د مـورخ او سـفير کتـاب (مطلـع سـعدين و مجمـع بحريـن)، د حبيبــي تاريــخ افغانســتان پــس از اســلام او نــور ډېــر.

- همــدا راز نــور هغــه کتابونــه چــې پــه دې کتــاب کــې تــرې گټــه پورتــه شــوې، ځــای پرځــای پــه لمــن ليکونــو کــې پــه نښــه شــوي.

خـو پـه ډېـری توگـه  پـر هغـو کتابونـو کـې، چـې پـه دغـه کتـاب کـې ځـای پرځـای پـه نښـه شـوي، د چيـن پـه تـړاو پکـې ډېـره کمـه يادونـه راغلـې؛ ځکـه د دغـو کتابونـو موضـوع يـوازې د چيــن پــه تــړاو نــه وه، بلکــې د چيــن او افغانســتان د اړيکــو برخــه پکــې د نــورو موضوعاتــو پــه پرتلــه  لــږه وه.

دلتـه کـه پـه مشـخصه توگـه ووايـو، نـو زمـوږ د موضـوع پـه تـړاو لومړنـی هغـه کتـاب، چـې مـوږ ورڅخـه پـه نېـغ ډول ډېـره گټـه پورتـه کـړه، هغـه پـه چيـن کـې د افغـان ډيپلومـات غـلام محمـد سـخنيار کتـاب (روابـط پنجاه سـاله چيـن و افغانسـتان) دی. د چيـن او افغانسـتان پر اړيکـو د افغانسـتان پـر يـوې ملـي ژبـې (فـارسي) دا لومړنـی کتـاب گڼـل کېـږي. کـه څـه هـم د کتــاب لــه نومــه داسې برېښــي، چــې دغــه کتــاب بــه د وروســتيو پنځــو لســيزو پــه اړه جامــع کتـاب وي؛ خـو دا کتـاب هـم د نـورو کتابونـو پـر څېـر خپلـې ځانگړتيـاوې او نيمگړتيـاوې لـري. ځانگړتيـا يـې پـه دې کـې ده، چـې لـه ۱۹۵۵ کال څخـه تـر ۲۰۰۵ کال پـورې يـې پېښـې پـه کرونولوژيکـه او رسـمي ډول بيـان کـړي. د دې ترڅنـگ، ليکـوال پـه دغـه کتـاب کـې يـو شـمېر رسـمي ليکونـو تـه هـم ځـای ورکـړی او خپـل يادښـتونه يـې هـم پـه ځينـو ځايونـو کـې ځـای پرځـای کـړي. د کتـاب نيمگړتيـا  پـه دې کـې ده، چـې پېښـې يـې نـه دي

تحلیل کړي او نه يې هم د روابطو د ښه کېدو او خرابېدو لاملونه بيان کړي.

که په لنډه توګه ووايو، نو دا کتاب يوازې کرونولوژيکه بڼه لري او پېښې يې په رسمي ډول بيان کړي، لکه د ورځپاڼو خبرونه او رپوټونه؛ خو د تحليل نښتون يې تر ټولو ستره نيمګړتيا ده.

د افغانستان او چين د اړيکو په اړه يو چينايي څېړونکي زاو هواشينګ هم په انګريزۍ ژبه يوه وړه رساله د (China and Afghanistan: China's interests, Stances, and Perspectives) په نامه ليکلې. خو په دغه رساله کې يوازې له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې اړيکې تحليل شوي او په افغانستان کې د چينايي ګټو په تړاو خبرې کوي، چې په سر کې يې تر ټولو زيات ارزښت امنيتي ګټو ته ورکړل شوی دی. په دغه رساله کې تر ټولو زياته پاملرنه د چين امنيتي ګټو ته شوې او نورې ګټې يې بيا په لنډه توګه بيان کړي دي. د دې ترڅنګ بله نيمګړتيا يې په دې کې ده، چې يوازې چينايي ليدلوری پکې منعکس شوی دی.

د افغانستان د اکاډمۍ علومو د سيمه ييزو مطالعاتو مرکز د خپلو دريو څېړونکو-څېړنيار رفيع الله نيازی، څېړنيار محمد سرور احمدزی او څېړنيار عمران خان ذکريا- په مرسته د افغانستان د سيمه ييزو اړيکو لس کلن پېښ ليک خپور کړی، چې له سيمه ييزو هېوادونو سره د افغانستان اړيکې پکې په کرونولوژي توګه بيان شوي. که څه هم دغه کتاب ما ډېر وروسته ترلاسه کړ او ډېره ګټه مې ترې پورته نه شوه کړای؛ خو بيا هم دغه کتاب له څېړونکو سره د ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې له سيمه ييزو هېوادونو سره د افغانستان د اړيکو په تړاو مرسته کولای شي.

همدا راز د چين د نړيوالې راډيو پښتو څانګې هم د چين پېژندنې په تړاو د «چين» په نامه يو مهم اثر خپور کړی دی. دغه کتاب په ګډه توګه د چينايي او افغان ليکوالانو او ژورناليستانو لخوا ليکل شوی دی. په دغه کتاب کې تر شپږو مخونو د افغانستان او چين د ډيپلوماتيکو اړيکو په اړه يو فصل زيات شوی دی؛ خو په مجموعي توګه په دغه کتاب کې د چين پېژندنه په پښتو ژبه وړاندې شوې او په پښتو ژبه کې دا د چين پېژندنې په اړه لومړنی کتاب ګڼل کېږي.

په دې وروستيو کې نقيب الله مل په پښتو ژبه د افغانستان او چين ډيپلوماتيکې اړيکې تر نامه لاندې يو کتاب وليکه. دغه کتاب هم تر ډېره کرونولوژيکي بڼه لري او

لیکوال په بنسټیزه توګه د افغانستان او چین ډیپلوماتیکې اړیکو کرونولوژي له ۱۹۵۵ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې بیان کړې.

له دې ور اخوا، زما د معلوماتو له مخې، د افغانستان او چین پر اړیکو نه کوم ځانګړی کتاب لیکل شوی او نه بیا کومه رساله خپره شوې؛ خو بیا هم د دغو دوه اړخیزو روابطو په اړه یو شمېر څېړنیزې مقالې په نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوي او په یو شمېر کتابونو کې هم د افغانستان او چین پر اړیکو تبصرې راغلي او فصلونه پرې لیکل شوي. د بیلګې په ډول د جوناتن لوډویګ، جیرالډ سیګل، شین یو ډای، ظفر هلالي او د نورو ډېرو لیکوالانو څېړنیزه مقالې، چې په دغه کتاب کې هم ځای پرځای په مختلفو لمن لیکونو کې په نښه شوي.

## د کتاب څېړندود

که یو څوک په علمي او څېړنیز ډګر کې په یوه موضوع لیکل کوي، نو تر ټولو دمخه اړینه ده، چې د موضوع له لیکلو وړاندې د خپلې موضوع په اړه یو ښه څېړندود غوره کړي؛ ځکه د څېړنې ټول دارومدار یې پر همدغه څېړندود وي؛ که چېرې څېړندود ناسم وي، نو د څېړنې پایلې یې هم غلطې او ناسمې راوځي.

که څه هم مونږ د دغه کتاب د لیکلو پرمهال د یو لړ ستونزو سره مخ شو، چې په لاندې برخو کې مو ورته اشاره کړې؛ خو بیا مو هم، په دغه کتاب کې د څېړنې تاریخدود غوره کړی او له کیفي څېړندود مو ګټه اخیستې، چې په ټولنیزو علومو کې ډېر کاریږي او باید وکارول هم شي.

د موادو د ترلاسه کولو په تړاو مو تر ټولو وړاندې هڅه کړې، چې د موضوع په اړه آرشیفي کاغذونو ته لاسرسی ومومو. مونږ ډېرو کمو تاریخي آرشیفي کاغذونو ته لاسرسی پیدا کړ، چې ځای په ځای په لمن لیکونو کې هم په نښه شوي؛ خو د آرشیفي کاغذونو د نه شتون او ورته د نه لاسرسي له کبله مو بیا کوښښ کړی، چې په پېښو کې د ښکېلو غاړو کسانو تبصرې، یادښتونه او کتابونه وپلټو، څو خپلې موضوع ته ترې مواد رابرابر کړو. د بیلګې په ډول د داوود خان د صدارت پرمهال مو د حسن شرق او عبدالصمد غوث له کتابونو ګټه پورته کړې، د چین او-امریکا پر اړیکو مو د هینري کیسنجر او نکسن یادښتونه او خاطرې لوستې، د طالبانو د دورې پرمهال مو د

افغانستان او چین پر اړیکو د ملا عبدالسلام ضعیف او د وحید مژده کتابونه کتلي. د دې ترځنګ رسمي اعلامیې، راپورونه، بیانیې، ویناوې، تړونونه، سفرونه، د افغانستان احصائیوي کلنۍ، د ایمنیستي انترنیشنل او نور راپورونه او ځینو کسانو سره مرکې کړې. د ټولنیزو علومو په کیفي څېړندود کې همدا لومړي لاس منابع بلل کېږي او موږ له همدغو څخه تر ډېره ګټه پورته کړې ده.

له دې وراخوا مو کوښښ کړی، چې د ځینو پېښو په اړه د دوارو هېوادونو د رسمي ورځپاڼو سرمقالې او لیکنې ولولو، د بیلګې په ډول د پیکینګ ریویو، کابل ټایمز او نورو ورځپاڼو او مجلو څخه مو ګټه پورته کړې.

د دې ترڅنګ د خپلې موضوع په تړاو مو له هغو مقالو هم ګټه اخیستې، چې په معیاري ژورنالونو کې خپرې شوي دي.

دا هر څه او هره منابع په متن کې ځای پرځای د (ایم ایل ای) حوالې په سټایل کې په نښه شوي.

د کتاب د لیکلو پرمهال د کتاب یو شمېر فصلونه د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز په یو شمېر علمي اداري ناستو کې وړاندې شول او د کتاب د لومړي ډرافټ له لیکلو وروسته مو د دغه لومړي ډرافټ منځپانګه، لنډیز او موندنې د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو په مرکز کې له یو شمېر متخصصینو، لیکوالانو او څېړونکو سره په یوه ګردي مېز کې هم شریکې کړې. په پای کې د ګردي مېز ګډونوالو د کتاب په تړاو خپلې مشورې، سپارښتنې او نیوکې وکړې، چې له کبله یې په وروستي ډرافټ کې ګڼ‌ور بدلونونه راغلل.

د دې ترڅنګ لیکوال په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې دوه ځله چین ته په رسمي سفرونو ولاړ او هلته یې د څېړنیزو مرکزونو په تبادلې پروګرام او د پاکستان-افغانستان-چین په درې اړخیزه کنفرانس کې هم برخه واخیسته. د کتاب په وروستي فصلونو کې د دغو دوو علمي سفرونو حاصل هم تر څه حده منعکس شوی. دلته یوه یادونه اړینه ګڼم، چې په بنسټیزه توګه دغه څېړنه د (افغانستان او چین؛ دوه اړخیزې اړیکې، متقابلې ګټې او بهرني سیاست ۲۰۰۱- ۲۰۱۵) تر عنوان لاندې وشوه؛ خو دا چې دغه کتاب تر ډېره له ۱۹۵۵ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې د افغانستان او چین پر اړیکو راڅرخي، له همدې ځایه مو د دغه کتاب عنوان «افغانستان او چین دوه‌اړخیزې اړیکې (۱۹۵۵- ۲۰۱۵)» غوره کړ.

## د څېړنې پر وړاندې خنډونه

د دغـه کتـاب د لیکلـو پرمهـال مـوږ لـه یـو شـمېر سـتونزو سره مخ شـو، چـې پـه لانـدې ډول دي:

### لومړی: په افغانستان کې د آرشیفي کاغذونو د فرهنګ نشتوالی او نه ساتنه

لـه ډېـره بـده مرغـه پـه افغانسـتان کـې د افغانسـتان د داخـلي او خارجـي سیاسـتونو پـه اړه ډېـر لـږ آرشـیفي کاغذونـه لـرو. لـه همـدې ځایـه ده چـې مـوږ پـر پردیـو آرشـیفي کاغذونـو تکیـه کـوو. ډېـری مهـال د افغانسـتان د اتلسـمې، نولسـمې او شـلمې پېـړۍ پـه اړه څېړونکـي پـه هنـد او انګلسـتان کـې د انګریزانـو، او پـه روسـیه کـې د روسـانو آرشـیفي کاغذونـه پـه خپلـو څېړنـو کـې کاروي او د سـړې جګـړې پـه اړه بیـا د امریـکا د بهرنیـو چـارو وزارت، سي آی ای، د شـوروي او روسـیې لـه آرشـیفي کاغذونـو ګټـه پورتـه کـوي.

پـه دې تـړاو اړینـه ده، چـې د آرشـیفي کاغذونـو فرهنـګ تـه لاره هـواره شي. زمـوږ ډیپلوماتان، سـفیران، چارواکـي او نـور بایـد پـه دې برخـه کـې همـکاري وکـړي، ترڅـو مـوږ پـه راتلونکـي کـې یـو کـره او ثقـه تاریخ ولـرو. زمـوږ پـه مخ کـې تـر ټولـو ښـه بیلګـه د امریـکا د آرشـیفي کاغذونـه ده، چـې لـږه نمونـه یـې هغـوی خپلـه لـه څو لسیزو وروسـته افشـا کوي. کـه د ویکي لیکـس له‌خـوا افشـا شـوي امریکایـي مـوادو تـه ځیـر شـو، نـو پوهیـږو، چـې ډیپلومـاسي د کتنـو، مجلسـونو، محفلونـو او رسـمي جـوړ پـه خبـر څخـه مـاورا بـل شـی دی. امریکایـي ډیپلوماتـان او سـفیران د هـر مجلـس مینـوت پـه ډېـره خـوارۍ جـوړوي او ترڅنـګ یـې پـه ځینـو مسـائلو کـې خپلـې تبـصرې هـم کاږي. دا مینـوت بیـا د بهرنیـو چـارو وزارت تـه لېـږل کېـږي، هغـوی یـې ارزوي او کـه ممکنـه وه نـو تـر اغېـزو لانـدې یـې تګلارې هـم جـوړوي.

### دویم: په افغانستان کې آرشیفي کاغذونو ته ستونزمن لاسرسی

د نـړۍ پـه اکـثرو پرمختللـو هېوادونـو کـې حکومتونـه پـس لـه څـه وختـه د پخوانیـو حکومتونو د سیاسـتونو پـه اړه آرشـیفي کاغذونـه افشـا کـوي او څېړونکـي یـې بیـا پـه خپلـو څېړنـو کـې اسـتعمالوي. لـه بـده مرغـه پـه افغانسـتان کـې لا دغـه فرهنـګ دود نـه دی. دا چـې پـه افغانسـتان کـې تقریبـاً یـو ډول غلطـۍ بیا-بیـا تکراریـږي، شـاید یـو لـه نـورو عواملـو څخـه یـو دا هـم وي، چـې دلتـه د قضایـاو پـه اړه سـمه څېړنـه نـه کېـږي او سـمې څېړنـې بیـا آرشـیفي کاغذونـو تـه د لاسرسي لـه کبلـه ممکنـه وي.

حکومت باید د سرې جګړې آرشیفي کاغذونو په تړاو څېړونکو ته لاسرسی ورکړي او د آرشیفي کاغذونو د افشا کولو په اړه هم قانون جوړ کړي. د دې به څو ګټې وي. یوه ګټه یې څېړونکو ته رسیږي، دوی به سمې کره څېړنې وکړي او تاریخ به د ذوق او ایدلوریو له سیوري وژغوري. بلکې تاریخ به هغسې بیان شي، لکه څرنګه چې تېر شوی وي. بله ګټه به یې دا وي، چې دا به شفافیت رامنځته کړي. یو شمېر واکمنان به له دې کبله غلطو عاجلانه پریکړو ته زړه ښه نه کړي، چې تاریخ ته مختورن نه شي.

دلته باید په یاد ولرو، چې هغه آرشیفي کاغذونه باید افشا شي، چې افشا کېدل یې له ملي ګټو سره په ټکر کې نه وي او نه اوسنۍ ملي ګټو ته تاوان رسوي. په دې اړه د آرشیفي کاغذونو د افشا کولو لپاره د یو قانون او یو کمیسیون اړتیا ده، چې وخت ناوخت د ځینو کاغذونو په اړه پریکړه وکړي، چې کله به افشا کېږي او کله نه؟ آیا د ځینو کاغذونو افشا کېدل به اوسنۍ ملي ګټو ته تاوان ورسوي او که نه؟

بله مهمه قضیه د آرشیفي کاغذونو ساتنه ده، چې باید ورته سمه پاملرنه وشي. اوس هم د افغانستان په ملي آرشیف کې ځینې کاغذونه په ډېر نازک حالت کې قرار لري او د ساتلو معیار یې له نړیوالې کچې سره برابر نه دی.

**درېیم: د افغانستان په اړه د چین آرشیفي کاغذونو ته ستونزمن لاسرسی**

د دې کتاب د لیکلو پرمهال مو په نېغ ډول د افغانستان په اړه د چین آرشیفي کاغذونو ته لاسرسی نه درلود. البته د افغانستان په اړه د چین یو شمېر آرشیفي کاغذونه د وېلسن سنټر تحقیقاتي مرکز خپاره کړي دي؛ خو دغه کاغذونه بیا ډېر محدود دي. د افغانستان او چین د تاریخي اړیکو څېړلو په تړاو اړینه ده، چې څېړونکي ځان د چین آرشیفي کاغذونو ته ورسوي. موږ د وسائلو، د ژبې خنډ او د وخت د کمښت له کبله ونشو کولای چې د چین آرشیفي کاغذونه مطالعه کړو. خو بیا مو هم هڅه کړې، چې د افغانستان په تړاو د چین یو شمېر محدود ارشیفي کاغذونه د وېلسن سنټر لهخوا په ژباړل شوو موادو کې ومومو.

**څلورم:** د دغه کتاب د لیکلو پرمهال مو چې څومره هم مرکې کړې، په دغو کې لویه ستونزه دا وه، چې ډېرو خلکو یا له نویو خبرو څخه ډډه کوله او یا به یې بیا همغه زړې خبرې تکرارولې چې په مطبوعاتو کې خپرېږي.

**پنځم:** مـوږ لـه بـده مرغـه پـه خپلـو مـلي ژبـو کـې د افغانسـتان او چيـن پـر اړيکـو ډېـر څـه نـه لـرو. نـه سـفيرانو خپـل يادښـتونه ليـکلي او نـه هـم کـوم چيـن شـناس پـه دې اړه کومـه څېړنـه وړانـدې کـړې. د دې ترڅنـګ پـه انګريـزي ژبـه کـې هـم د افغانسـتان او د نـورو ګاونډيانـو پـه پرتلـه د چيـن او افغانسـتان پـر اړيکـو ډېـر څـه نشـته.

**شـپږم:** مـوږ د دغـه کتـاب ليکلـو پرمهـال د ژبـې لـه سـتونزې سره هـم مـخ شـو. مـوږ پـه چينايـي ژبـه نـه پوهيـدو او لـه همـدې ځايـه وه چـې د افغانسـتان پـه تـړاو د چيـن خپـاره شـوو مراجعـو او منابعـو تـه مـو لاسرسـی پيـدا نـه شـو کـړای.

**اووم:** د افغانسـتان او چيـن پـر اړيکـو پخوانيـو او اوسـنيو پاليسـۍ جوړونکـو تـه پـه لاسرسي کـې خنډونـه هغـه بلـه سـتونزه وه، چـې مـوږ ورسره مـخ شـو. پـه بلـه معنـا مـوږ د دغـو دوه اړخيـزو اړيکـو پـه تـړاو د څېړونکـو، متخصصينـو، پاليـسي جوړونکـو د يـوې شـبکې له نشـتون سره مـخ و. لـه همـدې ځايـه ده، چـې مـوږ د افغانسـتان او چيـن پـه تـړاو نـورو څېړونکـو تـه د پاملرنـې څـو ټکـي لـرو: د څېړنـې لپـاره بايـد ځـان پخوانيـو او اوسـنيو چارواکـو تـه ورسـوي، پـه چينايـي ژبـه د دوه اړخيـزو اړيکـو پـه تـړاو مـواد پيـدا کـړي او ترڅنـګ يـې ځانونـه چينايي او افغـان آرشـيفونو تـه هـم ورسـوي.

درنښت

احمد بلال خليل

**لومړی فصل**

# د چین او افغانستان لرغونې اړیکې

افغانستان او چین له یو بل سره د راکړې-ورکړې او اړیکو لرغونې مخینه لري. دغه دوه‌اړخیزې اړیکې د وریښمو له تاریخي لارې او بودایي دین له ترویج نیولې تر ننه راغځېږي. همدا لامل دی، چې کله د چین پخوانی لومړی وزیر، چو این لای افغانستان ته پر خپل لومړني سفر راغی، نو په کابل کې یې د خبرو پرمهال وویل: «له دې سره چې زمونږ ترمنځ د پامیر په څېر دنگ خنډونه پراته وو؛ خو زمونږ پلرونو له دغو لوړو او دنگو موانعو سره سره، بیا هم د وریښمو لارې په تېرولو سره د خپلې ملگرتیا پیل [او ثبوت وړاندې] کړی وو[7]».

که څه هم موږ له چین سره له پخوا اړیکې درلودلې؛ خو دغه اړیکې بیا هم ډېرې مسلسلې او اوږدمهاله نه وې؛ ځکه چین هم د لویدیځ په څېر د برترۍ په احساس (Superiority Complex) کې مبتلا وه، دوی به ځانونه د نړۍ د تمدن مرکز باله او له نورو سره به یې په خپلو اړیکو کې، په تېره بیا له بهرنیانو سره چې دوی به ورته «بربریان» ویل، له تکبر، گستاخۍ او ځان ستاینې کار اخیست؛ خو د چینایانو دغه د برترۍ احساس په نولسمه پېړۍ کې هغه مهال پای ومونده، کله چې له یوې خوا جاپان او له بلې خوا د نړۍ زبرځواکونو پر دوی خپل استعماري یو اړخیزه تړونونه

۷ د ۱۳۳۵ کال د جدي په ۲۹مه په کابل کې د چو این لای بیانیه. د بشپړې بیانیې لپاره ولولئ غلام محمد سخنیار، روابط پنجاه ساله چین و افغانستان (۳۰ جدی ۱۳۳۳-۳- جدی ۱۳۸۳)، مرکز مطالعات استراتیژیک وزارت امور خارجه: انتشارات عازم، کابل، ۱۳۸۴، مخ ۲۵

تحمیـل کـړل[۸].

## د پخواني چین د نړیوال سیاست نظام

دا چــې چیــن ولــې د برتــرۍ احســاس درلــود، یــو لامــل یــې پورتــه بیــان شــو، چــې دوی بــه ځانونــه د نــړۍ د تمــدن مرکــز بالــه او بــل لامــل یــې د دوی tribute system و، چــې دغــه سېســتم د چینایانــو پــر نړیوالــو اړیکــو ژوره اغېــزه ښــندلې وه. همدغــه سیســتم تــه مــوږ پــه یــوه بلــه اصطــلاح Superiority Complex (د ځــان لوړګڼلــو پېچلتیــا) هــم ویــلای شــو، چــې چینایــان بــه یــې لــه نــړۍ سره لــه اړیکــو جوړولــو منــع کــول. د دغــه سیســتم لــه مخــې چینایــان پــر دې بــاوري وو، چــې دوی د نــړۍ د کلچــر منځیــز دي او نــور ټــول بهرنیــان لــږ تهذیــب یافتــه یــا وحشــیان دي.

د دې ترڅنــګ چینایــي پاچــا د خــدای زوی (Son of heaven) هــم ګڼــل کېــده؛ ځکــه نــو، دوی لــه نــورو تمــه درلودلــه، چــې د دوی دغــه برتریــت ومنــي او دوی تــه کلنــګ (یــا بــاج) (Tribute) ورکــړي او د دوی د پاچــا پرمــخ ســجدې (Kow-tow) وکــړي. پــه بــدل کــې بــه چینایــي پاچــا هغــو تــه چــې د پاچــا پرمــخ بــه یــې خپلــه ټنــډه پــه خــاورو کــې سپېره کــړه، پــه سرحــدي ســیمو کېــد تجــارت لپــاره یــو شــمیر ځایونــه ورکــول[۹].

د امریــکا د مــلي امنیــت پخــواني ســلاکار او بهرنیــو چــارو وزیــر، هیــنري کیســنجر هــم پــه همــدې تــړاو د چینایــي آرشــیفي کاغذونــو پرمــټ لیکــي: هغــوی [بهــرني پــلاوی] د مذاکراتــو یــا د دولتــي چــارو پــه اړه نــه وو راغــلي، بلکــې هغــوی پــه دې موخــه راغــلي وو، چــې د شهنشــاه تــر تهذیبــي اغېــزو ځانونــه بــدل کــړي. د چیــن امپراتــور بــه د نــورو هېوادونــو مشرانــو سره پــه (ســمیټ) یــا مجلســونه نــه برابــرول، بلکــې د دې پرځــای بــه دغــه راغــلي پــلاوي پــه دې چغــه د ده پرمــخ حاضریــدل، چــې د لــرې ځــای څخــه خلــک راغــلي او لــه ځانونــو سره یــې کلنــک هــم راوړي څــو تاســو (چینایــي پاچــا) پــرې وپېــژني. د دې ترڅنــګ کلــه بــه چــې چینایــي پــلاوي بهــر لېــږدول کېــدل، نــو پــلاوي بــه ډیپلوماتــان نــه وو ، بلکــې دوی بــه اســماني پــلاوي

۸ هغه تړونونو ته اشاره ده، چې د اپیمو له لومړی او دویمې جګړې وروسته پر چینایانو تحمیل شول. په دې اړه ولولئ د ښاغلي هینري کېسنجر او د یان داربی شر کتابونه: یان داربی شر، تحولات سیاسی در جمهوری خلق چین، ترجمه هدایت وزیری، تهران: ۱۳٦۸، مخونه ۱۳۷- ۱٦۳. Henry Kissinger, On China, New York: Penguin Press, 2011

۹ Vohra, Ranbir (1999), China’s Path to Modernization: A Historical Review from 1800 to the Present (3rd ed.), p 20-22

(Heavenly envoys) بلل[۱۰].

خو د چین له دغو نیمګړتیاوو سره، بیا هم افغانستان او چین له یو بل سره اړیکې درلودلې، چې دلته به د مختلفو سکالو ګانو لاندې وڅېړل شي:

## د کوشانیانو د چینایي ریښې تیوري

له میلاد درې پېړۍ وړاندې به ډېری مهال په لرې ختیځ [چین] کې د کېن (Qin Dynasty) او هان (Han Dynasty) چینایانو او هوېنګ-نو (Huingnu (Hsiung Nu)) قبایلو ترمنځ جګړې نښتې. د هوېنګ-نو قبایل جنګیالي او پر نورو چینایانو لاسبري وو. په دې تړاو د چین لوی امپراتور، شي هوانګ-تي (Shih Huang-ti) هڅه وکړه، چې دغو هوېنګ-نو قبایلو ته وړیا وریښم ورکړي او یا به یې هم بیا دا وریښم د دوی له اسونو سره تبادله کول. د دغه کار تر شا موخه دا وه، چې دغه سرکښه قبایل یو څه آرام کړي. د دې ترڅنګ دغه لوی امپراتور د دغو قبایلو له بریدونو د مخنیوي او وېرې له کبله په ۲۱۴ له میلاد وړاندې کې د چین ستر دېوال جوړ کړ.

د چین سلطنت (Qin Dynasty ) په (۲۲۱- ۲۰۷ له میلاد وړاندې) کې د خپلو سختو او ظالمانه تګلارو او کورنۍ جګړې له کبله له منځه ولاړ او په چین کې یې پر ځای د هان سلطنت (۲۰٦- ۲۲۰) رامنځته شو. د چېن سلطنت په څېر د هان امپراتوري هم د هوېنګ-نو قبایلو له ګواښ سره مخ وو. دغه نوي سلطنت چې د چېن پرځای رامنځته شوی و او له کورنۍ جګړې تازه راوتلی و او ترڅنګ یې د هوېنګ-نو قبایلو لهخوا د دغه سلطنت بنسټ ایښودونکی ګاوزو (Gaozu) هم محاصره شوی و؛ نو ځکه دوی هم اړ شول، چې د هوېنګ-نو قبایلو پرضد دفاعي تګلاره غوره کړي.

په همدې موخه دوی د چېن سلطنت د وریښمو له ډیپلوماسۍ وروسته، د (ناوې ګانو) ورکولو ډیپلوماسي پیل کړه، دوی به د خپل حرم شهزادګۍ د دغو قبایلو مشرانو ته ورکولې، چې له یوې خوا سولې ته لاره پرانیزي، د دوی له شره خلاص شي او له بلې خوا به په دې هیله واوسېږي، چې له دغو شهزادګیو به د هوېنګ-نو قبایلو وارثان وزیږي او له هغه وروسته به دوی په راتلونکي کې له هان سلطنت سره ښې اړیکې ولري.

۱۰ Henry Kissinger, On China, New York: Penguin Press, 2011, p-18

ډېر وروسته چې کله د هان څواکمن امپراتور (ووډي) د هوښګ-نو پرضد خپله دفاعي تګلاره بدله کړه او تعرضي تګلاره يې پيل کړه، نو خپل سرتيري يې د دوی په تعقيب پسې خواره کړل، چې له يوې خوا دغو سرتيرو د دغو سرکښه قبايلو اسونه ترلاسه کړل او له بلې خوا يې دغه جګړه مار قبايل د چين لرې سرحدونو ته وځغلول[11].

يوه قبيله چې د همدغو هوښګ-نو قبايلو ماتح وه، د يو-چي يا يوشي (Yueh-Chih) په نامه يادېده. دغې قبيلې (يو-چي) د خپلو آقايانو يعنې د هوښګ-نو پرضد په ۱٦۵ قبل ميلاد کې جګړه اعلان کړې وه؛ دوی پکې له هوښګ-نو قبايلو ماتې وخوړه؛ خو د ماتې پرته بيا هم څواکمن وو. يو-چي قبايلو بيا له هغو سيمو څخه چې هوښګ-نو پکې مېشت وو، لکه شمال، له هغو سيمو څخه لاره چپه کړه او د لويديځ خوا ته په هجرت کولو اړ شول. د دوی يوه وړه قبيله تبت ته ولاړه او بله ستره قبيله يې د ګوبي (Gobi) د شمال پر لور د اوسون (Wusun) سيمې ته ولاړه، اوسون چې کمزوري خلک وو اړ شول چې دغه ځای يو-چي ته پرېږدي. د اوسون خلک د شمال پر لور ولاړل او هوښګ-نو ته يې پناه يوړه. يو-چي قبيله له يو څه ځنډ وروسته د لويديځ پر لور ولاړه او ځانونه يې د ايسک کل جهيل (اوسنی بالخاش جهيل) ته ورسول او له هغه ځايه يې د ساکا قبيله له دغه ځايه پر دوو خواو وشړله: د باختريا او ايران په لور.

وروسته چې د اوسون قبيله څواکمنه شوه او د هوښګ-يو قبيلې ملاتړ ورپه برخه وو، په ۱۴۰ قبل ميلاد کې د يو-چي قبيله باختريا ته په تللو اړ کړه[12]. افغان مورخ او څېړونکی، عبدالحی حبيبي په دې اړه وايي، د يو-چي خلک د ۷۰ قبل ميلاد په شاوخوا کې تر آمو راپورې وتل او د تخاريانو (تاهيا) په مرسته يې باختر ونيوه[13].

د ساکانو هغه قبيله چې د ايران پر لور تللې وه، د هلمند شاوخوا د خپل سلطنت تاداب کېښود؛ خو د دوی دغه سلطنت بيا د پارتيانو د يو پوځي لخوا ړنګه شوه او يو ځل بيا دغه سيمه د پارتيانو لاندې راغله. د ۴۵ او ٦۴ ميلادي کلونو په منځ کې د پارتيانو امپراتوري مخ پر زوال وه او پای ړنګه شوه، د دوی په دغه زوال کې کوشانيانو، چې د يو-چي له پنځو قبيلو څخه يوه قبيله وه، مهم نقش ولوباوه[14]. دغه

۱۱ Xinru Liu, The Silk Road in World History, Oxford University Press, 2010, pp: 1-6

۱۲ Louis Dupree, Afghanistan, New Jersey: Princeton University Press, 1980 edition, pp. ۲۹۸- -۲۹۹

۱۳ عبدالحی حبيبي، د افغانستان لنډ تاريخ، ژباړن عبدالودود کرزی، کويټه، ۱۳۷۸، مخ ۱۰۰

۱٤ Louis Dupree, Afghanistan, New Jersey: Princeton University Press, 1980 edition, pp. 298 -299
د يوچي نورې قبيلې په دا ډول وې: هومي، سيوانګي، هېتم او کوروتو. له دې سره عبدالحی حبيبي هم غږی دی، دی هم

خلک وروسته د کوشانانیو په نامه ونومول شول؛ خو چینایان یې لا تر اوسه د یو-چي په نامه یادوي[۱۵].

دا پورته یادونه مو د دې لپاره وړاندې کړه، چې د افغانستان او چین ترمنځ له همغه وخته اړیکې پیل شوې وې؛ که څه هم کوشانیان یا یوچي قبایل په خته چینایان نه وو؛ خو د چین له سیمو سره یې تړاو درلود، دوی له هغه ځایه افغانستان ته راغلي وو او دلته یې د افغانستان په تمدن کې مهم نقش ولوباوه.

د همدغو اغېزو څخه یوه دا هم ده، چې د کوشانیانو قبیله چې د یو-چي له پنځو قبیلو څخه یوه وه او دوی کوچاني ژوند درلود. له همدې ځایه ده، چې د علامه حبیبي په اند د پښتو او دري ژبو د «کوچي» لفظ هم په همدغه کوشي-شانگ، وروسته کوشان، کې ریښې لري[۱۶].

د کوشانیانو د چینایي ریښې په تړاو چینایي لرغوني آرشیفي کاغذونه او تاریخي کتابونه همدا پورته بحث کوي؛ خو یو شمېر هندي، لویدیځ او ان افغان څېړونکي بیا له دغې تیورۍ سره اختلاف لري. دلته زموږ موضوع د کوشانیانو تاریخي ریښه شاربل نه دي، بلکې یوازې مو د چینایي او افغان تاریخي کتابونو هغه برخه راخیستې، چې د دواړو هېوادونو پر اړیکو رڼا ښندي.

## د ورېښمو لاره

هغه مهال چې د ورېښمو پر لارې سوداګریزه او اقتصادي راشه-درشه روانه وه، نو افغانستان په اقتصادي ډګر کې تر ډېره ګټه پورته کوله؛ ځکه که له یوې خوا بلخ او هرات د دغې لارې سوداګریزه مرکزونه وو، نو له بلې خوا د هند ګرمې مسالې یې له همدغه ځایه لویدیځ ته رسولې.

د ورېښمو په لاره کې د افغانستان همدې موقعیت له کبله ده، چې نامتو مورخ آرنلډ ټواین بي د نړۍ نیمې لارې د افغانستان باګرام ته سیخې ګڼي او وتلی افغان شناس

---

کوشانیان د یوچی له پنځو قبیلو څخه یوه قبیله بولي. وګورئ د افغانستان لنډ تاریخ، مخ ۱۰۰

۱۵ د لا مطالعې لپاره وګورئ د Louis Dupree, Afghanistan, New Jersey: Princeton University Press, 1980 edition, کتاب او د علامه حبیبي د افغانستان لنډ تاریخ کتاب

۱۶ عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، مخ ۱۰۰

لویس ډوپري بیا افغانستان د سیمې سوداګریزه نقطه ګڼي.

دا چې وو‌ایو د وریښمو لاره په یوه ټاکل شوي تاریخ او د یو مشخص کس له خوا پیل او پرانیستل شوې وه، ستونزمنه ده؛ خو څېړونکي پر دې باور او ګومان متفق دي، چې د وریښمو په لاره د تجارتي توکو لېږد-رالېږد له میلاد څخه مخکې پیل شوي وو[۱۷]. دغه لاره په بنسټیزه توګه یوه تجارتي لاره وه او هغه مهال یې په یوه ډول د څو براعظمونو ترمنځ اقتصادي ترلتیا یا Regional Economic Integration رامنځته کړې و. هغه مهال به له دغه لارې د بدخشان لاجورد، لعل، فیروزه، یاقوت، د پنجشیر زمرد او نقره، وړی، قالینې، وچې میوې، صندل، د ګندهارا عقیق او فیروزه او مسي لوخي نورو هېوادونو ته صادرېدل او مشک، عطر، مسالې، کاغذ، کافور، وسپنه او نور څېزونه به افغانستان ته واردېدل[۱۸]. د دې ترڅنګ، افغانستان به نورو ډېرو هېوادونو ته د ترانزټ په برخه کې خپل خدمات هم وړاندې کول.

د افغانستان او چین ترمنځ تجارتي راکړه-ورکړه هم د همدغه وریښمو لارې له کبله رامنځته شوې، د افغان مورخ غبار د څېړنې په اساس د افغانستان او چین ترمنځ تجارتي اړیکې دوه پېړۍ مخکې له میلاد څخه پیل شوې وې، هغه مهال چین ته افغاني صادرات مختلف ظروف او جواهرات او له چین څخه افغاني واردات په ډېری ډول اوسپنه، وریښم، سره زر، نقره او نېکل وو[۱۹].

په اقتصادي لحاظ، دغه لارې تر څو پېړیو پر افغانستان مثبتې اغېزې لرلې؛ خو په مجموع کې افغانستان هغه مهال بیا لوی تاوانونه وګالل، چې له یوې خوا د چنګیز بې رحمه یرغل او تاړاک سره مخ شو، او له بلې خوا، چې کله واسکو ډي ګاما په لومړي ځل د هند نیمو‌چې ته سمندري لاره وموندله او په نړۍ کې یې په تدریجي ډول د وریښمو د لارې ارزښت راکم کړ؛ ځکه له دې وروسته په سوداګرۍ کې د وچې پرځای د سمندري لارو استعمال مخ پر زیاتېدو شو.

خو اوس په یوویشتمه پېړۍ کې، د نړۍ د ډېری هیوادونو ترمنځ د وریښمو د لارو تېرولو

---

۱۷ د لا معلوماتو لپاره ولولئ: غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، مخ ۴۷؛ Boulnois, Luce (2005). Silk Road: Monks, Warriors & Merchants. Hong Kong: Odyssey Books. p. 66; Xinru Liu, The Silk Road in World History, New York: Oxford University Press, pp. 2-25؛ پوهاند دکتور عزیز احمد پنجشیري، افغانستان و راه ابریشم، کابل: انتشارات سعید، ۱۳۷۸، مخونه ۳۴-۳۵

۱۸ عزیز احمد پنجشیري، افغانستان و راه ابریشم، کابل: انتشارات سعید، ۱۳۷۸، مخونه ۱۴۴-۱۴۵

۱۹ د لا معلوماتو لپاره ولولئ: غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، مخ ۴۷

پـر سر مسـابقې پیـل شـوي او داسـې د وریښـمو لارې ارزښـت بیـا زیـات شـوی دی.

پــه دې تــړاو د امریــکا د بهرنیــو چــارو پخوانــۍ وزیــرې، هیلــري کلنټــن د ۲۰۱۱ کال د سـپټمبر پـر ۲۲مـه د وریښـمو لارې پـه اړه ځانګـړې تـګلاره اعـلان کـړه، چـې د New Silk Road Initiative یـا د وریښـمو د «نـوې» لار نوښـت پـه نامـه یـاده شـوه. د وریښـمو دغـه لاره بـه د منځنـۍ اسـیا غنـي طبیعـي سـیمې د سـویلي اسـیا لـه پرمخ وړونکـي اقتصـادي ځـواک (هنـد) او پاکسـتان سره ونښـلوي[۲۰]. کـه څـه هـم پـه دې موخـه پـر تاپـي او کاسـا – ۱۰۰۰ پـروژو کار روان دی؛ خـو بیـا هـم پـه ټولـه کـې د وریښـمو دغـه لاره لـه دغـې لارې تېـرول نـه یـوازې دا چـې لـه خپـل تاریخـي حقیقـت سره پـه ټکـر کـې ده، بلکـې د چیـن او ایـران پـه څېـر هېوادونـه هـم پکـې قصـداً هېـر شـوي دي؛ ځکـه امریـکا لـه دغـو دوو هېوادونـو سره رقابـت لـري.

پــه دې تــړاو د ســیمې نــورو هېوادونــو هــم د وریښــمو لارو پــه اړه خپــل خپــل پروپوزلونــه وړانـدې کـړي او هـر هېـواد پـه دې لټـه کـې دی، چـې دغـه لاره د دوی لـه هېـواده تېـره شي. د بېلګـې پـه ډول د یوروشـیا، امریـکا، چیـن، اروپایـي ټولنـې، ترکیـې او هنـد طرحـې او ابتکارونــه.

## په چین کې د بودېیزم په خپرولو کې د افغانانو رول

بودېیـزم یوازینـی هغـه عنـصر دی، چـې چینایـي کلچـر او چینایانـو لـه بیـرون څخـه منلـی دی. دغـه عنـصر د چیـن پـه ټولنـه کـې داسـې نفـوذ کـړی، چـې نـه یـوازې دا چـې د چیـن مذهبـي آییـن تـه یـې بدلـون ورکـړ، بلکـې پـه چیـن کـې لـه کمونیسـتي انقـلاب څخـه وړانـدې د چینایـي تمـدن اسـاسي عنـصر هـم ګڼـل کېـده.[۲۱]

دا چـې چیـن تـه د بودېیـزم لـه کومـې خـوا لاره وکـړه، د افغانسـتان او منځنـۍ آسـیا ، او کـه د هنـد لـه لارې؟ د ډېـر بحـث او څېړنـې وړ ده؛ خـو بیـا هـم د یـو دوو څېړونکـو پـه انـد د هـان مینـګ د امپراتـورۍ پرمهـال بودایـي دیـن چیـن تـه ورسـېد، د دغـو څېړونکـو پـه انـد

۲۰ د هیلري کلنټن د بشپړې وینا په اړه وګورئ: IIPDIGITAL.USEMBASSY.GOV, Secretary Clinton at New Silk Road Ministerial Meeting, 23 September 2011, retrieved at 12 march, 2015. See it online at:< http://iipdigital.usembassy.gov/st/english/texttrans/2011/09/20110923160643su0.3639272.html#axzz3ULBmhEgL>

۲۱ چارلز پاتریک، جینس جرالډ، تاریخ فرهنګ چین، ژباړه: اسماعیل دولتشاهی، تهران: شرکت انتشارات علمي و فرهنګي، ۱۳۸٦، مخونه: ۳۰۹

چینایي مورخین پر دې اند دي، چې امپراتور هان مینګ په خوب کې ولیدل، چې خدای د چین په غرب کې دی. دغه امپراتور خپل سفیران د «خدای د دین» راوړلو لپاره غرب ته ولېږل، یو سفیر هند ته سفر وکړ، او له هغه ځایه د بودا او د سانسکریټ د کتابونو له ژباړو سره راستون شو؛ خو د "تاریخ فرهنګ چین" څېړونکي له دغه نظر سره مخالف دي، دوی وایي د هند پرخلاف دا ډېر احتمال لري چې دغه سفیران به منځنۍ اسیا ته راغلي وي[۲۲].

د افغانستان نومیالی مورخ احمد کهزاد هم له پورتنۍ خبرې سره تر ډېره موافق دی، د ده په اند چې کله چینایي جنرال (پان چاو[۲۳]) د چین د لویدیځ پر لور وړاندې تګ پیل کړ او د کاشغر سیمه یې ونیوله، نو چینایانو د آمو سیند له سیمو سره اړیکه پیدا کړه. چینایانو له همدغه ځایه د بودا انځورونه او مجسمې له ځان سره ویوړې، دغو انځورونو او مجسمو بیا د چین امپراتور مینګ تي (Ming Ti) اغېزمن کړ. له همدې ځایه دغه چینایي امپراتور حکم وکړ، چې د پامیر وراخوا څخه دې مبلغین راوغوښتل شي، څو دی د دغه دین اساسات وپېژني. هغه مهال کوشانیانو خپل دوه تکړه عالمان، چې یو یې مانتانګا (Mantanga) او بل یې ګوبهارانا (Gobharana) وو او په قوي احتمال له ګندهارا سره یې تړاو درلود، د یو شمېر مذهبي کتابونو سره د چین پر لور واستول. د چین امپراتور د همدغو دوو عالمانو له کبله په ٦۴ میلادي کال کې د بودا دین ومانه[۲٤].

پورته خبره یوازې د چینایي امپراتور پر بودایي دین اوښتلو څرخېږي؛ دا چې لومړی چینایی به کله پر بودایي دین ایمان راوړی وي، لږه ستونزمنه ده؛ خو یوه خبره ډېره یقیني ده، چې دغه لومړنی عام چینایي به کم له کمه د چین له امپراتور څخه وړاندې د بودا دین منلی وي، ځکه دا ډېره طبیعي ده، چې د کوشانیانو د امپراتورۍ په څنډو کې پراته چینایان به د چینایي امپراتور څخه وړاندې له دغه دین څخه خبر شوي وي او لکه څرنګه چې پورته هم وویل شول، د جنرال (پان چاو) سرتیرو لومړی له دغه دین څخه خبر شول او بیا یې د چین امپراتور ته د بودا مجسمې او انځورونه

---

۲۲ وګورئ د دغه څېړونکو کتاب: چارلز پاتریک، جینس جرالډ، تاریخ فرهنګ چین، ژباړه: اسماعیل دولتشاهی، تهران: شرکت انتشارات علمي و فرهنګي، ۱۳۸٦، مخونه: ۳۰۱-۳۰۲

۲۳ یادونه به یې «د کوشانیانو په دوره کې افغان-چین اړیکې» کې وشي

۲٤ احمد کهزاد، تاریخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل یونانو باختری تا ظهور اسلام، نشریات انجمن تاریخ: کابل، ۱۳۲۵ کال، مخ ۲۸۰

وروړل.

لـه همـدې ځایـه ده، چـې د پورتـه څېړونکـو پـه شـان یـو بـل معـاصر چینایـي څېړونکـی هـم پـر دې انـد دی، چـې لومـړی چینایـي چـې د کـوم بودایـي پیشـوا پـر لاس بودایـي شـو، لـه افغانسـتان سره یـې تعلـق درلـود[۲۵].

دا چـې چیـن تـه بـه د افغانسـتان لـه لارې د بـودا دیـن تللـی وي، د ډېـرې حیرانـۍ وړ نـه ده، ځکـه افغانسـتان هغـه مهـال نـه یـوازې دا چـې د بودایـي دیـن د ډېـرو پیشـواوو د مراقبـو ځایونـه درلـودل، بلکـې د بودایـي دیـن پـه اړه یـې ډېـرې مدرسـې هـم درلودلـې.

پـه دې اړه د مـردان او چارسـدې کنـډرات، د جـلال آبـاد هـډه، د بامیـان سـتر بـوت او د مېـس عینکـو بودایـان یـې یـوازې د بېلګـو یـو څـه نمونـې دي ، چـې هغـه مهـال پـه افغانسـتان کـې د بودایـي دیـن پـر مرکـز دلالـت وایـي. د سـټوپو پـه اړه عبدالحـی حبیبـي کاږي: «پـه ګندهـارا او د افغانسـتان پـه ختیـزه برخـه کـې چـې جنوبـاً تـر کندهـاره رسـېږي، د بودایـي سـټوپو زیـات اثـار شـته، چـې د هاغـو تاریخـي ودانیـو یـوه برخـه تـر اوسـه پېژنـدل شـوې ده او د ټولـو شـمېرل بیـا مشـکل دي» پـه بـل ځـای کـې کاږي: «همـدا راز د اوسـنۍ چارسـدې ختیـزې خـوا تـه د (کنیـز کـه) پـر غونـډۍ د اشـوکا ورانـه کـړې سـټوپه وه، چـې د هیـون تسـنګ تـر وختـه هـم پـه همدغـه نامـه مشـهوره وه» ... «یـوه سـټوپه د پېښـور د بالاحصـار پـر غونـډۍ پرتـه او تـر ۹ هجـري کال د هېـون تسـنګ تـر عـصره پـورې هـم پـه همغـه بـرم پاتـې وه»... «.. د دغـو سـټوپو شـکل پـه کابـل او کاپیسـا کـې توپیـر پیـدا کـړی او لـوړې شـوې دي».[۲۶]

دغـه راز پـه افغانسـتان کـې د بودایانـو ډېـرې مدرسـې هـم وې. پـه همـدې اړه د اشـوکا د زمانـې د ټېکسـیلا مدرسـه او پوهنتـون د ډېـرې پاملرنـې وړ ده، چـې د کـوزې پختونخـوا د پښـتنو سـیمو تـه څېرمـه پرتـه ده. د دې ترڅنـګ د یـو چینایـي څېړونکـي پـه انـد پـه څلورمـه او پنځمـه میـلادي پېـړۍ کـې ډېـری چینایـان د افغانسـتان او هنـد بودایـي مرکزونـو تـه د زده کـړو لپـاره راتلـل.[۲۷]. غبـار د « افغانسـتان در مسـیر تاریـخ» کـې لیکـي: «کلـه چـې مشـهور چینـي ګرځنـدوی هیـوان تسـنګ افغانسـتان تـه راغـی، نـو ۱۲۳۰ بودایـي معبدونـه

۲۵ Shen-Yu Dai, China and Afghanistan, The China Quarterly, No 25 (Jan-March, 1966), pp: 213-221

۲٦ د لا معلوماتو لپاره وګورئ د عبدالحی حبیبي کتاب، د افغانستان لنډ تاریخ، ژباړه عبدالروف بینوا، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه،۱۳۹۱ ، مخونه ۷٦-۸۰

۲۷ وګورئ: Shan Yu Dai, China and Afghanistan, The China Quarterly, No 35 (Jan-March, 1966) pp: 213-221

او لـه ۸۰۰۰ څخـه زیـات بودایـي راهبـان یـې پـه خپـل کتـاب کـې ثبـت کـړي وو»[۲۸] د دې ترخنـګ غبـار پـه دې انـد هـم دی، چـې [لـه دې سره] افغانسـتان هغـه مهـال د یونانـو بودایـي صنعـت خپـل اوج تـه ورسـاوه او بیـا یـې همـدا صنعـت د بودایـي دیـن پـه شـان چیـن او منځنـۍ اسـیا تـه ورسـاوه[۲۹].

نومیالـی مـورخ لویـس ډوپـري پـه خپـل شـاهکار اثـر، افغانسـتان، کـې د مهایانـه بودایـي دیـن، چـې پـه ترکسـتان، منګولیـا، چیـن، کوریـا او جاپـان کـې خپـور شـو، د وربښـمو د لارې او د افغـاني کوشـانیانو (پـه تېـره بیـا د لـوی کنیشـکا) لـه کبلـه خپـور شـوی بـولي.[۳۰]

همـدا د بـودا دیـن بیـا وروسـته د همـدې لامـل شـو، چـې د طالبانـو د حکومـت پرمهـال جاپـاني او چینایـي ډیپلوماتانـو د بامیانـو د سـتر بـوت د ماتولـو پرمهـال طالـب سـفیر تـه وویـل: **ستاسـو پلرونـو خـو زمـوږ سـیمې تـه د همدغـه بـودا دیـن راووړ، اوس د دغـه دیـن سـتر پیغمـبر مجسـمه ولـې ورانـوئ؟**[۳۱]

د کوشـانیانو لەخـوا تـر دویمـې عیسـوي پېـړۍ پـورې، پـه چیـن کـې د بودایـي دیـن ترویج پـه تدریجـي ډول تـرسره کېـده؛ خـو د دویمـې عیسـوي پېـړۍ لـه نیمایـي څخـه د بودایـي دیـن د خپرولـو پـه موخـه جـدي هلـې ځلـې پیـل شـوې او پـه دغـو هلـو ځلـو کـې د فنیـان (بامیـان)، کاپیسـا، کابـل، د هـډې (جـلال آبـاد) او پېښـور عالمـان مخکـښ رول ولوبـاوه، چـې پـه ډېـره شـمېره د خطـا لـه لارې د چیـن پـر لـور ولاړل. د دوی پـه تعقیـب بیـا هنـدي مبلغیـن هـم چیـن تـه ولاړل. پـه دې تـړاو چیـن تـه د کوشـاني مبلغینـو لومـړی هئیـت پـه ۱٦۰ زیږدیـز کال کـې ولاړ، وروسـته ورپسـې متصـل نـور پـلاوي هـم د شـپږمې پېـړۍ

---

۲۸ وګورئ د غبار کتاب، افغانستان در مسیر تاریخ (مخ ۵۸)

۲۹ وګورئ د غبار کتاب، افغانستان در مسیر تاریخ، (مخونه ۵۱-۵۸)

۳۰ Louis Dupree, Afghanistan, New Jersey: Princeton University Press, 1980 edition, pp-296

۳۱ پـه پاکسـتان کـې افغـان سـفیر مـلا عبدالسـلام ضعیـف پـه خپـل کتـاب کـې کاږي، چـې د بـودا مجسـمې د ورانولـو د مخنیـوي پـه تـړاو سریلانکیانـو ډېـرې هڅـې وکـړې؛ چیـن وغوښـتل چـې مـوږ د مجسـمو د ورانولـو چمتووالـی پرېـږدو. پـه بـل اړخ کـې جاپانیانـو ډېـره هڅـه وکـړه، چـې دغـه مجسـمې ورانـې نـه شي او پـه دې تـړاو یـې دوه پروپوزلـه وړانـدې کـړل. جاپانیانـو خپـل پـلاوی راولېـږد، چـې د جاپـان لومـړي وزیـر، کلتـور وزیـر او نـورو شـپږو وزیرانـو څخـه جـوړ و پاکسـتان تـه راغلـل. دوی سپارښـتنه وکـړه چـې جاپـان بـه دغـه مجسـمې ټکـړه ټکـړه لـرې کـړي، جاپـان تـه بـه یـې ویـسي او هلتـه بـه یـې بیـا جـوړه کـړي. دویمـه سپارښـتنه یـې دا وه چـې دوی بـه دغـه مجسـمې سر لـه تـر پښـو پـورې داسـې وپوښـي، چـې هېڅـوک بـه هـم پـر دې پـوه نـه شي، چـې دلتـه کلـه هـم کومـه مجسـمه وه؛ خـو تـر لانـدې بـه یـې دغـه مجسـمې خونـدي وي. جاپانیانـو د پیسـو وړاندیـز هـم وکـړ... هغـوی پـر دې ټینـګار وکـړ چـې افغانـان د دوی د دیـن «پـلاران» دي او بودایـي دیـن یـې د دوی پـر وینـا منلـی و. د مـلا ضعیـف پـه وینـا جاپانیانـو غوښـتل څـو مـوږ د دوی د پلرونـو پـه توګـه دغـه تاریخـي او مذهبـي مجسـمې خونـدي کـړو. وګـورئ Abdul Salam Zaeef, My Life with the Taliban, New York: Columbia University Press, 2010, Page 127

تر پیل پورې ولاړل. دغو پلاوو په چین کې د بودایي دین په خپرولو کې ستر رول ولوباوه. د بېلګې په ډول "چه کین" (Tche Kien) چې د یو کوشاني سفیر زوی و، په ۱۸۰ زیږدیز کال چین ته ولاړ او هلته یې د لویانګ (Lo Yang) چې د هونان (Ho nan) له سیمې سره تړل شوی و، استوګن شو او هلته بیا د یو شمېر معبدونو په جوړولو کې بریالی شو. د درېیمې پېړۍ په لومړي کې "سنګ هوئی" (Seng Houei) د بودایي دین یو شمېر کتابونه وژباړل او د "دهارماکالا" (Dharmakala) اصول یې په لومړي ځل چینایي ژبې ته وژباړل. وروسته "داراماکسا" او شاګرد یې "چو شو لان" د "سین ګان" (Si ngan) په سیمه کې مېشت شول او هلته یې د "تسن" (Tcin) کورنۍ، چې د چین امپراتوره کورنۍ وه، بودایي کړه[۳۲].

## د هپتالیانو چینایي ریښه

یفتلیان یا هپتالیان له کوشانیانو وروسته په افغانستان کې واکمني وکړه. دا چې هپتالیان یا یفتلیان له کومه ځایه راغلي بحث یې پیچلی دی. په دې اړه ډېرو خپلې نظریې وړاندې کړي، خو بیا هم د ډېرو چینایي، بهرنیو او افغان مورخینو په اند افغانستان ته دغه قبیله د چین له «ګانسو» ولایت څخه لومړی منځنۍ اسیا او بیا له هغه ځایه افغانستان ته راغلې وه. افغان مورخ علامه عبدالحی حبیبي دغه قبیله همغه له یو-چي قبیلې څخه ګڼي[۳۳]، بل افغان مورخ غلام محمد غبار هم، هپتالیان د سیتي[۳۴] قبایلو برخه ګڼي او د کوشانیانو پر څېر یې د شمال لویدیځ څخه راغلي بولي[۳۵]. همدا راز د هېواد بل نامتو مورخ احمد کهزاد هم د علامه حبیبي او غبار برعکس په خپل تاریخ کې د هپتالیانو یا یفتلیانو په اړه ډېر څه لیکلي. دی هم هپتالیان یا یفتلیان له یوچي څخه ګڼي او په دې اړه د خپل دریځ د پیاوړي کولو لپاره د نورو مورخینو نقل قولونه راوړي، د بېلګې په ډول "پروکپ"، چې یوناني مورخ

۳۲ احمد کهزاد، تاریخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل یونانو باختری تا ظهور اسلام، نشریات انجمن تاریخ: کابل، ۱۳۲۵ کال، مخ ۲۸۰-۲۸۳

۳۳ عبدالحی حبیبي کتاب، دافغانستان لنډتاریخ، ژباړه عبدالروف بینوا، کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱، مخونه۱۱۹

۳۴ د احمد کهزاد په اند د سیتي لفظ د اسکائی قبایلو او کوشانیانو لپاره استعمالیږي او کوشانیان بیا د یوچي قبایلو یو ښاخ دی، نو په دې صورت کې باید د اسکایي نه وروسته قبایل د یوچي په نامه ونوموو. دی په خپل کتاب کې سیتي یوچي ګڼي. وګورئ احمد کهزاد، تاریخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل یونانو باختری تا ظهور اسلام، نشریات انجمن تاریخ: کابل، ۱۳۲۵ کال، مخ ۷۹

۳۵ غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، کابل: مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، ۱۳۶۸، مخ ۵۴

و او د ساسانيانو او يفتليانو د جګړو په اړه يې ليکل کړي او په ٥٦٢ ميلادي کې ومړ، هفتليان له سپين پوستو "هُن" څخه بېل ګڼي. همدا راز "پارکر" چې يو انګريز مورخ دی او د منځنۍ اسيا د قبايلو په اړه يې ژورې څېړنې کړي، وايي "افتهاه" Ephthah يا هفتليان پخواني يو-چي وو. "سر پرسيايک" په خپل کتاب کې د چينايي کلنيو په استناد وايي، چې هپتاليان د چين د لوی دېوال په شمال کې استوګن و. "بار تولد"، چې د روسيې يو څېړونکی دی، هم يفتليان يا هپتاليان له يو-چي څخه ګڼي[٣٦].

د "برېتانيکا اينسايکلوپيډيا" هم هپتاليان د چين د لوی ديوال په شمال کې استوګنه قبيله ګڼي، چې "هووا" Hoa يا Hoadun په نامه يادېده[٣٧].

## تاريخي-فرهنګي اړيکې

د چين – افغانستان ترمنځ فرهنګي اړيکې له همغه مهاله پيل شوې، چې کله دوی له يو بل سره د ورېښمو په لاره کې سره يوځای او وروسته د بودايي دين د ترويج په تړاو ډېری کسان له افغانستانه چين ته ولاړل او هلته پاتې شول.

د دواړو هېوادونو پر تاريخي فرهنګي اړيکو د ورېښمو لارې ژوره اغېزه ښندلې، له همدې لارې شونې شوه، چې چين ته يوناني هُنر لاره وکړي[٣٨]. د زراعت په ډګر کې د کاريزونو طريقه، د پرتقال، وريجو، او مالوچو کرنه هم له دغه لارې چين ته ورسېده او د ادبياتو په برخه کې هم د پارسي ژبې ادبياتو د همدې زړې لارې څخه چين ته اغېزې وکړې[٣٩]. د يو افغان څېړونکي په اند د "قوبلای خان" په پېر کې د پارسي ژبې دا اغېزې خپل اوج ته ورسېدې او چينايي دولت د چين په دربار کې د فارسي ژبې زده‌کړه اجباري کړه[٤٠]. په چين کې د پارسي ژبې اغېزې له دې هم معلومېږي، چې د شاهرخ مېرزا او د چينايي پاچا ترمنځ چې څومره ليکونه هم تبادله شوي وو، نو په پارسي ليکل شوي وو[٤١].

٣٦ احمد کهزاد، تاريخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل يونانو باختری تا ظهور اسلام، نشريات انجمن تاريخ: کابل، ١٣٢٥ کال، مخ ۴۴۱ - ۴۴۹

٣٧ 'Hephthalite'. Encyclopaedia Britannica. Encyclopaedia Britannica Online. Encyclopaedia Britannica Inc., 2015. Web. 12 Nov. 2015' <http://www.britannica.com/topic/Hephthalite>

٣٨ عزيز احمد پنجشيري، افغانستان و راه ابريشم، کابل: انتشارات سعيد، ١٣٧٨، مخونه ١٢٨-١٢٩

٣٩ تېر ماخذ، مخ ١٢٩

٤٠ تېر ماخذ، مخ ١٢٩

٤١ تېر ماخذ، مخ ١٢٩

د وربښمو لارې له کبله چين ته د پارسي ژبې ادبياتو او په تېره بيا د مولوي عطار، سعدي، حافظ او خيام شعرونو لاره وکړه[42]، له همدې ځايه ده، چې نوميالی مسلمان ګرځندوی ابن بطوطه وايي، د چين په دربار کې به د پارسي ژبې شعرونه ويل کېدل. دی په خپلو يادښتونو کې يوه داسې پېښه هم کاږي، چې يوه ورځ له يوه چينايي ښاروال سره په مجلس کې ناست و، په دغه مجلس کې موسيقي غږېده او سندرغاړي د سعدي دا شعر وايه:

تادل به مهرت داده ام در بحر فکر افتاده ام
چون در نماز استاده ام گويی به محراب اندری[43].

د افغانستان د نوميالي مورخ عبدالحی حبيبي په اند زموږ هېواد ته تقريباً پنځه چينايي ګرځندويان راغلي. دوی به له چين څخه فارس او هند ته تلل، او يا به هند ته د بودايي دين د زده کړو لپاره تلل[44]. دغو چينايي ګرځندويانو خپل يادښتونه ليکلي، چې وروسته يې بيا د افغانستان پر تاريخ‌ليکنه هم ژوره اغېزه ښندلې. د دغو چينايي ګرځندويانو سفرونه، چې عبدالحی حبيبي ورته په خپله څېړنيزه مقاله کې اشاره کړې، په لاندې ډول دي:

- لومړنی چينايي ګرځندوی چې په ۳۹۹ ميلادي کې افغانستان ته راغی، "شي فاهيان" و. د ده د سفر موخه له هند څخه ديني کتابونه راوړل او د دغو ژباړل وو. دی له ۱۴ کلونو مساپرۍ وروسته بېرته چين ته وګرځېد. يو شمېر هندي کتابونه يې وژباړل او ترڅنګ يې خپل يونليک (سفرنامه) هم وليکه. ده پخپل دغه يونليک کې د افغانستان د هغه مهال د ټولنيز ژوند او حالاتو په اړه رڼا وښندله. د ده په ګمان په ختيځ افغانستان کې هغه مهال شاهان وو. د دغې سيمې خلک بودايي دين ته مخلص وو او هر ځای د دغه دين معبدونه او راهبان شته وو[45].
- د چين دويم ګرځندوی، چې افغانستان ته راغی، "هوی سنګ" و، ده ته

---

۴۲ ګروسه، رنه، امپراطوری صحرانوردان، ترجمه عبدالحسين ميکده، تهران: بنګاه ترجمه و نشر کتاب، ۱۳۵۳، صفحه ۲۵ د عزيز احمد پنجشيري، افغانستان و راه ابريشم، کابل: انتشارات سعيد، ۱۳۷۸، مخ ۱۲۹ څخه واخيستل شو.

۴۳ عباس قربانی، فرهنګ فشرده تاريخ ايران از آغاز تا پايان قاجاريه، مشهد: انتشارات جاودان خرد، ۱۳۷۶، د عزيز احمد پنجشيري، افغانستان و راه ابريشم، کابل: انتشارات سعيد، ۱۳۷۸، مخ ۱۳۰ څخه واخيستل شو.

۴۴ وګورئ عبدالحی حبيبي، زايران چينی در افغانستان، په پرليکه بڼه، http://www.alamahabibi.com/pdfs/A_Zaeran_History%20cheni%20dar%20afghanistan%20.pdf

۴۵ تېر ماخذ

په ۵۱۷- ۵۱۸ میلادي کې د "تای هو" ملکې له‌خوا ماموریت وسپارل شو، چې لویدی‌زو هېوادونو ته سفر وکړي او له هغو ځایونو څخه د بودایي دین کتابونه راوړي. ده د بودایي دین په اړه تقریباً ۱۷۰ جلده کتابونه له ځان سره چین ته یوړل. دغه گرځندوی افغانستان ته د هفتلیانو په وخت کې راغی، ده د افغانستان د خلکو د وضعیت، جامه، تشریفاتو او دودونو په اړه په خپل یونلیک کې معلومات ورکړل او د افغانستان سیاسي واکمنۍ ته یې هم ځای پر ځای اشارې کړې دي. ده هم د ننگرهار په "هډه" او "کیکالام" (چې عبدالحی حبیبي یې د لغمان مهترلام بولي) کې معبدونه لیدلي او په درونټه کې یې بودا ته منسوبه یوه کتیبه هم لیدلې وه[٤٦].

- افغانستان ته دربیم چینایي گرځندوی هیوان تسنگ راغی، چې د افغانستان په تاریخي کتابونو کې د خپل یون‌لیک له کبله مشهور دی. د علامه حبیبي په اند په ٦٣٠ کال له سمرقنده د افغانستان بلخ او بامیان ته راغی، وروسته بیا په ډسمبر کې له آباسینه تېر شو. دغه چینایي گرځندوی افغانستان ته په یوه داسې مهال راغی، چې لا دغه هېواد ته اسلامي فتوحات نه و رسېدلي. د عبدالحی حبیبي په اند دغه چینایي گرځندوی په "هولو" (کندوز) کې د خان هفتلي له مشر زوی سره هم وکتل، چې دغه شهزاده بیا د "کاوچانگ" بادشاه خور کړې وه او "هیون تسنگ" له دغه بادشاه څخه د هفتلي شهزاده په نوم یو لیک هم راوړی و. دغه گرځندوی وروسته بیا بامیان او کاپیسا ته هم ولاړ او په پای کې بیا د بدخشان له لارې بېرته چین ته ستون شو[٤٧].

- د عبدالحی حبیبي په اند له هیون تسنگ وروسته دوه نور چینایي گرځندویان هم راغلل او له دې ځایه بیا هند ته ولاړل. دغه دوه کسان "وانگ هیون تسو" (Wanf-Hiuan-Tso) او "هیون تچاو" (Hiuan-Tchao) وو. دوی په ٦٦٠ میلادي او ٦٦۴ میلادي کلونو کې افغانستان ته راغلي وو[٤٨].

---

٤٦ تېر ماخذ

٤٧ تېر ماخذ

٤٨ تېر ماخذ

# دوه‌اړخیزو سیاسي اړیکو تاریخي شالید

## افغانستان ته د چین د لومړنی ډيپلوماتیک پلاوي سفر

کوشانیان د یو-چي له پنځو قبیلو څخه یوه وه، دغه قبیله په پیل کې له هوېنگ-یو قبیلې سره وه؛ دواړو قبیلو به د چینایي هان سلطنت پرخلاف جگړې کولې؛ خو وروسته د یو-چي قبیلې د هوېنگ-یو پرخلاف جگړه وکړه، چې په پای کې یې ماتې وخوړه او د مهاجرتونو لړی یې پیل شوه او پای باختر ته راورسېدل.

د یو-چي خلکو دښمنان هوېنگ-یو وو، ځکه یو-چي د دغې قبیلې پرضد جگړه کړې وه. وروسته د هوېنگ-نو قبایلو د اوسون خلکو څخه هم ملاتړ وکړ او د همدغه ملاتړ له کبله د اوسون خلک پای پر یوچي بریالي شول او دوی یې له خپلو سیمو وشړل او باختریا ته یې ټېل وهل.

دا چې د یو-چي قبایلو په باختریا کې د کوشاني امپراتورۍ ډېره کېښوده او دوی د هوېنگ-نو قبایلو سره زړه دښمني درلوده، نو همدا بیا د دې لامل شوه، چې چینایان له یو-چي قبایلو سره په اړیکه کې کړي؛ ځکه د دښمن دښمن، ملگری وي.

له همدغه ځایه د چینایي "هان" سلطنت امپراتور (وو-تي) له یو-چي سره د اېتلاف په موخه د "چانک کین" په نامه خپل سفیر افغانستان (باختر او بدخشان) ته ولیږدوه[49]؛ خو د چینایي څېړونکو او د علامه حبیبي په اند دغه سفر ناکام شو، ځکه د یو-چي خلکو یعنې کوشانیانو له چینایانو سره په دې برخه کې مرسته ونه کړه[50].

د دغه چینایي ډيپلوماتیک پلاوي دا سفر هم افسانې ته ورته تاریخ لري. وایي کله چې د هان امپراتورۍ امپراتور (ووډي) اعلان کړه، چې دی غواړي د یو-چي خلکو ته یو ډيپلوماتیک پلاوی واستوي، څو د هوېنگ-نو قبایلو پرضد اېتلاف وکړي. هېڅ چا هم دغه سفر ته زړه ښه نه کړ؛ ځکه د سفر لاره له غریزو کږلېچو، ژورو گړنگونو او دښمن هوېنگ-نو پر قبایلو او خاوره تېریدله. دغه راز د سفر د پای ځای هم چاته معلوم نه و او نه هم څوک دغه ځای ته له دې وړاندې تللي وو. خو له دغو هر څه سره، د "چانک کیان" په نامه یو کس دغه خطرناک سفر ته مرۍ تازه کړه او له

49 Shen-Yu Dai, China and Afghanistan, او وگورئ د عبدالحی حبیبي کتاب، د افغانستان لنډ تاریخ، مخ ۹۹،

۵۰ عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، مخ ۹۹ او Xinru Liu, The Silk Road in World History, Oxford University Press, 2010, pp: 1-6

خطرونـو سره یـې د لوبـې کولـو هـوډ وکـړ. دی لـه خپلـو سـلو لارویانـو سره د سـفر پـه موخـه د غـرب پـه لـور روان شـو؛ خـو د هوینګ-نـو قبایلـو لـه‌خـوا ونیـول شـو او دی یـې لـه خپلـو لارویانـو سره بنـدي کـړ. ده هـم بلـه چـاره نـه درلودلـه او لـه همدغـو قبایلـو سره پاتـې شـو؛ ان پـه دې کـې پـرې میاشـتې واوښـتې، میاشـتې پـر کلونـو بـدل شـول او پـه پـای کـې دغـه کلونـه پـر یـوې لسـیزې بدلـون ومونـد. ده د هوینګ-نـو قبیلـې لـه یـوې انجلـۍ سره واده وکـړ او ماشـومان یـې وزیږیـدل، خـو دغـه ډیپلومـات نـه خپلـه موخـه هېـره کـړه، نـه لـه خپلـې لارې بـې لارې شـو او نـه یـې هـم د خپـل لارښـود او مـشر خـبره ځمکـې تـه وغورځولـه. ځکـه خـو یـې د چانـس پـه ترلاسـه کولـو سره لـه دغـه ځایـه تېښـته وکـړه او ځـان یـې لـه هـر څـه مخکـې د داوان سـیمې تـه ورسـاوه (پـه ازبکسـتان کـې د فرغانـې سـیمه)، لـه دغـه ځایـه دی د امـو پـر غـاړه د یوچـي دربار-بلخ- تـه پـه ۱۲۹ کال کـې ورسـېد. خـو د یوچـي قبیلـې مـشر لـه "هـان" سره یوځـای د هوینګ-نـو پرضـد ایتـلاف تـه هېـڅ زړه ښـه نـه کـړ؛ خـو "چانـګ کیـان" بیـا هـم د یوچـي پـه دربـار کـې یـو کال پـه دې موخـه تېـر کـړ، چـې هسـې نـه د یو-چـي قبیلـې مـشر خپلـه پرېکـړه بدلـه کـړي. خـو داسـې ونـه شـول او پـه پـای کـې "چانـګ کیـان" د چیـن پـر لـور خپلـه لاره ونیولـه؛ خـو لـه بـده مرغـه د یـو ځـل بیـا لپـاره د هېونګ-نـو قبایلـو لـه‌خـوا ونیـول شـو. دا ځـل دی لـه دوی سره تـر یـوې لسـیزې پاتـې نـه شـو، بلکـې دا ځـل یـې د قسـمت سـتوري ورسره مـل وو او دی بیـا لـه دغـه ځایـه چیـن تـه وتښـتېد[۵۱]. تـر ټولـو مهمـه، کـه څـه هـم دغـه چینایـي سـفیر کومـه لاسـته راوړنـه نـه درلودلـه؛ خـو بلـخ تـه د راتـګ لـه کبلـه یـې، د چیـن لـه لویدیـځ سره د سـوداګرۍ پـر پیلولـو فکـر وکـړ او دا پروپـوزل یـې د چیـن امپراتـور تـه وړانـدې کـړ. د چیـن امپراتـور هـم دا پروپـوزل خـوښ شـو، او لـه همـدې ځایـه د وریښـمو لاره پیـل شـوه.

## افغان-چین اړیکې؛ د کوشانیانو په دوره کې

د لومـړي چینایـي ډیپلوماتیکـي پـلاوي لـه راتـګ سره د افغانسـتان او چیـن سـیاسي اړیکـې پیـل شـوي. کوشـانیانو هغـه مهـال لـه چینایانـو سره د خپـل کمـزوري حالـت لـه کبلـه مرسـته ونـه کـړه. خـو د کوشـاني امپراتـورۍ پراخېدنـې پـه ۷۳ زیږدیـز کال کـې د چینایانـو اندېښـنې وپارولـې. لـه همـدې ځایـه چینایانـو خپـل نومیالـی جنـرال "پـان چـاو"

۵۱ "زینرو لي" چې یو چینایي څېړونکی دی، په دې اړه وایي، د دغه ډیپلومات د سفر په اړه معلومات د چین د لومړي مورخ په کتاب او د هان امپراتورۍ په رسمي کاغذونو کې یو څه ثبت شوي دي. د لا معلوماتو لپاره ولولئ د ده کتاب:
Xinru Liu, The Silk Road in World History, Oxford University Press, 2010, pp: 1-6

(Pan-Chao) د لویدیځ پر لور ولېږدوه. دغه چینایي جنرال په ۷۳ زیږدیز کال کې د سنکیانګ او ختن له نیولو وروسته کاشغر هم ونیوه او "کوچه" او "قره شهر" یې هم په ۹۲ زیږدیز کې اشغال کړل[۵۲].

پر همدغه مهال (په ۷۸ زیږدیز کال) د کوشانیانو تکړه پاچا "ویما کدفیزس" پر تخت کیښناست او د کوشانیانو د امپراتورۍ د قلمرو په پراخولو کې یې ستره ونډه ولوبوله. دی هم د چینایانو پرمختګ ته ځیر و او د دې ترڅنګ یې ځان له چینایي امپراتور څخه کم هم نه ګاڼه. د احمد کهزاد په اند له همدې ځایه په ۹۰ زیږدیز کال کې (شهزاده خانم چین) ته د نکاح وړاندیز وکړ او په دا ډول یې ځان د چینایي امپراتور سیال وګاڼه. ویما کدفیزس د همدې موخې لپاره یو رسمي پلاوی د چین دربار ته ولېږد؛ خو دا پلاوی د چین دربار ته ونه رسېد، بلکې جنرال پان چاو یې په لاره کې ونیسي؛ ځکه دی د کوشانیانو د پلاوي په موخه پوه و او دا یې د چین لپاره د سپکاوي یوه کړنه بلله. له همدې ځایه دغه پلاوی بېرته ولېږدوي. د کوشانیانو امپراتور د چینایي جنرال د دغې کړنې له کبله وپارېد او په غبرګون کې له اویاوو زرو سپرو سره خپل جنرال "سي" د پامیر له لارې پر چین یرغل ته وهڅاوه[۵۳]. دا د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل و، چې افغانان له چین سره په جګړه کې ښکېل شول؛ خو کوشانیان په دغه جګړه کې ناکام شول. دا چې دغه جګړه په کوم کال کې پېښه شوه او د جګړې نور جزیات څه وو، زموږ د معلوماتو له مخې تر اوسه ډېر څه پرې نه دي لیکل شوي. البته د افغانستان نومیالی لرغونی تاریخ پېژندونکی احمد کهزاد د کوشانیانو د دغې ناکامۍ لامل په خپل تاریخ کې په دا ډول بیانوي: ډېر احتمال لري، چې کوشانیانو د واخان د کوتل او د تاشقرغان له لارو پامیر عبور کړی وي؛ خو دا چې له پامیر څخه تیرېدل اسانه نه دي، د طبیعي ستونزو، سوړ ژمي او د خوراک د نه شتون له کبله به د جنرال سي ډېری سرتیري وژل شوي او په ډېره پریشانۍ به له پامیر څخه تېر شوي وي او هلته به ورته د جنرال پان چاو تازه نفسي سرتیري تیارسې ولاړ وو، نو ځکه به چینایانو پرېښانۍ اخیستي کوشانیانو ته ماتې ورکړې وي او پای به یې دویم کدفیزس اړ کړی وي، چې چینایي امپراتور ته باج ورکړي[۵۴].

---

۵۲ احمد کهزاد، تاریخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل یونانو باختری تا ظهور اسلام، نشریات انجمن تاریخ: کابل، ۱۳۲۵ کال، مخ ۲۰۲-۲۰۳

۵۳ احمد کهزاد، تاریخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل یونانو باختری تا ظهور اسلام، نشریات انجمن تاریخ: کابل، ۱۳۲۵ کال، مخ ۲۰۴-۲۰۵

۵٤ احمد کهزاد، تاریخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل یونانو باختری تا ظهور اسلام، نشریات انجمن تاریخ: کابل، ۱۳۲۵ کال، مخ ۲۰۴- ۲۰۵

د کوشانیانو له‌خوا چینایي امپراتور ته باج ورکونه د لوی کنیشکا تر راتګه روان و؛ خو د لوی کنیشکا له راتګ سره، دغه حالت ۱۸۰ درجې بدلون ومونډ. لوی کنیشکا د کوشانیانو تر ټولو ځواکمن پاچا و او د خپل سلطنت لمن یې پراخه کړې وه. ده خپله پاملرنه د شمال ختیځ پر لور هم واړوله او د چین تر نفوذ لاندې سیمې یې لکه ختن، کاشغر، یارکند او خطا هم ونیولې او په دا ډول یې پای د خپلو اسلافو (دویم کدفیزس) غچ هم واخیست. دغه خبره یوازې پر دې ځای تم نه شوه، کوشانیان یې چینایي امپراتور ته د باج له ورکولو هم وژغورل، بلکې په لومړي ځل یې چین هم د کوشانیانو باجګذاره کړ او د کاشغر پاچا یو له خپلو خپلوانو څخه چې "شن پان" (Chen P'an) نوم‌یده، هم د کوشانیانو دربار ته د یرغمل شوي په بڼه راووست[٥٥].

## افغان-چین اړیکې؛ د غزنویانو په دوره کې

د محمود غزنوي په دوره کې، چې له یوې خوا د افغانستان قلمرو تر هنده پراخ شو او له بلې خوا په خپله د غزني ښار د تمدن او علم ځانګو شوه، نو غزني ته د سیمې د هېوادونو د پلاوو راتګ کومه د حېرانۍ خبره نه وه. په همدې اړه عبدالحی حبیبي په خپله یوه څېړنیزه مقاله کې د محمود غزنوي په دوره کې د چین له ختن څخه د دوو ډیپلوماتانو راتګ تاییدوي[٥٦]. دی وایي کله چې محمود غزنوي د هند له سوبې راستون شو، نو د خطا او ختن شاهانو-قتای خان او یغر خان ایلک- خپل دوه ډیپلوماتان-قلتنکا او قاشي- د غزني دربار ته په ۴۱۷ هجري، چې د ۱۰۲٦ -۱۰۲۷ کلونو سره سر خوري، له لیکونو سره ولېږدول؛ ځکه دوی پوهېدل، چې د دوی پولې د غزنوي د امپراتورۍ له پولو سره نښتې دي[٥٧].

د دې ترځنګ دغو بادشاهانو په خپلو لیکنو کې له محمود غزنوي سره د خپښۍ غوښتنه وکړه، خو د دوی دا وړاندیز او غوښتنه بیا د محمود غزنوي له خوا رد شوه. د

٥٥ احمد کهزاد، تاریخ افغانستان (جلد دوم) از آغاز سلطنت مستقل یونانو باختری تا ظهور اسلام، نشریات انجمن تاریخ: کابل، ۱۳۲۵ کال، مخ ۲۲٦ - ۲۲۹

٥٦ ولولئ عبدالحی حبیبي، آمدن رسولان خطا بدربار غزنه، په پرلیکه بڼه په لاندې لېنک کې:
http://www.alamahabibi.com/pdfs/A_History_Amadan_rasulan_khata_ba_darbar_ghazna.pdf

٥٧ عبدالحی حبیبي، آمدن رسولان خطا بدربار غزنه، په پرلیکه بڼه یې وګورئ په لاندې لېنک کې:
http://www.alamahabibi.com/pdfs/A_History_Amadan_rasulan_khata_ba_darbar_ghazna.pdf

غـزني مـورخ عبدالحـی بـن ضحـاک گردیـزي پـه دې اړه داسـې وایـي:

«و امیـر محمـود رحمـة اللـه بغزنیـن آمـد بـا لشـکر خویـش، انـدر سـنه سـبع عـشر و اربعمائـة (از سـفر سـومنات) و هـم اندریـن سـال رسـولان آمدنـد، از نزدیـک قتاخـان و ایغـر خـان، بسـوی امیـر محمـود پیغامهـاء نیکـو آوردنـد، و خویشـتن را بخدمـت عرضـه کردنـد، و التـماس نمودنـد، کـه خواهیـم کـه میـان مـا وصلـت باشـد. و امیـر محمـود ایشـان را بفرمـود تـا نیکـو فـرود آورنـد، و پـس پیغـام ایشـان را جـواب داد: «کـه مـا مسـلمانیم و شـما کافرانیـد، و مـا را نشـاید خواهـر و دخـتر خویـش بشـما دادن. اگـر مسـلمان شـوید، تدبیـر آن کـرده آیـد» و رسـولان را برسـبیل خوبـی بـاز گردانیـد»[۵۸]

## افغان-چین اړیکې؛ د تیموریانو په دوره کې

کلـه چـې د تیمـور لنـګ زوی شـاهرخ پـه هـرات کـې پـر تخـت کیښناسـت، نـو پـه ۱۴۱۲ کال د خطـا (غـربي چیـن) د پاچـا "دای منـک خـان" ایلچیـان او مکتـوب د شـاهرخ دربـار تـه راورسـي‌ږد او لـه هراتـه "شـېخ محمـد بخشـي" د سـفیر پـه توګـه د شـاهرخ لـه فرمـان سره یوځـای خطـا تـه ولاړ. څلـور کلونـه وروسـته پـه ۱۴۱٦ کال کـې د دایمنـک خـان اېلچیـان بیـا هـرات تـه راغلـل او لـه ځانونـو سره یـې تحفـې هـم راوړې. د خطـا (غـربي چیـن) ایمنـک خـان پاچـا ایلچیـان دربیـم پـلاوی د هـرات دربـار تـه پـه ۱۴۱۹ کال کـې راغـی، دغـه پـلاوي د خپـل پاچـا مکتبونـه پـه فـارسي او ایغـوري خـط لـه تحفـو سره یوځـای شـاهرخ تـه راوړل. پـه ځـواب کـې شـاهرخ یـوه ډلـه ایلچیـان لـه هراتـه خطـا (غـربي چیـن) تـه واسـتول، چـې یـو شـمېر سـوداګر هـم ورسره مـل وو، دوی بیـا درې کلونـه وروسـته خپـل هېـواد تـه راسـتانه شـول[۵۹].

دا پېښـې د تیموریانـو د دورې مشـهور مـورخ کـمال الدیـن عبدالـرزاق پـه خپـل تاریـخ «مطلـع سـعدین و مجمـع بحریـن» کـې هـم ثبـت کـړې دي. کـمال الدیـن عبدالـرزاق د مشـهور سـمرقندي عـالم مولانـا جـلال الدیـن اسـحاق پـه کـور کـې پـه ۸۱٦ هجـري کـې زېږېدلـی و. د ده والـد د شـاهرخ د لښـکر قـاضي او امـام و. پـه ۸۴۱ هجـري کـې د خپـل قبلـه ګاه لـه وفـات کېـدو سره یـې د تیموریانـو لـوی پادشـاه شـاهرخ دربـار تـه لاره وموندلـه

---

۵۸ ابوسعید عبدالحی بن ضحاک ابن محمود گردیزی، تاریخ گردیزی، تحقیق عبدالحی حبیبي، تهران: دنیای کتاب، ۱۳٦۳ ش، ج اول، صفحه ۱۹۵؛ د نورو معلوماتو لپاره وولولئ: عبدالحی حبیبي، آمدن رسولان خطا بدربار غزنه، په پرلیکه بڼه یې وګورئ په لاندې لېنک کې:
http://:www.alamahabibi.com/pdfs/A_History_Amadan_rasulan_khata_ba_darbar_ghazna.pdf

۵۹ وګورئ د عبدالحی حبیبي کتاب، د افغانستان تاریخي پېښلیک، مخونه ۸۴- ۹۱

او د عمر پر ۲۵ کال يې د مولانا عضدالدين ايجی د اسم او حرف پر رساله شرحه وليکله او د سلطان شاهرخ حضور ته يې وړاندې کړه. دی وروسته د شاهرخ له درباره په ۸۴۵ هجري کې هندوستان ته په سفارت ولېږل شو، په ۸۵۰ هجري کې بيا د شاهرخ لخوا د گيلان په سفارت واستول شو او په ۸٦۷ هجري کې په هرات کې د شاهرخ د خانقاه شيخ مقرر شو. له ۸۷۲ هجري تر ۸۷۵ هجري پورې يې په درېيو کلونو کې د تيموري دورې په اړه يو مفصل تاريخ د "مطلع سعدين او مجمع بحرين" په نامه په دوو لويو جلدونو کې وليکه[٦٠]. همدغه تاريخ بيا وروسته د ډېرو نورو خلکو لخوا چاپ هم شو، خو دغه ليکوال ته چې د دغه کتاب کومه نسخه په لاس ورغلې هغه د (مرکز تحقيقات رايانه ای قائميه اصفحان) له‌خوا په څلورو جلدونو کې چاپ شوې نسخه ده.

د تيموريانو د شاهرخ په دوره کې د چين له خطا څخه لومړی ډيپلوماتيکي پلاوی په ۱۴۱۳ کال کې هرات ته راغی، نو موخه يې د تيموريانو د دورې د مشهور سفير او مورخ کمال الدين عبدالرزاق په اند دا ډول وه «: ايلچيان بادشاه خطای که جهت رسانيدن تعزيت حضرت صاحبقران فرستاده بود با بيلاکات و تنسوقات رسيدند و سخن پادشاه خود به عرض رسانيدند و حضرت خاقان سعيد درباره ايشان مرحمت و عنايت نموده اجازت مراجعت فرمود».

وروسته د خطا پاچا «دای منک خان» په ۱۴۱٦ کال کې خپل دويم پلاوی هرات ته له درېيو ليکونو سره ولېږدوه. کمال الدين عبدالرازق په خپل تاريخ «سعدين و مجمع بحرين» کې په هرات کې له دغه چينايي پلاوي څخه د تود هرکلي په اړه ليکي، چې: «فرمان همايون نفاذ پيوست که شهر و بازارها آيين بندند و هر صنعت در کمال هنر ظاهر کرده و دکان خود را آرايد و امرا به رسم استقبال بيرون رفته مقدم ايشان را برخود مبارک داشتند و همه را به تعظيم تمام در شهر آوردند»[٦١]

د خطا د پاچا دويم پلاوي له ځان سره درې ليکونه هم راوړي وو، چې کمال الدين عبدالرزاق د يو ليک بشپړ جزيات راوړي، پاتې دوه يې نه دي بيان کړي؛ خو يادونه يې تري کړې ده. په دغه کتاب کې چې د کوم ليک جزيات خپاره شوي، مهم نکات يې داسې دي:

---

٦٠ د کمال الدين عبدالرزاق په تړاو ولولئ د هېواد دلوی مورخ عبدالحی حبيبي مقاله: عبدالحی حبيبي، د هرات يو مورخ او سفير، په پرليکه بڼه

٦١ مطلع سعدين و مجموع بحرين، ج ۳، مخ ۱۵۹-۱٦۰

- د خطا د پاچا لهخوا د شاهرخ عظمت بیان شوی
- د دوهاړخیـزو اړیکـو د غځونـې غوښـتونکی شـوی او د سـوداګرۍ پـه اړه یـې ویـلي، چې:«تـا راه منقطـع نشـود تـا تجـارت و کسـب بـه مـراد خویـش کننـد»[٦٢]

وروسـته چـې کلـه دغـه پـلاوی بېرتـه خطـا تـه وګرځېـد، نـو شـیخ محمـد بخـشي د دود لـه مخـې لـه دوی سره چیـن تـه ولېـږدل شـو او همـدا راز د خطـا بادشـاه چـې اسـلام یـې نـه و منلـی، نـو حـضرت خاقـان سـعید د ملګرتیـا لـه مخـې دوه نصیحـت نامـې چـې یـوه پـه فـارسي کـې او بلـه پـه عـربي کـې وې ده تـه ولېږدولـې، څـو دی د اسـلام پـه دیـن مـشرف شي[٦٣].

پـه ۸۲۰ هجـري کـې د خطـا دایمنـک خـان پادشـاه پـه دربېـم ځـل ایلچیـان د هـرات دربـار تـه ولېـږدول، چـې نومونـه یـې دا ډول وو: بـی بـا چیـن، تـو بـا چیـن، جـات بـا چیـن، تتـق بـا چیـن. دوی لـه دربېـو سـوو سـپرو او تحفـو سره راغلـل. د هـرات د تیموریانـو لهخـوا د مېلمسـتیا پـه دود لـه دغـه چینایـي پـلاوي سره "اردشـیر تواچـی" خطـا تـه واسـتول شـو. دی پـه ۸۲۲ هجـري کـې بېرتـه د خطـا لـه سـفیرانو سره هـرات تـه راغـی. دا ځـل بیـا د خطـا پادشـاه د هـرات دربـار تـه پـه دربېـو ژبـو لیکونـه لېـږدولي وو، چـې پـه فـارسي، ترکـي او خطـا ژبـه لیـکل شـوي وو.[٦٤]

پـه دغـو لیکونـو کـې د خطـا پادشـاه لـه یـوې خـوا د تیمـوري پادشـاه سـتاینه کـړې وه، پخپـل لاس یـې اوبدلـې تحفـه ورتـه رالېږلـې وه او لـه بلـې خـوا یـې د ایلچیانـو او سـوداګرو پـر تګ-راتـګ ټینـګار کـړی وو[٦٥].

---

٦٢ تېر ماخذ.

٦٣ د عربي او فارسي د بشپړو لیکونو د متن لوستلو لپاره ولولئ مطلع سعدین و مجموع بحرین، ج ۳، مخ ۱۶۲-۱۶۵

٦٤ تېر ماخذ.

٦٥ د خطا پاچا د شاهرخ په اړه څه دا ډول ستاینه کوي: «دیار مغرب که جای اسلام است از قدیم دانایان و صالحان هیچ کس از سلطان عالیتر نبوده باشد و مردمان آن مملکت را نیک می تواند امان و تسکین دادن که بروفق رضای حق است جل جلاله چگونه خداوند تعالی راضی و خشنود نباشد» د تحفو په اړه لیکي: «اکنون علی الخصوص لیدا و جانکقه باجمعهم با ایلچیان بیک بوقا وغیره را باهم فرستاده شد که نزدیک سلطان هدایا سونکقوران هفت دست است که برسانند. این سونکقوران را ما به دست خود پرانیده ایم و نیز هدایا کمخامع غیر هم فرستاده شد» د اړیکو ټینګولو په اړه یې په لیک کې څه دا ډول نظر څرګند کړی وو: «من بعد باید که صدق محبت زیاده شود و ایلچیان و تاجرات پیوسته آمد شد کنند و منقطع نباشد تا مردمان همه به دولت امن و امنان و رفاهیت باشند» د نورو معلوماتو لپاره ولولئ: مطلع سعدین و مجمع بحرین، ج۳، مخونه ۲۶۶- ۲۶۷

په ۸۲۵ هجري کال بيا د هرات له درباره شادی خواجه خطا ته په سفارت واستول شو. له ده سره ميرزا بايسنغر سلطان احمد او غياث الدين نقاش هم وو، په دوی کې خواجه غياث الدين ته دا هم ويل شول، چې کله له هرات وځي، نو تر کله چې نه وي راګرځېدلای په هر ښار او ولايت کې چې څه ويني، په تېره بيا د لارو، د ولايت او د ځای د دودونو په اړه بايد په ورځني ډول يې په مفصله توګه وليکي[٦٦].

## افغان-چين اړيکې؛ له احمد شاه بابا د شلمې پېړۍ تر نيمايي

د شاهرخ له دورې وروسته، د افغانستان او چين ترمنځ اړيکې پيکه شوې؛ خو په ۱۷٦۱ز کال کې د احمد شاه ابدالي له‌خوا هڅه وشوه او چين ته يې يو سفارتي پلاوی واستاوه[٦٧]. که څه هم په دې تړاو لا تر اوسه په ډېری کتابونو کې څه نشته، چې آيا د دغه ډيپلوماتيک پلاوي موخه يوازې د ښو اړيکو پالل وو او که بل څه؟ خو که د هغه مهال د سيمې جيو-پوليتيکي وضعيت ته ځير شو، نو په سيمه کې زورور ځواکونه شته وو.

په ۱۷۴۷ کال کې په هند کې پېرنګيانو مسلمانانو ته د پلاسي په تاريخي جګړه کې ماتې ورکړې وه، او له همدې ځايه په هند کې د پېرنګيانو سوبې له همدې(بنګال) پيل شوې او داسې په سيمه کې يې خپلو استعماري هلو ځلو ته لاره پرانيسته. دا مهال په هند کې نور محلي ځواکونه هم وو، لکه مرهټيان، حيدر علي (د ټيپو سلطان پلار) او مغول. خو پيرنګيانو د خپل مشهور سياست «وويشه او واکمن شه!» له مخې پر دغو ټولو لاسبرتيا موندلې و.

له ميرويس نيکه وروسته،شاه محمود او شاه اشرف اصفحان لاندې کړ او د دې ترڅنګ يې په ايران کې د نورو بهرنيو ځواکونو د اندېښنو له پارولو سره يوځای يې عثماني خلافت ته هم ستره ماتې ورکړې وه. خو ژر د نادر شاه افشار تر امپراتورۍ لاندې شو. خو سمدستي احمد خان د مشر پېژندونکي پير صابر شاه او محمد جمال له کبله د سيمې د مسلمانانو مشر او «احمد شاه» شو.

په بل اړخ کې، که څه هم منځنۍ اسيا د پيرنګيانو او زاريانو ترمنځ د ″لويې لوبې“ ډګر نه و؛ خو بيا هم هغه مهال په سيمه کې روسان، چينايان او خپله مسلمانان

٦٦ مطلع سعدين و مجمع بحرين، ج۳، مخ ۳۲۸

٦٧ عبدالحی حبيبي، د افغانستان تاريخي پېښلیک، مخ ۱٦۳

په یو ډول "نااعلان شوي لویه لوبه" کې ښکېل وو. په همدې تړاو په یو شمېر بهرنیو ماخذونو کې داسې خبرې هم موندل کېږي، چې احمد شاه ابدالي غوښتل په منځنۍ اسیا کې د چینایانو د نفوذ کمولو په موخه د منځنۍ اسیا له مسلمانانو سره په یو ایتلاف کې دننه شي؛ ځکه هغه مهال د چین امپراتورۍ پر ختیځ ترکستان یرغل کړی و او له همدې امله د منځنۍ اسیا مسلمانانو احمد شاه ابدالي ته پر منځنۍ اسیا او چین د برید کولو په تړاو لیکونه لیږدولي وو[٦٨]. خو په منځنۍ اسیا کې د چینایانو د نه وړاندې تګ او د یو شمېر نورو لاملونو له کبله د افغانستان او چین ترمنځ د ټکر کومه پېښه ترسترګو نه شوه.



**توضیحي رسم ۱:** چین ته د احمد شاه بابا لخوا استول شوي اسان، چې یو رسام انځور کړي او اوس د تایوان په ملي میوزیم کې ایښودل شوي

٦٨ د نورو معلوماتو لپاره وګورئ:
Hodong Kim, Holy war in China: The Muslim rebellion and State in Chinese Central Asia (1864-1877), California: Stanford University Press, 2004, pp.: 20-21

په نولسمه پېړۍ کې هم د چین او افغانستان ترمنځ اړیکې تودې نه وې؛ ځکه دواړه هېوادونه په خپلو داخلي ستونزو کې ښکېل او له استعمار سره په جګړه وو. د اتلسمې پېړۍ په پای کې انګلیسي امپراتورۍ چین ته د دجورج میکارتنی په نامه یو سفیر ولېږد، چې له چین څخه د سوداګرۍ په موخه یو لړ امتیازات ترلاسه کړي. خو وروسته د همدغه سفیر له کبله بیا د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې خرابې شوې. پای انګلستان د هند په سیمو کې د کوکنار کښت وکړ او په چین کې یې ورته مارکېټ پیدا کړ. چینایي امپراتور د اپیمو پر وارداتو بندیز ولګاوه، چې دغه چلند انګلستان په غصه کړ او داسې د دوی ترمنځ (چین او انګلستان) په ۱۸۳۹- ۱۸۴۲ کلونو کې د اپیمو لومړۍ جګړه ونښته.

افغانستان هم همدا مهال د لویې لوبې د لومو ښکار شوی و او د هرات له کلابندۍ وروسته، د انګلستان د تهاجم ښکار شو. له احمد شاه بابا وروسته، چې د چین او افغانستان ترمنځ د اړیکو کومه بله هڅه تر سترګو کېږي، هغه د همدې لویې لوبې پرمهال وه. په ۱۸٦۵ز کال کې امیر شیرعلي خان چین ته یو هیات واستاوه او د دغه هیئت له لارې یې د چین امپراتور ته یو آس هم د تحفې په توګه ولېږه.[٦٩] په دې پړاو کې له یو بل سره د اړیکو د نه شتون عمده دلایل د دوی خپلې-خپلې د آزادۍ جګړې او پر دغو دوو هېوادونو د انګریزانو تهاجمونه او تاړاکونه وو. په دغه پېړۍ کې دواړو هېوادونو دوه ځلې د انګریزانو پر ضد جګړو کې ښکېل شول. ځکه نو په دغه پېړۍ کې د دوی ترمنځ اړیکې محدوده وې.

د شلمې پېړۍ په پیل کې چین له کورنۍ ګډوډۍ او انارشۍ سره مخ و. دغه مهال هلته د باکسنګ پاڅون، چې رېل پټلۍ، سړکونه، قونسلګرۍ، سفارتونه او ډیپلوماتان به یې په نښه نښه کول راپورته شو. وروسته د اتو ځواکونو لهخوا دغه پاڅون وځپل شو. په چین کې داخلي حالات له اړ و دوړ سره مخ وو او پای په ۱۹۱۲ز کال کې د چین چینګ امپراتورۍ، چې تر اووو پېړیو پورې یې د چین پر تمدن د خپلې واکمنۍ سپر غوړولی و، ړنګه شوه. په چین کې د دغې امپراتورۍ پر ځای د چین د جمهوریت تر نامه لاندې حکومت رامنځته شو. په ۱۹۲۱ز کال کې د کمونستانو ګوند تاسیس شو. چینایي کمونستان له چینایي نشنلیستانو سره په جګړه کې ښکېل شول. په ۱۹۳۵ز کال کې ماو زی تونګ مارشونه پیل کړل؛ خو کله چې جاپان پر چین یرغل وکړ

---

٦٩ عزیز آریانفر، فغانستان و جهان (کشور های اسیایی، افریقایی و آسترلیا)، مرکز مطالعات استراتیژیک وزارت خارجه

نـو لـه نشنلیسـتانو سره یوځـای یـې د جاپـان د یرغـل پرضـد جګـړه وکـړه او دا جګـړه بیـا د دویمـې نړیوالـې جګـړې تـر پـای پـورې دوام درلـود. د دویمـې نړیوالـې جګـړې وروسـته، پـه چیـن کـې کورنـۍ جګـړه پیـل شـوه او تـر ۱۹۴۹ز کال پـورې یـې دوام وکـړ.

پـه بـل اړخ کـې، د شـلمې پیـړۍ پـه لومـړۍ نیمایـي کـې د افغانسـتان بهرنـی سیاسـت د لومـړۍ نړیوالـې جګـړې، خپلواکۍغوښـتنې، کورنـۍ جګـړې او بیـا لـه دویمـې نړیوالـې جګـړې اغېزمـن شـو؛ ځکـه نـو پـه دغـه بهیـر کـې دواړو هېوادونـو تـه ناشـونې وه، چـې لـه یـو بـل سره اړیکـې ټینګـې کـړي.

خـو بیـا هـم، دغـه مهـال د دواړو هېوادونـو ترمنـځ اړیکـې یـوازې پـه ۱۹۲۲ز او ۱۹۴۴ز کلونـو کـې ټینګـې شـوې. پـه ۱۹۲۲ز کال کـې د چیـن یـو سـیاسي پـلاوی د "چنـک-لـن یونـک" پـه مـشرۍ کابـل تـه راغـی[۷۰]، دا نـو بیـا هغـه مهـال و، چـې غـازي امـان اللـه خـان نـه یـوازې دا چـې د منځنـۍ آسـیا لـه باسـماچیانو سره مرسـتې کولـې، بلکـې د هندوسـتان آزادي غوښـتونکو تـه یـې هـم پـه خپـل هېـواد کـې پنـاه ورکـړې وه. شـونې ده، چـې افغانسـتان تـه د چینایـي راغـلي پـلاوي موخـه بـه هـم همـدا وه، چـې غـازي امـان اللـه خـان لـه دې کاره وژغـوري، چـې دی پکـې د ختیـځ ترکسـتان (سـنکیانک) مسـلمانان حمایـه کـړي. ځکـه د غـازي امـان اللـه خـان بهرنـی سیاسـت تـر ډېـره لـه افغـاني نشـنلیزم او پـان اسـلامیزم څخـه اغېزمـن وو او چینایانـو بـه شـاید لـه همدغـه څـه وېـره او اندېښـنه درلـوده.

د یـو چینایـي څېړونکـي پـه انـد د دویمـې نړیوالـې جګـړې پرمهـال چیـن د امریـکا پـه اشـاره هڅـه وکـړه، چـې لـه افغانسـتان سره د ملګرتیـا تـړون لاسـلیک کـړي[۷۱]، ځکـه پـه دغـه جګـړه کـې امریـکا او چیـن ملګـري وو او د جرمنیانـو د بېلابېلـو هڅـو لـه کبلـه وېـره وه، چـې افغانسـتان بـه پـه دغـه جګـړه کـې لـه جرمنیانـو سره یوځـای شي. خـو پـای افغانسـتان ناپېیلـی پاتـې شـو او دغـه تـړون پـه ۱۹۴۴ز کال کـې د افغانسـتان او نشنلېسـت چیـن ترمنـځ د مـودت تـړون پـه نامـه لاسـلیک شـو.[۷۲]

۷۰ عبدالحی حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک، مخ۲۴۱

۷۱ Shen Yu Dai, China and Afghanistan, The China Quarterly, No 25 (Jan-March, 1966) pp: 213-221

۷۲ عبدالحی حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک، مخ ۲۸۵

**دويم فصل**

# د افغانستان او چين اړيکې (۱۹۵۰ - ۲۰۰۱)

چين د نړۍ تر ټولو زيات نفوس لرونکی او دويم اقتصادي ځواک، د نړيوال سياست مهم لوبغاړی او د ملګرو ملتونو امنيت شورا کې د ويټو خاوند دی. دا د د يوه داسې لرغوني تهذيب څښتن دی، چې له نورو تهذيبونو په تېره بيا اسلامي او اروپايي سره پخوانۍ اړيکې لري.

په چين کې د کورنۍ جګړې وروسته، د ماو زی ډونګ په مشرۍ د کمونيزم انقلاب برپا شو. دغه مهال د کمونستانو نوی زيږيدلی حکومت يوازې سوسياليستي دولتونو په رسميت پېژاند. که څه هم افغانستان سوسياليست هېواد نه و؛ خو بيا يې هم، د چين انقلابي حکومت په لومړي سهار په رسميت وپېژندو او له چين سره يې اړيکې له شپږنيمو لسيزو څخه په تېرېدو نن ته راورسېدلې.

## افغانستان او چين؛ د نړۍ پر بام ننبلول شوي ګاونډيان

چين يوازينی نااسلامي هېواد، زبرځواک او تهذيب دی، چې له افغانستان سره د يو دوو وړو پېښو پرته، چې يادونه يې په لومړي فصل کې وشوه، د تاريخ په بېلابېلو پړاوونو کې د ټکر سوابق نه لري، بلکې د دواړو هېوادونو ملګرتيا د چين د بهرنيو چارو وزير چو اين لای په اند د هماليا او د نړۍ د بام (پامير) په څېر پر موانعو برسېره د وريښمو

د لارې تېرېدنې ځخه جوته ده.[۷۳]

د ورېښمو په لار کې افغانستان له چین سره داسې اوبدل شوی و، چې که پیل یې له چین کېده او په افغانستان کې به بیا دغه تاریخي لاره له یوې خوا د منځنۍ آسیا په لور تلله، له بلې خوا به یې د ورېښمو لارې کاروان د هند لویې وچې (سویلي آسیا) ته روان ساته او په پاتې کنډو به یې دغه لاره د منځنۍ اسیا، اروپا او افریقا ته غځوله.

په دې کتاب کې د افغانستان او چین اړیکې پر لاندې شپږو پړاوونو ویشل شوي دي:

لومړی: د هویت او ملګرتوب پړاو (۱۹۵۰- ۱۹۶۳)؛
دویم: د ډیموکراسۍ لسیزه او چین (۱۹۶۳- ۱۹۷۳)؛
درېیم: د محمد داوود خان جمهوریت او چین (۱۹۷۳- ۱۹۷۹)؛
څلورم: جهاد، د انساني همدردۍ او د امنیتي ګټو پړاو (۱۹۷۹- ۱۹۹۱)؛
پنځم: د مجاهدینو او طالبانو دوره او چین (۱۹۹۱- ۲۰۰۱)؛
شپږم: د کابل پر لور د چین د پاملرنې پړاو (۲۰۰۱- ۲۰۱۴).

## ۱ - لومړی: د هویت او ملګرتوب پړاو (۱۹۵۰- ۱۹۶۳)

افغانستان یو له هغو لومړنیو هېوادونو وو، چې په ډیپلوماتیک ډګر کې یې د چین د خلکو جمهوریت ته پر یو داسې مهال د پېژندتیا او ښه ګاونډیتوب شین څراغ ورکړ[۷۴]، چې د ماو زوډونګ ګرمو انقلابیانو ایله له چیانګ کای شیک خلاصون موندلی وو او لا یې سرتیرو د سنکیانګ ایالت، چې د چین په لویدیځ کې دی او له افغانستان سره پوله لري، نه و نیولی[۷۵]. چیانګ کای شیک په چین کې د نشنلیستانو مشر او واکمن و. ماو زوډونګ له همده سره په جګړه و او دی یې پای په ۱۹۴۹ز کال تائیوان ته وځغلوه.

---

۷۳ د ۱۳۳۵ کال د جدي په ۲۹مه په کابل کې د چو این لای بیانیه. د بشپړې بیانیې لپاره ولولئ غلام محمد سخنیار، روابط پنجاه ساله چین و افغانستان (۳۰ جدی ۱۳۳۳- ۳- جدی ۱۳۸۳)، مرکز مطالعات استراتیژیک وزارت امور خارجه: انتشارات عازم، کابل، ۱۳۸۴، مخ ۲۵

۷۴ افغانستان د چین د خلکو جمهوریت د ۱۹۵۰ کال د جنوری پر ۱۳مه په رسمیت وپېژنده. وګورئ: پوهاند عبدالحی حبیبي، د افغانستان تاریخي پېښلیک، کابل: د بیهقي کتاب خپرولو مؤسسه، مخ ۲۹۳؛ غلام محمد سخنیار، ۱۳۸۴، مخ ۱۰

۷۵ د افغانستان حکومت د چین د خلکو جمهوریت د ۱۹۵۰ کال پر ۱۳ جنوري په رسمیت وپېژند او د چین د خلکو پوځ بیا د همدغه کابل په مارچ کې د سنکیانګ ایالت ته ننوتل.

په چین کې د کمونېستي ګوند بنسټ په ۱۹۲۱ز کال کې اېښودل شوی و، وروسته په ۱۹۳۴-۱۹۳۵ کلونو کې د ماو له‌خوا معجزانه اوږد مزل، چې تر ۶۰۰۰ میله پورې پیاده سفر و، له زرګونو ملګرو سره یوځای ترسره شو او د همدغه اوږده مزل له کبله ماو زو ډونګ د یو انقلابي رهبر په توګه راڅرګند شو. د همدې کلونو پرمهال جاپان پر چین یرغل راووړ، چې له کبله یې د جاپان پرضد کمونېستان او ناسونالېستان په یوه محاذ کې سره یوځای شول[۷۶]. له جاپان سره دغه جګړې تر هغه روانې وې، چې کله امریکا پر جاپان دوه اتمونه وغورځول او په پای کې یې دویمه نړیواله جګړه پای ته ورسوله. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، د ماو اوښتون خوښیو د چیانک کای شیک پرخلاف یو ځل بیا مبارزه پیل کړه، چې د دوی د دغې مبارزې پایله بیا د ۱۹۴۹ز کال د اکتوبر په لومړي تاریخ د یو انقلاب په توګه راووتله. پر دغه تاریخ د چین کمونستانو چیانک کای شیک او سرتیري یې د تایوان ایالت ته وشړل. چیانک کای شیک په تایوان کې د چین جمهوریت اعلان کړ او ماو بیا د چین په لویه اصلي سیمه یا Mainland کې د چین د خلکو جمهوریت اعلان کړ. دواړو به د بشپړ چین د استازیتوب دعوه کوله. څکه نو له همدغه ځایه بیا د دوو چینونو[۷۷] او یو-چین[۷۸] تګلاره پیل شوه.

---

۷۶ په دې اړه د نورو معلوماتو لپاره ولولئ د لاندې لیکوالانو تاریخ:
John King Fairbank, Merle Goldman, China: A New History, The Belknap Press: Harvard University, 2006, pp: 305-326

۷۷ Two Chinas:
په ۱۹۱۱-۱۹۱۲ کلونو کې په چین کې د چین جمهوریت (Republic of China) بنسټ کېښودل شو، چې تر ۱۹۴۹ کال پورې د چیانک کای شیک پر مشرۍ یې شتون درلود؛ خو د دویمې نړیوالې جګړې وروسته د چیانک کای شیک د سرتیرو او د ماو د کمونستانو ترمنځ کورنۍ جګړه ونښتله، چې تر ۱۹۴۹ کال پورې روانه وه. د دغې کورنۍ جګړې په پای کې د ماو کمونستانو د چین په بشپړه سیمو کې خپل کمونستي انقلاب برپا کړ، یوازې د تایوان پر سیمې د چیانک کای شیک یا د چین جمهوریت واکمني وه. له همدې ځایه دواړو به ادعا کوله، چې دی د چین ریښتینې استازیتوب کوي. د چیانک کای شیک چین تر ۱۹۷۱ کال پورې د چین استازیتوب وکړ؛ خو په ۱۹۶۹-۱۹۷۲ کلونو کې د امریکا او د ماو چین ترمنځ د ښې اړیکو له کبله ممکنه شوه، چې د چین د خلکو جمهوریت خپله دغه څوکۍ بېرته ترلاسه کړي. د نورو معلوماتو لپاره ولولئ:
Wikipedia, Two Chinas, retrieved at 25th jan, 2015, see it in the following link: <http://en.wikipedia.org/wiki/Two_Chinas>

۷۸ One China Policy:
د دغه پالیسۍ له مخې یوازې یو چین دی، سره له دې چې دوه داسې حکومتونه دي، چې ځانونه چین بولي. یو د خلکو جمهوریت چین (Peoples republic of china) او بل په تایوان کې د چیانک کای شیک حکومت، یانې د چین جمهوریت (Republic of China ) دی. د همدغې پالیسۍ له مخې دا چې څوک د خلکو جمهوریت چین سره ډیپلوماتیکې اړیکې ولري، پکار دي، چې د چین له جمهوریت (تایوان) سره اړیکې پرې کړي. همداسې که له تایوان (د چین جمهوریت) سره اړیکې ولري، پکار دي، چې د چین د خلکو جمهوریت سره اړیکې پرې کړي.د نورو معلوماتو لپاره وګورئ:
Wikipedia, one-china policy, retrieved at 25 jan, 2015, see it in the following link: http://en.wikipedia.org/wiki/One-China_policy

د چين په کورنۍ جګړه کې، چې د ماو کمونستان او د چيانګ کای شيک ناسيوناليستان دوه ښکېل لوري وو، امريکا او شوروي هم دخيل وو. امريکا له چيانګ کای شيک څخه ملاتړ کاوه او که څه هم شوروي او ستالين له ماو سره اړيکې درلودلې او ماو به د ستالين مشورو ته هم غوږ کېښود؛ خو بيا هم ستالين له چيانګ کای شيک څخه يو ډول ملاتړ کاوه، چې وروسته يې بيا د چين له کمونست""ليو شايقي" څخه په ماسکو کې د خپلو کړنو په اړه بښنه هم وغوښتله[۷۹].

د ماو ملګرو په چين کې د نړۍ د پانګوالو هېوادونو له غبرګون دمخه د يو داسې چا (چيانګ کای شيک) پرضد مبارزه پيل کړې وه، چې امريکا يوازې دی په سيمه کې د دې وړ باله، چې د شوروي پرضد به نه يوازې دا چې يو قوت وي، بلکې پېټی به يې هم د امريکا پر اوږو بار نه وي؛ ځکه له دويمې نړيوالې جګړې وروسته، په امريکا کې د روزولټ[۸۰] پرځای ټرومين[۸۱] ولسمشر شوی و او د شوروي په اړه د ده د "کمونېزم حصار[۸۲]" نظريه مشهوره شوې وه، چې وروسته بيا د "ټرومين دوکترين" په نامه هم ياده شوه. خو پای د ماو انقلابيانو د امريکا دغې مُهرې ته په ماتې ورکولو سره د لرغون تمدن او د بشري پرګنو ډک هېواد ته اوږه ورکړه او يوه داسې نن ته يې راورسوله، چې اوسمهال يې امريکا له دننه د پورونو له کبله قبض کړې[۸۳]، اقتصادي شميرو ته يې يوازې د پورته تګ لوری ښودلی[۸۴] او په نړيوالو اړيکو کې يې وار دمخه خپل « سوک» د سياست پر ميز وهلی دی.

---

۷۹"Memorandum of Conversation between Liu Shaoqi and Stalin," July 27, 1949, History and Public Policy Program Digital Archive, Zhonggong zhongyang wenxian yanjiushi and Zhongyang dang'anguan, eds., Jianguo yilai Liu Shaoqi wengao (Liu Shaoqi's Manuscripts since the Founding of the PRC), vol. 1 (Beijing: Zhongyang wenxian chubanshe, 2005), 40-41. Translated by David Wolff. http://digitalarchive.wilsoncenter.org/document/113440

۸۰ فرانکلېن روزولټ د امريکا ۳۲ ولسمشر دی، چې د واکمنۍ دورې يې له ۱۹۳۳ کال څخه تر ۱۹۴۵ کال پورې دوام وکړ.

۸۱ هيري ټرومين په ۱۹۴۵ کال کې د فرانکلېن روزولټ له مړينې وروسته د امريکا د امريکا ۳۳ ولسمشر شو او د واکمنۍ دوره يې تر ۱۹۵۳ کال پورې دوام وکړ.

۸۲ د کمونيزم حصار يا د ټرومين نظريه د سړې جګړې پرمهال د شورويانو د جيوپوليټيکي پراختيا په لاره کې خنډونه جوړول يا مخنيوی و.

۸۳ امريکا اوس د چين ۱.۳۱۷ تريليون ډالره قرضداره ده. د نورو معلوماتو لپاره ولولئ:
Matt Egan, China Now Owns a Record $1.317 T of U.S. Government Debt, Fox Business, 16 jan, 2014, retrieved at 25 jan 2015, see it online: http://www.foxbusiness.com/economy-policy/2014/01/16/china-now-owns-record-1317t-us-government-debt /

۸۴ له ۱۹۸۰ کال راهيسې تر ۲۰۱۴ کال پورې چين په اوسط ډول تقريباً ۱۰ سلنه اقتصادي وده کړې. د نړيوال بانک له ارقامو څخه د ليکوال خپله محاسبه

ماو د انقلاب له بریالیتوب سره، د خپلو فکري انډیوالانو، په تېره بیا له شوروي، سره اړیکې ټینګې کړې؛ خو بیا یې وروسته، په نړیوال سیاست کې له شوروي سره ملګرتیا او اړیکې د چین ګټو ته سپیلنۍ کړې. په دا ډول چین له شوروي څخه په تدریج د امریکا پر لور ولاړ. چین هم د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هینري کیسنجر[85] او ولسمشر ریچارډ نېکسن[86] دغې کړنې او هڅې ته د اړتیا په سترګه وکتل او په پای کې د چین د خلکو جمهوریت د امریکایي وروستي کمربند (ویټو) نه په وتلو سره پر ۱۹۷۲ز کال په ملګرو ملتونو او د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې خپله څوکۍ ترلاسه کړه.

## افغانستان او چین؛ «د پامیر دنګو خنډونو هم جلا نه کړای شول![87]»

که څه هم افغانستان د ۱۹۵۰ کال د جنورۍ پر ۱۳مه د چین د خلکو جمهوریت په رسمیت وپېژاند؛ خو په ډیپلوماتیک ډګر کې د دواړو هېوادونو د اړیکو ټینګښت پنځه کلونه نور هم ونیول او په رسمي ډول د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې او مناسبات د ۱۹۵۵ کال د جنورۍ پر ۲۰مه پیل شوې[88]. دا چې د چین د خلکو له جمهوریت څخه د افغانستان له تود هرکلي سره هم بیجینګ د افغانستان پر لور پاملرنه ونه کړه او نه یې ورسره ډیپلوماتیک مزي وغځول، لامل یې یو چینایي څېړونکی په دا ډول بیانوي:

افغانستان [ډېر ژر] چین په رسمیت وپېژاند خو د چین غبرګون سوړ و؛ ځکه [د چین د کورنۍ جګړې پرمهال او] په دغو کلونو کې امریکا په افغانستان کې په یو شمېر پروژو کې بوخته وه[89].

خو کله چې امریکا-پاکستان اړیکې نږدې او دوی له یو بل سره په نظامي تړونونو کې ننوتل، نو له کبله یې چین او افغانستان یو بل ته نږدې شول او دا مهال به د دغو

---

۸۵ هینري کیسنجر د سیاسي علومو پروفیسور، څېړونکی، او د ریچارد نکسن او جیرالډ فورډ د دورې پرمهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر او د ملي امنیت سلاکار وزیر و.

۸٦ ریچارډ نکسن د امریکا ۳۷ ولسمشر دی، چې د واکمنۍ دوره یې په ۱۹٦۹ کال کې پیلېږي او په ۱۹۷۴ کال کې د نکسن له استعفا سره پای مومي.

۸۷ د کابل په هوایي ډګر کې په ۱۹۵۷ کال کې د چین د لومړي وزیر، چو این لای، بیانیه، چې دی کله په لومړي ځل افغانستان ته راغی، ده وویل: « کوه های پامیر ما و شما را از هم جد نتوانست، بدبختی های استعمار نیز نتوانست که در رابطه دوستانه ملت ما و شما خلل بیندازد ». وګورئ غلام محمد سخنیار، ۱۳۸۴، مخ ۲۵

۸۸ غلام محمد سخنیار، ۱۳۸۴، مخ ۱۰

۸۹ Shen-Yu Dai, China and Afghanistan, The China Quarterly, No. 25 (Jan-March, 1966), Cambridge University Press, pp. 213-221

اندېښنو په اړه چې امریکا له پاکستان سره په نظامي تړونونو کې ننوتې، په چینایي رسنیو کې د افغانستان د انیس ورځپاڼې خبرې په اقتباس سره نقل قول کېدې[۹۰]. که څه هم د ماو له انقلابه وروسته، هغه لومړني هېوادونه چې د چین د خلکو جمهوریت یې په رسمیت وپېژنده، ډېری یې کمونیستي فکر لرونکي، د ختیځې اروپا هېوادونه- چې د شوروي تر اغېزو لاندې وو- او ناپېیلي هېوادونه وو[۹۱]. افغانستان هم یو د ناپېیلو هېوادونو له جملې و، چې د خپل همدغه سیاست (ناپېیلتوب) له کبله یې خپله پاملرنه د چین په لور واړوله[۹۲].

وروسته چې د باندونګ په کنفرانس کې دواړو لوریو برخه واخیسته او دغه راز دواړه په بهرني سیاست کې تر ډېره له یو بل سره همغږي وو، نو پای د ۱۹۵۵ کال د جولای پر ۵مه د چین د خلکو جمهوریت لومړی لوی سفیر "تین-کوو-یو" خپل باورلیک په کابل کې د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه ته وړاندې کړ[۹۳] او داسې یې دغه دوه هیوادونه له یو بل سره په دیپلوماتیکي تارونو وپېیل. وروسته په چین کې د افغانستان لومړی سفیر عبدالصمد هم د ۱۹۵۵ کال د نومبر پر ۲مه خپل باورلیک د چین رییس جمهور ماو زو ډونګ ته وړاندې کړ[۹٤].

## چین او افغانستان ولې یو بل ته نږدې شول؟

دا چې په ۱۹۵۵ کال کې چین او افغانستان رسمي ډیپلوماتیکي اړیکې ولې پیل کړې، د چین لومړني سفیر او لومړی وزیر ولې لومړی افغانستان ته راغلل او بیا یې د افغانستان صدراعظم سردار محمد داوود خان هم چین ته دعوت کړ؟[۹۵] د دې تر شا د

---

۹۰ تېر ماخذ

۹۱ شوروي اتحاد د چین د کمونیستي انقلابه دوه ورځې وروسته (د ۱۹۴۹ کال پر ۳ اکتوبر) د چین د خلکو جمهوریت وپېژنده، وروسته یې په تعاقب پسې نورو کمونیستي هېوادونو هم د چین کمونیستي انقلاب په رسمیت وپېژند

۹۲ وګورئ د غلام محمد سخنیار په کتاب- روابط پنجاه ساله چین و افغانستان- کې د چو این لای او نورو چینایانو بیانیې او اعلامیې، چې د افغانستان د ناپېیلتوب دریځ په ستاینه کې یې کړې وې. مخونه ۲۳-۸۲

۹۳ د افغانستان تاریخي پېښلیک، مخ ۳۰۱؛ غلام محمد سخنیار، مخ ۱۰

۹٤ غلام محمد سخنیار، مخ ۱۰

۹۵ وګورئ د غلام محمد سخنیار په کتاب، روابط پنجاه ساله چین و افغانستان، کې د چو این لای د ۱۹٥٦ کال ۲۱ جون دعوتنامه، چې د داود خان له خوا د مصروفیاتو له کبله رد شوه (۱۴ مخ)، وروسته بیا سردار محمد داود خان د ۱۹٥٦ کال پر ٦ نومبر چو این لای، د چین د خلکو جمهوریت لومړی وزیر، افغانستان ته رادعوت کړ. په همدې تړاو د چین چو این لای په ۱۹٥٧ کال کې د جنورۍ پر ۱۹مه د کابل په هوایي ډګر کې د ځلور ورځني سفر په موخه ښکته شو (مخونه ۱۴-۱۹)

سیمې جیو-پولیټیکې بدلونونه او د نړیوال سیاست اغېزې وې.
دا مهال افغانستان او چین د لاندې لاملونو له کبله یو بل ته نږدې شول:
**لومړی:** په سیمه کې د امریکا نظامي تړونونه (د سیټو او سېنټو تړونونه)؛
**دویم:** د باندونګ کانفرانس او ناپېیلتوب ؛
**درېیم:** له هند او شوروي سره د کابل ښې اړیکې.

## لومړی: په سیمه کې د امریکا د سیټو او سېنټو تړونونه

د سیټو (South East Asian Treaty Organization, SEATO) تړون، چې د سویل ختیځ اسیا سازمان په توګه هم یادېږي، د ۱۹۵۴ کال په سپټمبر کې د امریکا، فرانسې، انګلستان، نیوزیلانډ، اسټرالیا، فلپین، تایلېنډ او د پاکستان ترمنځ لاسلیک شو. د دغه سازمان بنسټیزه موخه د کمونیستي نظریې خپرېدنې مخنیوی و، ځو نه یوازې دا چې سویله اسیا بلکې منځنۍ اسیا، چې لویدیځ او په تېره بیا امریکا ته یې ستراتیژیکي ارزښت درلود، له کمونېزمه وژغوري. د دغه سازمان مرکز د تایلېنډ په بنکاک کې و، که څه هم دغه سازمان خپل کوم ځانګړی پوځ نه درلود؛ خو د دغه سازمان غړو هېوادونو به هر کال کلني پوځي تمرینات ترسره کول. وروسته دغه سازمان خپل ارزښت وبایله او پای په ۱۹۷۷ کال کې فسخه شو[٩٦]. د دغه سازمان ناکامي په دې کې وه، چې یوازې درې غړي هېوادونه یې له سویلي اسیا څخه وو: پاکستان، فلپین او تایلینډ[٩٧] او نورو بیا له دغې سیمې سره تړاو نه درلود.

چین په بل اړخ کې چې ایله د کوریا له جګړې (۱۹۵۰- ۱۹۵۴) فارغ شوی و او هلته یې مخامخ له امریکا سره د ټکر سوابق درلودل، د امریکا له خوا دغه نوې سپانسر شوي سازمان ته د افغانستان په څېر د شک په سترګه کتل او دغه سازمان یې له چین څخه راچاپېر کمربند باله. په همدې تړاو کله چې د سیټو تړون لاسلیکېده نو د چین لومړی وزیر چو این لای د ځینو سویلي اسیا هېوادونو په سفر ووت. دی په خپل یو لیک کې د چین د کمونیستي انقلاب پلار او د چین رییس جمهور ماو زوډونګ او نورو انقلابي رهبرانو ته د هند او نورو سویلي اسیا هېوادنو ته د خپل سفر موخه په

---

٩٦ پاکستان او فرانسه د ۱۹۷۰ لسیزې په پیل کې له دغه سازمان څخه خپل غړیتوب بېرته واخیست؛ ځکه د پاکستان په اند د هند و پاکستان په ۱۹۷۱ کال جګړه کې امریکا له پاکستان څخه ملاتړ نه و کړی.

٩٧ Office of the historian, US department of State, MILESTONES: 1953-1960, Southeast Asia Treaty Organisation (SEATO), 1954, retrieved at 25th jan, 2015, see it online in US department of State's official website

دا ډول بیانوي:

”هند ته د دغه سفر موخه دا ده، چې د یو داسې سوله ییزې اسیا تړون لپاره چمتووالی ونیول شي، چې د امریکا توطیې او سیټو بلاک ته ټکان ورکړای شي.“[98]

په بل اړخ کې، افغانستان هم دغه سازمان ته د شک په سترګه کتل؛ ځکه دغه سازمان له یوې مخې د ډیورنډ کرښه په رسمیت پېژندلې وه[۹۹] او له بلې خوا یې له پاکستان سره نظامي او اقتصادي مرستې کولې، چې دغه بیا د افغانستان امنیت له جدي ګواښ سره مواجه کاوه. د دې ترڅنګ پاکستان له امریکا سره نور دفاعي تړونونه هم لاسلیک کړي وو، لکه سېنټو ( یا د بغداد پکټ)، د پاکستان او امریکا دفاعي ګډ تړون او د پېښور په بډه بېره کې هوایي هډه، چې موخه یې پر شوروي اتحاد نظارت او جاسوسي کول وو. په دفاعي او امنیتي ډګر کې د پاکستان او امریکا نږدې کېدل د دواړو چین او افغانستان ملي امنیت ته ګواښ وو. همدا لامل دی، چې دغه وضعیت هم د دواړو پر اړیکو سیوری وغوړاوه.

## دویم: د باندونګ کانفرانس او ناپېیلتوب

د باندونګ کنفرانس پرمهال، چې چین او هند یې مبتکرین وو، د افغانستان او چینایي ډیپلوماتانو ته یې د مخامخ خبرو موقع په لاس ورکړه او بیا د همدغو اړیکو له کبله په ۱۹۵۵ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکي اړیکې هم پیل شوې.

د باندونګ کنفرانس او ناپېیلتوب هغه بل لامل و، چې افغانستان یې چین ته نږدې کړ. دغه مهال د دواړو هېوادونو بهرني سیاستونه پر همدغو دوو اصولو یعنې د باندونګ کنفرانس پر پنځو اصولو او ناپېیلتوب اینښودل شوی وو. د باندونګ کنفرانس اصولونه په لاندې ډول وو:

---

۹۸ "Cable from Zhou Enlai, 'Premier's Intentions and Plans to Visit India'," June 22, 1954, History and Public Policy Program Digital Archive, PRC FMA 203-00005-01, 3-4. Translated by Jeffrey Wang. http://digitalarchive.wilsoncenter.org/document/112437

۹۹ امریکا د بهرنیو چارو وزیر وویل: we regarded this as the international frontier at the time we recognized Pakistan in 1947…. The USA regards it as appropriate to make it quite clear that the SEATO treaty area as defined in Article 4 and Article 8 of the treaty includes, so far as Pakistan is concerned. See for more details, The Palm Beach Post, Pakistan Wins SEATO support in border tiff, March 8, 1958, retrieved at March 29th 2015, see it online: < https://news.google.com/newspapers?nid=1964&dat=19580308&id=1wEjAAAAIBAJ&sjid=us0FAAAAIBAJ&pg=1115,1913920&safe=on&hl=en>

لومړی؛ د يو بل زمکني بشپړتيا او ملي حاحکميت ته درناوی

دويم؛ په متقابل توګه له يرغلونو ډډه کول

درېيم؛ د يو بل په داخلي چارو کې نه لاسوهنه

څلورم؛ برابري او ګټيالی-ګټيالی وضعيت

پنځم؛ سوله‌ييزه همزيستي

کله چې د چين صدراعظم په لومړي ځل افغانستان ته راغی، نو د کابل ښاروال عبدالخالق هم په خپلو خبرو کې ناپېيلتوب ته په اشارې سره وويل: "ملت چين سياست خارجی افغانستان را که بر تهداب صلحخواهی و آزادی و بيطرفی استوار بوده اند و تا اکنون تعقيب شده است، به نظر تقدير می نگرند"[100]

## درېيم: له هند او شوروي سره د کابل ښې اړيکې

درېيم لامل چې چين يې د افغانستان پر لور راکاږه، له هند او شوروي سره د کابل ښې اړيکې وې. له ۱۹۵۰ کال تر ۱۹۵٦ کال، چين هم له دغو دوو هېوادونو سره ښې اړيکې پاللې؛ خو کله چې په ۱۹۵٦ کال کې خروشېف د ستالېن له مړينې وروسته، ستالين او د ستالين پاليسۍ وغندلې، نو ماو د ستالين پر سر له شوروي سره اړيکې خړې پړې کړې. په ۱۹٦۰ کال کې شوروي له چين څخه خپل ډېری مشاورين راوبلل او په ۱۹٦۹ کال کې دوی د پولې پر سر په يوه وړه جګړه کې هم ښکېل شول. وروسته د برېژنېف له دوکترين او د "شوروي اسيا ګډ امنيتي کمربند" چې د چين پرضد ګڼل کېده، رامنځته شو. چين له همدې اندېښمن شو او په ۱۹۷۰ کال کې چين ته د هينري کيسنجر له پټ سفر سره چين امريکا ته نږدې شو او له شوروي سره د چين سړې اړيکې ان له افغانستانه د شورويانو تر وتلو پورې خرابې وې. همدا ډول د چين او هند اړيکې هم له ۱۹۵۰ کال تر ۱۹۵۹ کاله سمې وې او دوی به د "هندي-چيني بهاي بهاي" شعار پورته کاوه، چې مانا يې وه: "هندوان او چينايان ورونه دي!" خو کله چې چين په ۱۹۵۹ کال په تبت کې عمليات پيل کړل

۱۰۰ د چو اين لای د بشپړې بيانيې لپاره وګورئ غلام محمد سخنيار ، مخ ۲۹

او د تبت مشهور مذهبي لارښود "دلای لاما"[101] هند ته وتښتېد، د دواړو هېوادونو اړیکې خرابې شوې او وروسته بیا د دواړو هېوادونو ترمنځ د یوې سرحدي سیمې (اکسیچن) او سرحدي کرښې (میکماهون کرښه) پر سر شخړې د ۱۹٦۲ کال پر جګړه واوښتې. له همدغه وخته د چین او هند ترمنځ اړیکې خرابې شوې، چې بیا له سړې جګړې وروسته، یو څه د ښه کېدلو پر لور ولاړې.

دا چې افغانستان له دواړو (هند او شوروي) سره ښې اړیکې درلودې، نو چین یې هم دې ته وهڅاوه، چې له افغانستان سره خپل مناسبات ټینګ کړي. وروسته، چې کله د چین اړیکې له دغو دواړو هېوادونو سره خرابې شوې او ترخنګ یې همدا دوه هېوادونه په افغانستان کې په بشپړ ډول دخیل وو، چې له یوې خوا شوروي له افغانستان سره تر ټولو زیاتې مرستې کولې او په بل اړخ کې کابل هم له نوي ډهلي سره ښې اړیکې درلودې. که څه هم چینایان تر اوسه په افغانستان کې خپل بهرنی سیاست د کوم هېواد پرضد نه ګڼي، بلکې دا یوازې له افغانستان سره د برابرۍ پر اصولو څرخېدلی بولي؛ ځکه افغانستان د دوی ګاونډی دی؛ خو بیا هم شاید د چین د بهرني سیاست تر شا یوه موخه دا هم وه، چې په افغانستان کې تر یو ځایه د خپلو دوو رقیبانو هند او شوروي نفوذ راکم کړي.

## افغانستان ته د چو این لای سفر

د ۱۹۵۷ کال د جنورۍ پر ۱۹مه د سردار محمد داوود خان په بلنه د چین د بهرنیو چارو او لومړی وزیر چو این لای له یو لوړ پوړي پلاوي[۱۰۲] سره کابل ته په څلور ورځني سفر ولاړ[۱۰۳]. ده د افغانستان له صدر اعظم سردار محمد داوود خان سره دوه ځله ولیدل، په دغو ناستو کې د سیمې او نړۍ په اړه دواړو خواوو خپل لیدلوري تبادله کړل، چې د دواړو لوریو لیدلوری یو ډول وو. ځکه دغه مهال دواړو لوریو په

۱۰۱ دلای لاما د تبت بودایي لارویانو د مذهبي لارښود نوم دی. د دلای لاما نوم د شوني شهزاده الټان خان په لاس په ۱۵۷۸ کال کې جوړ شو او د مېنګ امپراتورۍ لهخوا ومنل شو. څوارلسم او اوسنی دلای لاما تینزین ګیاتسو دی.

۱۰۲ په دغه پلاوي کې مارشال هولونګ، د لومړي وزیر معاون؛ چیاوکوان هوا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال، چانګ ین د صدارت د دارلانشا مرستیال، کنګ پینګ د بهرنیو چارو وزارت د اطلاعاتو مدیره، ای فو کن، د امنیت عامه معاون، چینګ تن، پوشو چانګ، پی سووان، پوشان، خان شو، چانګ پینګ او نور. وګورئ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۰

۱۰۳ د افغانستان تاریخي پېښې لیک، مخ ۳۰۴؛ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۰

افریقا کې د سویز کانال[۱۰۴] په جګړه کې له مصر څخه سیاسي دفاع کوله[۱۰۵]، د پښتونستان د قضیې په اړه د چین لوري پرېکړه وکړه، چې بل وخت به پرې مفصلې خبرې وکړي[۱۰۶]، د افغانستان صدراعظم داوود خان د چین له نېکو هیلو او همدردۍ مننه وکړه. د دې ترڅنګ په دغو مجلسونو کې پرېکړه وشوه، چې افغانستان او چین به په اقتصادي او ټکنالوژیکي برخو کې خپلې اړیکې وغځوي. د چین لومړي وزیر داوود خان ته وویل: ''زه به بیجینګ خبر کړم، چې د افغانستان اقتصادي پلاوي ته د چین لپاره څو ورځنی سفر برابر کړي، څو دوی د راتلونکي اقتصادي او ټکنالوژیکي اړیکو په اړه ډېر معلومات ټول کړي او د دواړو هېوادونو په اړه مشخص پروګرامونه جوړ کړي''[107].

له دې سره، د چین حکومت د افغانستان له هغه وړاندیز هم هرکلی وکړ، چې له مخې به یې چینایي محصلین د کابل په پوهنتون کې زده کړې وکړي. له همدې ځایه دوه چینایي زده کوونکي د کابل پوهنتون ته د زده کړو لپاره راغلل.

د دغه سفر پرمهال چین په لومړي ځل له افغانستان سره د مرستو په بهیر کې د کابل له طب فاکولتې سره مرسته وکړه، خو دغه مرستې محدودې وې. وروسته د دواړو هېوادونو له خوا ګډه اعلامیه هم خپره شوه، چې په بنسټیزه توګه پکې دوه لاندې خبرې شوې وې:

لومړی دا چې: طرفین اقتصادي او فرهنګي اړیکې د دواړو هېوادونو په ګټه بولي او پرېکړه شوې، چې دا ډول مناسبات لا پراخ کړای شي؛

دویم: دواړه هېوادونه د باندونګ کنفرانس له اصولو ملاتړ اعلانوي[۱۰۸]

---

۱۰۴ سویز کانال په مصر کې په لاس جوړ شوی کانال دی، چې مدیترانه له سور سمندرګي سره نښلوي. دغه کانال د سویز کانال کمپنۍ لهخوا په ۱۸۵۹ او ۱۸۶۹ کلونو کې جوړ شو.

۱۰۵ هغه مهال چې چواین لای د کابل په هوایي ډګر کې ښکته شو، نو په خپله لومړنۍ بیانیه کې یې وویل: «... و همچنان قیام افغانستان را در برابر تجاوزاتی که بر کشور مصر رخ داد، به نظر احترام می نګرد...» وګورئ روابط پنجا ساله چین و افغانستان، مخ ۲۵

۱۰۶ په دې اړه ولولئ د چین آرشیفي کاغذ، چې د همدغه ناستو په اړه دی:
Summary of the Two Conversations between Premier Zhou and Prime Minister Khan of Afghanistan,'' January 21, 1957, History and Public Policy Program Digital Archive, PRC FMA 203-00024-08. Translated by Joanna Wenjie Zhang. See it online: http://www.digitalarchive.wilsoncenter.org/document/121607

۱۰۷ په دې اړه ولولئ د چین آرشیفي کاغذ، چې د همدغه ناستو په اړه دی:
'Summary of the Two Conversations between Premier Zhou and Prime Minister Khan of Afghanistan,' January 21, 1957, History and Public Policy Program Digital Archive, PRC FMA 203-00024-08. Translated by Joanna Wenjie Zhang. See it online: http://www.digitalarchive.wilsoncenter.org/document/121607

۱۰۸ غلام محمد سخنیار مخ ۳۵

## چین ته د محمد داوود خان سفر

محمد داوود خان د ۱۹۵۷ کال د اکتوبر پر ۱۹مه د چین د لومړي وزیر چو این لای په بلنه چین ته ولاړ. دا چې چین ته د افغانستان لهخوا د لوړ پوړو چارواکو لومړنی سفر و، نو د چین مطبوعاتو هم دغه سفر تود استقبال کړ. د چین رسمي ورځپاڼې (پیپلز ډیلي) ولیکل، چې د سردار محمد داوود خان دغه سفر به د دواړو هېوادونو ترمنځ باور او تفاهم زیات کړي او د دواړو هېوادونو ملګرتیا به پر پنځو اصولو وڅرخوي. د دې ترڅنګ دغې ورځپاڼې د افغانستان د ناپېیلتوب او سوله ییزې تګلارې ستاینه هم وکړه[109].

د همدې سفر پرمهال دواړو هېوادونو یوه ګډه اعلامیه هم خپره کړه، چې په کې یې د ۱۹۵۷ کال د جنوري ۲۲مې ګډې اعلامیې ملاتړ وکړ او ترڅنګ یې د باندونګ کنفرانس له اصولو هم ملاتړ اعلان کړ او هیله یې څرګنده کړه چې د اسیا او افریقا ترمنځ به ملګرتیا تقویه ومومي[110].

که څه هم محمد داوود خان په خپله بیانیه کې د دغه سفر موخه «حسن نیت» وباله خو بیا هم لکه څرنګه چې په ګډې اعلامیې کې لیکل شوي وو، دواړو لوړ پوړو مشرانو د سیمه ییزو او نړیوالو اړیکو په تړاو نظرونه تبادله کړل[111].

## چین ته د محمد نعیم خان سفر

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر او د صدر اعظم معاون محمد نعیم خان د چین د لومړي وزیر چو این لای په بلنه د ۱۹۵۹ کال د سپتامبر پر ۴مه د چین هېواد ته په یو رسمي سفر ولاړ. محمد نعیم ته د لوړې کچې پروتوکول ورکړ شو، ده هلته له چو این لای، لیو شاوچي د چین رئیس جمهور او د چین انقلاب پلار ماوزی تونګ سره ولیدل[112].

دغه سفر د تېر په څېر د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور او تفاهم جوړونې هڅه وه، چې

۱۰۹ غلام محمد سخنیار، مخ ۴۵

۱۱۰ د ګډې اعلامیې لوستلو لپاره وګورې د غلام محمد سخنیار کتاب مخ، ۵۹-۶۰

۱۱۱ د بشپړې ګډې اعلامیې لپاره وګورئ سخنیار مخ ٦٠ او د سردار داود بیانیې په اړه ولولئ مخ ٦٢

۱۱۲ غلام محمد سخنیار مخ ۷۰-۷۲

چینایان بیا هم پکې د افغانانو په پرتله پکې تر ډېره بریالي شول. ځکه د همدغو لوړپوړو سفرونو له کبله د دواړو هېوادونو ترمنځ په ۱۹٦۰ کال کې د ملګرتوب او بیا په ۱۹٦۵ کال کې په یوه داسې مهال سرحدي پولې وکښل شوې، چې چین پکې له شوروي او هند سره د پولو پر سر اړیکې خرابې شوې وې او ان له هند سره یې په ۱۹٦۲ کال کې په جګړه کې هم ښکېل شوی و.

د سفر په پای کې د تېر په شان بیا ګډه اعلامیه خپره شوه، چې هغه مهال به همدغه ګډې اعلامیې د ښو اړیکو هینداره وې. په دغه اعلامیه کې د تېر برعکس په لومړي ځل موافقه ترسره شوې وه، چې دواړه هېوادونه به په اقتصادي، فرهنګي او تخنیکي ډګر کې له یو بل سره همکاریو ته ادامه، تقویه او پراختیا ورکوي[۱۱۳]. د دې ترڅنګ دواړو هېوادونو د سیمې او نړیوالو چارو په اړه هم خپل افکار تبادله کړل او د تېر په څېر یو ځل بیا یې د باندونګ کنفرانس له اصولو ملاتړ وکړ.

## کابل ته د چین د بهرنیو چارو وزیر سفر

هغه مهال چې محمد نعیم خان چین ته په سفر تللی و، نو ده همغه مهال د چین د بهرنیو چارو وزیر او د صدراعظم معاون ته افغانستان ته د راتګ بلنه ورکړه. د محمد نعیم په بلنه د چین د بهرنیو چارو وزیر او د صدر اعظم معاون مارشال چن ئی د افغانستان په رسمي سفر د ۱۹٦۰ کال د اګست پر ۲۱مه کابل ته راورسېد، چې موخه یې تړونونه لاسلیکول او د خپلواکۍ په جشن کې ونډه اخیستل وو[۱۱٤].

د دغه سفر په بهیر کې د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه تړونونه لاسلیک شول، چې یو یې «معاهده مؤدت و عدم تجاوز متقابل» او بل یې «موافقنامه تبادله اموال و تادیات» وه. همدا دوه تړونونه بیا د راتلونکیو اړیکو په تړاو به په هر لوړ پوړي سفر کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو تاداب ګڼل کېدل.

---

۱۱۳ د افغانستان او چین ترمنځ د ګډې اعلامیې د لوستلو لپاره وګورئ غلام محمد سخنیار، مخ ۷۳

۱۱٤ غلام محمد سخنیار، مخ ۷۷

## د ملګرتوب او نه لاسوهنې تړون

هغـه مهـال چـې چيـن پـه ۱۹۵٦ کال د سـټالين لـه مړينـې وروسـته، د سـټالين پرضـد د خروشـيف تقريـر وغنـده، نـو د چيـن اړيکـې لـه شـوروي سره د خرابېدلـو پـر لـور ولاړې. شـوروي هـم پـه پـای کـې پـه ۱۹٦۰ کال لـه چيـن څخـه خپـل ټـول مشـاورين راوبلـل. چيـن د دې ترڅنـګ لـه هنـد سره د تبـت او د پولـې پـر سر شـخړې درلودلـې. دغـه شـخړې هغـه مهـال د خرابېدلـو پـر لـور ولاړې، چـې کلـه چيـن پـه تبـت کـې پـه ۱۹۵۹ کال عمليـات پيـل کـړل او د همدغـو عملياتـو لـه کبلـه د تبـت مذهبـي لارښـود دلای لامـا پـه هنـد کـې پنـاه واخيسـته. چيـن پـه همدغـه مهـال د خپلـو نـورو ګاونډيانـو سره د نـه تعـرض او ملګرتـوب تړونونـه لاسـليک کـړل، چـې د دغـو هېوادونـو پـه جملـه کـې برمـا، نيپـال، افغانسـتان او ګينـې وو.

چيـن لـه افغانسـتان سره د «معاهـده مـؤدت و عـدم تجـاوز متقابـل بيـن دولـت پادشـاهي افغانسـتان و جمهـوری مـردم چيـن» پـه نامـه تـړون لاسـليک کـړ، چـې د افغانسـتان لـه خـوا پـرې د بهرنيـو چـارو وزيـر سردار محمـد نعيـم او د چيـن لـه خـوا پـرې د بهرنيـو چـارو وزيـر او د صـدر اعظـم معـاون چـن ئـی پـرې لاسـليکونه کـړي دي. دغـه تـړون د دواړو هېوادونـو د بهـرني سياسـت د اصولـو لـه مخـې پـه پنځـو مـادو کـې کښـل شـوی و. چيـن تـه دويمـه او درېيمـه مـاده د ارزښـت وړ وه او افغانسـتان تـه تقريبـاً ټولـې مـادې مهمـې وې.

چيـن تـه دويمـه او درېيمـه مـاده ځکـه د ډېـر ارزښـت وړ وه، چـې چيـن لـه شـوروي او هنـد سره د پولـو پـر سر شـخړې درلـودې او وروسـته همـدا شـخړې بيـا د جګـړو باعـث هـم شـوې. د دې ترڅنـګ د افغانسـتان او چيـن ترمنـځ هـم پولـه نـه وه ټـاکل شـوې، ځکـه نـو چيـن لـه دغـې انديښـنې لـه کبلـه چـې هسـې نـه کابـل د شـوروي پـر لمسـون لـه چيـن سره د پولـې پـر سر لانجـې ونـه کـړي، لـه همـدې ځايـه د خـبرو اتـرو لـه لارې لـه افغانسـتان سره د دغـې مسـلې د حـل غوښـتونکې شـوه. پـه دويمـه مـاده کـې راغلـي وو:

طرفيـن متعاهديـن علايـق دوسـتی مسـألمت آميـز را بيـن شـان حفـظ و آن را توسـعه خواهنـد داد و متعهـد مـی شـوند تـا کليـه منازعـات شـان را بـدون توصـل بـه قـوه از طريـق مذاکـرات مسـالمت آميـز حـل و فصـل کننـد.

د شـلمې پېـړۍ پـه شـپېتمو کلونـو کـې د چيـن اړيکـې د نړيـوال سياسـت لـه دواړو

زبرځواکونو سره خرابې شوې. دوی خپل بهرنۍ سیاست پر «پانچشیل[۱۱۵]» څرخاوه او د نړۍ ډېری پوځي تړونونو او پکټونو ته به يې د ګواښ په سترګه کتل. افغانستان هم همداسې، د پښتونستان د قضيې، د خپل عنعنوي سیاست یعنې ناپیيلتوب او په دغو پکټونو کې د پاکستان له ګډېدو سره دغه پوځي تړونونو او پکټونو ته هم د ګواښ په سترګه کتل او خپل بهرنۍ سیاست يې د چین په څېر د باندونګ کنفرانس پر اصولو او ناپیيلتوب څرخاوه. افغانستان په دغه پړاو کې شوروي اتحاد ته نږدې و، شاید له همدې ځایه به وي، چې د تړون په دریيمه ماده کې راغلل، چې دوی به په دا ډول تړونونو او پکټونو کې نه ننوځي چې د یو بل پرضد وي. افغانستان پر دغه خبرې پوخ باور درلود او د غوایي اوومې ۱۳۵۷ تر کودتا پورې د برېژنېف د اسیا په امنیتي کمربند کې يې ونه‌ه وانخیسته؛ ځکه دغه امنیتي کمربند په بنسټیزه توګه د چین پرضد و. په دریيمه ماده کې راغلي وو:

"هر یک از متعاهدین تعهد می کنند برعلیه یکدیگر تجاوز نکنند و به هیچ یک از اتحادیه های نظامی که علیه شان باشد، شرکت نکنند".

د تړون څلورمه ماده تر ډېره د افغانستان په ګټه وه. په دغه ماده کې موافقه شوې وه، چې دواړه هېوادونه به په اقتصادي او فرهنګي ډګرونو کې خپلو اړیکو ته پراختیا ورکوي او ترڅنګ به يې د یو بل په داخلي چارو کې هم له لاسوهنې ډډه کوي[۱۱٦].

افغانانو د دغه تړون لاسلیکیدل د وربښمو نوې لارې سره پرتله کړ[۱۱۷] او چینایانو دغه تړون د دواړو هېوادونو ترمنځ د ملګرتوب یو نوی پړاو وباله او د Renmin Ribao په سرمقاله کې داسې خبرې راغلي: "له دې وروسته به افغان-چین اړیکې په یو نوي تاریخي پړاو کې ننوځي... له دې وړاندې افغان-چین اړیکې دومره پرمختللې یا غوړیدلې نه وې، لکه دا نن!!... موږ د وربښمو نوې لاره پرانیسته!... موږ ازمایل شوې تاریخي اړیکې لرو... ".[۱۱۸]

---

۱۱۵ پانچشیل د سنسکرت دوه ټکي دي، چې پانج پنځو ته وایي او شیل ښیګڼې ته. پانچشیل د ناپیيلتوب غورځنګ همغه پنځه اصول دي، چې تر ډېره د چین د بهرنیو چارو وزیر چو این لای او د هند لومړي وزیر جواهر لعل نهرو کښلي دي. دغه پنځه اصلونه د یو بل ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی، د یو بل پر خاوره له یرغله او د یو بل په چارو کې له لاسوهنې څخه ډډه، د ګډې ګټې په تړاو همکاري او سوله‌ییز ګډ ژوند دي.

۱۱٦ په څلورمه ماده کې راغلي وو: طرفین متعاهدین جهت توسعه و استحکام مزید روابط اقتصادی و فرهنگی بین دو کشور متکی به روحیه دوستی و همکاری و مطابق باصول مساوات و مفاد متقابل و عدم مداخله در امور داخلی یکدیگر موافقت کردند.

۱۱۷ Shen-Yu Dai, China and Afghanistan, The China Quarterly, No 25 (Jan-March, 1966), pp: 213-221

۱۱۸ Peking Review, 51, Dec 20, 1960, P: 19-20

له دغه تړون وروسته، د دواړو هېوادونو ترمنځ لیکونه هم تبادله شول. د چین د بهرنیو چارو وزیر چن ئی د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر ته د ۱۹٦۰ کال د اګست پر ۲٦مه یو لیک راواستاوه، چې د ۱۹۴۴ کال افغانستان او د جمهوري چین ترمنځ د ملګرتوب تړون په تړاو و. د خلکو جمهوري چین (کمونست چین) غوښتل چې د افغانستان او د جمهوري چین (چې اوس یوازې په تایوان کې مېشت و) ترمنځ د ۱۹۴۴ کال تړون لغوه کړي او هغه تړون هم د ۱۹٦۰ کال په تړون کې بدلون ومومي. د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر پر همغه ورځ، چې لیک ورته راغلی و، خپل چینایي سیال ته ډاډګیرنه ورکړه، چې دی له چینایي وزیر سره همغږی دی او دغه هغه څه دي، چې مونږ پرې توافق موندلی و[119].

## د هند او چین د ۱۹٦۲ کال جګړه کې د کابل دریځ

د ۱۹٦۲ کال د اکتوبر پر ۹مه د هند لومړي وزیر جواهر لعل نهرو د چین پرضد د جګړې اعلان وکړ، ترڅو د (اکسیچن) سیمه د دوی له ولکې ببرته ترلاسه کړي[120]. د دې ترڅنګ د (میک ماهن کرښه[121]) او تبت او دلای لامه هم د دوی ترمنځ د شخړو لامل وو. د چین د خلکو جمهوري دولت په غبرګون کې د هندي یرغل پرضد عملیات پیل کړل، چې هندي لښکرو ته یې تاوان ورسول، وروسته یې د ۱۹٦۲ کال د نومبر پر ۱٦مه بیا عملیات پیل کړ او هندي لښکرې یې په بشپړه توګه له ناکامۍ سره مخ کړل او داسې یې په پای کې د ۱۹٦۲ کال د نومبر پر ۲۱مه د اوربند اعلان وکړ او تر شلو کیلو مترو پورې له خپلو پولو څخه په شا شول او همداسې یې له هند هم وغوښتل. له دې وروسته جګړه کراره شوه؛ خو په دغه پېر کې چینایانو ۱۴۰۰ سرتیري له لاسه ورکړل او د هند بیا ۳۱۲۰ سرتیري ووژل شول، ۳۱۰۰ ونیول شول او ۱۰۰۰

۱۱۹ Peking Review, 51, Dec 20, 1960, P: 19

۱۲۰ د چین او هند د ۱۹٦۲ کال د جګړې په تړاو تر اوسه ډېرې کتابونه کښل شوي دي، خو د عمومي مطالعې لپاره ولولئ: http//:en.wikipedia.org/wiki/Sino-Indian_War او Vertzberger, Yaacov, Misperceptions in Foreign Policy making: The Sino-Indian Conflict, 1959-1962, Boulder, Colorado: Westview Press, 1984 and Dalvi, J.P, Himalyan Blunder: The Curtain-raiser to the Sino-Indian War of 1962, Bombay, India: Thacker & Company Limited, 1969

۱۲۱ د میک ماهن کرښه د چین د تبت سیمې او د هند د شمال ختیځ سیمې ترمنځ یوه سرحدي کرښه ده، چې د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر هینري میک ماهن په نامه نومول شوې او په ۱۹۱۴ کال کې برېتانوي هند او د تبت استازو ومنله. د دغې کرښې حقوقي ارزښت تر پوښتنې لاندې دی او تر اوسه د چین او هند ترمنځ لاینحله قضیه ده.

یې بیا زخمیان وو.[۱۲۲]

افغانستان د دغه جګړې له دواړو هېوادونو سره ډېرې ښې اړیکې درلودلې او ترڅنګ یې د افغانستان بهرنی سیاست پر ناپېیلتوب هم متکي وو؛ ځکه نو کابل هم د دواړو هېوادونو ترمنځ ناپېیلی او بې پرې پاتې شو. دغه کړنې هندیان یو څه وپارول؛ خو چینایان تر پایه پرې خوښ وو.

د یو هندي څېړونکي په اند هغه مهال چې جګړه پیل شوه، نو نهرو له ډېرو هېوادونو د مرستې غوښتنې وکړې، چې ۴۰ هېوادونو د نهرو غوښتنې ته لبیک ووایه؛ خو افغانستان د نهرو غوښتنې ته ځواب ورنکړ[۱۲۳]. کابل نه غوښتل، چې د خپلو دوو ملګرو ترمنځ د یوه خوا ونیسي؛ ځکه دا یې نه د ملي ګټو سره سر خوړ او نه یې هم له دودیز خارجي سیاست له اصولو سره (ناپېیلتوب).

په دغه جګړه کې د افغانستان د ناپېیلتوب تګلاره تر دې پرمخ ولاړه، چې د هېواد په رسمي ورځپاڼې (کابل ټایمز) کې هم د دواړو هېوادونو د جګړې په اړه ډېر خبرونه ترسترګو نه شول او یو شمېر خبرونه، چې خپاره شوي هم وو، بې پرې او د جګړې ختمولو په تړاو وو[۱۲٤].

دا چې چین او هند د باندونګ کنفرانس مهم غړي وو او خپل بهرني سیاست یې پر ناپېیلتوب متکي کړی و، نو دا د ډېرو ناپېیلو هېوادونو لپاره د اندېښنې وړ وه. په دې تړاو د مصر جمال ناصر ډېرې هلې ځلې وکړې، چې دغه جګړه تم شي. په همدې تړاو ده په خپل یو پروپوزل کې د افغانستان له ظاهر شاه سره هم تماس نیولی و، او له همدې ځایه د چین لومړی وزیر له دغه تماس څخه خبر شوی او د افغانستان پاچا ظاهر شاه ته یې په ۲۴ اکتوبر یو لیک راواستاوه، په دغه لیک کې ده لیکلي وو:

---

۱۲۲ Feng, Cheng and Larry M. Wortzel, 'PLA Operational Principles and Limited War: The Sino-Indian War of 1962' in Aldo D. Abitbol, Causes of the 1962 Sino-Indian War: a systems level approach, Josef Korbel Journal of Advanced International Studies, ??, ??, P: 74-88

۱۲۳ Priyankar Upadhyaya, Nonaligned States and India's International Conflicts, Unpublished Ph.D Thesis, Jawaharlal Nehru University, Center for International Politics, organisation and disarmament School of international Studies: New Delhi, 1987, p: 75

۱۲٤ لیکوال له ۲۰ اکتوبر څخه تر ۳۱ نومبر پورې د کابل ټایمز ورځپاڼې مختلفې ګڼې پلټلې دي، او همدا نتیجه یې پکې موندلې ده. د هند-چین جګړه له ۲۰ اکتوبر څخه تر ۲۱ نومبر پورې وه.

"امرزو از سفارت کبرای جمهوری متحده عرب در چین اطلاع گرفتیم که با اعلیحضرت شما- جلالتماب رئیس جمهور ناصر درین باب در تماس شده است. برای این که موضوع سرحدات چین و هند از طریق مصالحه حل و فصل شود، حکومت چین به تاریخ ۲۴ اکتبر ابلاغیه یی را نشر و سه پیشنهاد کرده است[...] احتراماً خواهشمندم اعلیحضرت شما جهت پیشرفت مطالب این پیشنهاد ها توجه خواهند فرمود»"[125]

افغانستان هغه مهال د چین او هند د جګړې په تړاو خپل دریځ روښانه کړ، چې کله چین د اوربند اعلان وکړ. محمد ظاهر شاه په خپل ځوابي لیک کې چو این لای ته ولیکل، چې د ده لپاره دغه جګړه د "اندېښنې وړ" او پر کابل یې "ژوره اغېزه" ښندلې ده. دی مخکې لیکي:

"دوام این وضع وجه موافق به منافع جمهوری چین و جمهوری هند و دول بیطرف و صلح عمومی نیست. ما معتقدیم که بهترین راه حل این مشکل به زودی پیدا و پایان دادن به جریانات ناگوار موجوده و آغاز مذاکرات و جستجوی راه حل آن از طریق مسالمت آمیز است"[126]

د یو هندي څېړونکي په اند، وروسته د ۱۹۶۳ کال په مې کې د هندي رییس جمهور رادهاک کریشنان او هندي وزیر همایون کبیر سفر هم په دې اړه ناکام شو، ترڅو له افغان حکومت څخه په دې تړاو یوه واره داره (سودمنه) څرګندونه ترلاسه کړي[۱۲۷].

## ۲ - دویم پړاو؛ د دیموکراسۍ لسیزه او چین (۱۹۶۳- ۱۹۷۳)

په افغانستان کې د دیموکراسۍ دوره د محمد داوود خان له استعفا وروسته او د صدر اعظم په توګه د ډاکټر محمد یوسف له غوره کېدلو او د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون په انفاذ سره پیل شوه، چې تر لسو کلونو پورې یې دوام وکړ؛ خو د محمد داوود خان له کودتا سره ورته د پای ټکی کېښودل شو.

۱۲۵ نامه چوئن لای- صدراعظم چین عنوانی اعلیحضرت محمد ظاهر شاه در مورد رویدادهای اخیر چین و هند. وګورئ سخنیار، ۱۰۵

۱۲۶ پیام اعلیحضرت محمد ظاهر شاه عنوانی جلالتماب چوئن لای-صدراعظم چین نسبت اختلاف سرحدی چین با هند، وګورئ سخنیار، ۱۰۵-۱۰۶

۱۲۷ Priyankar Upadhyaya, Nonaligned States and India's International Conflicts, Unpublished Ph.D Thesis, Jawaharlal Nehru University, Center for International Politics, organisation and disarmament School of international Studies: New Delhi, 1987, p: 75

ایرانیانـو پـه افغانسـتان کـې لـه دغـه نـوي پرمختـګ څخـه هرکلـی وکـړ، چـې پکـې دیموکـراسي پیـل شـوه او د محمـد داوود خـان د صـدارت لـه دورې وروسـته د افغانسـتان-پاکسـتان اړیکـې د ښـه کېدلـو پـه لـور شـوې او ډېر پـرې خـوښ وو؛ ځکـه دوی د افغانسـتان-پاکسـتان اړیکـو پـه عـادي کولـو کـې د خپـل رول ادعـا کولـه. خـو بیـا هـم د لویـس ډوپـري پـه انـد پـه افغانسـتان کـې بهـرني ډیپلوماتـان پـر دغـه انـد وو، چـې پـه دې برخـه کـې د ایرانیانـو هڅـې د مرسـتو پرځـای تـاوان ورسـاوه[۱۲۸].

لـه بلـې خـوا پاکسـتان هـم لـه دغـه نـوي پرمختـګ څخـه خـوښ و؛ لـه یـوې خـوا یـې لـه محمـد داوود خـان څخـه خلاصـون مونـدلـی و او لـه بلـې خـوا د کابل-اسـلام‌اباد ترمنـځ د دوه اړخیـزو اړیکـو د رغولـو تمـه زیږېدلـې وه. لـه همـدې کبلـه د ۱۹۶۳ کال د مـی پـه دیرشـمه د افغانستان-پاکسـتان ترمنـځ د تهـران (تـړون) لاسـلیک شـو، چـې لـه مخـې یـې ډیپلوماتیکـې اړیکـې بیـا ټینګـې او سرحـدي پولـې پرانیسـتل شـوې. پـه ۱۹۶۴ کال کـې د افغانستان-پاکسـتان ترمنـځ ترانزیتـي تـړون هـم لاسـلیک شـو، چـې بیـا یـې وروسـته پـه ۲۰۱۰ کال کـې پـه یـو نـوي تـړون کـې بدلـون ومونـد. پـه ۱۹۶۷ کال کـې ظاهـر شـاه پاکسـتان تـه سـفر وکـړ او د ۱۹۶۵، ۱۹۶۸ او ۱۹۶۹ د ملګـرو ملتونـو پـه کلنـۍ غونـډو کـې افغـاني اسـتازیو کـه څـه هـم د پښتونسـتان د قضیـې یادونـه وکـړه؛ خـو دا ځـل یـې ملګـري ملتونـه دې تـه راونـه بلـل، چـې د دغـې قضیـې نظـارت وکـړي.

کـه څـه هـم شـورویانو او چیـن پـه پیـل کـې لـه دغـه نـوي بدلـون څخـه هرکلـی ونـه کـړ؛ خـو وروسـته یـې بیـا تـرې هرکلـی وکـړ[۱۲۹]. دا چـې پـه دغـه پـړاو کـې د افغانسـتان او چیـن اړیکـې پـر کـوم خـوا او څرنګـه روانـې وې، پـه اړه بـه یـې تاسـو لانـدې ولولـئ:

## چین ته د افغانستان د کورنیو چارو وزیر سفر

د افغانســتان د کورنېــو چــارو وزیــر داکــتر عبدالقیــوم د ۱۹۶۳ کال د نومــبر پــر ۱۴مــه بیجینـګ تـه د یـو رسـمي پـلاوي مـشري وکـړه، ترڅـو هلتـه د افغانسـتان او چیـن ترمنـځ سرحـدي تـړون لاسـلیک کـړي. دواړو هېوادونـو د ده لـه تـګ وړانـدې پـر سرحـدي تـړون تفاهـم پیـدا کـړی و. د افغانسـتان او چیـن ترمنـځ د سرحـدي تـړون پـه تـړاو لومـړی ناسـته

---

۱۲۸ Louis Dupree, Afghanistan, New Jersey: Princeton University Press, 1980 edition, pp. 561

۱۲۹ تېر ماخذ

د ۱۹٦۳ کال د جون پر ۱۵مه په ګلخانې ماڼۍ کې ترسره شوه، چې د افغانستان لهخوا پکې زلمي محمود غازي، چې په بهرنيو چارو وزارت کې د نړيوالو اړيکو او د ملګرو ملتونو چارو مدير و او د چين لهخوا په کابل کې د چين سفير هوتينګ لهخوا پکې ونډه واخيسته. د ګډې اعلاميې له مخې، چې د ۱۹٦۳ کال د اګست پر ۳مه خپره شوه، دواړو هېوادونو د پولې پر سر خبرې اترې له ۱۷ جولای څخه تر لومړي اګست پورې وکړې او پای دواړه هېوادونه همغږي شول[۱۳۰].

## له چين سره د پولې تړون او پوله په نښه کول

د لويې لوبې پرمهال- چې ځينې يې له ۱۸۱۷ کال د روسيې او فارس د ګلستان له تړون څخه پيل تر ۱۹۰۷ کال د انګليس-روسيې تړون پورې بولي- روسانو له انګريزانو سره په ۱۸۷۳ کال د Granville-Govtchakov په يو تړون کې نښوتل، دغه تړون د افغانستان شمالي پولې وټاکلې؛ خو دغه کرښه د چين تر پولو ونه غځېده او له چين سره افغان پوله غوره نه شوه او په دا ډول دغه ځای د رقابتونو ډګر وګرځېد. په ۱۸۷۷ کال کې د چين امپراتور په سنکيانک ايالت کې د يعقوب بيګ پاڅون کرار کړ.

په ۱۸۹۳ کال چې کله ډېورنډ افغانستان ته راغی، نو د ډېورنډ کرښې او د واخان تړانګې له کبله انګليسي هند له زاري روسيې بېل شو. دوه کاله وروسته، په ۱۸۹۵ کال د پامير په تړاو انګليس-روسيې تړون لاسليک کړ، چې دا تړون د چين پرته تړلو لوريو ومانه؛ خو د ۱۹٦۳ کال د نومبر پر ۲۲مه د افغانستان او چين ترمنځ د پولې يو تړون لاسليک شو، چې د افغانستان لهخوا پرې د کورنيو چارو وزير ډاکتر عبدالقيوم او د چين لهخوا پرې د بهرنيو چارو وزير "چين يي" لاسليکونه وکړل. په دغه غونډه کې د چين رئيس جمهور ليو-شاوچي او لومړی وزير چو-اين لای هم ګډون وکړ. دغه تړون پر يو داسې مهال لاسليک شو، چې چين پکې له يو هېواد (شوروی) سره د همدغه سرحدي شخړو له کبله اړيکې خرابېدلې او له بل ګاونډي (هند) سره په ۱۹٦۲ کال کې په يوه جګړه کې ښکيل شوي و. د دغه تړون له کبله د افغانستان او چين د تل لپاره راتلونکيو سرحدي شخړو ته د پای ټکی کېښود.

وروسته په ۱۹٦۴ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ پوله په نښه شوه... داسې دا د

---

۱۳۰ غلام محمد سخنيار، مخونه ۱۰۹-۱۱۱

افغانستان لومړنۍ سرحدي پوله شوه، چې په خپله خوښه او په خپلواک ډول يې ايستلې وه. نورې پولې يا د لويې لوبې تر اغېزو او يا د انګليسي استعمار تر فشارونو لاندې تحميل شوې وې.

په ۱۹۶۲ کال چې چين له هند سره د پولې پر سر جګړه وکړه او له شوروي سره يې د پولې پر سر خبرې اترې تم شوې، نو چين له ګاونډيانو سره خپلې پولې وټاکلې. په همدغه موخه يې له افغانستان سره هم خپله پوله وټاکله.

له دغه تړون وروسته، د چين په پلازمينه بيجينګ کې له لسو زرو زياتو کسانو د نوي تړون او افغان وزير تود هرکلی وکړ. د بيجينګ والي لومړۍ خبرې وکړې او د دواړو هېوادونو د ملګرتوب په اړه يې خبرې وکړې، چې امپرياليزم هڅه وکړه، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سرحدي نښتو له کبله شخړې راوزيږوي. افغان وزير هم دغه غونډې ته وينا وکړه او د خپلو خبرو په پای کې يې په چينايي ژبه وويل: "تل دې وي افغان-چين ملګرتيا!!"[131]

کله چې د دواړو هېوادونو ترمنځ سرحد وټاکل شو، نو په دې اړه د چين رسمي ورځپاڼې په خپله سرمقاله کې وکاږل، چې دغه تړون په اصل کې د Peaceful Co-existence يا سوله ييز ګډ ژوندانه او د باندونګ کنفرانس د اصولو بريا ده[۱۳۲].

## چين ته د ظاهر شاه سفر

د افغانستان پاچا او ملکه د چين د کمونست ګوند مشر ليو شاوچي په غوښتنې د خوارلس ورځنې سفر په موخه د ۱۹۶۴ کال د اکتوبر پر ۲۹مه د چين په بيجينګ ښار کې ښکته شول. د دوی هر کلی ليوشاوچي، د کمونست ګوند مرستيال چو تي، لومړی وزير ښاغلي چو اين لای او نورو وکړ. ده هلته د چين له لومړي وزير، رئيس جمهور[۱۳۳]

۱۳۱ Peking Review, 48, Nov 29, 1963, p: 6

۱۳۲ تېر ماخذ

۱۳۳ ظاهر شاه د چين له رئيس جمهور ليو شاوچي سره په ۳۱ اکتوبر وليدل او په ناسته کې پر دوه اړخيزو خبرو خبرې وشوې. په دغه ورځ ظاهر شاه له چو اين لای سره يوځای د چين يو ريلوی سټېشن څخه هم کتنه وکړه، او هم د چين له رئيس جمهور سره ارکيستا ته ولاړل. وګورئ:
Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (November 1, 1964, vol. 3, no. 200)' (1964), Kabul Times Paper 768

او د انقلاب پلار ماو زی تونګ سره ولیدل[۱۳۴]. په چین کې د ظاهر شاه له سفره ډېر تود هرکلی وشو[۱۳۵]. د دې ترڅنګ په سلګونو زره ښاریانو هم د افغانستان د پاچا او ملکې تود استقبال وکړ. د پاچا الوتکه د چینایي اتو جنګي الوتکو بدرګه کړه[۱۳۶]. د چین اوسیدونکي تر لسو کیلومیترو پورې د افغانستان پاچا هرکلي ته ولاړ وو[۱۳۷]. د دې ترڅنګ د چین مطبوعاتو هم په ډېره ګرمه توګه دغه موضوع ته لومړیتوب ورکړ. په دې اړه د چین رسمي انګریزي اخبار، پیپلز ډیلي، په خپله سرمقاله کې ولیکل: ″د افغانانو لهخوا چې د وطن په رغونه کې هر ډول لاسته راوړنه ترسره کېږي، نو د چینایانو زړونه له خوښۍ ورته درزیږي. موږ دوی ته نوې خو روانې لاسته راوړنې غواړو″[138]. په دغه سرمقاله کې یو بل ځای راغلي وو: ″افغانستان یو داسې بهرنی سیاست لري، چې خپلواک، سوله ییز، او پر ناپېیلتوب متکي دي. دوی د امپریالیزم، استعمار پرضد دي او خپله خپلواکي یې خوندي کړې ده. دوی افریقایي-اسیایي همکارۍ ته مخلص دي...″[139]

دغه سفر پر یوه داسې مهال ترسره شو، چې چین په کې د اتوم خاوند شوی و. همدغه ته په اشارې، د چین د کمونیست ګوند مشر، لیو شاوچي، وویل: ″موږ پر دې باوري یو، چې دا اتوم نه دی، بلکې دا د نړۍ خلک دي، چې د نړۍ مقدر ټاکي... دا چې ځانونه له یو اتومي جګړې وژغورو، اړینه ده، چې د بشپړو هېوادونو یو کنفرانس راوبلل شي او په هغه کې پر دغه بحث وشي، چې د نړۍ ټول هېوادونه څه ډول خپلې

---

۱۳۴ ظاهر شاه د چین د خلکو جمهوریت انقلاب پلار ماو زی تونګ سره په ۱ نومبر ولیدل. په دغه سفر کې د افغانستان له خوا خلیلي، علی محمد، نور محمد اعتمادي، سلطان محمود غازي، عطاالله ناصر ضیا او محمد شعیب مسکینیار. د چین له خوا چو این لای، لیو شاوچي او نور ګډ وو. وګورئ:
Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (November 2, 1964, vol. 3, no. 201)' (1964), Kabul Times Paper 767

۱۳۵ ظاهر شاه او میرمن یې د ګرمیو مشهور پیلیس ته ولاړل، چې له ۱۵۰۰ میترو څخه زیاته لاره سینګار شوی وو، او خلکو د ظاهر شاه تود هرکلی کاوه؛ د بیجینګ ښار په یوه جلسه کې چې له لسو څخه زیات خلک ورته راغلي وو، د ظاهر شاه تود هرکلی وکړ او له خبرو څخه یې وړاندې د بیجینګ والي د افغانستان د سیاست ستاینې او تعریفونه وکړل؛ ظاهر شاه چې کله د د ووهان ولایت ته ولاړ، هلته هم خلکو په چکچکو او د افغان-چین ملګرتوب په شعارونو هرکلی کړ؛ په شانګهای ته په تللو په سلګونو زرو خلکو د افغانستان له بادشاه او ملکې څخه تود هرکلی وکړ. په دې اړه وګورئ د کابل ټایمز ورځپاڼې د ۲ نومبر څخه تر ۱۵ نومبر پورې ګڼې:
Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (November 2-15, 1964, vol. 3, no. 201-212)' (1964), Kabul Times Paper 767- 756

۱۳۶ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (Oct 31, 1964, vol 3, no 199)' (1964), Kabul Times, Paper 723

۱۳۷ Peking review, Afghan King and Queen visit China, No 45, November 6, 1964, p 5.

۱۳۸ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (Oct 31, 1964, vol 3, no 199)' (1964), Kabul Times, Paper 723

۱۳۹ تېر ماخذ

اتومـي وسـلې بېرتـه تبـاه کـړي"[140]

د چیـن د کمونیسـت گونـد مـشر د افغانسـتان د بهرنیـو چـارو پـه اړه وویـل: "افغانسـتان پـه مسلسـله توگـه د ناپېیلتـوب یـوه داسـې تـگلاره خوښـه کـړې، چـې پـر سـولې او ناپېیلتـوب متکـي ده. دوی لـه هـر هېـواد حکومـت سره پـه سـوله‌ییز ډول اوسـېدلي، لـه سوسیالیسـتو هېوادونـو سره یـې د ملگرتـوب مـزي غځـولي دي."[141]

## کابل ته د چین د بهرنیو چارو وزیر سفر

د ۱۹٦۵ کال د مـارچ پـه ۲۲مـه د چیـن د بهرنیـو چـارو وزیـر، مارشـال چیـن یـي، کابـل تـه د اقتصـادي همـکارۍ تـړون لاسـلیکولو پـه موخـه راغـی. دغـه مهـال چیـن لـه افغانسـتان سره اقتصـادي مرسـته هـم وکـړه. د افغانسـتان لـه‌خـوا هـم د چیـن د بهرنیـو چـارو وزیـر تـه پروټوکـول ورکـړل شـو، د چیـن د بهرنیـو چـارو وزیـر د افغانسـتان لـه پاچـا سره هـم ولیـدل. دغـه مهـال افغانسـتان د چیـن د دغـو مرسـتو درنـاوی کاوه او ورتـه خـوښ وو؛ ځکـه د افغانانـو پـه انـد، د دغـو مرسـتو تـر شـا چیـن کـوم ډول غـرض نـه درلـود[۱۴۲].

چیـن افغانسـتان تـه لـس میلیونـه پاونـډه پـور ورکـړ، چـې سـود پـرې نـه راتـه او د پولـې د منازعـې پـه حـل کېدلـو سره، د ۱۹٦۵ کال پـه مـارچ کـې چیـن د لومـړي ځـل لپـاره افغانسـتان سره د اقتصـادي مرسـتو وړاندیـز وکـړ، چـې بـې سـوده وې، او تقریبـاً د څلویښـتو میلیـون ډالـرو مرسـتو اعـلان یـې وکـړ، چـې د پنځـه ویشـتو کلونـو دننـه بـه بېرتـه ورکـول کېدلـې[۱۴۳]. وروسـته هغـه مهـال چیـن د پـور بېرتـه ورکولـو نېټـه ۴۰ کلونـه کـړل، چـې کلـه د افغانسـتان لـه‌خـوا د چیـن بهرنیـو چـارو وزیـر، چیـن یـي، تـه وویـل شـول، چـې دوی خـو پاکسـتان تـه پورونـه د څلویښـتو کلونـو لپـاره ورکـړي، نـو پـر دې چیـن یـي وویـل: " زه تاسـو تـه ډاډ درکـوم چـې زمـوږ چلنـد بـه د کـوم بـل ملگـري نـه کـم نـه وي" او پـه دا ډول د پورونـو

۱۴۰ .Peking review, Afghan King and Queen visit China, No 45, November 6, 1964, p 5

۱۴۱ تېر ماخذ

۱۴۲ په دې اړه د افغانستان لومړي وزیر داکتر محمد یوسف د چین بهرنیو چارو وزیر ته وویل، موږ خوښ یو، چې چین له موږ سره اوږدمهاله مرستې کوي... افغانستان د چین دغه ډول مرستو احترام کوي، ځکه د دوی تر شا څه غرضونه نه شته. د داکتر محمد یوسف د خبرو په اړه ولولئ:
Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (March 23, 1965, vol. 4, no 2)' (1965), Kabul Times, Paper 848

۱۴۳ امین الله دریځ، افغانستان در قرن بیستم، پیښور:دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۱، مخ ۳۸۱

د بېرته ورکولو نېټه يې پنځلس کلونه نور هم زيات کړل.[١٤٤].

که څه هم افغانستان له چين سره د پولې تړون لاسليک کړی و، خو د چين د بهرنيو چارو وزير له راتګ سره يې ورسره د پولې پروتوکول هم لاسليک کړ، چې ډېر جزئيات يې درلودل لکه د پولې کرښه او مفصلې نقشې. کلتوري تړون د محصلينو د يو بل هېواد ته د ليږدلو په اړه و، چې هر کال به ګډ پروګرامونه اعلانيږي. او د تخنيکي او اقتصادي همکارۍ تړون له مخې چين له افغانستان سره د لسو ميليونو پاونډو مرسته هم وکړه، چې هېڅ سود پرې نه راته. په دې اړه لومړي وزير ډاکتر ظاهر وويل، د دغو درېو تړونونو بنسټ د ۱۹٦۰ کال د ملګرتوب او نه لاسوهنې تړون ايښودلی و. او ويې ويل، چې اقتصادي مرستې ښيي، چې چين د اسيايي او افريقايي هېوادونو په پرمختګ کې ليوالتيا ښيي[١٤٥].

دغه مهال له افغانستان سره درې تړونونه هم لاسليک شول، چې پر دغه باندې کابل ټايمز خپله تبصره وکاږله:

"د چين د بهرنيو چارو وزير سفر خپله د صميميت او همکارۍ ښکارندويه ده... دا په تېره بيا د ډېر ارزښت وړ ده، چې چين د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې ونډه اخلي. افغانستان د چين دغو کړنو ته په درنه قائل دی... موږ خوښ يو، چې د چين د خلکو له جمهوريت سره زموږ اړيکې زموږ د ملي پاليسۍ په رڼا کې پرمخ روانې دي."[146]

او د پيپلز ډيلي پرې داسې تبصره وکړه:

"د چين رسمي ورځپاڼې د افغانستان او چين ترمنځ د درېيو تړونونو چې د پولې پروتوکول، تخنيکي او اقتصادي همکارۍ تړون او کلتوري تړون وو، د دواړو هېوادونو د همکارۍ او ملګرتوب په برخه کې يو نوی خو مهم ګام وباله. دغې ورځپاڼې د دواړو هېوادونو د پولې کښل چې د دوو کلونو پرمهال ترسره شو، په نړيوالو اړيکو کې بې ساری وباله." [١٤٧]

---

١٤٤ چين دغه د پنځلسو کلونو زياتونه هله وکړل کله چې د افغانستان لخوا د چين وزير خارجه «چن يي» ته وويل شول چې دوی پاکستان ته د څلويښتو کلونو لپاره پور ورکړی دی. نو پر دې چن يي وويل، زه تاسو ته ډاډ درکوم چې زمونږ چلند به د کوم بل ملګري نه څه کم نه وي، او داسې يې پنځلس کلونه د پور په ورکولو کې زيات کړل.

١٤٥ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (March 25, 1965, vol. 4, no.4)' (1965), Kabul Times, Paper 848

١٤٦ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (March 24, 1965, vol. 4, no.3)' (1965), Kabul Times, Paper 847

١٤٧ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (March 27, 1965, vol. 4, no.5)' (1965), Kabul Times, paper 845

## کابل ته د لیوشاوچي سفر

د افغانستان د پاچا محمد ظاهر شاه په بلنه د چین د خلکو کمونیست گوند مشر لیوشاوچي او میرمن یې د ۱۹۶٦ کال د اپریل پر څلورمه د څلور ورځني سفر په موخه کابل ته راغلل. په دغه سفر کې د چین د بهرنیو چارو وزیر او د لومړي وزیر مرستیال هم راغی. د دغه سفر پرمهال چینایي پلاوي د افغانستان له پاچا او لومړي وزیر هاشم میوندوال سره ولیدل. په عمومي توگه د خبرو اترو اجندا د نړیوالو قضیو په اړه خپلې بهرنۍ چارې بیانول وو، په تېره بیا د ویتنام قضیې په تړاو. په دغو خبرو اترو کې کابل د یو ځل بیا لپاره په ملگرو ملتونو کې د چین ریښتینی استازی د چین د خلکو جمهوریت وباله او ویې ویل باید دغه حق د چین د خلکو جمهوریت ته ورکړای شي[۱۴۸].

د دې ترڅنگ چینایي پلاوي د چو این لای بلنه هم له ځان سره راوړه او د افغانستان له لومړي وزیر هاشم میوندوال یې وغوښتل چې په یو ښه فرصت کې چین ته سفر وکړي. په کابل کې د چین د کمونیست گوند له مشر لیوشاوچي څخه تود هرکلی وشو، د رسمي ارقامو له مخې د تېز باران سره سره تقریباً له سلو زرو زیات کسان د دوی هرکلي ته ولاړ وو، وروسته د اپریل په اومه ښاغلي لیوشاوچي په غازي سټډیوم کې وینا وکړه، چې هلته هم له دېرشو زرو زیات کسان ورته ناست وو، دی چې کله هرات ته ولاړ، نو هلته تقریباً پنځوس زرو کسانو یې تود هرکلی وکړ. د لیوشاوچي د دغه سفر په اړه د چین په یو رسمي اخبار ″رینمین رېباو“ خپله سرمقاله د دغه عنوان لاندې ″په افغان-چین ملگرتوب کې د پرمختگ نوي نښې“ وکښله او پکې راغلي و: ″د افغانستان او چین ترمنځ سوله ییزه اوسیدنه په دغه حقیقت مېخ ټک وهي، چې د بېلابېلو سیستمونو خلک له یو بل سره د پنځو اصولونو پرته خپلمنځي همکاري او ملگرتوب کې وده کولای شي. دغه پنځه اصلونه امپریالیزم، کالونیزم، نیوکالونیزم، پراختیاغوښتنه او big power chauvinism ده، چې [نور] بامنه اوسیدنه سبوتاژ کوي او خلک ترې ژغوري. [۱۴۹]

کابل ته د لیوشاوچي پر سفر د چین پیپلز ډیلي خپله تبصره دا ډول وکاږله:

″د دواړو هېوادونو ترمنځ زیاتېدونکو دوه اړخیزو سفرونو او زیاتیدونکو کلتوري او اقتصادي اړیکو افغان-چین ملگرتیا نږدې کړې... په نننۍ نړۍ کې په ″سوله‌ییزه توگه د گډ

۱۴۸ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (April 4, 1966, vol. 5, no. 9)' (1966), Kabul Times, Paper 1208

۱۴۹ Peking review, No 16, April 15, 1966

ژوندون" په اړه خبرې کېږي؛ خو دا په حقیقي توګه په افغان-چین ملګرتوب کې جوت دی. که څه هم د دواړو هېوادونو نظامونه سره توپیر لري؛ خو بیا هم ګډې هیلې لري، ترڅو خپله خپلواکي او ملي حاکمیت خوندي کړي، خپل اقتصاد ته وده ورکړي او په اسیا کې سوله وي."[150]

یو له هغو پروژو څخه چې چین په افغانستان کې ترسره کړې د بګرامي نساجي فابریکه وه. دغه پروژه د ۱۳۴٦هـ ش کې پیل شوه او په ۱۳۴۸هـ ش کې پای ته ورسیدله. دغې فابریکې په کلني ډول ۱۲ میلیونه متره تکه او ۸۰۰ټنه نخ د هیواد صنعتونو ته عرضه کول او په پیل کې پکې ۱۸۰۰ کسانو کار کاوه[۱۵۱]. دغه راز چین یو شمېر نورې پروژې هم بشپړې کړې، چې د پروان اوبه خور، په درونټه کې د کبانو ساتنه، د وریښمینو او د چایو د نالولو تجربوي پروژې، د لاجوردو د ډبرو ورکشاب[۱۵۲] او په کندهار کې دو سوه بستر روغتون د چین د اقتصادي او تخینکي مرستو له امله ترسره شوې[۱۵۳].

د دکتور عبدالظاهر د صدارت په دوره کې په افغانستان کې د (۱۹۷۱-۱۹۷۲) راغلې وچکالۍ کې چین له افغانستان سره پنځلس زره ټنه غنم او درې زره ټنه جوار مرسته وکړه[۱۵٤].

که څه هم دغه مرستې د شوروی اتحاد د مرستو په پرتله لږې وې، او د صمد غوث په اند هم، له دې سره چې دغه مرستې لږې وې؛ خو بیا یې هم افغانانو سیاسي ارزښت نشو هېرولای[۱۵۵].

په دې پړاو کې که چین له افغانستان سره اقتصادي مرستې وکړې؛ افغانستان هم، چې د ناپېیلتوب د غورځنګ غړی و، د شوروی د ملګرۍ سره د چین پرضد استعمال نه شو. ان یو ځل د فعاله بې طرفه سیاست مخکښ موسی شفیق د خروشیف د هغه پلان په اړه چې «پوډګورني» ورته د اسیا د ګډ امنیت په موخه یو ځل تکرار کړې وه، په تراو وویل: "د افغانستان په ګټه نه ده، چې د شوروي په یوه داسې نظام کې

---

۱۵۰ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (April 10, 1966, vol. 5, no.14)' (1966), Kabul Times, Paper 1204

۱۵۱ د افغانستان کالنی، ۳۷ګڼه، ۱۳۵۰ کال، مخونه ۴٦۸-۴۸۹ د امین الله دریځ، افغانستان در قرن بیستم، څخه واخیستل شو.

۱۵۲ وګورئ د عبدالصمد غوث کتاب د افغانستان سقوط، مخونه ۱۲۱

۱۵۳ امین الله دریځ، ۲۰۰۱، مخ ۴۸۲

۱۵٤ امین الله دریځ، ۲۰۰۱، مخ ۴۳۱

۱۵۵ غبدالصمد غوث، مخ ۱۲۱

برخمن شي چې د رامنځ ته کیدلو موخه یې چین وي"[156]. په دا ډول یې دغه وړاندیز رد کړ. وروسته همدا وړاندیز بیا د خپلې خبرې خاوند (سردار داوود خان) له‌خوا هم څو واره رد کړای شو او په دا ډول ده هم خپل ګاونډي چین ته افغاني ناپېیلتوب وښود. له ناپېیلتوب وراخوا، د شورویانو په دغه ایتلاف کې ګډون کول له دې لحاظه هم ناسم و، چې د افغانستان موجوده سرحدي کرښې یې کنګل کولې. دې بیا دا معنی درلودله، چې افغانستان د ډیورنډ کرښه د یوې سرحدي پولې په توګه مني. له همدې ځایه وه، چې افغانانو له دا ډول کار څخه ډډه کوله.

## په ملګرو ملتونو کې د چین له غړیتوبه د کابل ملاتړ

په ۱۹۱۲ کال په چین کې یو ډیموکراتیک انقلاب راغی، چې له کبله یې زوړ پاچایي نظام ته د پای ټکی کېښودل شو. چین له همدغه تاریخه تر ۱۹۴۹ کال د چین د جمهوري دولت په نامه یاد شو. خو دغه راز په دغه پړاو (۱۹۱۲- ۱۹۴۹) کې چین د چیانګ کای شیک-- چې د جمهوري دولت مشر و-- او د ماو زی تونګ-- چې د کمونستانو مشر و-- ترمنځ د رقابتونو او جګړو ډګر و. چینایي کمونستان هم په چین کې د لېنن د ۱۹۱۷ کال انقلاب پر روحیه په ۱۹۲۱ کال کې د کمونست ګوند ډېره کېښودله، دغه کمونست ګوند تر ۱۹۳۵- ۱۹۳٦ کلونو پورې په داخلي اخ و ډب کې ښکېل و؛ خو د لانګ مارچ (۱۹۳۵ کال) په ترسره کېدلو سره چینایانو د ماو په تنه کې خپل رهبر وموند. له همدغه مهاله بیا پر چین د جاپانیانو تر یرغله چینایي کمونستان له جمهوري دولت سره په جګړو کې ښکېل شو؛ خو د جاپان له یرغل سره، دواړو مخالفو ګوندونو دغه یرغل ته سینې سپر کړې او د دویمې نړیوالې جګړې پورې له یو بل سره ملګري وو. دا چې چین په دویمه نړیواله جګړه کې د ایتلافي ځواکونو سره ملګرې وه، په دغه جګړه کې یې له دوی سره ډېرې مرستې وکړې او د محوري ایتلاف د جاپان پرضد په لومړۍ کرښه او لومړی (د ښکار و، ځکه جاپان له دویمې نړیوالې جګړې وړاندې پر چین یرغل راوړی و، نو له همدې کبله وروسته بیا

---

۱۵٦ وګورئ لاندې کتابونه:
Amin Saikal. 2004. Modern Afghanistan: History of Struggle and survival. I.B Tauris
Magnus, Ralph and Naby, Eden. (1998). Afghanistan: Mullah, Marx and Mujahid. Colarado: Westview Press

د سان فرانسېسکو[۱۵۷] په کنفرانس کې له دوی وغوښتل شول چې جمهوري چین دې لومړی د ملګري ملتونو پر قانون د لاسلیکولو ویاړ ترلاسه کړي[۱۵۸] او داسې د چیانګ کای شیک چین په ملګري ملتونو کې نه یوازې دا چې څوکۍ ترلاسه کړه، بلکې د ویټو خاوند هم شو.

د دویمې نړیوالې جګړې له ختمېدلو سره، دواړه مخالفې ډلې د یو ځل بیا لپاره په یوې کورنۍ جګړې کې ننوتلې. له جمهوري دولت او چیانګ کای شیک څخه امریکا ملاتړ کاوه او له کمونستانو څخه ځینې مهال سټالین او شوروي. خو کله چې په ۱۹۴۹ کال کې ماو زی تونګ په چین کې د کمونیزم انقلاب برپا کړ او د چین جمهوري دولت او چیانګ کای شیک یې تایوان ته تېل واهه، نو کمونست چو این لای د ملګري ملتونو سرمنشي او د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې مشرانو ته لیکونه واستول، چې د خلکو جمهوري چین د چین د خلکو ریښتینی استازیتوب کوي، نه د چیانګ کای شیک جمهوري چین، چې اوس یوازې تر تایوان پورې محدود دی او ویې غوښتل چې جمهوري چین له ملګرو ملتونو څخه وشړي او په ملګرو ملتونو کې یې پر ځای د خلکو جمهوري چین ته ځای ورکړل شي[۱۵۹]. خو دغه وړاندیز په تېره بیا د امریکا لهخوا رد کړای شو ؛ ځکه امریکایان له چین سره د کوریا په جګړه کې ننوتلي وو.

له ۱۹۵۰ کال تر ۱۹۶۰ کال د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې د کمونست چین د غړیتوب په اړه بحثونه کېدل؛ خو هر ځل به د چین د غړیتوب خبره د امریکایانو لهخوا ځنډېدله.

افغانستان هم له ۱۹۵۰ کال تر ۱۹۵۵ کال د ملګرو ملتونو په هغه قراردادونو کې، چې د چین په ملاتړ یا مخالفت راغلي وو، سپینې رایې کارولې؛ ځکه که څه هم دغه مهال افغانستان د چین د خلکو جمهوریت په رسمیت پیژندلی و؛ خو د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې شوې نه وې.

---

۱۵۷ San Francisco Conference

۱۵۸ United Nations, 'San Francisco Conference', History of the United Nations, see it online: http://www.un.org/en/aboutun/history/sanfrancisco_conference.shtml

۱۵۹ 'Struggle to restore China's lawful seat in the United Nations', Ministry of Foreign Affairs, Government of People's Republic of China website, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/ziliao_665539/3602_665543/3604_665547/t18013.shtml>

وروسته چې کله د افغانستان او چین ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې ټینګې شوې، نو افغانستان بیا د ملګرو ملتونو په قراردادونو کې د چین په ملاتړ مثبتې رایې ورکولې او په خپلو ځینو بیانیو او اعلامیو کې به یې هم د چین پلوي کوله.

په ډېرې توګه په ملګرو ملتونو کې د چین د خلکو جمهوریت پرضد د امریکا مخالفت تر ۱۹۶۰ کال دوام وکړ؛ خو د ملګرو ملتونو په پنځلسمه کلنۍ غونډه کې چې د ۱۹۶۰ کال په اکتوبر کې دایره شوې وه، د چین د غړیتوب په تړاو د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې یو پرېکړه لیک منظور کړ، دغه پرېکړه لیک د A/RES/1493(XV) په نامه یادیږي. افغانستان په دغه پرېکړه لیک کې د شوروي او نورو ۳۳ هېوادونو ترڅنګ د چین پر پلوۍ خپله رایه وکاروله، هغه هم په داسې مهال، چې د چین ستراتیژیک ملګري پاکستان خپله رایه د امریکا په ملاتړ کارولې وه[۱۶۰]. په دغه پرېکړه لیک کې امریکا د ډېرو کمو هېوادونو د رایو په مټ د چین مخه ډب کړه؛ خو د دغه پرېکړه لیک پر ملاتړ رایو ورځ تر بلې د چین ارزښت او دریځ پیاوړی کړی و.

د ۱۹۶۲ کال د کتوبر پر ۳۰مه په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازي، عبدالرحمان پژواک د چین د غړیتوب پر ملاتړ خبرې وکړې، ده وویل: "با تاسف می بینیم که موضوع عضویت قانونی جمهوری مردم چین در سازمان ملل متحد تا حال حل نگردیده و مجمع عمومی یکبار دیگر به این موضوع حساس بر می خورد... حمایه ما از عضویت جمهوری مردم چین صرف از این امر منشا نمی گیرد که ما حکومت آن را به رسمیت شناخته ایم. چه، به رسمیت شناختن آن حکومت که از طرف ما نیز به اساس این امر صورت گرفت که حکومت جمهوری چین یگانه حکومت قانونی چین بوده و از حمایه اکثریت مردم چین برخوردار است و نبودن نماینده حکومتی که از مردم چین نمایندگی می کند، در ملل متحد، انحراف صریح از این مفکوره بوده و در حقیقت اکثریت بزرگ مردم چین را از جمله مردمان ملل متحد بیرون نگه می دارد.... علاوه بر آن، انکار از عضویت مردم چین نمی تواند به اساس موجودیت مخالفت ایدلوژیک صورت بگیرد. چه این موسسه از نمایندگان ایدلوژی ها و سیستم های مختلف متشکل بوده و باید همین طور هم باشد..."[161]

---

۱۶۰ دا چې په دغه پرېکړه لیک کې چا څه ډول رایه ورکړې وه، وګورئ د ملګرو ملتونو په ویب پاڼه کې:
http://:unbisnet.un.org:۸۰۸۰/ipac۲۰/ipac.jsp?profile=voting&index=.VM&term=ares۱۴۹۳(xv)

۱۶۱ په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دایمي استازي عبدالرحمان پژواک د وینا لوستلو لپاره ولولئ: انیس، ۲۲۶ مه ګڼه، د ۱۳۴۱ عقرب ۹مه، د ۱۹۶۲ کال د اکتوبر ۳۱مه، پرله پسې ۵۷۲۶ لمبر. او غلام محمد سخنیار، مخونه: ۱۰۳-۱۰۵

هغه مهال چې د چین خلکو جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر او د لومړي وزیر معاون افغانستان ته په ۱۹۶۵ کال راغی، نو دا مهال د افغانستان لومړي وزیر محمد یوسف د چین بهرنیو چارو وزیر ته عشایه ورکړه او د خپلو خبرو پرمهال یې وویل: "په ملګرو ملتونو کې د چین خلکو جمهوریت قانوني حق نه دی ورکړل شوی او په دا ډول د نړۍ تر ټولو زیات نفوس لرونکی هېواد په ملګرو ملتونو کې استازیتوب نه لري... افغانستان له پیله د چین له قانوني حق څخه ملاتړ کړی، چې په ملګرو ملتونو کې خپله څوکۍ ترلاسه کړي او موږ باور لرو چې چین ته به د دوی د څوکۍ له ورکولو سره د اسیا او افریقایي هېوادونو رول اغېزمن شي"[162]

وروسته چې د چین او شوروي ترمنځ اړیکې د خرابېدلو پر لور رواني شوې او دغه خرابې اړیکې په ۱۹۶۹ کال د یوې جګړې په بڼه هم راووتلې او ترخنګ یې د برېژنیف دوکترین او امنیتي کمربند چین اندېښمن کړی و، نو همدا مهال هینري کیسنجر د پاکستان په همکارۍ په یو پټ سفر بیجینګ ته ولاړ او هلته یې له چو این لای او ماو سره ولیدل.

دغه سفر بیا د امریکا او چین د راتلونکو ښو اړیکو په لاره کې تاداب وګڼل شو. له همدغه سفر وروسته، د امریکا رئیس جمهور ریچارډ نکسن په ۱۹۷۱ کال کې د چین په رسمي سفر بیجینګ ته ولاړ. له دغه سفر وروسته، د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ په شپږویشتمه غونډه کې د چین د قانوني حقونو د برحاله کولو یو پرېکړه لیک منظور شو، چې (A/RES/2758(XXVI په نامه یادیږي. افغانستان د یو ځل بیا لپاره د چین خلکو جمهوریت ملاتړ وکړ او خپله رایه یې د چین پر حمایت وکاروله[۱۶۳]. د همدغه پریکړه‌لیک له کبله پای د چین د خلکو جمهوریت په ملګرو ملتونو کې خپله څوکۍ ترلاسه کړه او د ویټو ځواک لرونکی شو.

۱۶۲ Bakhtar News Agency, 'Kabul Times (March 23, 1965, vol. 4, no. 2)' (1965), Kabul Times, Paper 848. See it online: http://digitalcommons.unomaha.edu/kabultimes/848

۱۶۳ دا چې په دغه پرېکړه لیک کې چا څه ډول رایه وکاروله، وګورئ د ملګرو ملتونو په ویب پاڼه کې:
=aspect&search=menu&۱۵۷۴۸.۱۴۲S۷۸۰۷۷۲N٦O=session?jsp.ipac/ipac۲۰/۸۰۸۰:org.un.unbisnet//:http
۲٪.A=term&VM.=index&۲۱horizon٪.~=source&۱=ri&voting=profile&۲۰=spp&۲۰=ipp&۵۰=npp&power
power=aspect&۰=y&۰=x&۲۹٪.۲۸XXVI٪.۲F۲۷۵۸٪.FRES

## چین ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر سفر

د ۱۹۷۲ کال د اپریل په ۱۷مه د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر موسی شفیق چین ته په یو رسمي سفر ولاړ. د ښاغلي سخنیار، چې د موسی شفیق د دغه سفر پرمهال په افغان سفارت کې دویم سکرتر و، په اند هغه مهال په بیجینګ کې له افغان وزیر دومره تود هرکلی وشو، چې د ده په ګمان له هغې وروسته به دومره تود هرکلی د کوم بل وزیر څخه نه وي شوی[۱٦٤]. ښاغلي موسی شفیق د چین له لومړي وزیر ښاغلي چو این لای سره په افغان سفارت کې ولیدل او له هغه یې وغوښتل، چې د سفارت ودانۍ دې پر افغانستان وپلوري. چو این لای دغې غوښتنې ته مثبت ځواب ووایه.[۱٦٥].

د دغه سفر پرمهال د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر موسی شفیق د ۱۹٦۰ کال د ملګرتوب او عدم تعرض تړون، چې په کابل کې د افغانستان او چین ترمنځ لاسلیک شو، د دغو دوو هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو څرګندوی وګاڼه، چې له یو بل سره په ټولنیزه او سیاسي توګه توپیر لري.د دې ترڅنګ موسی شفیق د اسیا د حالاتو په اړه، چې دغه مهال د ویتنام قضیه تر ټولو مهمه او چین او نورو خپلواکي غوښتونکو ته د ارزښت وړ وه، وویل: "په ویتنام کې جګړه نه یوازې دا چې روانه ده، بلکې ورځ تر بلې پراخېږي هم. افغانان د نورو سوله غوښتونکو هېوادونو په څېر غواړي، چې دغه جګړه د ویتنامي پرګنو په خوښه حل شي او هلته دې د بهرنیو لاسوهنه ونه شي."[166]

چین په دې تړاو چې افغانستان په ملګرو ملتونو کې د چین د غړیتوب په ملاتړ هلې ځلې کړې دي، د موسی شفیق د سفر پرمهال د چین د بهرنیو چارو وزیر چی پنګ فی وویل: "دولت پادشاهی افغانستان همیشه از اعاده حقوق حقه جمهوری مردم چین در ملل متحد حمایت کرده و تایوان را جز لایتجزای چین دانسته و مخالف پلان امپریالستی و خلق کردن (دو چین) یا (یک چین و یک تایوان) است. حکومت و مردم چین بدین مناسبت یک بار دیگر صمیمانه سپاسگزاری می کند"[167]

---

۱٦٤ غلام محمد سخنیار، مخ ۱۹۹-۲۰۰

۱٦٥ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۰۰-۲۰۲

۱٦٦ Peking Review, Afghan Foreign Minister in Peking, No. 17, April 28, 1972

۱٦۷ غلام محمد سخنیار، مخونه ۲۰۲-۲۰۳

## له افغانستان سره اقتصادي مرستې

چین له ۱۹۵۰ تر ۱۹۷۱ کاله د شوروي، امریکا او غربي المان وروسته څلورم هېواد و، چې له افغانستان سره یې تر ټولو زیاتې مرستې وکړې. چین په دغه پړاو کې له افغانستان سره ۳۳.٦ میلیون ډالره مرسته وکړه، چې ۲۸ ملیون ډالره مرسته د چین د بهرنیو چارو وزیر د سفر پرمهال اعلان شوه او پاتې ۵.٦۳ میلیون ډالره چین د افغانستان له ۱۹٦۸- ۱۹٦۹کال بودیجې له پروژو سره سره مرسته وکړه چې بیا هم، په همدغه کال، له افغانستان سره د مرستو په کتار کې په څلورم نمبر راغی. د نورو معلوماتو لپاره لاندې جدول وګورئ:

**جدول: له افغانستان سره اقتصادي همکاری؛ له ۱۹۵۰ کال تر ۱۹۷۱ کال**

| هېواد | پورونه (په ملیون ډالرو کې) | ګرانت (په ملیون ډالرو کې) |
|---|---|---|
| شوروي اتحاد | ۵۷۲ | ۱۰۰ |
| امریکا | ۸۱.۲ | ۲۰۴.۸ |
| غربي المان | ٦۷.۳ | ۳۱ |
| چین | ۳۳.٦ | |
| ... | .... | .... |
| هند | ۵.۴ | ۲ |

ماخذ: Louis Dupree, Afghanistan, p 630-641

## ۳ - درېیم پړاو؛ محمد داوود خان او چین (۱۹۷۳- ۱۹۷۷)

د محمد داوود خان له سپینې کودتا وروسته، یو شمېر بهرنیان په دې اند و، چې دا کودتا به د شورویانو په خوښه شوې وي. له همدې ځایه وه، چې د دغو هېوادونو تګلاره هم په پیل کې له همدې فکر اغېزمنه شوه.

د محمد داوود خان په لومړۍ بیانیې کې د هېواد بهرنۍ چارې په ښه توګه څرګندې شوې. د ده په اند د افغانستان د بهرنیو چارو کړنلاره پر ناپېیلتوب، په نظامي تړونونو کې په نه ګډون او د ستونزو په اړه د خلکو په خپل آزاد قضاوت ولاړه ده. دغه راز یوازې پاکستان یې داسې هېواد وګاڼه، چې د پښتونستان د ستونزې له امله ورسره اختلافات

لـري[۱۶۸] .

همـدا مهـال چـې چیـن لـه روسـیې سره پـه نړیـوال سیاسـت کـې ښـکېل، پـه چیـن کـې د کمونیسـتي انقـلاب وروسـته د دواړو هېوادونـو اړیکـې د بـل هـر وخـت پـه پرتلـه خرابـې او د دوی لارې بېلـې شـوې وې؛ ځکـه د چیـن او شـوروي ترمنـځ اړیکـې پـه کمبوډیـا، ویتنـام او د چیـن پـر پولـو د شـوروي پوځونـو لـه ګمارلـو سره تربېنګلـې شـوې وې او لـه شـوروي سره هـم پـه یـو ډول دښـمنۍ کـې ولېدلـې و. لـه همـدې ځایـه چیـن د یـوې داسـې امریـکا پـه لټـه کـې و، چـې پـه سـیمه کـې د شـوروي مخـه ډب کـړي. پـه بـل اړخ کـې امریـکا لـه وختـه د دې هـدف پسـې وه. د نړیـوال سیاسـت دغـو بدلېدونکـو چـارو بیـا چیـن او امریـکا لـه یـو بـل سره نـږدې کـړل.

د امریـکا ولسـمشر ریچـارډ نکسـن هـم د یـوه داسـې چیـن پـه لټـه کـې شـو، چـې پیـل یـې د "پینـګ پانـګ[۱۶۹]" لـه ډیپلوماسـۍ شـوی و؛ ځکـه پـه ۱۹۷۱کال کـې چیـن تـه د امریـکا د بهرنیـو چـارو وزیـر هینـري کیسـنجر پـټ سـفر او پـر ۱۹۷۲کال چیـن تـه د نکسـن سـفر تـر ۱۹۸۹کال د چین-امریـکا پـر اړیکـو رغنـده اغیـزې وښـندلې. ریچـارډ نکسـن هـم پخپـل کتـاب کـې پـه دې اړه وایـي:

"... مونـږ لـه جنـوبي ویتنـام ملاتـړ وکـړ؛ هغـوی [چیـن] لـه شـمالي ویتنـام. مونـږ لـه جنـوبي کوریـا ملاتـړ وکـړ؛ هغـوی لـه شـمالي کوریـا. مونـږ لـه جاپـان سره نظامـي تـړون لاسـلیک کـړ؛ هغـوی یـې مخالفـت وکـړ. مونـږ پـه دربیمـه نـړۍ کـې لـه هغـو حکومتونـو ملاتـړ وکـړ، چـې کمونسـت نـه و؛ هغـوی یـې مخالفـت وکـړ. هغـوی وویـل، چـې پـر تایـوان وسـلې ونـه پلـورو؛ خـو مونـږ ونـه منلـه. پـه داسـې حـال کـې، چـې مونـږ د یـو بـل ضـد و، خـو څرنګـه سره یوځـای شـو؟؟ ... د دغـې پوښـتنې پـه ځـواب کـې تـر ټولـو حقیقـي دلیـل زمونـږ د دواړو ګـډه سـتراتیژیکي ګټـه وه، چـې پـه اسـیا کـې د شـوروي د برلاسـۍ مخالفـت کـول وو"[170].

چینایـان پـه پیـل کـې د محمـد داوود خـان لـه کودتـا سره د اندېښـنو ښـکار شـوي وو، دوی پـه افغانسـتان کـې د شـورویانو لـه اغېـزو وېـره درلودلـه؛[۱۷۱] ځکـه خـو یـې د محمـد داوود

۱۶۸ دکتور محمد حسن شرق، کرباس پوشهای برهنه پا، سباکتابخانه: پیښور، مخ ۱۱۴ او د عبدالصمد غوث، د افغانستان سقوط. مخونه ۱۲۸-۱۲۹

۱۶۹ پینګ پانګ یو ډول لوبه ده، چې ټیبل ټینس هم ورته وایي.

۱۷۰ Richard Nixon. 1999. In the Arena: A memoir of Victory, Defeat and Renewal. Ali Majeed Printers: Lahore. Page 7.

۱۷۱ Wikileaks, Naim's visit to Peking, 10 Dec, 1974, Declassified/Released US Department of State EO Systematic Review 30 Jun 2005

خان جمهوریت په خپله خوښه او په خپل ابتکار په رسمیت ونه پېژنده، بلکې دا یې د کابل په خوښه او غوښتنې د ۱۹۷۳ کال د جولای پر ۲۷مه په رسمیت وپېژنده[۱۷۲]. د چینایانو د دغه دریځ په اړه دکتور محمد حسن شرق او عبدالصمد غوث هم ورته نظر لري. حسن شرق د ۲٦سرطان کودتا او د ګاونډیانو د غبرګون په هکله کاږي، چې دغې کودتا شوروي خوښ کړ، ایران یې متزلزل کړ، پاکستان یې وېرجن او چین یې متحیر کړ[۱۷۳]. د دغو هېوادونو د چلندونو تر شا له شوروي سره د داوود خان نږدې اړیکې او د پښتونستان له تګلارې سره د داوود خان نږدې پاتې کېدل وو. حسن شرق زیاتوي، چې د جمهوریت په لومړیو شپو ورځو کې چین د افغانستان پر ضد ناواقعي تحریکوونکي تبلیغات پیل کړي وو؛ خو له نیکه مرغه ژر یې درک کړه، چې افغانستان د یو مستقل هېواد په توګه بې پرې سیاست لري او بهرنۍ چارې یې پر ناپېیلتوب متکي دي؛[۱۷٤] ځکه خو یې وروسته د افغانستان د اوه کلن پلان په یو شمېر پروژو کې لیوالتیا وښودله[۱۷٥] او له افغانستان سره یې ۵۵ میلیون ډالره مرسته هم وکړه.

عبدالصمد غوث هم پخپل کتاب کې لیکي، چې افغاني مامورینو ته داسې برېښېدله، چې د جمهوریت له راتګ سره چین خپه دی؛ خو د داوود خان ورور او د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر محمد نعیم د ۱۹۷۴ کال په پیل کې د چین پر سفر ولاړ او چین بیا له دغه سفر وروسته نوی زیږیدلی رژیم (د افغانستان جمهوریت) د روسانو زیږنده نه باله[۱۷٦].

## چین ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر سفر

د داوود خان له کودتا وروسته، د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر محمد نعیم لومړی لوړ پوړی چارواکی و، چې چین ته یې په ۱۹۷۴ کال کې سفر وکړ. د چینایانو لهخوا ده ته تقریباً د یو ولسمشر په کچه پروتوکول ورکړل شو؛ په بنسټیزه توګه د دغه سفر موخه لومړی د چین اندېښنې کمول او د سیمې او نړیوال سیاست په اړه د

---

۱۷۲ د چین د بهرنیو چارو وزارت مرستیال، خن نین لونګ وویل: «نظر به خواهش حکومت افغانستان، جمهوری مردم چین، جمهوری افغانستان را به رسمیت می شناسد»... وګورئ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۲۱

۱۷۳ دکتور محمد حسن شرق، کرباس پوشهای برهنه پا، سباکتابخانه: پیښور، مخ ۱۱۸

۱۷٤ تېر ماخذ، مخ ۱۳٦

۱۷٥ تېر ماخذ، مخ ۱۳۷

۱۷٦ عبدالصمد غوث، د افغانستان سقوط، پیښور: دانش خپرندویه ټولنه، مخ ۱۳٦

افغانستان جمهوریت او نوي رژیم په تړاو لیدلوري شریکول وو. په لنډه توګه ویلای شو، چې په دغه سفر د افغانستان لپاره بریالی و؛ ځکه له یوې خوا یې د چین اندېښنې کمې کړې او له بلې خوا یې د هېواد انکشافي پروژو لپاره ۵۵ میلیون ډالره مرستې راونیولې.

په هغه میلمستیا کې چې د چین د صدراعظم معاون د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر، محمد نعیم خان، په ویاړ کې ورکړې وه، د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر په خپله لومړۍ بیانیه کې د کودتا په اړه توضیحات ورکړل، ده وویل: ”طوری که دوستان چینی ما می دانند، در حدود یک و نیم سال قبل، مردم افغانستان تصمیم خویش را برای ترک زندگی کهنه و اصول و نظام فرسوده عملی کرده و در اثر آن نظام جمهوری در کشور ما مستقر گردید. نظام نوین چنان تشخیص داد که سوق کشور در راه توسعه و ترقی و پیکار در برابر مفاسد و معایبی که موجب عقب افتادگی کشور گردیده بود، مستلزم تغییرات عمیق و بنیادی اقتصادی و اجتماعی است“[177]

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر په همدغه بیانیه کې بیا د افغانستان بهرني سیاست په اړه هم چین خبر کړ، ده په دې تړاو وویل: ”نظام جدید افغانستان در سیاست خارجی از اصول همزیستی مسالمت آمیز پیروی کرده، به سیاست عدم انسلاک در دسته بندی های سیاسی و نظامی و قضاوت آزاد بر مسایل بین المللی عقیده خلل ناپذیری دارد و همیشه و در همه جا از حق و عدالت پشتیبانی کرده و خواهد کرد“[178]

دا چې په دغه پړاو کې، چین او پاکستان یو بل ته نږدې شوي وو او محمد داوود خان د خپل صدارت پرمهال تګلارو (د پښتونستان او ډېورنډ کرښې نه منل) او د محمد داوود خان د کودتا په لومړیو وختونو کې کابل ته د شوروي لوړ پوړي نظامي پلاوی د مارشال موسکالېنکو په مشرۍ راغلی و[۱۷۹]، نو نه یوازې دا چې د جمهوریت راتګ پاکستان وویراوه، بلکې چین یې هم په همدې تړاو اندېښمن کړی و. محمد نعیم خان دغه نقطه په ښه توګه درک کړې وه او په دې اړه یې وویل: ”طوری که اطلاع دارند، روابط بین کشور ما و پاکستان در باره آینده مردم پشتون و بلوچ کشیده است، حکومت افغانستان صمیمانه آرزومند است که این اختلاف سیاسی بین دو کشور از

---

۱۷۷ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۲۵

۱۷۸ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۲۵

۱۷۹ Yaacov Vertzberger, Afghanistan in China's Policy,

طریق مسالمت آمیز و در فضای دوستانه حل گردد و یک صلح دائمی در منطقه تأمین شو"[180]

د دې ترڅنګ د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د سیمې او نړیوال سیاست په اړه هم خپل نظر او د کابل دریځ څرګند کړ، چې په دغه کې د فلسطین ستونزه، د عرب-اسرائیل جګړه، د وسلو تحدید او خلع سلاح کول او په سویله اسیا کې د حالاتو کرارېدل وو.

په بله خوا، د چین د صدراعظم معاون لومړی د هغه مهال د زبرځواکونو د رقابت په تړاو وغږید او وروسته یې وویل، چې د زبرځواکونو هغه سکیم چې په سویلي اسیا کې د هېوادونو ترمنځ اختلافات او جګړې راولي، له ناکامۍ سره مخ دي[۱۸۱].

د دې ترڅنګ د افغان صدراعظم ځانګړي استازي محمد نعیم خان له چو این لای سره هم هغه مهال په روغتون کې ولیدل، چې دی پکې د تداوۍ لاندې و او هم یې د چین له بهرنیو چارو وزیر سره ولیدل. د دواړو لوریو ترمنځ د ۱۹۷۴ کال د ډسمبر پر ۸مه د اقتصادي او تخنیکي همکارۍ تړون هم لاسلیک شو[۱۸۲].

## د شوروي او چین په سړه جګړه کې د کابل دریځ

چین له شوروي سره د ۱۹۵۰ کال د سټالین تر مړینې ښې اړیکې پاللې؛ خو د دواړو کمونستو هېوادونو ترمنځ اړیکې له دې وروسته خړې شوې. د چین د کمونستانو پلار ماو زوډونګ او شوروي ترمنځ لومړنۍ اړیکې د چین د کورنۍ جګړې پرمهال ټینګې شوې وې، پر دغه مهال به د شوروي رییس جمهور سټالین هم کله کله خپلې مشورې ماو ته لېږلې. وروسته چې کله په چین کې د کمونیزم انقلاب پیاده شو، نو شوروي لومړنی هېواد و، چې چین یې په رسمیت وپېژند. ماو هم د انقلاب له پیاده کېدلو سره، په خپل لومړني بهرني سفر ماسکو ته ولاړ او هلته یې له شوروي سره د ۱۹۵۰ کال د ملګرتوب، ایتلاف او د ګډې همکارۍ تړون لاسلیک کړ. د دې ترڅنګ شوروي له چین سره اقتصادي همکارۍ هم وکړې او هم یې چین ته تخنیکي مشاورین ولېږدول.

---

۱۸۰ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۲٦

۱۸۱ Peking Review, Afghan Special Envoy Naim Visits China, No. 50, 13th Dec 1974.

۱۸۲ تېر ماخذ

د ۱۹۴۹ کال په بهیر کې، د کورنۍ جګړې پرمهال د چین کمونیست ګوند د چیانک کای شیک سرتېرو پرضد یو پر بل پسې بریالیتوبونه خپلول، پر دغه مهال د چیانک کای شیک له خوا له شوروي، امریکا او فرانسې څخه د جګړې ختمولو په تړاو د منځګړتوب غوښتنه وشوه. په همدې تړاو شوروي او ستالین دغه منځګړتوب ته زړه ښه کړ او ماو ته یې د ۱۹۴۹ کال د جنورۍ په لسمه یو لیک واستاوه[۱۸۳]. خو دلته پوښتنه راولاړیږي، چې ستالین ولې د چیانک کای شیک په دغه وړاندیز کې لیوالتیا واخیستله، د سرې جګړې په تړاو د وېلسن مرکز د یو څېړونکي په اند د دغه تر شا څو لاملونه وو: لومړی، ستالین غوښتل ماو او د چین په کمونیست ګوند ته خپل مقام ثرګند کړي؛ دویم، د چین د کمونیست ګوند د بریالیتوبونو پرمهال دوی ورجوته کړي، چې دوی په ډیپلوماتیکي او سیاسي ډګر کې څومره پر شورویانو متکي دي[۱۸٤].

خو ماو د دغه لیک ځواب داسې ورکړ، چې له یوې خوا یې د ستالین وړاندیز رد کړ او له بلې خوا یې ستالین ته مشوره ورکړه، چې چیانک کای شیک ته د دوی په خوښه ځواب ورکړي: ″ د شوروي حکومت چې د نورو هېوادونو په داخلي چارو کې د نه لاسوهنې پر اصل باور لري، د چین د کورنۍ جګړې د دوو اړخونو ترمنځ د منځګړتوب رول ردوي″[185].

خو کله چې ستالېن مړ شو او د شوروي رهبر خروشېف د ستالین پرضد د کمونیست ګوند په ۲۰ مه کنګره کې وینا وکړه[۱۸٦]؛ خو چین او ماو بیا له دغه سره اختلافات درلودل، د ماو په اند: ″موږ پر دغه باور لرو، چې د ستالین له لسو ګوتو یوازې درې خوسا وې″[187].

همدغه مهال، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې خرې پرې شوې وې، خروشیف

۱۸۳ Archives of the President of the Russian Federation (APRF), f. 45, op, 1, d. 330, pp. 95-96 in The Cold War in Asia by Woodrow Wilson International Center

۱۸٤ Odd Arne Westad, Rivals and Allies: Stalin, Mao, and the Chinese Civil War, in Cold War international History Project Bulletin 7, 1995/96, issues 6-7

۱۸۵ Archives of the President of the Russian Federation (APRF), f. 45, op, 1, d. 330, pp: 95-110 in Cold War international History Project Bulletin 7, 1995/96, issues 6-7, pp: 25-28

۱۸٦ BBC, 1956: Khrushchev lashes out at Stalin, Feb 25, 1956, retrieved at 24 March 2015, see it online: <http://news.bbc.co.uk/onthisday/hi/dates/stories/february/25/newsid_2703000/2703581.stm>

۱۸۷ 'First Conversation between N.S Khrushchev and Mao Zedong: 7/31/1958,' Cold War International History Project: Virtual Archive, Woodrow Wilson International Center for Scholars, accessed at www.cwihp.org

وغوښتل چې په خپله بیجینګ ته په تللو دغه اړیکې بېرته ورغوي.[۱۸۸] په همدې موخه د شوروي د بهرنیو چارو وزیر انډریو ګرومیکو په ۱۹۵۹ کال کې د شوروي بهرنیو چارو وزارت د لرې ختیځ څانګې څخه وغوښتل، چې خروشیف ته د دغه سفر په اړه یو تفصیلي راپور ولیکي[۱۸۹].

خروشیف لومړی امریکا ته ولاړ او هلته یې د امریکا له رییس جمهور ایزنهاور سره په کمپ ډیویډ کې ولیدل، دی له امریکا څخه چین ته ولاړ او هلته یې بیا له ماو او چینایي لوړ پوړو چارواکو سره ولیدل. خو دغه مهال له تبت څخه دلای لاما تښتیدلی او په هند کې یې پناه اخیستې وه او ترڅنګ یې د هند او چین ترمنځ هم د پولې پر سر شخړې پر جګړې بدلون موندلی و. دا چې خروشیف د امریکا له سفره راغلی او هلته یې په کمپ ډیویډ کې له ایزهناور سره لیدلي و او ترڅنګ یې له چینایي لوړ پوړو چارواکو سره د خبرو اترو پرمهال شوروي د هند پلو اخیستلی و، نو چین یې پر شوروي او خروشیف شکمن کړل[۱۹۰] . شوروي د هند او چین په جګړه کې ډېری مهال د هند پلو اخیستی و؛ خو کله چې په خپله له امریکا سره په ۱۹۶۲ کال کې د (کیوبا د میزائیل په بحران) کې ښکېله شوه، نو خپل هند پلوی دریځ یې په موقتي توګه پرېښود. چین هم د کیوبا د میزایل له بحران ګټه پورته کړه او ژر یې له هند سره خپله جګړه حل کړه.

له دې وروسته، د چین او شوروي ترمنځ اړیکې د خرابېدلو پر لور روانې وې، چې ان په دغه کې دوی د پولې پر سر په ۱۹۶۹ کال کې جګړه هم وکړه او وروسته یې د ۱۹۷۱ کال پرمهال شوروي د چین له رقیب هند سره د همکارۍ او ملګرتوب تړون هم لاسلیک کړ. دغو هر څه د شوروي او چین پر اړیکو پراخ سیوری وغوړاوه. همدغه مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هینري کیسنجر هم د پاکستان په مرسته چین ته په یو مخفي سفر ولاړ او هلته یې د نیکسن سفر ته لاره هواره کړه. چین په ملګرو

---

۱۸۸ N.S Khrushchev, Vospominaniya, 6 vols, (Moscow: typescript, 1966-1970), Vol. 5 ('Vzaimootnosheniya s sotsialisticheskimi strananmi'), Part G ('Vzaimootnosheniya s Kitaem'), pp. 77-78 cited in Mark Kramer, The USSR Foregin Ministry's Appraisal of Sino-Soviet relations on the eve of the split, September, Cold War International History Project Bulletin 7, pp: 170

۱۸۹ Mark Kramer, The USSR Foregin Ministry's Appraisal of Sino-Soviet relations on the eve of the split, September, Cold War International History Project Bulletin 7, pp: 170

۱۹۰ Henry Kissinger, On China, New York: Penguin Press, 2011, pp. 171

ملتونو کې د امریکا په مرسته[۱۹۱] خپله ځوکۍ بېرته ترلاسه کړه او په دا ډول یې له امریکا سره ډیپلوماتیکې اړیکې هم پیل شوې.

دغه مهال د شوروي او چین اړیکې خرابې وې. دوی په ۱۹٦۹ کال د سرحدي پولو پر سر په یوه جګړه کې ننوتل او نو له بلې خوا په همدغه کال برېژنیف د اسیا لپاره ګډ امنیتي پلان هم اعلان کړ. د دغه امنیتي پلان موخه دا وه چې د شوروي او چین ترمنځ پولې منجمدې شي او پای له چین سره د منلو پرته بله لاره پاتې نه شي. د ځو اړخونو له امله د افغانستان لپاره په دغه امنیتي کمربند کې د ګډېدلو امکان نه وو؛ ځکه: لومړی یې که دغه تړون لاسلیک کړی و نو، د پښتونستان قضیه او ډیورند کرښه په طبیعي توګه منل کېدله؛ دویم، دغه امنیتي کمربند د چین پرضد رامنځته شوی و. په همدغه موخه دغه کمربند لومړی په ۱۹٦۹ کال، بیا د موسی شفیق له‌خوا په ۱۹۷۳ کال او بیا څو وار د سردار محمد داوود خان له‌خوا رد کړای شو. د افغانستان لومړي وزیر موسی شفیق په ۱۹۷۳ کال کې چې کله د شوروي-چین رقابت په اوج کې و، دغه غوښتنه چې افغانستان دې د اسیا په ګډ امنیتي کمربند کې ونډه واخلي رد کړ، او ویې ویل: ″په یوه داسې تړون کې ننوتل، چې بنسټیزه موخه یې زموږ ګاونډی چین وي، زموږ په ګټه نه دی″[192]

د سردار داوود خان په پېر کې هم، شورویانو غوښتل چې د آسیا د ګډ امنیت په موخه له شوروي سره افغانان همکار شي[۱۹۳]؛ خو د دغسې غوښتنو په ځواب کې سردار داوود خان تل د افغانستان پر ناپېیلتوب ټینګار[۱۹٤] کاوه. یو ځل خو داسې هم وشول، چې د شوروی پودګورني د نړیوال ښکېلتیا د زیاتیدو ټول مسؤلیت د امریکایي امپراتورۍ او د چین د برلاسي پر فکر واچول. نو د پودګورني د بیان د نیغې تبصرې پرته محمد داوود خان وویل، ″بې له امتیازه ټول لوی طاقتونه د نړۍ امن او امنیت ساتلو ستر مسؤلیت په غاړه لري او نور هېوادونه چې د ملګرو ملتونو په بې اثره نظام کې سره

۱۹۱ که څه هم امریکا له هغه قرارداد څخه چې په ۱۹۷۱ کال یې چین ته غړیتوب ورکړ، ملاتړ ونه کړ؛ خود هینري کیسنجر سفر پرمهال په دغه موافقه شوې وه (د نورو معلوماتو لپاره وګورئ Henry Kissinger, On China, New York: Penguin Press, 2011)

۱۹۲ Ralph H. Magnus, Eden Naby, Afghanistan: Mullah, Marx and Mujahid, Westview Press, 1998, p. 116

۱۹۳ وګورئ د عبدالصمد غوث په کتاب کې د پودګورني وینا چې په کریملین کې یې وکړه، مخونه ۲۱۰-۲۱۱

۱۹٤ سردار داوود خان د افغانستان د ناپېیلتوب په هکله وویل، پر امن ګډ ژوند، خپلمنځي درنښت، د یو بل کورنیو چارو کې د لاس نه وهنې، او په سیاسي ګوندونو او نظامي بلاکونو کې د نه شاملیدلو په پخو ردو ولاړ و. وګورئ د غوث کتاب، د افغانستان سقوط، مخونه ۲۱۱

راټول شوي دي، په چپه خوله او بې ارزي د لویو طاقتونو عملونو ته ګوري"[195].

د ۱۹۵۴- ۱۹۷۴ په پړاو کې له افغانستان سره د شوروي بشپړې مرستې ۱.۳ میلیارد ډالره وو؛ خو په بله خوا، د ۱۹۵٦- ۱۹۷۹ په پړاو کې له افغانستان سره د چین بشپړې مرستې ۸۸.٦۳ میلیون ډالره وو[۱۹٦]. چین له ۱۹۵۵ تر ۱۹۷۱ ۳۳ میلیون ډالره مرسته وکړه؛ خو د شوروي د ګډ امنیتي کمربند له اعلانیدلو سره یې له افغانستان سره خپلې مرستې زیاتې کړې او د سردار محمد داوود خان د حکومت تر پای پورې چینایي مرستې نږدې سلو میلیونو ته ورسېدلې.

## ۴ - څلورم پړاو؛ جهاد، امنیتي ګټې او له اخلاقي او انساني داعیې څخه ملاتړ (۱۹۷۹- ۱۹۹۱)

د ۱۹۷۹ کال وروستۍ میاشت د شورویانو بې رحمه یرغل له ځان سره راووړ، چې له امله یې زموږ بې ځایه شوې کېږدۍ لا تر دې مهاله پر خپل ځای نه دي مېخ شوې.

چین په داسې حال کې چې خپله یو کمونست هېواد و؛ خو د شوروي له کمونستانو سره یې یو څه ایډیالوژیکي اختلافات درلودل او په نړیوال سیاست کې یې هم اختلافات د سټالین د مهال راهیسې پیل شوي وو. چین په وېره کې و، چې هسې نه شوروي اتحاد یې تر محاصرې لاندې راولي؛ ځکه شورویانو په ویتنام کې خپل پوځونه درلودل، له چین سره یې پر پوله هم لښکر جمع کړي و او اوس یې په یو داسې افغانستان یرغل راووړ، چې چین ورسره ګاونډی و.

د چین او شوروي ترمنځ اختلافات یوازې فکري نه وو، بلکې دغه اختلافات تر جغرافیې رسېدلي وو. د جنوري په ۱۹مه شوروي له چین سره هغه تړون چې په ۱۹۵۰ کال کې یې لاسلیک کړی و، د بیاکتنې لپاره وځنډاوه[۱۹۷] او د همدې کال په جولای کې یې د مسکو اولمپیک په لوبو کې د امریکا، کانادا او نورو هیوادونو په شمول ونډه وانخیسته[۱۹۸]؛ ځکه د شوروی په ملاتړ ویتنامي لښکرو د ۱۹۷۸ کال په ډسمبر کې پر

---

۱۹۵ وګورئ د عبدالصمد غوث کتاب، د افغانستان سقوط. مخونه ۲۰۱-۲۰۲

۱۹٦ Yaacov Vertzberger, Afghanistan in China's Policy,

۱۹۷ ظاهر طنین، افغانستان در قرن بیستم، تهران، ۱۳۸۴، مخ ۴۵۸

۱۹۸ تېر ماخذ

کامپوچیا برید وکړ او د دې هېواد چینايي پلوی رییس جمهور یې لرې کړ. له همدې ځایه چین د دغې کړنې په غبرګون کې د ۱۹۷۹ کال په فبرورۍ کې پر ویتنام حمله وکړه او داسې د شوروی او چین ترمنځ اړیکې د ګړنګ ژورو ته ورسیدلې. بالاخره په ۱۹۸۴ کال کې د لاندې دریو لاملونو له کبله د شوروي پرضد د چین غوسه وپارېدله او د دوه اړخیزو اړیکو رغېدل یې له دغو لاندې دریو شرطونو سره وتړل:[۱۹۹]

۱. په افغانستان کې د شوروي پوځیانو شتون؛

۲. په کامپوچیا کې له ویتنامي لښکرو د شوروی اتحاد ملاتړ؛

۳. د چین پر مانچوریا او منګولیا پولو د شوروي اتحاد د پوځونو جمع کېدل.[۲۰۰]

وروسته شوروی د دغو پورتنیو دریوو شرطونو له منلو سره له چین سره اړیکې ښې کړې.

چین له افغان مجاهدینو ملاتړ کاوه، یو داسې فعال ملاتړ، چې د باختر خبري آژانس مطابق یې د ۱۹۸۵ کال تر مارچ له مجاهدینو سره د چینایانو مرستې تر ۴۰۰ میلیون ډالرو رسیدلې[۲۰۱]. افغان جهادي شخصیت او لیکوال، محمد زمان مزمل هم له افغان مجاهدینو سره د چین مرستې او ملاتړ تاییدوي او په دې تړاو وایي: "د جهاد په دوران کې چین خپل مناسبات د خپلو فکري انډیوالانو د تقویې او پاللو د شرایطو نه آزاد عیار کړل او د افغانستان له قضیې سره یې هغسې همکاري وکړه لکه چین چې د اسلامي نړۍ د هیوادونو له جملې یو هیواد وي، بلکې ویلای شو، چې په دې رابطه د ډېرو اسلامي هیوادونو مخکې هم و"[202]

دغه پړاو په دوو برخو کې څېړو:

۱ – د ثور له کودتا د شورویانو تر یرغله؛

۲ - د شورویانو د یرغل پړاو.

---

۱۹۹ وروسته د دغو هېوادونو ترمنځ رسمي تفاهم په مئ ۱۹۸۹ کال وشو، چې ګورباچوف بیجینګ ته ولاړ او په ۱۹۸۹ کال له افغانستان څخه شورویان ووتل او له کامپوچیا څخه د ویتنام لښکرې ووتلې نو حالات قلاره شول.

۲۰۰ Lowe, Norman. 2005. Mastering Modern World History. 4th Edition. (Palgrave master series. Page 165)

۲۰۱ Riaz Ahmed Khan. Untying the afghan knot: Negotiating Soviet Withdrawal. Lahore: Sange-meel Publications

۲۰۲ مزمل، محمد زمان. ۱۳۷۹. افغانستان؛ د ستراتیژیو بحران. مخ ۱۹۰

## د ثور له کودتا د شورویانو تر یرغله

کله چې له برژنیف سره د سردار محمد داوود خان لفظي شخړې د سردار پر بهرني سیاست اغېزې وښندله، نو له کبله یې سردار محمد داوود خان د شوروي اتحاد لرې او د ګاونډېي هېوادونو، عربي نړۍ او غرب ته د نږدې کېدلو پر لور روان شو.

د ۱۹۷۸ کال په جولای کې چې کله د خلق او پرچم ګوندونه د لسو کلونو وروسته بېرته سره یوځای شول او د همدې کال د اپرېل پر ۱۷مه میر اکبر خېبر ترور شو، نو دغو داخلي حالاتو کمونیستي کودتا ته لاره پرانیسته او پای د ۱۹۷۸ کال د اپرېل په ۲۷مه کمونستانو نه یوازې دا چې د سردار محمد داوود خان د جمهوریت ګیلم ټول کړ، بلکې دی پکې له خپلې ټولې کورنۍ سره له هغه برخلیک سره مخ شو، چې په خپله یې په خپل ژوندون کې آرمان کړی و[۲۰۳].

چین د ثور له کودتا وروسته، د افغانستان نوی حکومت، چې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت په نامه یادېده، په رسمي توګه په خپله خوښه ونه پېژنده، بلکې دا ځل یې هم د سردار د کودتا پرمهال د ورته چلند پر خېر د افغان دولت پر وړاندیز د ۱۳۵۷ کال د ثور پر ۱۸مه په رسمي توګه وپېژانده[۲۰۴].

که څه هم چین د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت په غوښتنه د افغانستان نوی حکومت په رسمیت وپېژانده؛ خو بیا هم چین له افغانستان سره د شورویانو تر یرغله په ډېره محدوده کچه روابط وساتل[۲۰۵] چې د دې تر شا څو لاملونه وو: لومړی، چین له دې وېره درلوده، چې هسې نه افغانستان په اسیا کې دویم کیوبا شي. دویم لامل یې د افغانستان له خوا له شوروي سره پر هغه تړون[۲۰۶] لاسلیکول و، چې له دې پخوا

۲۰۳ په دې اړه حسن شرق په خپل کتاب، کرباس پوش های برهنه پا، کې لیکي، چې سردار محمد داود خان ورته څو وار هیله څرګنده کړې وه، چې د بنګله دیش د مجیب الرحمان په شان د ټولې کورنۍ سره شهید شي.

۲۰۴ Vertzberger, Y. (1982). Afghanistan in China's Policy. In Problems of Communism. او غلام محمد سخنیار، مخ ۲۵۴

۲۰۵ په دغه پړاو کې د چین-افغانستان د روابطو پېښې دغه ډول وې: په ۷ ثور ۱۳۵۸ کال چین د ثور کودتا لومړۍ کلیزه په خپل نړیوال کلوپ کې ولمانځله، چې د چین د مخابراتو وزیر او د وزارت خارجه معاون او نورو پکې ونډه اخیستې وه. په ۲۴ سرطان ۱۳۵۸ کال د هرات د پمبې شرکت رئیس او د چین د تجارتي اتشې ترمنځ په کابل کې د پنځو زرو ټنو پمبې یو قرارداد لاسلیک شو، چې د اوو ملیونو دوه سوو پنځه اویاو زرو امریکایي ډالرو ارزښت یې درلود. په ۲۵ اسد ۱۳۵۸ کال د افغانستان وزیر خارجه، داکتر شاه ولي، په افغانستان کې د چین له سفیر سره ولیدل او د شورویانو له یرغل نه یوه میاشت وړاندې د پروان د اوبو پروژې د دویمې مرحلې په تړاو د افغانستان د اوبو او برېښنا وزارت او د چینایي کمپنۍ نیشنل کمپلیت پلان اکسپورت ترمنځ پر یو یادښت لاسلیک وشو. وګورئ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۵۴-۲۵۵

۲۰۶ Asian Collective Security plan

یـو ځـل ظاهـر شـاه، بـل ځـل موسـی شـفیق او بـل ځـل محمـد داوود خـان رد کـړی و. چینایانـو د بریژنیـف دغـه امنیتـي تـړون بنسـټیزه موخـه د چیـن منـزوي کـول او د چیـن مـلي امنیـت تـه گـواښ بالـه. دربېـم لامـل یـې پـه افغانسـتان کـې د کمونسـتانو لـه خـوا د ماوسـتانو شـکنجه کـول او وژل وو.[۲۰۷]

پـه ۱۹۷۸ کال کـې د افغانسـتان خلکـو جمهوریـت لـه شـوروي سره د ملگرتیـا او د اسـیا گـډ امنیتـي تـړون لاسـلیک کـړ، دغـه همغـه تـړون و، چـې نـور احمـد اعتـمادي، موسـی شـفیق او سردار محمـد داوود خـان رد کـړی و.

چینایانـو دغـه تـړون تـه لـه چیـن ځخـه د تـاو کمربنـد پـه سـترگه کتـل، ځکـه د شـورویانو دغـې کړنـې دوی پـه دې اندېښـمن کـړي وو، چـې شـوروي يـوازې ولـې لـه هغـو هېوادونـو سره دفاعـي تړونونـه لاسـلیکوي، چـې لـه چیـن سره پولـې لـري، لکـه هنـد، ویتنـام، منگولیـا او اوس افغانسـتان.

## د شورویانو یرغل پړاو

## افغان-چین اړیکې؛ چین ولې له افغان مجاهدینو ملاتړ وکړ؟

د ۱۹۷۹ کال د ډسـمبر پـه ۲۷مـه چـې کلـه د شـوروي لښـکرو پـر افغانسـتان یرغـل راووړ، نـو د همـدې میاشـتې پـه ۳۱ مـه چینایـي حکومـت پـر افغانسـتان د شـورویانو یرغـل وغنـده او پـه رسـمي توگـه یـې د ببـرک کارمـل حکومـت ونـه مانـه، لـه افغانسـتان سره یـې رسـمي اړیکـې پـرې کـړې او پـه کابـل کـې یـې د چیـن د سـفارت درجـه لـه سـفارت ځخـه وغورځولـه او یـوازې یـې د اسـتازیتوب دفـتر وبالـه، چـې یـوازې بـه یـې د ویـزو پـه چـارو کـې ونـډه اخیسـته[۲۰۸].

هغـه مهـال چـې د شـورویانو پـر یرغـل ایلـه څلـور ورځـې واوښـتې، نـو د چیـن د بهرنیـو چـارو

---

۲۰۷ د کمونستانو په هغه پنځه زرو لیست کې ډېری ماوستان هم وو، چې د ثور کودتا وروسته د ماویست په تور وژل شوي وو. وګورئ په لاندې لینک کې دغه بشپړ لېست: -۸۷٪D۹٪BE٪D۹٪/com.afghanzwak//:http
-B۸٪DB٪B۵٪DB٪B۳٪DB٪B۱٪DB٪-۸۸٪D۹٪A۷٪D۸٪-B۷٪DB٪B۵٪DB٪B۳٪DB٪B۱٪DB٪
-٪B۴٪D۸٪-۸۴٪D۹٪۹۸٪DA٪۸۸٪D۹٪-AF٪D۸٪-۹۰٪DB٪A۹٪DA٪-۸۴٪D۹٪A۷٪D۸٪A۹٪DA٪
/B۱٪D۸٪B۲٪D۸٪-۸۷٪D۹٪۸۱٪DA٪۸٦٪D۹٪BE٪D۹٪-۸۸٪D۹٪۸A٪D۹٪۸۸٪D۹

۲۰۸ Wikipedia. Afghanistan-China relations. Retrieved at 31 December, 2013 <http://en.wikipedia.org/wiki/Afghanistan%E2%80%93China_relations>او وګورئ د چین د خلکو جمهوریت د باندنیو چارو وزارت پاڼه
< http://www.fmprc.gov.cn/chn//gxh/cgb/zcgmzysx/yz/۱۲۰٦/۱۲۰٦x۱/t۳۵٦۱۰۷.htm>

وزارت په چین کې د شوروي سفیر راوغوښت او ورته یې وویل:" افغانستان د چین ګاونډی دی".. له همدې ځایه "پر افغانستان د شورویانو یرغل د چین امنیت ته ګواښ دی او یوازې یې د چینایانو اندېښنې پارولې دي"[۲۰۹] . چین دغه خبره د ګاونډیتوب له پېرزونې نه کوله، بلکې دغه مهال یې له شوروي سره اړیکې ډېرې خرابې وې، د شورویانو له خوا یې دغه یرغل ته د امنیتي او ستراتیژیکي ګواښ په سترګه لیدلې.

دا چې پر افغانستان د شورویانو یرغل پر چین څه ډول اغېزې پرېباسلې او دغه مهال یې چین ولې اندېښمن کړ، په دې تړاو د چین په یو رسمي اخبار کې د شورویانو د یرغل په اړه ځانګړی تحلیل ولیکل شو:

"افغانستان چې د منځنۍ اسیا په جنوبي سیمه کې پروت دی، په ستراتیژیکي توګه د ډېر ارزښت وړ دی. پخوانیو زاریانو یې په اړه خوبونه لیدلي وو او اوسنیو شوروي زاریانو له پخوانیو زاریانو نه همدغه خوب په میراث وړی دی. ترڅو د هندي سمندرګي څخه راوتلې لاره په خپله ولکه کې واخلي او د جاپان او غرب ستراتیژیکي ارزښت لرونکې سمندري لاره کنترول کړي، د همدې موخې لپاره شورویان هڅه کوي چې افغانستان کنترول کړي او هندي سمندرګي ته یوه زمکنۍ لاره هم پرانېزي او ترڅنګ یې په ویتنام کې د هوایي او بحري مقرونو له لارې غواړي چې په هندي سمندرګي کې سمندري لاره هم ولري"[210]

چین دغه مهال د شورویانو د سیمه‌ییز ماسټر پلان په اړه په وېره کې و، د چینایانو په اند شورویان د خپل ماسټر پلان له مخې غواړي، چې نړۍ په خپله ولکه کې واخلي او ترڅنګ یې د خپل ماسټر پلان پر مټ د خپل اډیالوژیک رقیب-چین- څخه د حصار یو کمربند هم تاو کړي. د شورویانو د یرغل پرمهال د چین یو رسمي ورځپاڼې دا ډول تبصره وکښله:

شوروي اتحاد له شمال څخه د جنوب پر لور روان دی، ترڅنګ یې لاسپوڅی، ویتنام، له ختیځ څخه د لویدیځ پر لور د مسکو سویلي-خوا ستراتیژي روانه کړې ده، چې موخه یې د منځني ختیځ، شمالي افریقا او د خلیج د تیل پیدا کوونکو سیمو کنترول دی او له بلې خوا سویل ختیځه اسیا او د مالاکا تنګی په بل خوا. د دوی لپاره په ستراتیژیکي توګه د خلیج او د مالاکا تنګی ډېر د ارزښت وړ دی. شوروي اتحاد به

۲۰۹ Gerald Segal, China and Afghanistan, Asian Survey, Vol. 21, No.11 (Nov., 1981), pp. 1158-1174; A.Z Hilali, China's Response to the Soviet invasion of Afghanistan, Central Asian Survey, 20:3, 2001, 323-351

۲۱۰ Xue Yuan, 'Turmoil in Afghanistan,' Renmin Ribao, June 11, 1979, in FBIS-CHI, June 18, 1979, p F/2

تــر هغــه اطمینــان ترلاســه نــه کــړي، څــو یــې چــې بــه خلیــج او د مــالاکا پــه تنګــي کــې خپلــې موخــې نــه وي ترلاســه کــړي. پــه ســویله-خوا ســتراتیژۍ کــې افغانســتان او د انډوچینــا (ویتنــام) کنترولــول دوه لومــړي قدمونــه دي، پــه بــل قــدم کــې د لویدیــځ د تیلــو رســد منځیــز چــې پــه منځنــي ختیــځ کــې دی پــه ولکــه کــې واخلــي، د دې ترڅنــګ لــه هنــدي ســمندرګي څخــه د پاسـفیک ســمندر تــه تللــې لاره هــم کنــترول کــول غــواړي، ترڅــو پــه ســمندر کــې د لویدیــځ د ژونــد لارې تــه ډب واچــوي[۲۱۱].

بیجینــګ دغــه هــر څــه تــه د چیــن د منــزوي کولــو پــه ســترګه کتــل او پــه دې اندېښــنه کــې و، چــې کــه چیــرې لــه دغــه کمربنــد ونــه وځــي، نــو بیــا بــه اړ شــي، چــې د شــوروي تقاضــا تــه سر ټیــټ کــړي.[۲۱۲] لــه همــدې ځایــه د چیــن د بهرنیــو چــارو وزارت ویانــد اســتدلال وکــړ، چــې د شــورویانو دا ادعــا، چــې دوی افغانســتان تــه د لنــډې مــودې لپــاره راغلــي هېــڅ جــدي خــبره نــه ده. نــه د افغانســتان اشــغالول او نــه هــم پــر کامپوچــا د ویتنامیانــو یرغــل تصــادف کېــدلای شــي. دواړه پریکــړې لــه بشــپړ دقــت وروســته شــوې دي.[۲۱۳].

د دې ترڅنــګ پــر افغانســتان د شــورویانو د یرغــل لــه کبلــه چیــن لــه یــوې بلــې زاویــې هــم اندېښــمن و، او هغــه دا چــې د افغانســتان لــه نیولــو وروســته بــه د شــورویانو دویــم ښــکار پاکســتان وي. د پاکســتان او چیــن ترمنــځ ســتراتیژیکه ملګرتیــا د ۱۹٦۲ کال لــه چیــن-هنــد جګــړې وروســته پیــل شــوه او دا ملګرتــوب بیــا هغــه مهــال اوج تــه ورســید، چــې کلــه د شــوروي رییــس جمهــور برېژنېــف پــه ۱۹٦۹ کال کــې خپــل امنیتــي کمربنــد اعلان کــړ[۲۱٤] او پــه ۱۹۷۱ کال کــې شــوروي لــه هنــد سره پــه یــو نظامــي ایتــلاف کــې هــم ګــډ شــو. چیــن دغــه جیو-پولیتیکــي ســېناریو د ځــان او د پاکســتان امنیــت تــه ګــواښ بالــه. ځکــه خــو چیــن د افغــان جهــاد پرمهــال د پاکســتان پــر خــوا ودرېــد او پــه دې اړه یــې رســمي دریځونــه او اعلامیــې هــم خپــرې کــړې[۲۱٥].

---

۲۱۱ FBIS-CHI, June 19, 1980, pp. C/1-2, See also Observer, 'Critical Choice,' Renmin Ribao, June 19, 1980.

۲۱۲ Yaacov Vertzberger, Afghanistan in China's Policy, in Problems of Communism, May-June 1982

۲۱۳ Zu lie, 'Detente or Offensive,' Shijie Zhishi (Beijing), July 16, 1980, pp. 5-7, in Yaacov Vertzberger, Afghanistan in China's Policy, in Problems of Communism, May-June 1982

۲۱٤ په ۱۹٦۹ کال کې چې کله د شوروي او چین ترمنځ د پولې پر سر یوه جګړه ونښتله نو د شوروي برېژنیف د اسیا لپاره یو ګډ امنیتي کمربند اعلان کړ. چینایانو دغه امنیتي کمربند خپل ځان ته ګواښ باله او ویل به یې چې شوروي دغه امنیتي کمربند د دوی پرخلاف جوړ کړی دی.

۲۱٥ Oriana Fallaci interviews with Deng Xiaoping, China's Deng Xiaoping believes another world war is inevitable A 'frightful' decade, The Age, Sep 29, 1980. Retrieved at 1st Feb, 2015. See it online: http://news.google.com/newspapers?nid=1300&dat=19800929&id=TedUAAAAIBAJ&sjid=4ZIDAAAAIBAJ&pg=4078,6421403

دا چې چین د افغانستان له مجاهدینو ملاتړ وکړ، بل لامل به یې د افغانستان مسلمانېدنه او د ناپېیلو هېوادونو غړیتوب وي. چین دغه مهال له افغانستان څکه ملاتړ کاوه، چې بشپړه اسلامي نړۍ او تقریباً ټولو ناپېیلو هېوادونو د مجاهدینو له داعیې ملاتړ کاوه. چین هم، له مجاهدینو څخه د خپل ملاتړ له کبله درې ګټې ترلاسه کړې: لومړی، له سعودي سره یې پټې اړیکې ټینګې شوې، چې بیا یې وروسته د سعودي-چین دوه اړخیزو ډیپلوماتیکي اړیکو ته تاداب جوړ کړ. دویم، له امریکا یې په میلیونونو ټنه غنمه په یوه داسې مهال واخیستل، چې امریکا د اقتصادي بندیزونو له کبله پر شوروي ونه پلورل، چین دغه غنم په ډېر ارزانه نرخ له امریکا څخه واخیستل[۲۱۶]. درېیم، له امریکا سره یې نظامي اړیکې پیل شوې او په دې تړاو یې ورڅخه یو شمېر وسلې او ټکنالوژي هم ترلاسه کړې.

چین د شورویانو د یرغل پرضد دوه ګامونه پورته کړل، لومړی یې د افغانستان له مجاهدینو سره مرستې وکړې او په بل قدم کې یې په ډیپلوماتیکي ډګر کې د شورویانو یرغل وغنده او په ملګرو ملتونو کې یې د شورویانو د یرغل پرضد له هر قرارداد ملاتړ وکړ.

د ۱۹۷۹ کال د ډسمبر پر ۳۱مه د چین د بهرنیو چارو وزارت مرستیال، زانګ هایفېنګ[۲۱۷] د شوروي اتحاد سفیر، جی. ایس شیرباکوف[۲۱۸]، احضار کړ او پر افغانستان یې د شورویانو یرغل او د افغانستان په داخلي چارو کې د لاسوهنې له کبله یې ورته اعتراض وړاندې کړ. د دې ترڅنګ یې د شوروي سفیر ته زیاته کړه، چې شورویان دې ژر تر ژره له دغه هېواده ووځي؛ څکه افغانستان د چین ګاونډی دی او هلته د شورویانو پوځي یرغل د چین امنیت ته ګواښ متوجه کوي. یوازې د چین اندېښنې پاروي، او چین به له هغو نورو هېوادونو سره چې د شورویانو د یرغل پرخلاف وي، نه سترې کېدونکې هلې ځلې وکړي[۲۱۹]

د ۱۹۸۰ کال په پیل کې د امریکا د دفاع وزیر هارولډ براون چین ته په نهه ورځنې سفر ولاړ، ده هلته د چین له لوړ پوړو چارواکو سره وکتل. د دغه سفر موخه د چین ملګرتوب خپلول و، ترڅو د شورویانو پرضد له پاکستان او افغان مجاهدینو څخه ملاتړ

---

۲۱۶ Yaacov Vertzberger, Afghanistan in China's Policy, in Problems of Communism, May-June 1982

۲۱۷ Zhang Haifeng

۲۱۸ J.S Shcerbakov

۲۱۹ Rome News Tribune, Saying Afghan invasion threat to China: Peking demands soviet withdrawal, Dec 31, 1979. Retrieved 1st Feb, 2015, see it online: http://news.google.com/newspapers?nid=348&dat=19791231&id=cPxMAAAAIBAJ&sjid=6zIDAAAAIBAJ&pg=2739,5139598

وکړي[۲۲۰]. د دې ترځنګ، پر افغانستان د شورويانو له يرغله وروسته، امريکا د چين په سنکيانګ ايالت کې دوه استخباراتي اډې هم ترلاسه کړې. امريکا د شاهي ايران پرمهال په ايران کې استخباراتي اډې درلودې، چې په ايران کې د اسلامي انقلابه وروسته دغه اډې وتړل شوې. دغه دوې اډې د Tracksman 1 and 2 په نامه ياديدلې. په دغو استخباراتي اډو کې به امريکايانو د شورويانو اړيکې (خبرې) او هغه شوروي ميزايلونه چې د Tyuratan له هډې توغول کېدل، څارل. خو څرنګه چې له اسلامي انقلاب وروسته د امريکايانو له لاسه دغه اډې ووتلې، امريکايانو د افغان جهاد پرمهال دغو دوو اډو ته ورته دوه اډې د چين په سنکيانګ کې هغه مهال ترلاسه کړې، چې د امريکا د دفاع وزير هارولډ براون په ۱۹۸۰ کال کې د چين په سفر تللی و[۲۲۱].

دغه راز، امريکا پر چين د ناوژونکو وسلو او ابزارو پر خرڅولو موافقه وکړه[۲۲۲]، په ۱۹۸۱ کال کې يې د کوريا جګړې د دښمن (يعنې چين) پرضد د وسلو خرڅولو بنديز هم پورته کړ، چې تقريباً له ۳۱ کلونو راهيسې پر چين لګېدلی و[۲۲۳] او وروسته په ۱۹۸۴ کال کې دوی يوې داسې موافقې ته ورسيدل، چې له مخې به يې امريکا پر چين خپلې نظامي وسلې او ټکنالوژي خرڅوي[۲۲٤]

د ۱۹۸۰ کال د فبرورۍ پر دربيمه د چين حکومت د ۱۹۸۰ کال د مسکو په اولمپيک لوبو کې د نه ګډون اعلان وکړ، دغه پرېکړه پر افغانستان د شوروي يرغل په غبرګون کې شوې وه. د چين حکومت اعلان کړی و، تر هغې به د مسکو اولمپيک په لوبو

۲۲۰ د هارولډ براون د سفر په اړه ولولئ د ټايمز ورځپاڼې يوه مقاله:
Richard Burt, U.S. Seeks Chinese Cooperation, The Times News, Jan 2, 1980, Retrieved at Feb 2, 2015. See it online: <http://news.google.com/newspapers?nid=1665&dat=19800102&id=_TAaAAAAIBAJ&sjid=oCQEAAAAIBAJ&pg=6722,207350>

۲۲۱ John K Cooley, Unholy wars: Afghanistan, America and International Terrorism, 2002, 3rd Edition, Pluto Press: US, p. 51-54

۲۲۲ لکه پوځي موټرې، هليکوپتر، کمپيوټرونه، راډار او نور. خو چين بيا په دې اړه څه ځواب ورنکړ. ولولئ: Star News, Arms Sales decision not anti-soviet, may 31, 1980, retrieved at feb 1st 2015, see it online: <http://news.google.com/newspapers?nid=1454&dat=19800531&id=tcgsAAAAIBAJ&sjid=RhMEAAAAIBAJ&pg=3820,7225577>

۲۲۳ Ludington Daily News, U.S. lifts ban on sale of weapons to china, jun 11, 1981, retrieved at feb 1, 2015. See it online: http://news.google.com/newspapers?nid=110&dat=19810611&id=oIxkAAAAIBAJ&sjid=5UsDAAAAIBAJ&pg=5169,7008875

۲۲٤ The Lewiston Daily sun, U.S, China agree on arms, technology sale, jun 15, 1984, retrieved at feb 2, 2015, see it online: http://news.google.com/newspapers?nid=1928&dat=19840615&id=rBAqAAAAIBAJ&sjid=tWcFAAAAIBAJ&pg=2181,2585818

کې ګډون ونه کړي، ترڅو چې مسکو له افغانستانه خپل سرتیري نه وي ایستلي[۲۲۵].

د افغان جهاد پرمهال چین یوه بله ګټه هم وکړه او هغه د شوروي منزوي کول و. هغه مهال، چې شوروي پر افغانستان یرغل راووړ، نو نه یوازې دا چې شوروي اتحاد یې په نړیواله کچه له انزوا سره مخ کړ، بلکې په کابل کې یې د خلکو ډیموکراتیک جمهوریت هم په نړیواله کچه منزوي کړ. د کابل د خلکو ډیموکراتیک جمهوریت یوازې له شوروي او شوروي بلاک سره اړیکې درلودلې. شوروي هم، په اروپا کې له ناټو سره ښکېل شو او هم په اسیا کې له چین او په افغانستان کې له اسلامي نړۍ او امریکا سره[۲۲٦].

همدا ډول د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ په ۵مه په چین کې یوې اسلامي اتحادیې "د چین اسلامي اتحادیه" اعلان کړه، چې له افغانانو سره د دوی د نږدې اړیکو له کبله به "هېڅمهال دا ونه زغمي، چې د دوی ګاونډی دې د شوروي هېژمونست ځواک لهخوا اشغال شي"[227]. وروسته په همدې کال کې د چین د بهرنیو چارو وزیر هم پاکستان ته په یو رسمي سفر ولاړ، په دغه سفر کې ده نه یوازې دا چې له پاکستان ملاتړ وکړ، بلکې افغانانو ته یې هم د ملاتړ ډاډګیرنه ورکړه.[۲۲۸]

---

۲۲۵ Bulletin Journal, Chinese, Japanese governments will boycott Moscow Olympic Games, feb 3, 1980, retrieved at feb 3, 2015, see it online: http://news.google.com/newspapers?nid=191&dat=19800203&id=R-RYuAAAAIBAJ&sjid=oC4DAAAAIBAJ&pg=5144,2079644

۲۲٦ په دې اړه چې پر افغانستان د شورویانو یرغل دواړه افغانستان او شوروي په نړیوالو اړیکو کې له انزوا سره مخ کړه، خپله د شوروي او کاجی بې غږي هم همغږې دي، د شوروي د ۱۹۸۰ فبرورۍ آرشیفي کاغذونه، چې په ۱۹۹۹ کال کې افشا شول، کې له همدې خبرې سره توافق ښودل شوی دی. په دې کې لیکل شوي: له ختیځه تر لویدیځه د شوروي-ضد هېوادونه زیات شوي؛ شوروي په ناپېیلو هېوادونو په تېره بیا په اسلامي نړۍ کې خپل ارزښت بایللی دی؛ پر شوروي اقتصادي او تخنیکي فشار زیات شوی؛ لویدیځ او چینایي پروپاګندې زیاتې شوي، چې له مخې یې شوروي خپل وزن بایللی دی؛ د افغان پېښو د شوروي-چین اړیکو رغول تر اوږده مهاله ځنډولي دي؛ دغه پېښه شاید ایران او امریکا سره یوځای کړي؛ او د نورو معلوماتو لپاره وګورئ: Some Ideas About Foreign Policy Results of the 1970s (Points)' of Academician O. Bogomolov of the' Institute of the Economy of the World Socialist System sent to the CC CPSU and the KGB,' January 20, 1980, History and Public Policy Program Digital Archive, A.A. Lyakhovskiy's 'Plamya Afgana' ('Flame of the Afghanistan Veteran'), Iskon, Moscow, 1999. Translated for CWIHP by Gary Goldberg. See it online: http://www.digitalarchive.wilsoncenter.org/document/111790

۲۲۷ Islamic Association, Xinhua, 6 January 1980. Su Yu to the international Military Sports Council in Beijing, cited in A.Z Hilaly, China's Response to the Soviet invasion of Afghanistan, Central Asian Survey, 20:3, 2001, 323-351

۲۲۸ Beijing Review, No 5, 4 February 1980. cited in A.Z Hilaly, China's Response to the Soviet invasion of Afghanistan, Central Asian Survey, 20:3, 2001, 323-351 and see Schenectady Gazette, China denounces Soviet Move, Pledges Support to Pakistan, Jan 18, 1980, see it online: <http://news.google.com/newspa-pers?nid=1917&dat=19800118&id=uhYhAAAAIBAJ&sjid=33QFAAAAIBAJ&pg=3602,5477638>

د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ په ۷مه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا کې یوه اضطراري غونډه راوبلل شوه، چې پکې له افغانستان څخه د شوروي سرتیرو د وتلو غوښتنه وشوه. که څه هم په پای کې له پنځلسو غړو څخه یوازې ۱۳ دغه قرارداد ومانه؛ خو له بده مرغه یوازې ختیځ المان، چې د شوروي تر نفوذ لاندې و، د شوروي پر ملاتړ یوازینۍ رایه وکاروله. دا چې شوروي د امنیت شورا کې د ویټو خاوند و، نو له همدې ځایه یې دغه قرارداد ویټو کړ. خو له دې وروسته، تقریباً هر کال د ملګرو ملتونو په هره کلنۍ غونډه کې به د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پرځای د ملګرو ملتونو په اسامبلۍ کې د شورویانو د یرغل او له افغانستان څخه یې د قواوو د وتلو په اړه قراردادونه په اکثریت سره منل کېدل. همداسې د ۱۹۸۰ کال د جنورۍ پر ۱۴مه د ملګرو ملتونو په یوې فوق العاده غونډه کې د افغانستان په اړه یو قرارداد د ۱۸ مخالفو رایو په مقابل کې په ۱۰۴ رایو تصویب کړ، ترڅو له افغانستانه د شوروي قواوې ووځي. چین په دغه قراردادونو کې تل د شورویانو د یرغل پرضد او له افغانستانه د دوی د سرتېرو له وتلو څخه ملاتړ کاوه.

د ۱۹۸۰ کال د نومبر په ۱۵مه د چین رییس جمهور ډینګ زوپینګ وویل، شوروي په دې موخه چې د چین پر وړاندې هېژومنیک شي، نه یوازې دا چې د شوروي-چین پر پولې یو میلیون پوځیان ګومارلي، بلکې پر افغانستان یې یرغل هم راوړی دی. ډینګ زیاپینګ دغه سناریو د چین پرضد وګڼله [۲۲۹]

چین د افغان جهاد پرمهال له افغان مجاهدینو سره د وسلو په برخه کې هم همکاري وکړه او تر ۱۹۸۴ کال یې افغان مجاهدینو ته تر ټولو زیاتې وسلې لېږدولې وې او د شورویانو تر وتلو یې د وسلو لېږدولو ته دوام ورکړ. په دغو وسلو کې کلاشینکوف، آر پي جي-۷، ۱۰۷ ایم ایم راکټونه او ٦۰ ایم ایم هاوان شامل وو. د دې ترڅنګ یو شمېر منابع دا هم وایي، چې چین د افغان جهاد په لومړیو څو کلونو کې د دغو وسلو د لېږدولو له کبله تقریباً هر کال ۱۰۰ میلیون ډالره ګټل. د نومیالي امریکایي مورخ او لیکوال سټیو کول په اند دغه مهال دوی پیسو ته تر ټولو زیاته اړتیا درلودله؛ خو چین په وړیا ډول له دغو وسلو څخه تقریباً له ۱۰ تر ۱۵ سلنه پورې افغان مجاهدینو ته هم ورکولې[۲۳۰].

---

۲۲۹ Christian Science Monitor, 15 November 1980. Cited in A.Z Hilaly, China's response to the Soviet invasion of Afghanistan, Central Asian Survey, 20:3, 2001, 323-351

۲۳۰ Andrew Small, The China-Pakistan Axis: Asia's New Geopolitics, C Hurst and Co Publishers ltd, 2015

د ۱۹۸۵ کال د ډسمبر پر ۲٦ مه، هغه مهال چې پر افغانستان د شوروي يرغل شپږمه کليزه وه، د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند، ما يوزن، وويل: ”د شورويانو يرغل نه يوازې دا چې پر افغانانو جدي فاجعې راوستلي، بلکې د سيمې سولې او استقرار ته يې هم تاوان رسولی دی او دغه راز چين ته هم ګواښ دی“. چين د دې ترڅنګ د شورويانو يرغل د يو ځل بيا لپاره وغنده او نومړې وياند زياته کړه: ” افغان اتلان به هېڅمهال هم ابل نه کړای شي!“[231]

چين په ملګرو ملتونو کې له افغانستانه د شورويانو د وتلو تقاضا کوله، په همدې موخه يې تل په ملګرو ملتونو کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې له کلنيو قراردادونو ملاتړ کاوه. له ۱۹۸۰ کال تر ۱۹۸۹ کال په دغو قراردادونو کې له شوروي اتحاد څخه غوښتنه کېدله، چې له افغانستانه خپل سرتيري وباسي. دغه راز وروسته چې کله د افغانستان په تړاو د جنيوا خبرې خپل وروستي پړاو ته ورسېدلې، نو د چين لومړي وزير، لی پنګ، د خپل حکومت د رپوټ په تړاو د چين اوومې ملي کانګرې ته د ۱۹۸۸ کال د مارچ په ۲۵مه له افغانستانه د روسانو د وتلو په اړه په ټينګار سره وويل: ”اخيراً در باره حل سياسی مساله افغانستان قدری پيشرفت حاصل شده است. جامعه بين المللی از مدتی اين سو مطالبه دارد که اتحاد شوروی به اشغال نظامی خود در افغانستان پايان بدهد و آن کشور را به استقلال بيطرفی و عدم تعهد برگرداند و اعلام کرده است که نيروهای شوروی بايد فوری از افغانستان خارج می شود. ما اميدواريم که واقعاً چنين شود...“[232]

وروسته د همدې کال د اپرېل په ١٦مه د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند د افغانستان په اړه خپل دريځ يو ځل بيا روښانه کړ او ټينګار يې وکړ، چې «شوروی قوای خود را در مدت معين از افغانستان خارج کند»[۲۳۳]

د افغان جهاد پرمهال د جمعيت اسلامي ګوند مشر استاد رباني هم په جهاد کې د چين د رول په اړه مثبت نظر لري او وايي: ”مساعدت های مادی و معنوی شما [چين] در هنګام جهاد چهارده ساله روابط دوستانه موجوده بين دو کشور را توسعه و استحکام

۲۳۱ Ottawa Citizen, China attacks Soviet presence in Afghanistan, Dec 26, 1985. Retrieved at 1st Feb, 2015. See it online: http://news.google.com/newspapers?nid=2194&dat=19851226&id=Pq8yAAAAIBAJ&sjid=le8FAAAAIBAJ&pg=2882,1523252

۲۳۲ غلام محمد سخنيار، مخ ۲۵۵

۲۳۳ تېر ماخذ

بیشتر داد". [۲۳۴]

د افغان جهاد پرمهال چين په افغانستان کې د شوروي سرتېرو د شتون له کبله دومره اندېښمن و، چې پر افغانستان د شورويانو له يرغله د ۱۹۹۲ کال تر مارچ ، چين د افغانستان له کمونيستي حکومت سره هېڅ کومه نوې لوظنامه/تړون/هوکړه‌ليک لاسليک نه کړ. [۲۳۵]

## ۵ - پنځم پړاو؛ لږه لاسوهنه او ډېره پاملرنه (۱۹۸۹- ۲۰۰۱)

پنځم پړاو له حيرتانو څخه د روسي جنرال گروموف د وروستي ټانک له اوښتلو سره پيل کېږي او پای يې د ۱۱ سپتامبر بريدونو په پلمه د امريکا پر پوځي بريدونو کېږي.

په دغه پړاو کې د چين پر پاليسيو او سياستونو تونددلارى، تروريزم او بېلتونپالنې اغېزه وښندله. د چين په سنکيانگ[۲۳۶] ايالت کې د اسلامي تحريک له جوړېدو سره اندېښمن شو. دغه راز د چين د اندېښنو تر شا بل لامل د مخدره توکو قاچاق هم وو؛ ځکه د پاکستاني ژورناليست، احمد رشيد په اند هغه مهال د چين په سنکيانگ کې پر مخدره توکو يو ميليون تنه روږدي وو او د چينايانو په وينا د دغو مخدره توکو قاچاق بيا په يو ډول د چين له اسلامي تحريک سره هم مرسته کوله[۲۳۷].

د طالبانو په دوره کې، چين په افغانستان کې د يغوري مجاهدينو د مېشتيدو له کبله هم وپارېد، ځکه نو د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت مرستيال رياض احمد خان[۲۳۸] په اند دا بيا د دې باعث شو چې چين د طالبانو حکومت په رسميت ونه پيژني او په غبرگون کې يې په ملگرو ملتونو کې د استاد رباني له استازي ملاتړ کاوه[۲۳۹].

---

۲۳۴ د چين او افغانستان د څلوېښتمې کليزې په مناسبت د افغانستان رئيس جمهور استاد رباني د چين د رئيس جمهور جيانگ زيمن په نوم لېږدول شوی ليک کې د ده څرگندونې. ولولئ سخنيار، مخ ۲۷۰-۲۷۱

۲۳۵ د افغانستان او چين د څلوېښت کلنې ډيپلوماتيکي اړيکو په اړه له پيکنگ راډيو سره په چين کې د افغاسنتان د شارژ دافير غلام محمد سخنيار مرکه. د لوستلو لپاره ولولئ د سخنيار کتاب، مخونه ۲۸۱-۲۸۳

۲۳۶ پخوانی چينايي ترکستان

۲۳۷ وگورئ د احمد رشيد کتاب، طالبان: اسلام، تېل او نوې لويه لوبه.

۲۳۸ د پاکستان په باندنيو چارو وزارت کې دافغانستان ميز مشر(۱۹۸۶-۱۹۹۲) ، په چين کې د پاکستان سفير(۲۰۰۲-۲۰۰۵) او د پاکستان فارن سکرتر (۲۰۰۵-۲۰۰۸)

۲۳۹ رياض احمد خان، افغانستان اور پاکستان: تصادم، انتهاپسندي، اور عهد جديد سې مذاهمت، لاهور: القاپبليکشنز، ۲۰۱۳، مخ ۱۷۷

موږ دغه پنځم پړاو په درېیو برخو کې څېړو:

۱. د شورویانو له وتلو وروسته او د مجاهدینو له حکومت وړاندې؛

۲. د مجاهدینو حکومت؛

۳. د طالبانو د امارت دوره.

## افغان-چین اړیکې؛ د شورویانو له وتلو وروسته او د مجاهدینو له حکومت مخکې

هغه مهال چې کله له افغانستان څخه د شوروي سرتیري پر وتلو وو، نو د چین لومړي وزیر، لی پینګ، د چین اوومې ملي کنګرې په دویمه جلسه کې له دې پرمختګ تود هرکلی وکړ او زیاته یې کړه، چې دی هیله لري افغانان به د خبرو اترو له لارې یو پراخ‌بنسټیزه ایتلافي حکومت ته لاره هواره کړي او له کبله یې په افغانستان کې د یو ښه ماحول له جوړېدو سره افغان کډوال بېرته خپل وطن ته وګرځي.[۲۴۰]

دا چې د چین دولت په افغانستان کې د شورویانو د یرغل پرمهال د افغانستان له دولت سره ډیپلوماتیکې اړیکې نه لرلې، عمده لامل یې په افغانستان کې د شوروي پوځیانو شتون وو. خو څرنګه چې د شوروي پوځیان له افغانستانه وتلو ته اړ شول، نو د افغانستان او چین ترمنځ یو لړ روابط پیل شول، چې هغه هم د افغانستان له لوري پیل شوي وو. په پیل کې دغه روابط په ټیټه کچه وو، وروسته بیا دغه روابط لوړې کچې ته هم ورسېدل؛ خو بیا هم په دغه پړاو کې لوړ پوړي پلاوي له یو بل سره تبادله نه شول او نه هم د دواړو هېوادونو ترمنځ کومه تفاهمنامه لاسلیک شوه؛ ځکه د ډاکتر نجیب حکومت په پرتله چین له افغان مجاهدینو سره نږدې اړیکې درلودې.

د ۱۹۹۰ کال د اپرېل په ۲۱مه د افغانستان د سترې محکمې رییس نظام الدین تهذیب د سولې په څلورم نړیوال کنفرانس کې د ګډون په موخه بیجینګ ته په رسمي سفر ولاړ. ده هلته د چین د سترې محکمې له رییس او د چین له لومړي وزیر سره هم ولیدل[۲۴۱]. وروسته د افغانستان د مرکزي احصاییې رییس هم په یو نړیوال کنفرانس

۲۴۰ تېر ماخذ، مخ ۲۵۶-۲۵۷

۲۴۱ تېر ماخذ، مخ ۲۵۷

کـې د گـډون پـه موخـه بیجینـگ تـه ولاړ. د چیـن د لرغون‌پېژندنـې انسـتیتوت رییـس د کوشـانیانو پـه اړه پـه اووم نړیـوال کنفرانـس کـې د گـډون پـه موخـه افغانسـتان تـه راغـی[۲۴۲].

لـه دغـو اړیکـو سره، د مجاهدینـو لەخـوا د خوسـت د محـاصرې پرمهـال، د افغانسـتان د وخـت ولسـمشر، داکـتر نجیـب اللـه د چیـن رییـس جمهـور یانـک شـان کـن پـه نـوم یـو لیـک واسـتاوه. پـه دغـه لیـک کـې ډاکـتر نجیـب لـه چیـن غوښـتي وو، چـې پـر پاکسـتان لـه خپـل نفـوذ گټـه واخـلي او پـه دا ډول پـه افغانسـتان کـې روانـه جگـړه ودروي. ځکـه د ده پـه انـد د روانـې جگـړې تـر شـا پاکسـتان و. پـه دغـه لیـک کـې راغـلي عمـده نـکات پـه لانـدې ډول وو:

- ”اوضـاع کشـور مـا در اثـر تجـاوز اشـکار و مسـتقیم ارتـش و ملیشـیأی پاکسـتانی وخیـم گردیـده اسـت“
- ”در دو سـال اخیـر، خصوصـاً پـس از عـودت قطعـات نظامـی شـوروی از افغانسـتان بـه کشـور شـان تجـاوز و مداخلـه مسـتقیم پاکسـتان در امـور داخلـی کشـور ابعـاد وسـیع پیـدا کـرده...“
- ”تـوام بـا ایـن واقعیـت هـا و پیشـگیری مشـی مصالحـه ملـی، دولـت جمهـوری افغانسـتان چنـد پیشـنهاد در زمینـه عـادی سـاختن روابـط بـه پاکسـتان ارائـه کـرده و دسـت دوسـتی را بـه سـوی آن کشـور دراز کـرده اسـت، ولـی پاکسـتان ایـن اقـدام صادقانـه مـا را نادیـده گرفتـه و نظامیـان پاکسـتانی یـک بـار دیگـر مـا را در برابـر یـک چلنـج نظامـی قـرار داده انـد و آشـکار گردیـده اسـت کـه سرزمیـن افغـان هـا را بـا خطـر تجزیـه و نابـودی سـوق مـی دهنـد“
- ”دولـت جمهـوری افغانسـتان رسـماً بـه سرمنشـی ملـل متحـد موضـوع را اطـلاع داده و خواسـتار مداخلـه فـوری ملـل متحـد و ختـم تجـاوز مسـلحانه پاکسـتان علیـه افغانسـتان شـده اسـت“

پـه دغـه لیـک کـې ډاکـتر نجیـب اللـه د افغانسـتان پـه تاریـخ کـې پـه لومـړي ځـل لـه چیـن څخـه پـه رسـمي توگـه وغوښـتل، چـې پـر پاکسـتان لـه خپـل نفـوذ گټـه واخـلي او پـه افغانسـتان کـې روانـې جگـړې تـه د پـای ټکـی کېـږدي. دی پـه خپـل لیـک کـې زیاتـوي:

---

۲۴۲ تېر ماخذ

**"ما عقیده داریم که جمهوری مردم چین به حیث یک کشور بزرگ و دارای نفوذ منطقه یی می تواند نقش مهمی در اعاده صلح و کاهش تشنجات منطقه یی و جهانی بازی کند. انتظار زیاد ما از جمهوری مردم چین به حیث یک همسایه و دوست قدیم مردم افغانستان این است تا روش جدیی در جهت جلوگیری از تجاوزات پاکستان به سرزمین مقدس ما-خصوصاً ولایت خوست اتخاذ کنند و نگذارند تجاوز صریح پاکستان در برابر افغانستان صلح و ثبات منطقه را به خطر بیندازند".**[۲۴۳]

که څه هم دا لا تر اوسه معلومه نه ده، چې چین د افغان رییس جمهور لیک ته څه ځواب ووایه؛ ځکه د افغانستان باتجربې ډیپلومات غلام محمد سخنیار په خپل کتاب کې، دغه ډول لیکونه او د مجالسو نچوړ، چې د دواړو پلاوو ترمنځ تبادله شوي، کټ-مټ راخیستي او په دغو کې داسې کوم لیک نه په سترګو کېږي، چې له مخې یې وویل شي، چین به د نجیب الله لیک ځواب کړی وي. البته دا هم له امکانه لیرې نه ده، چې چین به د داکتر نجیب لیک ته ځواب ویلی وي؛ خو سخنیار به د لاسرسي د نه شتون له کبله په خپل کتاب کې نه وي راوړی. خو د دې سره، که د شورویانو له وتلو وروسته، حالات وڅېړو نو څرګندیږي، چې چین هم د امریکا او لویدیځ په څېر د شورویانو له وتلو وروسته افغانستان ته ډېر ارزښت ورنکړ.

دا پورتنۍ ادعا موږ له دې ځایه هم کوو، چې وروسته د افغانستان د ادارو او وزارتونو لهخوا له چین سره څومره هم د همکارۍ غوښتنه وشوه، د چین لهخوا ورته مثبت ځواب ونه ویل شو. د بېلګې په توګه د ۱۹۹۱ کال په اګست کې د افغانستان-چین دوستۍ انجمن رییس او د پارلمان غړي نجم الدین کاویاني د چین د دوستۍ انجمن رییس خان شو ته لیک واستاوه او په کې یې د دواړو سازمانونو ترمنځ د پروتوکول لاسلیکول وغوښتل. خو چین دغې غوښتنې ته مثبت ځواب ورنکړ.

وروسته د افغانستان د کار او اجتماعي امورو وزیرې صالحه فاروق اعتمادي هم د چین د کار وزیر روان چونک ته لیک واستاوه او په کې یې د دواړو هېوادونو د وزرتونو ترمنځ د همکارۍ او د عاجلو مرستو غوښتنه وکړه؛ خو چین بیا هم دغې تقاضا ته لبیک ونه وایه. د شورویانو له وتلو وروسته، چین ته نور د افغانستان له لوري کوم ګواښ مواجه نه و او نه یې هم دا اندېښنه درلوده، چې شوروي به په دویم قدم کې د چین

۲۴۳ د داکتر نجیب الله د بشپړ لیک لوستلو لپاره ولولئ د سخنیار کتاب، مخ ۲۵۸-۲۵۹

ملګرى پاکستان له زمکې پورته کړي او ځان به ګرمو اوبو ته ورسوي. دغه راز نوره يې نوره يې د شوروي له هڅومنيک ځواک څخه د محاصرې وېره هم نه درلودله، بلکې د شورويانو له وتلو سره يې اړيکې له شوروي سره مخ پر ښه کېدو روانې شوې. له همدې ځايه چين دغه مهال په رسمي توګه په افغانستان کې له يوه داسې نظام څخه ملاتړ کاوه، چې سوله ييز او ناپېيلى او پراخ‌بنسټه وي[۲٤٤] اوله کبله يې ډېرى افغان کډوال بېرته خپل هېواد ته وګرځي.[۲٤٥]

## افغان-چين اړيکې؛ د مجاهدينو په دوره کې

کله چې داکتر نجيب الله استعفى ورکړه او په افغانستان کې د پېښور د تړون له مخې يو پر بل پسې لومړى د صبغت الله مجددي او بيا د استاد رباني حکومتونه راغلل، نو له همدې مهاله له چين سره يو لړ روابط پيل شول. دغه روابط له دواړو خواوو څخه پيل شول.

د مجاهدينو له راتګ سره د افغانستان په لور د چين پاملرنه د زياتېدلو پر لور شوه. په دې اړه لومړى د چين رييس جمهور جيانګ زېمن او لومړي وزير لى پنګ د مجاهدينو د حکومت د لومړۍ کليزې په مناسب د وخت ولسمشر، استاد رباني او د لومړي وزير په توګه د حکمتيار په غوره کېدلو د چين لومړي وزير لى پنګ نوموړو ته مبارکۍ راولېږلې[۲٤٦].

په دويم قدم کې د چين د بهرنيو چارو وزارت په دغه هېواد کې د افغانستان سفارت ته يو يادښت ولېږه چې په کې يې د افغانستان له رييس جمهور استاد رباني څخه غوښتي و، چې چين ته په سفر راشي. په دغه ليک کې راغلي و: "رئيس جمهور چين آرزومند است که جلالتمآب برهان الدين رباني رئيس دولت اسلامي افغانستان از چين ديدن کند"[247].

خو په افغانستان کې د کورنۍ جګړې له پيليدو سره چين په افغانستان کې خپل

۲٤٤ د ۱۹۸۸ کال په ۳۰ جون د چين د وزير خارجه په پاکستان کې څرګندونې، سخنيار، مخ ۲٥٦.

۲٤٥ د چين ملي کنګرې ته د چين لومړي وزير ښاغلي لى پنګ څرګندونې، سخنيار، مخ ۲٥٥

۲٤٦ د چين د لومړي وزير لى پنګ د بشپړ ليک لوستلو لپاره ولولئ، سخنيار، مخ ۲٦۹؛ د جيانګ زېمن د بشپړ ليک لوستلو لپاره ولولئ د سخنيار کتاب، مخ ۲٦۷

۲٤۷ سخنيار، مخ ۲۷۰

سفارت وتاړه او بیا یې تقریباً د افغانستان له ټولو لوریو سره روابط وسائل ترڅو خپل ناپېیلتوب وښيي.[۲۴۸]

هغه مهال چې کله په ۱۹۹۴ کال کې د جنرال دوستم او انجینر حکمتیار ترمنځ ایتلاف وشو او له کبله یې د استاد رباني او حکمتیار ترمنځ جګړو زور واخیست، نو استاد رباني د چین ولسمشر ته یو لیک واستاوه. په دغه لیک کې استاد رباني ادعا وکړه، چې د مخدره توکو قاچاقبران او توندلاري یوځای شوي او د افغانستان او سیمې ثبات او امنیت له ګواښ سره مواجه کوي. دغه مهال په سیمه کې د چین لپاره دوه تر ټولو زیاتې سرخوږۍ توندلاري او د مخدره توکو قاچاق وې.استاد رباني په دغه لیک کې لیکي: "این نشان می دهد که قاچاقبران مواد مخدره و عناصر بنیادگر و افراطی حکمتیار و دوستم یکجا هستند... پیروزی این عناصر در افغانستان بدون شک ثبات و امنیت منطقه را به مخاطره مواجه می سازد".[249]

د دې ترڅنګ استاد رباني په همدغه لیک کې له ډاکتر نجیب الله وروسته په دویم ځل هڅه وکړه، چې د پاکستان پرضد د چین له نفوذ ګټه پورته کړي؛ استاد رباني په دغه لیک کې ولیکل: «ما آرزو مندیم که جمهوری مردم چین به رهبری شما از نفوذ اخلاقی و سیاسی که در ساحه بین المللی استفاده کرده و عناصر بدنام را در افغانستان تشخیص کرده، کشتار بیرحمانه و مصیبت بار و اعمال تخریبکارانه آن ها را در افغانستان تقبیح کنند»[۲۵۰] خو د موجودو معلوماتو له مخې چین بیا له خپل دغه نفوذه ګټه پورته نه کړه او داسې یې د استاد رباني دغې غوښتنې ته مثبت ځواب ونه وایه؛ ځکه دغه مهال د پاکستان او چین ترمنځ ښې اړیکې وې او پاکستان هم د جمعیت اسلامي په پرتله له حزب اسلامي ملاتړ کاوه.

---

۲۴۸ د محمد زمان مزمل په اند چین لومړی له شمالي ټلوالې سره اړیکې درلودې، وروسته یې بیا د خپلو اړیکو مزي له طالبانو سره هم وغځول او تر ډېره یې ځان د افغانستان قضیې څخه لرې وساته. وګورئ د محمد زمان مزمل د ستراتیژیو بحران کتاب، چې د افغانستان د کورنۍ جګړې پرمهال لیکل شوی و.

۲۴۹ د سخنیار په کتاب کې د استاد رباني لیک، چې د ۱۹۹۴ کال په ۹ جنوری یې لیکلی و. د بشپړ لیک لوستلو لپاره ولولئ د سخنیار کتاب، مخ ۲۷۳-۲۷۵

۲۵۰ د بشپړ لیک لوستلو لپاره ولولئ د سخنیار کتاب، مخونه ۲۷۳-۲۷۵

## افغان-چین اړیکې؛ د طالبانو د امارت پرمهال

هغه مهال چې په افغانستان کې د طالبانو د امارت دوره پیل شوه، نو چین له تونډلارۍ، تروریزم او د مخدره توکو له قاچاق وېره درلوده؛ ځکه خو یې د ۱۹۹٦ کال په پیل کې له روسیې سره یوځای د شانگهای پنځه( 5) سازمان جوړ کړ. د دغه سازمان عمده موخه له درېیو شیطاني ځواکونو-چې بیلتون پالنه، تروریزم، او تونډلاري ده- او د مخدره توکو پر وړاندې جگړه وه.

کله چې طالبان د کابل ولایت پر درشل ودرېدل، نو استاد رباني دغه حالت د خپلې واکمنۍ د بقا لپاره گواښ وباله. که څه هم په پیل کې استاد رباني طالبان د سولې کوترې گڼلې خو وروسته چې کله طالبان کابل ته نږدې شول نو استاد رباني ته د دوی تر شا د پاکستان رول تر نظر شو. له همدې ځایه استاد رباني یو ځل بیا د چین رییس جمهور ته د ۱۹۹٦ کال د جنورۍ پر ۱۸مه نېټه یو لیک واستاوه او ورڅخه یې وغوښتل، چې پر پاکستان له خپل نفوذه گټه واخلي او د دغې جگړې په تمولو کې خپل رول ادا کړي. استاد رباني په دغه لیک کې ولیکل:

"مردم افغانستان در شرایط کنونی از اثر جنگ های تحمیلی چندین ساله و مداخلات خارجی خاصتاً حلقات معین پاکستان با مشکلات فراوان روبروست.صمیمانه امیدوارم تا جمهوری مردم چین به مثابه همسایه بزرگ و نیرومند افغانستان در حل قضایای کنونی افغانستان و جلوگیری از مداخلات خارجی در امور داخلی کشور ما نقش فعال و سازنده بازی کنند"[251].

خو د استاد رباني دغه دویمه هڅه هم ناکامه راووته او چین د افغان لوري دغې غوښتنې ته ځواب ونه وایه.

دغه مهال د چین د اندېښنو یو بل لامل په افغانستان کې د چینایي بېلتون‌غوښتونکو شتون و. د یوې څېړنې له مخې د طالبانو په دوره کې په افغانستان کې تقریباً ۱۰۰۰ یغور بېلتون‌غوښتونکي وو[۲۵۲] چې چین یې پارولی و. د همدې موضوع په تړاو د چین ډیپلوماتیک پلاوی کابل ته راغی او د خبرو اترو پرمهال یې طالبانو ته وویل: "مونږ چې

۲۵۱ د بشپړ لیک لوستلو لپاره وگورئ غلام محمد سخنیار، مخ ۲۸۸- ۲۸۹

۲۵۲ Jae H Ku, Drew Thompson, Daniel Wertz. 2011. 'Northeast Asia in Afghanistan: Whose Silk Road?'. US-Korea Institute at SAIS and see also Chinese foreign ministry's formal numbers, which they pointed to be in hundreds numbers: Ministry of Foreign Affairs of the People's Republic of China. November 22, 2001, http://www.fmprc.gov.cn/chn/pds/gjhdq/gj/yz/1206/fyrygth/t10622.htm.

کوم یغوري مسلمانان نیولي، هغوی ادعا کوي، چې نظامي روزنه یې په افغانستان کې ترلاسه کړې ده"[253]. د دې ترڅنګ په پاکستان کې د چین سفیر د اسلامي امارت د سفیر ملا عبدالسلام ضعیف په مرسته لومړی کابل ته ولاړ، چې هلته یې تود هرکلی وشو، بیا یې په کندهار کې مشر ملا محمد عمر ولید او داسې چینایي سفیر لومړی نامسلمان سفیر شو، چې له ملا محمد عمر سره یې ولیدل[۲۵٤] . چینایي سفیر په ناسته کې وویل، "چین پر هغو خبرو اندېښنه لري، چې پکې ویل کېږي چې اسلامي امارت د سنکیانګ له مسلمانانو سره مرستې کوي". د چینایي سفیر د دغو خبرو په ځواب کې ملا محمد عمر هغه ته ډاډګیرنه ورکړه چې "افغانستان هېڅکله هم هیله نه لري او نه یې هم دا په ګټه ده، چې د چین په داخلي ستونزو او چارو کې لاسوهنه وکړي، او نه به افغانستان کومې ډلې ته اجازه ورکړي چې د افغانستان خاوره د چین پرضد د عملیاتو لپاره استعمال او یا هلته له چا ځخه ملاتړ وکړي"[255].

د چین سفیر، چې له ملا عمر سره یې ولیدل، له ځان سره له ختهو جوړ یو اوښ هم راووړ او ملا محمد عمر ته یې وویل: "هغه مهال چې زموږ او ستاسو هېوادونه د ورېښمو په لاره کې سره پېیل شوي وو او له دغه لارې به تجارتي اموالو او کاروانونو تګ راتګ کاوه، نو دا به د اوښانو په مرسته ترسره کېدل؛ ځکه موږ هم دغه مجسمه تاسو ته د تحفې په توګه درکوو، ترڅو د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې بیا پخوا ته وګرځي"[256] وروسته چې دغه خبرې ملا عمر ته وژباړل شوې، او ژباړونکي ملا عمر ته وویل: "که دغه هدیه قبوله نه کړای شي، نو میلمه به ډېر خواشینی شي"، ملا عمر له ډېرې ناچارۍ دغه تحفه قبوله کړه؛ خو د چینایي سفیر له تګه وروسته یې په خپلو لاسونو زمکې ته راوغورځوله او دانه دانه یې کړه![۲۵۷]

دا چې د چینایي ډیپلومات دغه کړنې تر شا څه لامل و، تر اوسه مالومه نه ده؛ خو د

وحید مژده، چې دغه مهال د افغانستان په بهرنیو چارو وزارت کې د منځني ختیځ د میز

---

۲۵۳ وګورئ د وحید مژده، چې دغه مهال د افغانستان په بهرنیو چارو وزارت کې د منځني ختیځ څانګې مدیر و، کتاب: وحید مژده، افغانستان و پنج ساله سلطه طالبان، تهران: نشرني، ۱۳۸۲، مخونه ۱۴۵

۲٥٤ Abdul Salam Zaeef. 2010. My Life with the Taliban. New York: Columbia University Press. Page 135 او وحید مژده، افغانستان و پنج ساله سلطه طالبان، تهران: نشرني، ۱۳۸۲، مخونه ۱۴۵

۲۵۵ Abdul Salam Zaeef. 2010. Page 135

۲٥٦ وحید مژده، افغانستان و پنج ساله سلطه طالبان، تهران: نشرني، ۱۳۸۲، مخونه۱۴۵- ۱٤٦

۲۵۷ تېر ماخذ

مدیر و، په اند: ″د چینایانو کړنه قصدي وه، ځکه دوی غوښتل معلومه کړي، چې ملا محمد عمر چین ته ارزښت ورکوي او که نه او ایا د د چین لپاره خپل یو ارزښت د پښو لاندې کولای شي که نه؟ او یا هم شاید دوی غوښتل ترڅو معلومه کړي، چې ملا عمر د معاملې سړی دی او که نه؟″ [۲۵۸]

په اسلام آباد کې د طالبانو اسلامي امارت سفارت له ډېرو هېوادونو سره اړیکې درلودلې، لکه جاپان، امریکا، فرانسه، انګلستان، سریلانکا، او چین؛ خو د ملا عبدالسلام ضیف چې دا مهال په اسلام آباد کې افغان سفیر و، وایي د افغانستان د اسلامي امارت له سفارت سره تر ټولو ښې اړیکې د چین سفارت درلودلې[۲۵۹].

د طالبانو د دورې پرمهال په افغانستان کې ډېری یغوري مسلمانان مېشت وو او چینایان ویرولي وو. چینایانو د حل لارو په توګه لومړی له روسیې سره په ۱۹۹۶ کال کې د شانګهای پنځه سازمان جوړ کړ، چې بنسټیزه موخه یې د تروریزم، افراطیت، بېلتونپالنې او د مخدره موادو قاچاق پرخلاف مبارزه وه. وروسته دغه سازمان په ۲۰۰۱ کال کې د شانګهای همکارۍ په سازمان کې بدلون وموند. د دې ترڅنګ چین له ۱۹۹۸ کال څخه په ملګرو ملتونو کې د هر هغه قرارداد ملاتړ وکړ، چې د طالبانو پرضد د بندیزونو په تړاو راتلل. همدا راز د شانګهای پنځه سازمان د ۱۹۹۸ کال د جولای په میاشت کې د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه غونډه کې د افغانستان د حالاتو په اړه «اندېښنه» څرګنده کړه، وروسته یې د ۱۹۹۹ کال د اګست په میاشت کې د دغه سازمان د سرمشرانو په غونډه کې د افغانستان د وضعیت په اړه «ژوره اندېښنه» څرګنده کړه او د ۲۰۰۰ کال د مارچ په میاشت کې یې د دغه سازمان د دفاع وزیرانو په غونډه کې د افغانستان حالات د «شدیدې نګرانۍ» وړ وبلل[۲۶۰].

د دې ترڅنګ چین په دغه پړاو کې له افغان کډوالو سره مرستې روانې وساتلې او د یوې سرچینې له مخې چین له ۱۹۹۵ کال څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې تقریباً ۱.٦ ملیون ډالره مرستې له افغان کډوالو سره وکړې او کله چې د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د ۲۰۰۱ کال د جولای په میاشت کې وچکالي راغله، نو چین د افغانستان د (UNHCR) له مشر سره تقریباً دوه میلیونه یوان (چې ۲۴۲۰۰۰ ډالره کېږي) مرسته وکړه[۲٦۱].

---

۲۵۸ تېر ماخذ

۲۵۹ Abdul Salam Zaeef. 2010. Page 135

٢٦٠ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stances, and Perspectives, CSIS: Centre for Strategic and International Studies, 2012, pp:10

٢٦١ Agence France-Presse, China extends aid for Afghan refugees, reliefweb, 3 July 2001, retrieved at 3 July 2015, see it online:< http://reliefweb.int/report/afghanistan/china-extends-aid-afghan-refugees>

دریېیم فصل

# افغان-چین اړیکې؛ د سپټمبر له یوولسمې تر اوسه (۲۰۰۱- ۲۰۱۵)

د شورویانو له وتلو وروسته، چین د افغانستان له دولت سره یو څه اړیکې درلودې، چې یادونه یې په تېر فصل کې هم وشوه؛ خو د ډاکټر نجیب الله د حکومت له ړنګېدلو وروسته، د چین ولسمشر جیانګ زیمن د مجاهدینو د حکومت مشر استاد برهان الدین رباني ته چین  ته د ورتګ رسمي بلنه ولېږله. خو هغه مهال بیا د یو لړ لاملونو له کبله چین ته د استاد رباني دغه سفر ترسره نه شو. له دې وروسته چې کله د افغانستان په سیاسي تیاتر طالبان راڅرګند شول، نو چین په دغه ټول پړاو کې، چې د شورویانو له وتلو وروسته پیل او د طالبانو پر ړنګېدلو یې پای وموند، د افغانستان پېښې په دقت  څارلې. ځکه، له یوې خوا د چین په سنکیانګ کې په نویمو کلونو کې اړ دوړ پیل شوی و او له بلې خوا یغوري مسلمانانو، چې په نویمو کلونو کې یې د ختیځ ترکستان ګوند جوړ کړ او د سنکیانګ په دغو ورانکارو پېښو کې ښکېلي وې، د طالبانو په اسلامي امارت کې پناه اخیستې وه.

چین په دغه پړاو کې (۱۹۹۱ - ۲۰۰۱) د افغانستان پېښې په ډېر دقت سره څارلې؛ خو له دې سره یې د افغانستان په تړاو په بهرني  سیاست کې هم په  احتیاط کاوه او پس له ډېره حسابه به یې ګامونه پورته کول. په دغه پړاو کې چین د افغانستان له دوو مهمو ښکېلو ډلو سره اړیکې درلودلې، چې طالبان او متحده جبهه (چې رسنیو (شمال ټلواله) بلله) وه.

د دې ترځنګ، چین په سیمه ییز سیاست کې په ۱۹۹٦ کال کې د شانګهای پنځه سازمان هم له روسیې او نورو هېوادونو[۲٦۲] سره یوځای جوړ کړ، ترڅو د افغانستان د قضیې او د افغانستان د روان حالت له کبله د تروریزم، توندلاري، بېلتونپالنه او د مخدره توکو قاچاق منځنۍ اسیا او چین ته پراخ نه شي.

د طالبانو د امارت تر ړنګېدلو،چین په افغانستان کې خپل سفارت تړلی و او په افغانستان کې یې پرته له هغو څو کوښښونو چې دوی له طالبانو او شمالي ټلوالې سره پکې اړیکې درلودلې، د طالبانو د امارت پرمهال یې په یو څو پروژو کې برخه اخیستې وه او د افغانستان په تړاو به یې په ۲+٦ کنفرانسونو کې ونډه اخیسته، دوی په افغانستان کې فعال حضور او کردار نه درلود. خو د حامد کرزي د انتقالي حکومت په راتګ سره چین په افغانستان کې خپل فعال کردار او حضور ورځ تر بلې زیات کړ. په دغه فصل کې به موږ د افغانستان او چین د اړیکو همدغه پړاو وڅېړو، چې د طالبانو له ړنګېدلو وروسته او د اشرف غني تر واکمنېدلو پورې غځېدلی دی.

د افغان-چین اړیکو دغه پړاو مو پر لاندې څو برخو ویشلی دی:

لومړی؛ د حامد کرزي د واکمنۍ انتقالي پړاو؛دویم؛ د حامد کرزي د واکمنۍ لومړۍ دوره؛

دریيم؛ د حامد کرزي د واکمنۍ دویمه دوره؛

څلورم؛ د اشرف غني د واکمنۍ دوره.

## لومړی؛ د حامد کرزي لنډمهاله او منځمهاله حکومتونه

هغه مهال چې په امریکا کې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر پر یوولسمه د امریکا تجارتي ودانۍ په نښه شوې، نو د نړۍ ډېری هېوادونه د امریکا ترځنګ ودرېدل. ناټو هم د پنځمې مادې له مخې، چې په یوه برید په ټولو برید دی[۲٦۳]، له امریکا سره یوځای پر افغانستان بریدونه وکړل. د دغو هوایي بریدونو له کبله د طالبانو اسلامي امارت ړنګ شو او د طالبانو د امارت له ړنګېدلو سره په افغانستان کې د بُن تړون له مخې د

---

۲٦۲ د شانګهای پنځه سازمان کې د چین، روسیې، قازقستان، کرغزستان او تاجکستان هېوادونو غړیتوب درلود.

۲٦۳ د ناټو تړون د پنځمې مادې لپاره ولولئ:
http://www.nato.int/terrorism/five.htm

موقتې اداري بنسټ کېښودل شو، چې رييس يې حامد کرزي و. له دغه نوي حکومت څخه د پراخ نړېوال ملاتړ په موخه د جاپان په ټوکيو کې يو کنفرانس جوړ شو، ترڅو نړېوال د افغانستان له دغه نوي حکومت سره مالي او اقتصادي مرستې وکړي.

د ټوکيو له کنفرانس وروسته، حامد کرزی د يو شمېر وزيرانو ترڅنګ د چين د حکومت په بلنه بيجينګ ته د ۲۰۰۲ کال د جنورۍ پر ۲۳مه ولاړ. دغه سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ له ۱۹٦٦ کال راهيسې د تر ټولو لوړپوړي چارواکي سفر و. په دغه سفر کې په ډېرى توګه د چين حکومت هغه بې باورۍختمې کړې، چې د يوولسم سپټمبر له پېښې وروسته د نړېوالو مطبوعاتو د رپوټونو او خبرونو له کبله زېږېدلې وې. هغه مهال په نړېوالو لويديزو مطبوعاتو کې ډېرى داسې رپوټونه او خبرونه خپاره شوي وو، چې له طالبانو سره د چين ملاتړ يې په نښه کاوه، د دې ترڅنګ د انګلېستان په مشهوره ورځپاڼه «ګارډين» کې هم داسې خبرونه خپاره شوي و، چې اسامه د چين په کومه سيمه کې پناه اخيستې؛ خو چين او د چين بهرنيو چارو وزارت دغه رپوټونه او خبرونه بې اساسه بلل او ردول يې[٢٦٤].

له همدې ځايه ده او داسې انګېرنه به هم سمه برېښي، چې چينايانو به د نوي افغان حکومت لوړپوړي چارواکي بيجينګ ته د همدغې موخې لپاره رابللي وي، ترڅو له يوې خوا افغانانو ته د ملاتړ ډاډ ورکړي او خپلې اندېښنې هم ورسره شريکې کړي او له بلې خوا د نړېوالو مطبوعاتو دغه رپوټونه هم غلط ثابت کړي.

له همدغه وخته چينايانو د افغانستان په تړاو خپل بهرنۍ سياست هم روښانه کړ. دوی له دغه وروسته يو داسې افغانستان غوښت، چې ناپېيلی، خپلواک او پکې ملګري ملتونه تر ټولو زياته ونډه ولري[٢٦٥]. د چين د دغه ډول بهرني سياست څخه څرګنده ده، چې دوی تر ډېره کچه د امريکايانو د شتون له کبله اندېښمن وو، دوی غوښتل

---

٢٦٤ په دې تړاو د چين د بهرنيو چارو وزارت دغه ډول رپوټونه او خبرونه چې پکې له طالبانو سره نږدې اړيکې په نښه شوې وې، لکه بند جوړول، په اقتصادي او تخنيکي برخو کې تفاهمنامه لاسليکول، تليفوني مزي غځول او نور رد کړل. له دې سره يې زياته کړه، موږ خپل سفارت له ۱۹۹۳ کال راهيسې تړلی دی او په چين کې د افغانستان سفارت د افغانستان اسلامي دولت سره تړاو لري، چې دوی بيا طالبان-ضد دي. ولولئ په لېتونيا کې د چين سفارتخانې په رسمي ويب پاڼه کې:
http://www.chinaembassy.lt/eng/zt/zgfk/t۱۲۵۲۸۴.htm، او په چين کې د اسامه شتون ردولو لپاره ولولئ: http://www.chinaembassy.lt/eng/zt/zgfk/t۱۲۵۲۹٦.htm

٢٦٥ په ۲۰۰۲ کال کې د چين لومړني وزير له حامد کرزي سره په کتنه کې وويل: « مردم افغانستان سرنوشت خود را خود شان بايد تعيين کنند. حاکميت ملی، استقلال و تماميت ارضی مورد احترام همه جانبه قرار گيرد. از جانب ديگر حل مسأله سياست افغانستان با ملل متحد ارتباط نزديک دارد و حکومت چين از تلاش سياسی ملل متحد پشتيبانی کامل دارد» سخنيار، مخ ۲۹۲

چې د امریکایانو د شتون سره سره افغانستان یو خپلواک، ناپېیلی او ... وي. دا چې له یوولسم سپتمبر راپدیخوا د افغانستان په تړاو د چین بهرنی سیاست څه ډول دی؟ په راتلونکي فصل کې ورته اشاره شوې.

په بنسټیزه توګه د حامد کرزي دغه سفر پر درېیوو محورونو وڅرخېده: چین-افغان اړیکې، د افغانستان بیارغونه او د تروریزم پر ضد هلې ځلې[۲۶۶]. د افغان-چین پر اړیکو دواړو لوریو ډاډ څرګند کړ او چین اعلان کړه، چې په راتلونکي میاشت (فبروري) کې به په کابل کې د چین سفارتخانه بیا پرانېزي[۲۶۷]. د چین دغه سفارت د ۱۹۹۳ کال په فبرورۍ کې هغه مهال وتړل شوه، چې کله د کورنۍ جګړې پرمهال د سفارت د ودانۍ پر چت یو راکټ ولګېد[۲۶۸].

د دغه سفر پرمهال چین له افغانستان سره د مرستو اعلان هم وکړ. د دغه سفر پرمهال د چین حکومت له افغانستان سره د ۱۵۰ میلیون ډالرو مرستو ژمنه وکړه او ترڅنګ یې له افغان حکومت سره یو میلیون ډالر نغده مرستې او تر دېرشو میلیونو یوانو پورې عاجل مواد هم مهیا کړل[۲۶۹]. دا چې له دغه سفره وروسته، چین د حامد کرزي تر لومړۍ دورې څومره مرستې له افغانستان سره کړې، په جدول ۱ کې ورته په تفصیلي توګه اشاره شوې.

د دې ترڅنګ چین د افغانستان په بیارغونه کې هم لېوالتیا وښوده. د چین لومړي وزیر د حامد کرزي په دغه لومړني سفر کې وویل: "چین آرزومند است که افغانستان بتواند هر چه زود تر کار بازسازی و توسعه اقتصادی را آغاز کند. چین فعالانه در بازسازی افغانستان شرکت کرده و در حد توان مساعدت و کمک می کند[...] چین

۲۶۶ 'official of the Foreign ministry Briefs the Resident Journalists in Beijing about the visit of Afghan interim Government Chairman Karzai', 30 Jan 2002, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t15829.shtml>

۲۶۷ تېر ماخذ

۲۶۸ 'Chinese Embassy in Kabul Reopens', China.org, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://china.org.cn/english/2002/Feb/26647.htm>

۲۶۹ 'President Jiang Zemin Meets Chairman Hamid Karzai of the Afghan interim Government', Ministry of Foreign Affairs of the People's Republic of China, 25 Jan 2002, retrieved at 17 May 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t15827.shtml> and 'Premier Zhu Rongji meets Chairman of the Afghan interim Government Hamid Karzai', Ministry of Foreign Affairs of the People's Republic of China, 25 Jan 2002, retrieved at 17 May 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t15826.shtml>

در این باره علاقمند است و حکومت چین، شرکت ها و مؤسسات چینی را تشویق می کند که در اعمار مجدد افغانستان سهم فعال بگیرند"[270]

په همدې تړاو د چین رجمهور رییس جبانګ زېمن هم ورته څرګندونې وکړې، ده وویل: "چین به حیث یک همسایه می خواهد فعالانه در بازسازی افغانستان شرکت کند و آن چه را که در بازسازی مفید است، کمک کند"[271].

د دې ترڅنګ چین د تروریزم او له اسلام اباد سره د کابل پر خرابو اړیکو هم اندېښنې څرګندې کړې او د تروریزم په تړاو یې کابل ته وړاندیز هم وکړ. دا چې پاکستان د چین نږدې ستراتیژیک ملګری دی او دغه مهال د کابل په نوي حکومت کې ډېری د شمالي ټلوالې غړي وو او دوی بیا په څرګنده توګه هند ته نږدې او پاکستان-ضد وو، نو حامد کرزي د چین د لومړي وزیر چو رونګ-جی د خبرو په ځواب کې د چین د دا ډول اندېښنو دلرې کولو هڅه وکړه، ده وویل: "افغانستان در توسعه روابط خود با همسایگان از جمله پاکستان اهمیت زیات قایل است و می خواهد با کشور های همجوار در جهت حفظ صلح و ثبات منطقه مساعی مشترک کند"[272]. وروسته چې کله د نوي حکومت له راتګ سره په افغانستان کې هندي نفوذ ورځ تر بلې زیات شو، نو چین بیا هم په ډیپلوماتیکي ډګرونو کې په افغانستان کې د هند پر زیاتېدونکی نفوذ د پاکستان لپاره اندېښنې څرګندولې[۲۷۳]

په افغانستان کې د نوي حکومت په همدغه لومړني کال کې د افغانستان او چین لوړ پوړیو چارواکیو د یو بل هېوادونو ته په تکرار سفرونه وکړل. د کرزي د دغه لومړني (۲۰۰۲) سفر پسې جوخت د چین د بهرنیو چارو مرستیال وانګ-یي د ۲۰۰۲ کال د فبروری پر ٦مه کابل ته راغی او دلته یې د ۹ کلونو وروسته د چین سفارت بیا پرانیست[۲۷٤]. د ۲۰۰۲ کال د می په میاشت کې د چین د بهرنیو چارو وزیر تانګ

---

۲۷۰ غلام محمد سخنیار، ۱۳۸۴، مخ ۲۹۰

۲۷۱ غلام‌محمد‌سخنیار، روابط پنجاه ساله چین و افغانستان، کابل: مرکز مطالعات استراتیژیک وزارت امور خارجه، ۱۳۸۴، مخ۲۹۳

۲۷۲ تېر ماخذ، مخ ۲۹۲

۲۷۳ See Wikileaks Cable: China-Afghanistan relations, Canonical ID: 09BEIJING146_a online at:< https://wikileaks.org/plusd/cables/09BEIJING146_a.html>

۲۷٤ 'official of the Foreign Ministry Briefs the Resident Journalists in Beijing about the visit of Afghan interim Government Chairman Karzai', 30 Jan 2002, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t15829.shtml>

جیاگزان هم کابل ته سفر وکړ[۲۷۵] او داسې له ۱۹٦٦ کال راهیسې د چین له‌خوا افغانستان ته راغلی تر ټولو لوړپوړی چینایي چارواکی شو. وروسته د نومبر په میاشت کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر هم چین ته په یو رسمي سفر ولاړ او د دغه کال په وروستیو (۲۲ دسمبر) کې کابل د خپلو شپږو ګاونډیانو سره د ښه ګاونډیتوب تړون هم لاسلیک کړ[۲۷٦]. په دغه تړون کې ټولو لوریو په سیمه کې د سولې او ثبات لپاره د تروریزم، مخدره توکو قاچاق او د توندلارۍ پرضد ګډه اراده څرګنده کړه او ترڅنګ یې د یو ځل بیا لپاره د یو بل په داخلي چارو کې د نه لاسوهنې ټینګار هم وکړ. که څه هم د ښه ګاونډیتوب په تړون کې د مخدره توکو قاچاق پرضد یادونه شوې وه؛ خو وروسته د ۲۰۰۴ کال په فبرورۍ کې افغانستان له خپلو شپږو ګاونډیانو سره د مخدره توکو د کنټرول په تړاو د کابل اعلامیه هم خپره کړه. په دغه اعلامیه کې د مواد مخدرو د زرع، تولید او انتقال په اړه پر همکارۍ ټینګار وشو.

په ۱۹۹۰مه لسیزه کې د تایوان قضیې یو ځل بیا سر راپورته کړ. تایوان پر دغه مهال په نړیوالو سازمانونو کې د برخې اخیستو په تړاو خپلې هلې ځلې وکړې، چې له کبله یې دغه هېواد تر اوسه په یو شمېر نړېوالو سازمانونو کې برخه اخلي؛ خو لا تر اوسه په خپلواکه ډول د هېڅ سازمان غړی نه دی، په ځینو کې یې چې ونډه وه، نو هغه هم د «تایوان، چین» تر نامه لاندې. همدا رنګه که څه هم په دغه مهال د امریکا او چین ترمنځ د ۱۹۴۹- ۱۹٦۹ کلونو په پرتله ښې اړیکې وې، خو بیا هم په امریکا کې له تایوان څخه د امریکا ملاتړ ورځ تر بلې زیاتېده. په همدې تړاو په ۲۰۰۱ کال کې چې کله د امریکا جمهور رییس وپوښتل شو، چې که چین پر تایوان برید وکړي، ایا موږ (امریکایان) د دې مسؤلیت لرو چې له تایوان څخه دفاع وکړو؟ نو د امریکا رییس جمهور بُش په ځواب کې وویل: "هو! موږ مسؤلیت لرو او چینایان باید پر دې پوه شي. امریکایان به هر هغه څه وکړي، چې تایوان د دغه وړ کړي، چې له خپله ځانه دفاع وکړي"[277]. په همدغو کلونو کې افغانستان د چین په اړه خپله د

۲۷۵ Xinhua News, Chinese Foreign Minister Visits Afghanistan, 16 May 2002, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://news.xinhuanet.com/english/2002-05/16/content_395035.htm>

۲۷٦ غلام محمد سخنیار، ۱۳۸۴، مخ ۲۹٦-۹۸

۲۷۷ U.S. would defend Taiwan, Bush says', New York Times, 26 April 2001, 19 May 2015, see it online:<' <http://www.nytimes.com/2001/04/26/world/us-would-defend-taiwan-bush-says.html

يو-چيـن تـګلاره بيـا روښـانه کـړه او د ۲۰۰۳ کال د دسـمبر پـر ۲۲مـه د افغانسـتان بهرنيـو چـارو وزيـر ډاکـتر عبدالله د چيـن د بهرنيـو چـارو مرسـتيال تـه د تايـوان پـه قضيـه کـې د افغانسـتان پـر دوديـز سياسـت ټينـګار وکـړ[۲۷۸].

وروسـته د ۲۰۰۴ کال د فـبروری پـه مياشـت کـې د تايـوان ولسـمشر چېـن د ولسـمشريزو ټاکنـو پرمهـال د ټولپوښـتنې اعـلان وکـړ، نـو د چيـن لهخـوا تـر نيوکـې لانـدې راغـی؛ ځکـه دغـه ټولپوښـتنه پـه يـو ډول د خپلواکـۍ هڅـه بلـل کېدلـه. پـه دغـه ټولپوښـتنه کـې لـه خلکـو څخـه دوه پوښـتنې وشـوې: د تايـوان خلـک غـواړي چـې د تايـوان قضيـه د سـولې لـه لارې حـل کـړي، کـه چيـرې کمونيسـت چيـن يـې ونـه منـي او همداسـې د تايـوان پـر لـور خپـل ميزايلونـه نېـغ کـړي، نـو تايـوان تـه پـه کار ده چـې د خپلـې دفـاع لپـاره د ميزائـل ضـد پروګـرام لا پيـاوړی کـړي؟ او آيـا تاسـو د دې پلـوی يـئ چـې د تايـوان حکومـت د چيـن لـه کمونيسـت حکومـت سره خـبرې اتـرې پيـل کـړي؟

لـه ټولپوښـتنې وړانـدې د افغانسـتان د بهرنيـو چـارو وزيـر ډاکـتر عبدالله چيـن تـه د ۲۰۰۴ کال د مـارچ پـه ۹مـه ولاړ، هلتـه يـې د چيـن لـه بهرنيـو چـارو وزيـر سره وليـدل او د افغـان حکومـت پـر يو-چيـن تـګلاره يـې ټينـګار وکـړ او د تايـوان لـه دغـې ټولپوښـتنې سره يـې مخالفـت وکـړ[۲۷۹]. خـو دغـه ټولپوښـتنه ناکامـه شـوه، ځکـه د بريالېتـوب لپـاره يـې اسـاسي شرط پـوره نـه کـړ. ټولپوښـتنه هغـه مهـال بريالـۍ کېـدای شـوه چـې کلـه د ټولـو رايـې ورکوونکـو پنځـوس سـلنه پکـې برخـه اخيسـتې وای؛ خـو پـه دغـه ټولپوښـتنه کـې ۴۵ سـلنه برخـه واخيسـته او داسـې دغـه ټولپوښـتنه ناکامـه شـوه.

همـدا ډول د ډاکـتر عبداللـه د دغـه سـفر پرمهـال بيجينـګ هـم د افغانسـتان د ۱۹٦٥ کال لـس ميليـون پونـډه پورونـه هـم وبښـل او همـدا رنګـه د چيـن ۱٥۰ ميليـون ډالـره مرسـتې يـې پـه دوو برخـو وويشـلې: ۷٥ ميليـون ډالـره مرسـتې بـې عوضـه او نـورې ۷٥ ميليـون ډالـره مرسـتې د اوږدو پورونـو پـه بڼـه [۲۸۰]

---

۲۷۸ غلام محمد سخنيار، روابط پنجاه ساله چين و افغانستان، کابل: مرکز مطالعات استراتيژيک وزارت امور خارجه، ۱۳۸۴، مخ ۳۰۳

۲۷۹ Li Zhaoxing meets with Afghan Foreign Minister', Ministry of Foreign Affairs of the People's Republic' of China, 10 March 2004, retrieved at 19 May 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t72653.shtml>

۲۸۰ غلام محمد سخنيار، مخ۳۰٦-۳۰۸

## دویم؛ د حامد کرزي د واکمنۍ لومړۍ دوره

د طالبانـو د امـارت لـه ړنګېدلـو وروسـته پـه لومـړي ځـل ولسـمشریزې ټاکنـې د ۲۰۰۴ کال د اکتوبـر پـر ۹مـه وشـوې. د دې ترڅنـګ دا د هېـواد پـه تاریـخ کـې هـم لومـړی ځـل و، چـې ولسـمشر د پرګنـو د نېغـو رایـو پرمـټ انتخابېـده. پـه دغـو ټاکنـو کـې د حامـد کـرزي پـه شـمول، چـې پـه موقتـي او انتقـالي پـړاو کـې د هېـواد ولسـمشر پاتـې شـوی و، ۲۳ کاندیدانـو ځانونـه نومانـدان کـړل خـو پنځـه کاندیـدان بیـا لـه خپلـې کاندیـدۍ تېـر شـول.

د ټاکنـو د پایلـو لـه مخـې کـرزي د بشـپړو رایـو 55.4 سـلنه ترلاسـه کـړه، د ده پسـې یونـس قانـوني 16.3 سـلنه، محمـد محقـق 11.7 سـلنه، عبدالرشـید دوسـتم 10 سـلنه او پاتـې نـورو کاندیدانـو لـه 1.5سـلنو څخـه کمـې رایـې ترلاسـه کـړې[۲۸۱].

پـه ډېـری توګـه پـه دغـه دوره کـې د افغانسـتان او امریـکا اړیکـې ښـې وې، عمـده لامـل یـې د امریـکا رییـس جمهـور بـش او کـرزي ترمنـځ ښـه مناسـبات وو. د دې ترڅنـګ د بـش پـه انتظامیـه کـې داسـې کسـان وو، چـې کـرزي ورسره وار لـه مخـه پېژندتیـا درلودلـه او لـه یـو بـل سره ملګـري وو. خـو دغـه مهـال د کـرزي او امریـکا ترمنـځ نـورو اختـلافي موضوعاتـو لا سر نـه و راپورتـه کـړی، هغـه چـې د اوبامـا پـه دوره کـې اختـلافي موضوعـات زیـات شـول او پـه پـای کـې یـې پـر دوه‌اړخیـزو اړیکـو هـم ژورې اغېـزې وکـړې.

د حامـد کـرزي پـه دغـه لومړنـۍ دوره کـې د چینایانـو لېوالتیـا مـخ پـر زیاتېـدو شـوه. کـه څـه هـم د حامـد کـرزي د واکمنـۍ لـه لومړۍ دورې وړانـدې پـه افغانسـتان کـې یـوه داسـې پېښـه وشـوه، چـې پـر افغان-چیـن اړیکـو یـې یـو څـه اغېـزه وښـندله. د ۲۰۰۴ کال د جـون پـر ۹مـه پـه کنـدز ولایـت کـې ۱۱ چینایـي کارکوونکـي ووژل شـول[۲۸۲]. خـو طالبانـو یـې پـړه ونـه منلـه[۲۸۳]. دغـې پېښـې ژور غبرګونونـه وپـارول. د افغانسـتان انتقـالي دولـت پـه دې اړه مطبوعـاتي اعلامیـه خپـره کـړه، د انتقـالي دولـت معـاون او د افغانسـتان د بهرنیـو چـارو وزیـر

---

۲۸۱ د ۲۰۰۴ کال ولسمشریزه ټاکنو د پایلو په اړه وګورئ د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمیسون رسمي ویب پاڼه:
htm.english/english/٢٠Website٪٢٠Results٪Election/html_public/af.org.iec.www//:http

۲۸۲ People's daily, 11 Chinese Killed in Afghanistan, 11 June 2004, retrieved at 23 May 2015, see it online:< http://en.people.cn/200406/11/eng20040611_146019.html>

۲۸۳ People's daily, Taliban denies Afghan accusation for killing Chinese, 11 June 2004, retrieved at 23 May 2015, see it online:< http://en.people.cn/200406/11/eng20040611_146013.html> and Afghanistan news center, Taliban deny responsibility for killing 11 Chinese in Afghanistan, 12 June 2004, retrieved at 23 May 2015, see it online:< http://www.afghanistannewscenter.com/news/2004/june/jun122004.html>

داکتر عبدالله د چین سفارت ته ولاړل او له هغوی سره یې په دې اړه تعزیت وکړ. د دې ترڅنګ د چین جمهور رئیس هوجن تاو او د چین د ملي کانګرس رئیس ووبن کوا دغه پېښه وغندله او په دې تړاو د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل: ”چین به تروریستانو ته تسلیم نه شي او د افغانستان په بیا رغونه کې به خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکړي“[284].

حامد کرزي په خپله دغه لومړنۍ دوره کې دوه ځله چین ته سفرونه وکړل، یو ځل په ۲۰۰٦ کال او بل ځل په ۲۰۰۸ کال کې د اولمپیک لوبو د پرانستغونډې کې د ونډې اخیستو په موخه چین ته ولاړ. په ۲۰۰٦ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ، ښه ګاونډیتوب او ملګرتوب تړون لاسلیک کړ، د دې ترڅنګ د مجموعي سوداګرۍ د زیاتولو په موخه دواړو لوریو یو اقتصادي تړون هم لاسلیک کړ، چې له یوې خوا یې د زراعت، تعلیم، ترانسپورت، انرژي او پانګونې په برخه کې په همکارۍ هوکړه وکړه او له بلې‌خوا بیجینګ، چین ته د افغانستان د صادراتو د زیاتولو په موخه په ۲۷۸ افغاني توکو صفر ټکس ولګاوه. د دغه تړون له کبله په ۲۰۰۷ کال کې مجموعي تجارت ٦۱۳ میلیون ډالره شو، چې په ۲۰۰٦ کال کې ۴۷۳.۱۹ میلیون ډالره وو.

په مجموعي توګه په دغه دوره کې د افغانستان-چین دوه اړخیزه سوداګري په ډېرېدو شو. له ۲۰۰۴ کال تر ۲۰۰۹ کال پورې دوه اړخیزه مجموعي سوداګري ۲۲۰۹ میلیون ډالرو ته ورسید[۲۸۵]، چې دا په خپله نږدې کېدونکو اړیکو ته اشاره کوي.

د ۲۰۰۷ کال په پای کې چینایي کمپنۍ (MCC) په افغانستان کې د مېس عینکو قرارداد وګاټه. دغه کان په نړۍ کې د میسو تر ټولو دویم ستر کان دی، چې تقریباً د ۸۸ میلیاردو ډالرو مالیت ذخیره لري. دا چې د دغه کان قرارداد ولې چینایي کمپنۍ وګاټه، دغه لاندې عوامل‌و پکې رول لولوباوه:

- د چین بولي تر ټولو ښه وه[۲۸٦]
- ستراتیژیک لامل: افغان لوري د چینایانو د ښه بولۍ ترڅنګ دا هم

۲۸٤ غلام محمد سخنیار، مخ 313-310

۲۸۵ د لیکوال خپله څېړنه؛ په مجموعي توګه له ۲۰۰۴ کال څخه تر ۲۰۰۹ کال پورې مجموعي تجارت ۲۲۰۹ ملیون ډالره وو. د نورو معلوماتو او کال په کال ارقامو له پاره وګورئ، د دې فصل د افغانستان او چین ترمنځ تجارتي اړیکو برخه

۲۸٦ د چینایي کمپنۍ بولي له نورو سره په مختلفو برخو کې د پرتله کولو لپاره لاندې جدول د افغانستان د کانونو او پټرولو وزارت په رسمي ویب پاڼه کې وګورئ:
pdf.۲۰Aynak٪.۲۰for٪.۲۰Companies٪.۲۰of٪/List/files/Content/af.gov.mom//:http

وانګیرله چې پاکستان به هم د دغه کان په خوندي کولو کې ملاتړ وکړي؛ ځکه د دغه کان قرارداد چین ګټلی و او چین بیا د پاکستان ستراتیژیک ملګری دی[۲۸۷].

- د افغانستان د کانونو او پترولیم پر وزیر د ۳۰ میلیون ډالرو رشوت اخیستو تور[۲۸۸]

خو له دغه هر څه سره، د مېس عینکو کان د افغانستان په اقتصاد کې ډېر ارزښت لري. ځکه دا به په اقتصادي توګه لاندې ګټې ولري:

- تقریباً لس زره کارونه به پیدا کړي؛
- ازبکستان او پاکستان به د رېل پټلۍ له لارې ونښلوي؛
- حکومت ته به ۱۹.۵ سلنه ټېکس ورکړي؛
- حکومت به د دغه کان له کبله هر کال ۳۹۰ ملیون ډالره عاید ترلاسه کړي؛
- د دغه کان لومړنۍ پانګونه له ۲۰۰۲ کال تر ۲۰۰۷ کال پورې په افغانستان کې د مجموعي پانګونې ۷۰ سلنه ده؛
- همدا راز په دغه کان کې د چینایانو لومړنۍ پانګونه له ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې د نړېوالو مرستو ۳۵ سلنه جوړوي.

## په امریکا کې د ۲۰۰۸ کال ولسمشریزې ټاکنې او د افغانستان پر بهرنیو چارو یې اغېزې

په ۲۰۰۸ کال په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې ترسره شوې، چې د جمهوري غوښتونکو او ډېموکراتانو له‌خوا پکې جان مکېن او بارک اوباما ونډه واخیسته. بارک اوباما د ایلیانوس سناتور و او د ۲۰۰۷ کال پر ۱۰ فبرورۍ یې ځان ټاکنو ته نوماند کړ. اوباما د ډېموکرات ګوند دننه د پخواني ولسمشر بېل کلنټن له مېرمنې هیلري کلنټنې سره د یوې تودې مقابلې وروسته د ۲۰۰۸ کال د اګست پر ۲۷مه په رسمي توګه د

۲۸۷ Andrew Small, The China-Pakistan Axis: Asia's new Geopolitics, Oxford University Publications, pp:

۲۸۸ Joshua Partlow, Afghan minister accused of taking bribe, Washington Post, 18 Nov 2009, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.washingtonpost.com/wp-dyn/content/article/2009/11/17/AR2009111704198.html>

۲۰۰۸ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې د ډیموکرات ګوند نوماند کاندید غوره کړای شو.

په امریکا کې ټاکنیز بحثونه د عراق او افغانستان پر جګړو (خو په ډیرې توګه د عراق جګړه) او په ۲۰۰۸ کال کې له امریکا څخه رالوتلی اقتصادي بحران، چې نه یوازې دا چې امریکا یې تر خپلو اغېزو لاندې راوسته، بلکې پر اروپا او پاتې نړۍ یې هم خپلې اغېزې وښندلې، څرخېدله.

په دا ډول بارک اوباما د امریکا په تاریخ کې لومړنی تور پوستی امریکایي شو، چې ولسمشریزه ټاکنې یې وګټلې. د بارک اوباما د بریالیتوب عمده لاملونه له عراق جګړې سره د ده مخالفت، په نظر پوښتنو کې د بُش او د جمهوري غوښتونکو ګوند محبوبیت راکمېدل[۲۸۹]، او د اوباما د «بدلون» شعار وو.

په امریکا کې دغه نوي بدلون د افغانستان پر بهرني سیاست ژوره اغېزه وښندله، چې له کبله یې د افغانستان اړیکې له روسیې، هند او چین سره ښې شوې. خو د افغان بهرني سیاست دغه بدلېدونکي حالت بیا له بلې خوا پاکستان، لویدیځ او په تېره بیا امریکا ته سرخوږی وزیږولې.

دا چې په دغه پړاو کې (۲۰۰۸- ۲۰۱۴) د افغانستان بهرنۍ چارې د روسیې، چین او هند پر لور نږدې او له امریکا څخه لرې شوې، په لنډه توګه به یې یادونه وکړو.

د طالبانو د نظام له ړنګېدلو سره، چې کله په کابل کې د نوي نظام بنسټ کېښودل شو، نو روسیې په کابل کې خپل سفارت پرانیست. مسکو له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ۲۰۰۵ کال پورې له کابل سره سمې اړیکې درلودلې خو بیا له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې اړیکې د یو شمېر لاملونو له کبله بېرته خرابې شوې. په ۲۰۰۲ کال کې کرزي دوه ځله او فهیم، چې د دفاع وزیر و، یو ځل ماسکو ته ولاړل. په همدغه پړاو (۲۰۰۲- ۲۰۰۵) کې ماسکو له افغانستان سره هر کال تقریباً ۳۰ میلیون ډالره اقتصادي، نظامي او د روزنې په برخه کې مرستې وکړې. خو وروسته، له لویدیځ او امریکا سره د کابل د ګرمو اړیکو له کبله ماسکو په ۲۰۰٦ کال کې کابل ته خپلې مرستې تم کړې. دغه اړیکې بیا هغه مهال ورغېدلې، چې کله په ۲۰۰۷ کال کې ماسکو د افغانستان ۱۱ میلیارد ډالره پورونه وبښل او د بارک اوباما له راتګ سره د

۲۸۹ بُش د جمهوري غوښتونکو د ګوند کاندید و؛ له همدې کبله د جمهوري غوښتونکو د ګوند او د دوی کاندید محبوبیت په ټاکنو کې نور هم راکم شو او خلکو د «بدلون» شعار ورکوونکي (اوباما) ته رایې ورکړې.

واشنګټن-کابل اړیکې خرابې شوې. له همدې کبله په ۲۰۰۹ کال کې د روسیې د رییس جمهور میدویدف او کرزي ترمنځ لیکونه تبادله شول. روسیې خپل غبرګون د ۲۰ زرو کلاشینکوفونو په ورکولو او د وزارت داخلې ۲۵۰ پولیسو ته د روزنې له ورکولو سره وښود. وروسته په ۲۰۱۱ کال کې کرزی ماسکو ته ولاړ او په همدغه کال بیا د روسیې د پارلمان مشر سرګی ناریشکېن کابل ته راغی. د دې ترڅنګ روسیې په افغانستان کې د خپلو پروژو چې د شوروي له مهاله راهیسې همداسې نابشپړه پاتې شوې وې، د بشپړولو بیا هوډ وکړ.

په بل اړخ کې د افغانستان او چین ترمنځ اړیکې له ۲۰۰۷ کال راهیسې په پراخېدلو شوې، چې کله چین په افغانستان کې د مېس عینکو په کان کې پانګونه وکړه. وروسته د اوباما-کرزي اړیکو له خرابېدلو سره کرزي په ۲۰۰۸، ۲۰۱۰، ۲۰۱۲، ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې چین ته سفرونه وکړل.

له دې سره د چین پاملرنه هم د اوباما له هغه اعلان سره، چې امریکایي سرتېري به له ۲۰۱۴ کال وروسته له افغانستانهووځي، هم زیاته شوه، چې تفصیل به یې وروسته راشي.

د حامد کرزي په دویمه دوره کې له هند سره اړیکې لا پراخې شوې، په ۲۰۱۱ کال کې د هند لومړی وزیر منموهن سنګ کابل ته راغی او تر دغه مهاله هند له افغانستان سره تر ۲ میلیارډ ډالرو  مرسته کړې وه. د دې ترڅنګ په همدغه کال له هند سره ستراتیژیک تړون هم لاسلیک شو، چې پاکستان یې وپاروه.

په ۲۰۱۱-۱۲ کال کې د دواړو لوریو ترمنځ د لوړ پوړو چارواکو لهخوا د یو بل هېوادونو ته سفرونه ترسره شول. د ۲۰۱۱ کال په فبروری کې کرزی هند ته ولاړ، په جون کې د افغانستان وزیر دفاع عبدالرحیم وردګ او لومړی معاون مارشال فهیم هند ته ولاړل؛ په جولای کې د سولې شوری مشر استاد رباني ولاړ، او د دې ترڅنګ په همدغه کال کې نور افغان پلاوي، چې پکې د پارلمان، او یو شمېر وزیران ګډ وو هم هند ته ولاړل. د هند له خوا هم په همدغه کال کې د بهرنیو چارو وزیر، د ملي امنیت مشاور، لومړی وزیر، د لومړي وزیر ځانګړی استازی، او نور وزیران کابل ته په سفرونو راغلل[۲۹۰].

---

۲۹۰ په دې اړه ولولئ د هند د بهرنیو چارو وزارت په رسمي ویب پاڼه کې:
pdf.۲۰۱۲-aug-afghanistan/ForeignRelation/Portal/in.gov.mea//:http

د دې ترڅنګ حامد کرزي د ۲۰۱۳ کال په وروستیو کې له هند څخه د ثقیلو وسلو رانیولو وړاندیز هم وکړ، چې بیا وروسته د اشرف غني له رییس جمهور کېدلو سره په موقتي توګه وځنډول هم شو.[۲۹۱]

د یادونې وړ ده، چې کرزي په همدغه کال له امریکا سره امنیتي تړون رد کړ او په ۲۰۱۴ کال کې امریکایان د وتلو پرمهال وو ، شاید له دغه لارې به یې غوښتل چې د امریکا تشه ډکه کړي او په نظامي توګه له هند څخه مرستې راجلب کړي. په همدې تړاو د الجزیرې د یو رپوټ له مخې په دغه مهال تقریباً ۳۵۰ افغان نظامي افسران په هند کې په زده کړو بوخت وو، چې له ۲۰۰۳ کال راهیسې تقریباً ۱۴۰۰ هلته نظامي زده کړې ترلاسه کړې[۲۹۲].

## د کابل-واشنګټن اړیکو ترېنګلتیا

د سیمې د وتلي شنناند او څېړونکي احمد رشید په اند له امریکا سره د کرزي اړیکې د لاندې لاملونو له کبله خرابې شوې:

- د اوباما ډېری مشاورین د افغانستان په اړه تجربې نه درلودلې او نه یې په ښه توګه په افغانستان کې ځوک پېژندل. له همدې کبله کرزي ځان یوزاې وګاڼه؛ ځکه د امریکا نوې ادارې دی په خپل باور کې وانه خیست؛
- د ۲۰۰۹ کال په ټاکنو کې د امریکا لاسوهنې، ترڅو له کرزي ځان وژغوري؛
- د ۲۰۰۹ کال د نومبر پر ٦مه نېټه په افغانستان کې د امریکا سفیر ایکانبیري یو لیک واشنګټن ته واستاوه، چې وروسته بیا د ویکي لیکس له خوا افشا شو. په دغه لیک کې د امریکا سفیر د افغانستان رییس جمهور حامد کرزی "ناستراتیژیک ملګری" بللی و!
- کله چې اوباما د ۲۰۰۹ کال په دسمبر کې اعلان وکړ، چې د

۲۹۱ په دې اړه ولولې د الجزیرې خبر:
Aljazeera, Karzai to take India weapons help, 10 Dec 2013, retrieved at 16 April 2015, see it online:< http://www.aljazeera.com/news/2013/12/karzai-take-india-weapon-help-2013121082516687106.html>

۲۹۲ تېر ماخذ

۲۰۱۱ کال لـه جنـورۍ بـه لـه افغانسـتانه خپـل سرتيـري وبـاسي، نـو پـه دې تـړاو اوبامـا لـه افغـان ولسـمشر کـرزي سره مشـوره نـه وه کـړې او لـه همـدې کبلـه د اوبامـا د دغـه اعلانـه وروسـته کـرزی هيـښ شـو[۲۹۳].

- د امريکا له‌خوا د پاکستان پرضد عملي گامونه نه پورته کول؛
- د شپنيو عملياتو او خصوصي سرتيرو بې کنټروله فعاليتونه؛
- شـخصي زندانونـه او پـه باگـرام کـې لـه بنديانـو سره بـد چلنـد چـې کـرزي بـه دا ډول زندانونـه د طالبانـو د فابريکـې پـه توگـه يـادول؛

د همدغه پورتنيو لاملونو لـه کبلـه د حامـد کـرزي په دويمـه دوره کـې د امريکا او افغانسـتان اړيکـې کړکيچنـې شـوې او وروسـته بيـا د بگـرام زنـدان، د طالـب زندانيانـو، شـپنيو عملياتـو، او امنيتـي تـړون لـه کبلـه اختلافـات اوج تـه ورسـېدل؛ ان پـه ۲۰۱۴ کال کـې بگـرام تـه د اوبامـا لـه راتـگ سره کـرزي ورسره لـه کتنـې ښښـنه وغوښـته او د اوبامـا لـه راتـگ وړانـدې يـې د امريـکا د تيليفونونـو د څارنـو پروگـرام د افغانسـتان د ملـي حاکميـت پرضـد وگاڼـه[۲۹٤].

## درېيم؛ د حامد کرزي د واکمنۍ دويمه دوره

پـه افغانسـتان کـې د لومړۍ ولسـمشريزو ټاکنـو (۲۰۰۴) وروسـته د ۲۰۰۹ کال د اگسـت پر ۲۰مـه پـه افغانسـتان کـې پـه دويـم ځـل ولسـمشريزې ټاکنـې تـرسره شـوې. پـه دغو ټاکنـو کـې پـه پيـل کـې د افغانسـتان پخـواني ولسـمشر حامـد کـرزي ترڅنـگ۴۳ نـورو نوماندانـو هـم د ټاکنـو لپـاره ځانونـه راجسـتر کـړل خـو وروسـته بيـا درې کانديـدان لـه دغـه مقابلـې څخـه بېرتـه شـول او پـه پـای کـې ۴۱ کانديدانـو پـه ولسـمشريزه ټاکنـو کـې ونـډه واخيسـته.

پـه دغـو ټاکنـو کـې د درغليـو لـه کبلـه يـو لـړ اختلافـات راپورتـه شـول. وروسـته پـه ټاکنـو کـې درغـلي پـه افغانسـتان کـې د ملگـرو ملتونـو ځانگـړي اسـتازي کای ايـډه هـم پـه يـو مطبوعـاتي کنفرانـس کـې ومنلـه. پـه ده بانـدې تورونـه وو، چـې ځـان يـې د حامـد کـرزي پـه ملاتـړ چـوپ نيولـی و. د دې ترڅنـگ پـه دغـو ټاکنـو کـې د کای ايـډه، رابـرټ گېټـس او

---

۲۹۳ Ahmed Rashid, How Obama lost Karzai, Foreign Policy, 21 Feb 2011, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://foreignpolicy.com/2011/02/21/how-obama-lost-karzai-2/>

۲۹٤ Steve Holland, Obama, in Afghanistan, hopeful on security pact, Reuters News, 25 May 2014, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://www.reuters.com/article/2014/05/26/us-usa-afghanistan-obama-idUSBREA4O08E20140526>

د حامد کرزي په اند امریکا هم خپلې لاسوهنې وکړې، ترڅو د ټاکنو پایلو ته بدلون ورکړي. څو په پای کې د ۲۰۰۹ کال د نومبر پر لومړۍ ورځې د حامد کرزي دویم سیال ډاکټر عبدالله عبدالله د دویم پړاو ټاکنو څخه شاته شو[۲۹۵] او داسې د ۲۰۰۹ کال د نومبر پر دویمه ورځ حامد کرزي په دویم ځل د افغانستان ولسمشریزه ټاکنې وګټلې[۲۹۶].

د حامد کرزي د بریالیتوب تر شا هم یو څو عمده لاملونه وو، ده له یوې خوا عبدالرشید دوستم، اسماعیل خان، او محقق له ځانونو سره ودرول، نو له بلې خوا یې مارشال فهیم هم خپل لومړی معاون وټاکه.

په امریکا کې د بارک اوباما له راتګ سره حامد کرزي خپل ځان یوازې وګاڼه او بیا د افغانستان د ۲۰۰۹ کال ولسمشریزه ټاکنو کې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي ریچارډ هالبروک او پیټر ګالبرایټ مداخلو دی له امریکا څخه لرې کړ او په پای کې یې د ده د دویمې دورې پر بهرنیو چارو اغېزه وښندله. ده په دغه پړاو کې له روسیې، چین او ایران سره اړیکې نورې هم ښې کړې، له هند سره یې په نظامي توګه خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړه او وروسته یې له امریکا سره د ستراتیژیک تړون، د بګرام زندان، د ملکي کسانو د وژنې، د شپنیو عملیاتو او په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان په ټاکنو کې د لاسوهنې له کبله اختلافات ژور او اړیکې خرابې شوې.

په ۲۰۰۹ کال کې افغانستان او چین له یو بل سره شپږ ځله پلاوي تبادله کړل او په لوړه کچه لوړ پوړو چارواکو له یو بل سره کتنې وکړې. په دغو کتنو کې حامد کرزي د شانګهای د همکارۍ سازمان په غونډه کې د چین له رییس جمهور هوجن تاو سره هم ولیدل. دویم معاون کریم خلیلي چین ته سفر درلود او له د چین لومړي وزیر ویان جیا باو سره یې ولیدل. په همدغه کال کې د ولسي جرګې رئیس یونس قانوني چین ته سفر وکړ او هلته یې د چین له کمونست ګوند مشر او نورو لوړ پوړو چینایي چارواکو سره ولیدل. ترڅنګ یې سپنتا هم چین ته سفر درلود او هلته یې د

۲۹۵ Jon Boone, 'Afghanistan election challenger Abdullah Abdullah pulls out of runoff', The Guardian, 1st November 2009, retrieved at 16 April 2015, see it online:< http://www.theguardian.com/world/2009/nov/01/afghan-election-karzai-abdullah>

۲۹٦ Jon Boone, 'Hamid Karzai declared winner of Afghanistan's presidential election', The Guardian, 2nd November, retrieved at 16 April 2015, see it online:< http://www.theguardian.com/world/2009/nov/02/hamid-karzai-afghanistan-winner-election>

چین له لومړي وزیر او د رئیس جمهور له معاون سره ولیدل. له دې سره چین په دغه کال د جمهوریت روغتون افغانستان ته د بیا رغونې وروسته وسپاره، ۸۰۰۰ ټنه غنم یې افغانستان ته ورکړل، ۳۳ کسان یې وروزل کړل، او تر ټولو مهمه په کابل پوهنتون کې یې خپل کنفیوشستي انستیتوت پرانیست، چې په لومړي کال کې یې ۳۵ محصلین جذب کړل[۲۹۷].

د ۲۰۰۹ کال د دیسامبر پر لومړۍ نېټه چې کله اوباما په (وېسټ پوائینټ) کې د افغانستان په تړاو خپله تګلاره روښانه کړه او د ۳۰ زره اضافي سرتېرو د لېږدولو له اعلان سره سم یې له ۲۰۱۱ کال څخه د خپلو سرتېرو د ایستلو اعلان هم وکړ، نو د افغان-چین اړیکو کې نږدېوالی ولیدل شول. په ۲۰۱۰ کال کې دواړو هېوادونو له یو بل سره ۱۱ پلاوي تبادله کړل، چې په دغه کې د لوړ پوړو چارواکو سفرونه هم ګډ وو[۲۹۸]. په همدې کال افغان ولسمشر حامد کرزي چین ته سفر وکړ او هلته یې دوه هوکړه‌لیکونه او د اقتصادي او تخنیکي همکارۍ په اړه یو تړون هم لاسلیک کړ[۲۹۹]. د دغه اقتصادي او تخنیکي تړون له کبله په ۲۰۱۱ کال کې مجموعي سوداګري ۷۱٦ میلیون ډالرو ته ورسېده، چې په ۲۰۱۰ کال کې بیا ۳٦۴ میلیون ډالره وه او همدا راز چین ته افغان صادرات هم له ۴ میلیونو ډالرو څخه ۱۲ میلیون ډالرو ته لوړ شول[۳۰۰].

په همدغه کال چین په ولسمشرۍ ماڼۍ کې د ولسمشریزه سالون پر جوړولو کار پیل کړ او همدا راز د کابل پوهنتون پر میلمستون او د ساینس او ټکنالوژۍ پر ملي مرکز

۲۹۷ Embassy of the People's republic of China in the Islamic Republic of Afghanistan, China-Afghanistan relations in 2009, 30 Aug 2011, retrieved from:< http://af.china-embassy.org/eng/zagx/introduction/t853111.htm>

۲۹۸ د پلاوو سفرونه څه دا ډول وو: په جنوری کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال محمد کبیر فراهي چین ته سفر وکړ؛ په مارچ کې د افغانستان د امنیت مشاور رنګین دادفر سپنتا چین ته ولاړ؛ د اپریل په میاشت کې د افغان ولسمشر دویم معاون کریم خلیلي چین ته ولاړ؛ د ۲۰۱۰ کال له ۲۳ مارچ څخه تر ۲۵ مارچ پورې چین ته د حامد کرزي سفر؛ په اکتوبر کې د افغانستان لوی څارنوال اسحاق الکو چین ته ولاړ؛ په نومبر کې افغان وزیر هدایت امین ارسلا چین ته ولاړ؛ وروسته انور الحق احدي، چې افغان وزیر و، هم چین ته ولاړ. همدا راز د دیسامبر په میاشت کې د کانونو وزارت معین نصیر احمد درانی او د وزارت دفاع معین محب الله محب هم چین ته ولاړل. وګورئ:
Embassy of the People's republic of China in the Islamic Republic of Afghanistan, China-Afghanistan relations in 2010, 30 Aug 2011, retrieved from:< http://af.china-embassy.org/eng/zagx/introduction/t853112.htm>

۲۹۹ Radio liberty, Afghan President signs economic agreements on china visit, RFERL, 3 March 2010, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://www.rferl.org/content/Afghan_President_Meets_China_Leadership/1992126.html>

۳۰۰ د افغانستان احصائیوی کلنی ۲۰۱۱

هـم کار پیل شـو[۳۰۱].

پـه ۲۰۱۱ کال کـې د چیـن افغانسـتان اړیکـې نـږدې وې، پـر دغـه کال چیـن د افغانسـتان دویم وارد کوونکـی او پنځـم صـادر کوونکـی هېـواد شـو. پـر دغـه کال د چیـن د پترولـو مـلي شرکـت د آمـو حـوزې د تیلـو اسـتخراج قـرارداد ترلاسـه کـړ او ترڅنـګ یـې پـه فعالـه توګـه د افغانسـتان پـه تـړاو پـه نړېوالـو کنفرانسـونو کـې برخـه واخیسـته، چـې د بُـن دویـم کنفرانـس، د اسـتانبول کنفرانـس، د کابـل کنفرانـس ګـډ وو. پـه دغـه کال لـوړ پـوړو چارواکـو هـم چیـن تـه سـفرونه وکـړل، چـې د افغانسـتان د بهرنیـو چـارو وزیـر زلمـی رسـول، د افغانسـتان د مـلي امنیـت مشـاور دادفـر سـپنتا او د افغانسـتان د بهرنیـو چـارو وزارت مرسـتیال جاویـد لودیـن ګـډ وو[۳۰۲].

## د کابل په تړاو د بیجینګ بدلېدونکې فعاله ډیپلوماسي

د حامـد کـرزي د دویمـې دورې لـه ۲۰۰۹ کال راهیسـې تـر ۲۰۱۲ کال پـورې د دواړو هېوادونـو ترمنـځ د لـوړ پوړیـو پـلاوو تبادلـه ۲۵ ځلـه وشـوه، چـې ډېـری پکـې د افغـاني پـلاوو لـه خـوا چیـن تـه تـګ شـامل وو. پـر دغـه کال د چین-افغـان اړیکـې یـو نـوي پـړاو تـه ننوتلـې او پـه ډېـری توګـه د دغـو اړیکـو تـر شـا د ولسـمشر حامـد کـرزي رول جـوت و.

د دې ترڅنـګ پـه ۲۰۱۲ کال کـې د افغانسـتان پـه تـړاو د بیجینـګ ډیپلومـاسي فعالـه شـوه؛ ځکـه د یـو شـمېر لاملونـو لـه کبلـه یـې وغوښـتل چـې د دغـې سـیمې اړیکـې (پاکسـتان-افغانسـتان) لـه چیـن سره لا ښـې کـړي. ځکـه:

- **لومـړی:** د امریکایانـو لـه وتلـو وروسـته، پـه افغانسـتان کـې د ځـواک تشـه راتلـه او ډېـری پـه دې ګـمان وو، چـې شـاید افغانسـتان بـه د یـو نامعلـوم غیـر یقینـي حالـت پـر لـور ولاړ شي. د چیـن لپـاره د افغانسـتان غیـر یقینـي حالـت لـه دوو لاملونـو لـه کبلـه ګواښـونکي وو: **لومـړی:** دغه نایقینـي حالـت د چیـن پـر سـینکیانګ ایالـت خپلـې اغېـزې ښـندلې، او

۳۰۱ Embassy of the People's republic of China in the Islamic Republic of Afghanistan, China-Afghanistan relations in 2010, 30 Aug 2011, retrieved from:< http://af.china-embassy.org/eng/zagx/introduction/t853112.htm>

۳۰۲ Embassy of the People's republic of China in the Islamic Republic of Afghanistan, China-Afghanistan relations in 2011, 14 Oct 2013, retrieved from:< http://af.china-embassy.org/eng/zagx/introduction/t1088794.htm>

دویـم پـه افغانسـتان کـې یـې د دوی پانګونـې لـه خطـر سره مخ کولـې.

- **دویـم:** چیـن د سـنکیانګ د سـتونزې حلولـو پـه موخـه نـه یـوازې دا چـې ډېـرې پاملرنـه خپلـو دغـو غـربي سیمو او ولایتونـو تـه کـړي، بلکـې دوی د غـربي پولـو اړونـدو سـیمو کـې هـم لیوالتیـا اخلـي. ځکـه لـه یـوې خـوا دوی نـه یـوازې دا چـې د دغـو سـیمو امنیـت او ثبـات د خپـل امنیـت لپـاره اړیـن بـولي، بلکـې پـه نړیوالـه کچـه د خپلـو ګټـو د خونـدي کولـو او خپلـو نړیوالـو پلانونـو لپـاره یـې هـم اسـاسي سـیمې بـولي. پـه دې تـړاو د چیـن د وریښـمو نـوې لاره او پاک-چیـن انـرژۍ حـوزه د یادونـې وړ دي.

## د افغانستان-پاکستان-چین درې اړخیزې غونډې

د افغانستان-پاکسـتان-چین درې اړخیـزو ناسـتو وړاندیـز افغـان ولسـمشر حامـد کـرزي وکـړ، چـې د چیـن حکومـت بیـا لـه دغـه وړاندیـزه هرکلـی وکـړ[۳۰۳]. پـه عمومـي توګـه د کـرزي د دغـه وړاندیـز تـر شـا موخـه دا وه، چـې درې واړه هېوادونـه د امنیـت پـه برخـه کـې لـه یـو بـل سره همـکاري زیاتـې کـړي. د چیـن لپـاره کـه لـه یـوې خـوا د تروریـزم، تونـدلارۍ او د مخـدره توکـو قاچـاق ګـواښ دی، نـو لـه بلـې خـوا د افغانسـتان امنیـت هـم ورتـه اړیـن دی؛ ځکـه خـو یـې لـه دغـه وړاندیـز او طرحـې هرکلـی وکـړ. افغـان حکومـت، چـې پـه ډېـرې توګـه د افغانسـتان امنیـت لـه پاکسـتان سره نښـلاوه، هڅـه وکـړه، چـې دغـه قضیـه نـوره د چیـن لـه لارې تعقیـب کـړي. پـه دې تـړاو تـر اوسـه درې غونـډې شـوې او لـه ۲۰۱۵ کال راهیسـې د درې واړو هېوادونـو د بهرنیـو چـارو وزارتونـو د مرسـتیالانو پـه کچـه یـوه غونـډه هـم شـوې، چـې تفصیـلات یـې پـه لانـدې ډول دي:

**لومـړۍ غونـډه:** د دغـه کال د فـبرورۍ پـه ۲۸مـه د چیـن لـه خوا په لومړي ځل د افغانسـتان پـه تـړاو پـه بیجینـګ کـې درې اړخیـزه ناسـته وشـوه، چـې د افغانسـتان-پاکسـتان-چین درې اړخیـزې ناسـتې د بهرنیـو چـارو وزارتونـو د عمومـي رئیـس پـه کچـه وې. د چیـن لـه خـوا پـه دغـه جـوړه شـوې ناسـته کـې پـر دې خـبرې ټینـګار وشـو، چـې د دریـواړو هېوادونـو

۳۰۳ د نورو معلوماتو لپاره وګورئ د آسیا زړه-استانبول پروسې ویب پاڼه:
Heart of Asia-Istanbul Process, Trilateral and Quadrilateral initiatives, retrieved from:< http://www.heartofasia-istanbulprocess.af/trilateral-and-quadrilateral-initiatives/ >

د بهرنيو چارو وزارتونه بايد په اوسنيو شرائطو کې له يو بل سره ناستې ولري او پر سيمه ييزه اوضاع او همکارۍ خپل نظرونه سره شريک کړي. په دغه ناسته کې پر دې هم همغږي وښودل شوه، چې د افغانستان د ننګونو يوازينی حل پر تفاهم او مذاکراتو اېښودل شوی او په دې اړه چين او پاکستان د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په لاس د سولې له پروسې ملاتړ کوي. د دغو درې اړخيزو ناستو عمده موخه د درېواړو هېوادونو ترمنځ همکاري زياتول او د افغانستان-پاکستان ترمنځ بې باوري ختمول وو؛ څکه خو په دغه غونډه کې د کابل له اعلاميې (۲۰۰۲)، چې د ښه ګاونډيتوب په اړه وه، ټينګار وشو او ترڅنګ يې زياته کړای شوه، چې درې واړه لوري هيله لري، چې خپلې دوه اړخيزې اړيکې د څمکنۍ بشپړتيا، متقابل احترام، ملګرې اړيکې، او د نورو په چارو کې د نه لاسوهنې او همکارۍ پر اصولونو کېږدي. دغه مهال درې واړو لوريو د افغانستان د سولې په تړاو د حامد کرزي د ۲۰۱۲ کال د فبروري ۲۱مې اعلاميې هرکلی وکړ، چې پکې يې د سولې په اړتيا ټينګار وشو او د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د اړيکو پر ټينګولو يې هم ټينګار کړی و[۳۰٤]. په دغه غونډه کې درېواړو لوريو د باور جوړونې او د يو بل د اندېښنو په اړه نيک نيتې څرګنده کړه او د وسايلو په وده، اتصال، او له تروريزم، بيلتون خوښۍ او تونډلارۍ سره په مبارزه کې يې د درې اړخيزه همکارۍ ژمنه وکړه[۳۰۵].

**دويمه غونډه:** د پاکستان-افغانستان-چين درې اړخيزو ناستو دويمه ناسته په اسلام اباد کې ترسره شوه. دغه ناسته هم د تېر په څېر د درېيواړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو د عمومي رياست په کچه وشوه. په دغه ناسته کې له تېرې ناستې رادېخوا پرمختګ وارزول شول او ګډون کوونکو د سيمې د سولې او ثبات په تړاو پر درې اړخيزو همکاريو او ناستو ټينګار وکړ. په دغه ناسته کې درې واړو لوريو بيا هم د افغانستان په مشرۍ او مالکيت د سولې پروسې ملاتړ وکړ او ترڅنګ يې هيله څرګنده شوه، چې د درې واړو هېوادونو نږدې همکارۍ به د تشدد پېښو مخه ونيسي او د شانګهای سازمان د سيمې په سوله او ثبات کې به ارزښتناک رول ولوبوي. په دغه غونډه کې افغانستان

٣٠٤ د سولې پروسې په تړاو د افغان ولسمشر حامد کرزي د بيانيې په اړه ولولئ:
Arg, Afghan Presidential Office, Statement by H.E Hamid Karzai, President of the Islamic Republic of Afghanistan on the peace process,21 Feb 2012, retrieved at 14 April 2015 at:< http://president.gov.af/en/news/7127>

٣٠٥ Ministry of Foreign Affairs, Government of Islamic republic of Afghanistan, The first Afghanistan-China-Pakistan Trilateral Dialogue at General-Director Level held in Beijing, 28 Feb 2012, retrieved on 14 April 2015 at:< http://mfa.gov.af/en/news/7481>

او پاکستان د چين له دغې طرحې هرکلی وکړ، چې د نوموړو هېوادونو ګډ پارلماني پلاوي چين ته سفر وکړي او د دغه ناستې درېيمه غونډه به په کابل کې وشي[۳۰۶]. په ۲۰۱۳ کال کې د درې واړو لوريو ترمنځ (Track II) ډيپلوماسي پيل شوه. په لومړي سر کې د افغانستان او پاکستان پارلماني او مطبوعاتي پلاوو چين ته سفر وکړ او وروسته په ۲۰۱۳ کال کې د درې واړو لوريو تحقيقاتي مراکزو لومړنی ناسته د چين په نړيوالو مطالعاتو انستيتوب کې ترسره شوه، چې څېړونکو، ډيپلوماتانو او اکاډميکو شخصيتونو پکې برخه واخيسته[۳۰۷].

**درېيمه غونډه:** د پاکستان-افغانستان-چين د درې اړخيزو غونډو درېيمه ناسته په کابل کې د ۲۰۱۳ کال د ديسامبر پر ۱۰مه پيل شوه، په دغه ناسته کې د افغانانو په مشرۍ او مالکيت د سولې له پروسې بيا ملاتړ وشو او د افغانستان د ۱۳۹۳ کال ولسمشريزه ټاکنو په تړاو هم خبرې اترې وشوې؛ څکه دا ځل د امنيت مسؤليت د افغانستان د ملي سرتېرو پر اوږو بار وو. د دې ترڅنګ درې واړو لوريو وپتيبله چې په اوسنيو شرائطو کې دا د وخت اړتيا ده، چې د درې واړو لوريو ترمنځ د بهرنيو چارو وزيرانو په کچه خبرې اترې وشي. له دې سره د (Track II) ډيپلوماسي پر دوام هم موافقه وشوه، او د موافقې له مخې په ۲۰۱۴ کال کې د پاکستان او افغانستان د پارلمان او مطبوعاتو ګډ پلاوي چين ته سفر وکړ او همدا راز په ۲۰۱۴ کال کې د درېيو واړو هېوادونو د ستراتيژيک مرکزونو ترمنځ دويمه ناسته د اسلام اباد په پاک-چين انستيتوت کې ترسره شوه[۳۰۸] او د دغه ناستو څلورمه غونډه په ۲۰۱۵ کال کې د افغانستان د ستراتيژيکو مطالعاتو مرکز کې جوړه شوه.

---

۳۰۶ Ministry of Foreign Affairs, Government of Islamic republic of Afghanistan, Joint Press statement second meeting of Pakistan-Afghanistan-China Trilateral Dialogue, 29 Nov 2012, retrieved at 14 April 2015 <at:< http://mfa.gov.af/en/news/15135

۳۰۷ Nihao-Salam, Trilateral Dialogue in Beijing calls for closer China, Afghan, Pakistan cooperation, 6 <August 2013, retrieved from:< http://www.nihao-salam.com/news-detail.php?id=NDM2OA

۳۰۸ Xinhua News, China, Afghanistan, Pakistan agree to enhance cooperation, 10 Dec 2013, retrieved from:< http://news.xinhuanet.com/english/china/2013-12/10/c_132957176.htm>

## چیـن تـه د حامـد کـرزي سـفر (۲۰۱۲) او د اوږد مهالـه اړیکـو تـاداب ایښــودل

حامـد کـرزی پـه ۲۰۱۲ کال کـې د شـانګهای د همـکارۍ سـازمان غونـډه کـې د ګـډون پـه موخـه چیـن تـه ولاړ، هلتـه یـې د چیـن پـه مرسته پـه نومـوړي سـازمان کـې د ناظر څوکـۍ ترلاسـه کـړه او حامـد کـرزي هـم پـه خپلـه وینـا کـې دغـه ټکـي تـه اشـاره وکـړه او لـه چیـن یـې د مننـې د یادونـې ترڅنـګ وویـل: "ستاسـو لـه ملاتـړه پرتـه زمـوږ لپـاره دا ناممکنـه وه."[309]

د شـانګهای د همـکارۍ سـازمان لـه غونـډې وروسـته، افغـان ولسـمشر حامـد کـرزي او چینایـي رییـس جمهـور هوجـن تـاو پـر افغان-چیـن سـتراتیژیک تـړون لاسـلیک وکړ او داسـې یـې د اوږد مهالـه اړیکـو تـاداب کېښـود. پـه دغـه سـتراتیژیک تـړون کـې د دوه اړخیـزو اړیکـو پراخولـو پـه تـړاو پنځـه سپارښـتنې وشـوې، چـې پـه لانـدې ډول وې:

۱. دواړه لوري باید سیاسي باور د لوړ پوړو پلاوو سفرونه زیات کړي؛

۲. دواړه لـوري بایـد پـه اقتصـاد، سـوداګرۍ، طبیعـي زیرمـو، د انـرژۍ پـه وده، زراعـت او د زیربنـاو پـه برخـه کـې همـکاري زیاتـه کـړي؛

۳. د دواړو هېوادونـو ترمنـځ بایـد د خلکـو تبادلـه زیاتـه شـي. چیـن پـه دې تـړاو چمتـو دی، چـې لـه افغانسـتان سره د زده کـړو، کلتـور، مطبوعاتـو او روزنـې پـه برخـه کـې همـکاري وکـړي؛

٤. دواړه لـوري بایـد پـه امنیتـي برخـه کـې خپلـې همـکارۍ پراخـې کـړي، ترڅـو پـه ګـډه د تروریـزم، بیلتونپالنـې او تونـدلارۍ ترڅنـګ د پولـې-وراخـوا جرمونـو او د مخـدره توکـو قاچـاق پرضـد هـم مبـارزه وکـړي؛

۵. دواړه لـوري بایـد د شـانګهای سـازمان او د سـارک سـازمان کـې خپلـې همـکارۍ تـه دوام ورکـړي[۳۱۰].

۳۰۹ without your support, we cannot do this' see it in 'China, Afghanistan upgrade ties to strategic' partnership' in the official website of SCO summit 2012 website:< http://www.scosummit2012.org/english/2012-06/08/c_131640214.htm>

۳۱۰ Joint Declaration between the People's Republic of China and the Islamic republic of Afghanistan on establishing strategic and cooperative partnership

د ښو دوه اړخیزو اړیکو په تړاو دواړو لوریو د ګډ سوله‌ییز ژوند پر پنځو اصولونو[۳۱۱] هم موافقه وکړه، چې د دوی راتلونکې اړیکې به پر دغو اصولونو متکي وي[۳۱۲] او ترڅنګ یې د راتلونکو بې باوریو ختمولو په موخه او د ښو راتلونکو اړیکو په تړاو د یو بل په مهمو قضایاو کې هم ملاتړ ترلاسه کړای شو. کابل د چین د یو-چین پالیسي، په سنکیانګ، تبت او تائیوان کې د چین له پالیسۍ ملاتړ وکړ. همدا راز چین هم د افغانستان ځمکنې بشپړتیا، ملي حاکمیت، خپلواکي او ملي یووالي ته د درناوي ژمنه وکړه. ترڅنګ یې دا هم وویل، چې افغانستان چې د خپل پرمختګ په تړاو هر ډول ماډول (Model) تعقیبوي، چین به یې درناوی کوي او د افغانستان د ملي تفاهم څخه یې هم ملاتړ څرګند کړ[۳۱۳].

د دې ترڅنګ په ستراتیژیک تړون کې د همکارۍ ډګرونه هم په نښه شول، چې د راتلونکو او اوږدمهاله اړیکو ته تاداب ګټل کېدای شي. په دغه تړون کې د همکارۍ ډګرونه په لاندې ډول وو:

- په اقتصادي او سوداګریزه برخه کې اړیکې او همکارۍ پراخول. د دې ترڅنګ دواړو لوریو ژمنه وکړه، چې د انرژۍ په وده، د زیربناو وده، او د انجینرۍ او زراعت په برخه کې له یو بل سره عملي همکاري کول. همدا راز د چین حکومت به چینایي شرکتونه وهڅوي، چې د افغانستان په بیارغونه او پرمختګ کې برخه واخلي[۳۱۴]؛
- همدا راز په کلتوري، زده کړو، روغتیا، مطبوعاتو او په نورو برخو کې هم د همکارۍ ژمنه وشوه. له دې سره چینایي لوري ژمنه وکړه، چې د افغانانو د وړتیاو زیاتولو په موخه دوی ته روزنه او برسونه ورکړي[۳۱۵]؛
- په امنیتي ډګر کې له یو بل سره همکاري، ترڅو د تروریزم،

---

۳۱۱ د ګډ سوله ییز ژوند پنځه اصولونه په دغه ډول دي: (۱) د یو بل ځمکنې بشپړتیا او ملي حاکمیت ته متقابل احترام؛ (۲) متقابل یرغل نه کول؛ (۳) د یو بل په داخلي چارو کې لاسوهنه نه کول؛ (۴) د ګډې ګټې په تړاو مساوات او همکاري؛ (۵) ګډ سوله ییز ژوند. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ:
Wikipedia, Five principles of peaceful coexistence, retrieved at 18 May 2015, see it online:< https://en.wikipedia.org/wiki/Five_Principles_of_Peaceful_Coexistence>

۳۱۲ د افغانستان او چین د ستراتیژیک تړون لومړی ماده

۳۱۳ د افغانستان او چین د ستراتیژیک تړون دریېمه ماده

۳۱٤ د افغانستان او چین د ستراتیژیک تړون څلورمه ماده

۳۱۵ د افغانستان او چین د ستراتیژیک تړون پنځمه ماده

غيـر قانـوني کډوالـۍ، غيـر قانـوني وسـلو او د مخـدره توکـو قاچـاق مخـه ونيـول شي او د اسـتخباراتي معلوماتـو تبادلـه او د سرحـدي پولـو منجمنـت شـامل دي[۳۱٦]؛

- د دې ترخنـګ پـه دې هـم موافقـه وشـوه، چـې د سـيمې او نـړۍ پـه ژورو او پېچلـو بدلونونـو کـې بـه دواړه لـوري د ملګـرو ملتونـو او پـه څـو اړخيـزو خـبرو اتـرو کـې لـه يـو بـل سره همغـږي او همـکاري کـوي[۳۱۷].

## د چين زياتېدونکي پاملرنه؛ کابل ته د چين د استخباراتو مشر سفر

کـه څـه هـم چيـن لـه ۲۰۰۱ کال راهيسـې د افغانسـتان پـه تړاو پـه ډېـرو نړېوالو کنفرانسـونو کـې ونـډه اخيسـتې او وخـت ناوخـت يـې ځينـې مـشران کابـل تـه هـم راغـلي ؛ خـو بيـا هـم لـه ۱۹٦٦ کال تـر ۲۰۱۲ کال د چيـن تـر ټولـو لـوړ پـوړی چارواکـي، چـې د پولېـټ بيـورو غـړی وي، افغانسـتان تـه سـفر نـه و کـړی. پـه ۲۰۱۲ کال کـې بيـا دغـه حالـت بدلـون ومونـد او د ۲۰۱۲ کال د سـپتامبر پـر ۲۳مـه د چيـن د پولېـټ بيـورو مـشر ژهـو يانګکانـګ (Zhou Yongkang )، چـې د چيـن د اسـتخباراتو مـشر هـم و، کابـل تـه سـفر وکـړ[۳۱۸]. د ژهـو يانګکانـګ پـه دغـه سـفر کـې د دواړو هېوادونـو ترمـنځ پـه امنيتـي او اقتصـادي برخـه کـې تړونونـه لاسـليک شـول او ترخنـګ يـې يـوه تفاهمنامـه هـم لاسـليک شـوه، ترڅـو د دواړو هېوادونـو ترمـنځ سـتراتيژيک تـړون تـه کاري تـګلاره برابـره کـړي. پـه امنيتـي برخـه کـې د چيـن د اسـتخباراتو مـشر وويـل: ”مـوږ غـواړو چـې افغـان پوليسـو تـه فنـډ، روزنـه او وسـائل ورکـړو او د تـړون لـه مخـې تـر راتلونکـو څلـورو کلونـو پـوري بـه ۳۰۰ پوليـس وروزو“. پـه اقتصادي-تخنيکـي تـړون کـې چيـن افغانسـتان تـه ۱۵۰ ميليـون يـوان (۲۳ مليـون ډالـره) ورکـړل[۳۱۹].

---

۳۱٦ د افغانستان او چين د ستراتيژيک تړون شپږمه ماده

۳۱۷ د افغانستان او چين د ستراتيژيک تړون اوومه ماده

۳۱۸ Tom Phillips, Senior Chinese official visits Afghanistan for first time in 50 years, The Telegraph, 23 Sep 2012, retrieved at 14 April 2015 from:< http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/china/9560995/Senior-Chinese-official-visits-Afghanistan-for-first-time-in-50-years.html>

۳۱۹ د دغو تړونونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره ولولی:
Hakim Basharat, Kabul, Beijing sign key economic, security deals, Pajhwok Afghan News, 23 Sep 2012, retrieved at 15 April 2015 from:< http://mines.pajhwok.com/news/kabul-beijing-sign-key-economic-security-deals-0>

د زهـو یانګګانـګ دغـه سـفر تـه بایـد د یـو تشریفـاتي سـفر پـه سـترګه ونـه لیـدل شي، بلکـې دغـه سـفر لـه څـو اړخونـو د ارزښـت وړ وو:

- **لومـړی**؛ زهـو یانګکانـګ پـه پولېـت بیـورو کـې د چیـن د امنیـت پـه تـړاو مسـؤل و. دوی لـه دې وېـره درلودلـه، چـې د امریکاییانـو لـه وتلـو سره افغانسـتان بیـا د دوی پـه اصطـلاح د ″تروریسـتانو″ پټنځـای ونـه ګرځیـږي؛ ځکـه د ″تروریسـتانو″ پـه پټنځـای د بدلېـدو لـه کبلـه بـه پـه سـنکیانګ ژورې اغېـزې خپـرې شي. لـه همـدې کبلـه بیجینـګ نـه یـوازې دا چـې د افغانسـتان د وړاندیزونـو پرتـه چین-افغـان پولـه تړلـې بلکـې پـه دغـه پولـه یـې د امنیتـي سرتېـرو پاملرنـه هـم زیاتـه کـړې ده.
- **دویـم**؛ زهویانګانـګ د بیجینـګ د پترولـو انسـتیتوت فـارغ دی او پـه ٦۰ او ۷۰مـه لسـیزه کـې یـې د نفتـو پـه ډګـر کـې کار کـړی. دی د چیـن د پترولـو مـلي شرکـت (سي ایـن پـي سي) مـشر هـم پاتـې شـوی دی. د دغـه سـفر موخـه بـه شـاید دا هـم وه، چـې د نومـوړي شرکـت د امـو حـوزې قراردادونـه هـم خونـدي کـړي، چـې پـه ۲۰۱۱ کال کـې دغـه شرکـت ترلاسـه کـړي وو او لـه یـو لـړ سـتونزو سره پـه افغانسـتان کـې مـخ وو[۳۲۰].

## د شي جینپینګ راتګ او چین ته د کرزي سفر

پـه ۲۰۱۲ کال کـې د چیـن پـه کمونسـت ګونـد کـې بدلـون تـر سـترګو شـو او واک لـه څلـورم نسـل پنځـم نسـل تـه واوښـت. د ۲۰۱۲ کال د نومـبر پـر ۱۵مـه، شي جینپینـګ د مرکـزي نظامـي کمیسـون مـشر، د نومـبر پـر ۱۹مـه د کمونسـت ګونـد سرمنـشي او د ۲۰۱۳ کال د مـارچ پـر ۱۴مـه د چیـن رئیـس جمهـور غـوره شـو.

شي جینپینـګ د چیـن پـه معـاصر تاریـخ کـې د ډینـګ زیوپینـګ راهیسـې تـر ټولـو ځواکمـن رئیـس جمهـور بلـل کېـږي؛ ځکـه دی پـر یـو وخـت د کمونسـت ګونـد سرمنـشي، رئیـس جمهـور او د نظامـي کمیسـیون مـشر هـم دی. د دې ترڅنـګ، ده خپـل ډېـری مخالفیـن لـه

۳۲۰ Raffaello Pantucci and Alexandros Petersen, Shifts in Beijing's Afghan Policy: A view from the ground, The Jamestown foundation, China Brief: Volume XII, issue 21, 6 Nov 2012

مخې لرې کړل او په ډېرى برخو کې يې ځان ته ژمن کسان گمارلي. د بېلگې په توگه، ده د پولېټ بيورو غړى ژهو يانکانگ د اداري فساد له کبله زندان ته ولېږداوه او په پوځ کې يې د پخواني لومړي وزير ليو شاوچي زوى ليو يووان ته په نظامي کميسون کې ځاى ورکړ[۳۲۱].

شي جينپينگ چې کله د کمونست گوند سرمنشي وټاکل شو، نو په لومړيو ورځو کې يې د چين ملي ميوزيم ته سفر وکړ او هلته يې خپله نوې تگلاره ښرگنده کړه. ده خپلې تگلارې ته د «چينايي خوب» (Chinese Dream) نوم ورکړ. د دغې تگلارې له مخې چين بايد تر ۲۰۲۱ کال پورې يوه معتدله هوسا ټولنه جوړه کړي؛ ځکه د ۲۰۲۱ کال د چين د کمونست گوند ۱۰۰مه کليزه ده او تر ۲۰۴۹ کال پورې بايد چين يو پرمختللى هېواد شي؛ ځکه د ۲۰۴۹ کال د خلکو جمهوري چين ۱۰۰مه کليزه ده[۳۲۲].

د يو څېړونکي په اند د شي جين پينگ د «چينايي خوب» تگلاره څلور برخې لري، چې لومړى چين په اقتصادي، سياسي، ډيپلوماتيکي، ساينسي او نظامي ډگر کې پياوړى کړي. دويم، يو باتمدنه چين وي، چې ټول پکې برابر او ورسره په انصاف چلند وشي. درېيم، ټولې ټولنيز پوړونه له يو بل سره په ملگرتيا ژوند تېر کړي. څلورم، يو ښکلى چين، چې روغتيايي چاپيريال او د هوا کمه ککړتيا ولري[۳۲۳].

همدا راز شي جينپينگ له خپل راتگ سره خپل لومړنى سفر روسيې ته ترسره کړ. که څه هم چين او روسيه له ۱۹۴۹ کال راهيسې له يو بل سره ښې اړيکې درلودې، ولې له ۱۹۶۹ کال تر ۱۹۸۹ کال يې له يو بل سره سړې اړيکې درلودلې، چې لاملونه يې په لومړي فصل کې ياد شول. خو کله چې له افغانستانه شورويان ووتل، نو د روسيې او چين اړيکې د ښه کېدو پر لور ولاړې. دوى په ۱۹۹۶ کال کې په سيمه کې په اصطلاح تونډلاري، تروريزم، د مخدره توکو قاچاق اړ کړل، چې د شانگهاى-۵ سازمان

۳۲۱ Jaime FlorCruz, Xi jinping's success so far: Taking control by following Deng Xiaoping, 29 Aug 2014, retrieved at 23 May 2015, see it online:< http://edition.cnn.com/2014/08/29/world/asia/jaime-florcruz-china-xi-jinping-deng-xiaoping/>

۳۲۲ Robert Lawrence Kuhn, Xi Jinping's Chinese Dream, The New York Times, 4 June 2013, retrieved at 30 May 2015, see it online:< http://www.nytimes.com/2013/06/05/opinion/global/xi-jinpings-chinese-dream.html?pagewanted=all&_r=1>

۳۲۳ Robert Lawrence Kuhn, Xi Jinping's Chinese Dream, The New York Times, 4 June 2013, retrieved at 30 May 2015, see it online:< http://www.nytimes.com/2013/06/05/opinion/global/xi-jinpings-chinese-dream.html?pagewanted=all&_r=1>

بنسټ کېږدي؛ خو په ۲۰۰۱ کال کې یې دغه سازمان د شانګهای د همکارۍ سازمان په نامه بدل کړ. همدا راز په ۱۹۹٦ کال کې دواړو هېوادونه په ستراتیژیکه ملګرتیا کې نښوتل او په ۲۰۰۱ کال کې دواړو هېوادونو بیا د ښه ګاونډیتوب او د ملګرې همکارۍ په نامه تړون لاسلیک کړ. د دې ترڅنګ دواړو هېوادونو په ۱۹۹۴ کال کې د پولو پر سر خبرې اترې پیل کړې، چې په ۲۰۰۴ کال کې دواړو لوریو خپل سرحد وټاکه او په دا ډول یې خپلو راتلونکو سرحدي شخړو ته د پای ټکی کېښود.

د روسیې-چین نږدې کېدونکو اړیکو کچه به تاسو له دې هم معلومه کړئ، چې له تېرو شلو کلونو راهیسې د دواړو هېوادونو مجموعي سوداګري ۲۰ چنده زیاته شوې او په ۲۰۱۴ کال کې ۹۵.۲ میلیارد ډالرو ته ورسیده[۳۲٤]. له دې سره د چین او روسیې ترمنځ د انرژۍ په برخه کې هم همکاري شتون لري او په ۲۰۱۴ کال کې دواړو هېوادونو د یوې داسې نللیکې غځولو قرارداد هم لاسلیک کړ، چې چین ته به تر ۳۰ کلونو پورې هر کال ۳۸ میلیارده متر مکعبه روسي غاز لېږدوي. دغه قرارداد د ۴۰۰ ملیاردو ډالرو پورې ارزښت لري[۳۲۵].

د دې ترڅنګ شي جینپینګ د ۲۰۱۳ کال د سپتامبر پر اوومه نېټه قازقستان ته د خپل سفر پرمهال د نزاربایف پوهنتون په یو لیکچر کې د «وریښمو لارې اقتصادي کړۍ» طرحه وړاندې کړه[۳۲٦]. وروسته یې د همدغه کال په اکتوبر کې د اندونیزیا پارلمان ته د وینا پرمهال د «سمندري وریښمو لارې» وړاندیز وکړ[۳۲۷]. چینایان د وریښمو دغه دوه لارې د «یو کمربند، یو لاره» (‘One Belt, One Road’) په نامه نوموي.

د وریښمو لارې اقتصادي کړۍ له چینه په پیلیدو، او له منځنۍ اسیا او منځنۍ ختیځ

۳۲٤ TASS, Russia-China trade exceeded $95 billion in 2014, TASS Russian News Agency, 13 Jan 2015, retrieved at 28 May 2015, see it online:< http://tass.ru/en/economy/770864>

۳۲۵ Alec Luhn and Terry Macalister, Russia signs 30-year deal worth $400 bn to deliver gas to China, The Guardian, 21 May 2014, retrieved at 21 May 2015, see it online:< http://www.theguardian.com/world/2014/may/21/russia-30-year-400bn-gas-deal-china>

۳۲٦ د نورو معلوماتو لپاره ولولئ:
President Xi Jinping delivers important speech and proposes to build a silk road economic belt with central asian' countries', Ministry of foreign affairs of the people's republic of china, 7 Sep 2013, retrieved at 20 May 2015, see it <online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/topics_665678/xjpfwzysiesgjtfhshzzfh_665686/t1076334.shtml

۳۲۷ په دې اړه ولولئ:
ASEAN-China Centre, Speech by Chinese President Xi Jinping to Indonesian Parliament, see it online:< <http://www.asean-china-center.org/english/2013-10/03/c_133062675.htm

څخه په تېرېدو به اروپا ته ورسیږي. له دغه لارې به سړکونه، رېل کرښې او د انرژۍ نللیکې تېرېږي. دغه لاره به په ډېرې توګه په وچه کې تیریږي.

په بل اړخ کې د وربښمو سمندري لاره به په اوبو کې تیریږي. دغه لاره به د چین له سویل سمندر پیل شي او د هندي سمندر، سرې بحیرې، سویز کانال څخه په تېرېدو مدیترانې ته ورسیږي.

د ۲۰۱۳ کال د مې په میاشت کې د چین لومړی وزیر کیکیانګ اسلام اباد ته په سفر ولاړ او هلته یې د پاکستان-چین انرژۍ حوزه پروپوزل وړاندې کړ، چې دا بیا د یو کمربند او یوې لارې برخه وه. د دغه حوزې له مخې به چین په پاکستان کې د انرژۍ او د زیربناو په ډګرونو کې تر ۴۶ میلیارد ډالرو پورې پانګونه وکړي.

د شي جینپینګ د پورتنیو طرحو او پروګرامونو له مخې د افغانستان په لور د چین او شي جین پینګ پاملرنه په زیاتېدو ده. په همدې موخه د چین رئیس جمهور شي جینپینګ افغان ولسمشر حامد کرزی چین ته د ۲۰۱۳ کال د سپتامبر په میاشت کې د څلور ورځنۍ سفر لپاره دعوت کړ. په دغه سفر کې حامد کرزي له چین سره درې تړونونه لاسلیک کړل. دوه تړونونه د اقتصادي او تخنیکي همکاۍ په تړاو وو، چې په اقتصادي تړون کې چین له افغانستان سره ۳۲ میلیون ډالره مرسته هم وکړه. وروستی تړون تر ټولو مهمه د بندیانو د سپارلو په تړاو و[۳۲۸]، چې له کبله یې وروسته په ۲۰۱۴ کال کې شونې شوه، چې افغان ولسمشر اشرف غني ۱۲ یغوري مسلمانان چین ته وسپارل[۳۲۹].

همدا راز د ۲۰۱۴ کال د جولای په ۱۸مه نېټه چین په لومړي ځل د افغانستان لپاره خپل ځانګړی استازی (سون یوشي) وټاکلو[۳۳۰]، چې دا بیا د دې ښکارندوی دی، چې چین په خپل بهرني سیاست کې افغانستان ته د تېر په پرتله ارزښت ورکوي.

په ۲۰۱۳ کال کې د شي جین پینګ له ولسمشر کېدو سره، ده له افغان ولسمشر سره

۳۲۸ Wadsam, Three cooperation agreements signed between China and Afghanistan, 29 Sep 2013, retrieved at 21 May 2015, see it online:< http://wadsam.com/afghan-business-news/three-cooperation-agreements-signed-between-china-and-afghanistan-343/>

۳۲۹ Hamid Shalizi, Afghans arrested Chinese Uighurs to aid Taliban talks bid: Officials, Reuters, 20 Feb 2015, retrieved at 30 May 2015, see it online:< http://www.reuters.com/article/2015/02/20/us-afghanistan-taliban-china-idUSKBN0LO18020150220>

۳۳۰ نقیب الله مل، د افغانستان او چین دیپلوماتیکي اړیکې، کابل: دانش مطبعه، ۱۳۹۴، مخ ۲۵۳-۵۴

درې ځله ولیدل، چې دوه ځله د ۲۰۱۳ کال او د ۲۰۱۴ کال چین ته د حامد کرزي رسمي سفرونه وو او یو ځل یې د سوچي اولمپیک مقابلو پرمهال له خپل افغان سیال سره ولیدل[۳۳۱]. همدا راز د ۲۰۱۴ کال په فبروري میاشت کې یې د بهرنیو چارو وزیر هم افغانستان ته په یو رسمي سفر راغی[۳۳۲]، او د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په میاشت کې یې افغان ولسمشر اشرف غني هم چین ته راوباله[۳۳۳]. دغه ټول سفرونه ښيي، چې د افغانستان پر لور د چین او شي جین پینګ پاملرنه زیاته شوې؛ ځکه په افغانستان کې امنیت یې پر نړیوالو تګلارو اغېزه ښندي، له همدې کبله یې د چین په معاصر تاریخ کې په لومړي ځل د خپلو سرحداتو بیرون یو داسې رول ته تن ورکړی، چې موخه یې افغانستان کې سوله راوستل او د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ منځګړتوب دی.

## د سیکا د ۲۰۱۴ کال غونډه او چین ته د حامد کرزي سفر

افغان ولسمشر حامد کرزي په ۲۰۱۴ کال کې چین ته څلور ورځنی سفر درلود، چې یوازې دوه ورځې پکې د سیکا غونډې ونیولې[۳۳٤]. په دې سفر کې کرزي د چین د ځینو لوړ پوړو چارواکو ترځنګ، له خپل چینایي سیال سره هم وکتل.

د چین رئیس جمهور «شي جین پینګ» یو ځل بیا د چین دوستانه چلند ته ګوته ونیوله او ویې ویل، چې له نړیوالو او سیمه ییزو تحولونو پرته، چین له افغانستان سره خپلې ملګرې اړیکې روانې ساتلې دي او هیله لري، چې له افغانستان سره په لوړه کچه ډیپلوماتیکې تبادلې وساتي، په بېلابېلو برخو کې به خپله همکاري زیاته

---

۳۳۱ 'Xi jinping meets President Hamid Karzai of Afghanistan', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, 8 Feb 2014, retrieved at 2 June 2015, see it online at:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/topics_665678/sqdah/t1128505.shtml>

۳۳۲ Xinhua News, Chinese foreign minister visits Afghanistan, 22 Feb 2014, retrieved at 2 June 2015, see it online:< http://news.xinhuanet.com/english/china/2014-02/22/c_133135348.htm>

۳۳۳ 'Foreign ministry spokesperson Hua Chunying's regular press conference on October 22, 2014', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, retrieved at 2 June 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/xwfw_665399/s2510_665401/t1203064.shtml>

۳۳٤ 'President Karzai leaves for china to attend CICA summit', Office of the President Islamic republic of Afghanistan, 18 May 2014, retrieved from:< http://president.gov.af/en/news/president-karzai-leaves-for-china-to-attend-cica-summit>

کړي، د وربښمو لارې په طرحه کې به خپلې کمپنۍ وهڅوي، چې په افغانستان کې پانګونه وکړي، او له افغانستان سره د درېيو شيطاني ځواکونو پرخلاف په جګړه کې به همکاري وکړي، چې بېلتون غوښتنه او تجزيه، افراطيت، او ترهګري ده. «شي جېن پېنګ» د خبرو په جريان کې دا هم وويل، چې چين د يوه واحد، باثباته، پرمختلونکي او ملګري افغانستان هيله لري[۳۳۵].

د چين د ولسمشر د خبرو په ځواب کې حامد کرزي د دواړو هېوادونو د ورورولۍ اړيکو هرکلی وکړ او چين يې يو ډاډمن ګاونډی وباله. ترڅنګ يې وويل، چې افغانستان پر دې باوري دی، چې پرته له دې چې په ټاکنو کې به څوک بريالی راووځي، هېواد به يې له چين سره په راتلونکو کلونو کې نږدې اړيکې ولري. نوموړي له چين څخه هيله وکړه، چې د افغانستان په ثبات، سولې او پرمختګ کې به رغنده رول ولوبوي.

چين به، چې له ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې يې د دغه سازمان مشري ترلاسه کړه، په سيمه کې خورا مهم رول ولوبوي، هغه هم په داسې مهال کې چې امريکايان به پکې له افغانستان څخه خپل يو شمېر سرتېري باسي.

## حامد کرزي؛ له چين سره د نويو اړيکو بنسټ اېښودونکی!

که څه هم ځينې شنونکي د پخواني ولسمشر حامد کرزي پر داخلي پاليسۍ نيوکه لري؛ خو د ځينې هېوادونو په اړه د کرزي بهرنۍ سياست په تېره بيا د ده په دويمه دوره کې د ستايلو وړ ده.

د افغانستان او چين ترمنځ اړيکې د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال له بل هر وخت زياتې غوړېدلې دي. په دغه دوران کې د اړيکو د رغولو په اړه ډېرې هڅې هم، د افغانستان له خوا شوې دي؛ ځکه خو د افغانستان له خوا حامد کرزي چين ته شپږ ځله سفرونه کړي.

کله چې له امريکا سره د حامد کرزي اړيکې خرابې شوې او پر کرزي د ۲۰۰۹ کال د انتخاباتو له کبله ډېرې نيوکې کېدې؛ نو حامد کرزي له چين سره د اړيکو د لا ښه

۳۳۵ 'Xi Jinping Meets with President Hamid Karzai of Afghanistan', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, 19 May 2014, retrieved from:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/zxxx_662805/t1158098.shtml>

کولو هڅه وکړه او په همدې موخه، په ۲۰۱۰ کال کې په څلورم سفر چین ته ولاړ او همدا راز یې د خپلو نورو سفرونو ترڅنګ په سیاسي، اقتصادي او ستراتیژیکه توګه هم، چین په افغانستان کې زیات رادخیل کړ. له همدې کبله مونږ حامد کرزی له چین سره د نویو اړیکو بنسټګر بولو.

که څه هم پورته مو په تفصیلي توګه د حامد کرزي د واکمنۍ پرمهال له چین سره اړیکو ته رڼا اچولې؛ خو دلته به په لنډه توګه د حامد کرزي په ټوله دیارلس کلنه دوره کې چې له چین سره اړیکې له کومو پړاونو څخه تېرې شوې دي، یادونه وکړو:

۱. لومړی پړاو: ښې ګاونډۍ او ملګرې اړیکې؛

۲. دویم پړاو؛ اقتصادي اړیکې؛

۳. درېیم پړاو؛ ستراتیژیکې اړیکې.

## لومړی پړاو؛ د ښه ګاونډیتوب او ملګرتوب اړیکې

د حامد کرزي په لومړنیو وختونو کې په تېره بیا له ۲۰۰۱ کال تر ۲۰۰٦ کال له چین سره ډېرې اړیکې ملګرې او د ښه ګاونډیتوب له مخې وې. په دې تړاو په ۲۰۰۲ کال کې افغانستان له خپلو شپږو ګاونډیانو سره د کابل اعلامیه، چې د ښه ګاونډیتوب په تړاو وه، لاسلیک کړه. چین چې د افغانستان ګاونډۍ دی، هم په دغه تړون لاسلیک وکړ.

چین په دغه پړاو کې له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ.وروسته په ۲۰۰٦ کال کې چین ته د حامد کرزي د سفر پرمهال افغانستان او چین د ملګرتوب، همکارۍ او ښه ګاونډیتوب تړون لاسلیک کړ.

په دغه پړاو کې حامد کرزي دوه ځله چین ته سفرونه وکړل؛ خو د چین او افغانستان اړیکې بیا هم ډېرې تودې او چین په افغانستان کې په اقتصادي او مرستو برخو کې ډېر دخیل نه و، البته دغه اړیکې بیا هم ملګرې پاتې وې.

## دویم پړاو؛ اقتصادي اړیکې

د افغانستان او چین اړیکې له ۲۰۰۷ کال څخه یو نوي پړاو ته دننه شوې او چین په اقتصادي توګه په افغانستان کې ډېر دخیل شو. دغه اړیکې د تېر پړاو د ښه ګاونډیتوب له شعاري اصطلاح څخه د همکارۍ او ښه اړیکو عملي پړاو ته ننوتې. ځکه په ۲۰۰۷ کال او په ۲۰۱۱ کلونو کې چین په افغانستان کې پانګونې وکړې او د مېس عینکو او د آمو حوزې قراردادونه یې وګټل.

په دغه پړاو کې چین خپلې مرستې هم رواني وساتلې، هم یې پانګونې وکړې، د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري هم په ډېرېدو شوه، او چین ته د افغانانو سفرونه هم زیات شول.

په دغه پړاو کې حامد کرزي چین ته درې ځله سفرونه وکړل، همدا راز له ۲۰۰۹ کال تر ۲۰۱۲ کال د دواړو هېوادونو ترمنځ له ۲۰ څخه زیات د لوړ پوړو چارواکو سفرونه وشول[۳۳۶].

د دوه اړخیزه سوداګرۍ په برخه کې د لومړي پړاو د مجموعي (۱۵۸۰ میلیون ډالرو) په مقابل کې په دغه پړاو کې مجموعي دوه اړخیزه سوداګري (۲۷۰۸ میلیون ډالرو) ته ورسیدله[۳۳۷].

همدا راز د مرستو په برخه کې یې له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې تر ۷۰ میلیون ډالرو پورې مرستې کړې وې[۳۳۸].

د افغانستان او چین د اړیکو دغه پړاو په ۲۰۱۲ کال کې پای ته ورسید او د ستراتیژیک تړون له لاسلیکېدو سره د ستراتیژیکو او اوږد مهاله اړیکو پیلامه شوه.

## درېیم پړاو؛ ستراتیژیکې او اوږدمهاله اړیکې

هغه مهال چې حامد کرزي په ۲۰۱۲ کال کې چین ته سفر وکړ او هلته یې د چین په ملاتړ د شانګهای په سازمان کې د ناظر څوکۍ له ترلاسه کولو سره له چین سره

---

۳۳۶ د نورو معلوماتو لپاره وګورئ په افغانستان کې د چین سفارت ویب پاڼې مختلفې لیکنې او خبرونه، د ویب سایت پرلیکه بڼه دا ده: http://af.china-embassy.org/eng/

۳۳۷ ارقام د افغانستان احصائوی کلنی څخه اخیستل شوي او حساب په خپله د څېړونکي دی

۳۳۸ په افغانستان کې د چین سفارت ویب پاڼې څخه د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو ارقام واخیستل شول او د ۲۰۱۲ کال ارقام له خبرونو څخه ترلاسه شو. وګورئ: http://af.china-embassy.org/eng/zagx/introduction/

ستراتیژیک تړون هم لاسلیک کړ، چې دا بیا د دواړو هېوادونو ترمنځ د ستراتیژیکو او اوږدمهاله اړیکو تاداب گڼل کېږي.

له همدغه مهاله افغان-چین اړیکو اوس د ستراتیژیکو اړیکو جامه رانغاړلې ده.

په دغه پړاو کې د افغانستان پر لور د چین پاملرنه د زیاتېدو پر لور ولاړه، چې د نورو لاملونو سره عمده لامل یې له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د امریکایانو وتل وو. په دغه جریان کې حامد کرزي دوه ځله او اشرف غني یو ځل یوازې د دوو کلونو دننه چین ته سفرونه وکړل. همدا راز په بل اړخ کې لوړ پوړو چینایي چارواکو هم افغانستان ته په سفرونو راغلل. په ۲۰۱۲ کال کې د ستراتیژیک تړون له لاسلیکېدو وروسته، د چین د پولیټ بیورو غړی او د استخباراتو مشر افغانستان ته په سفر راغی چې دا بیا له ۱۹۶۶ کال راهیسې د چینایي چارواکو له خوا د تر ټولو لوړ پوړي چارواکي سفر و. په ۲۰۱۴ کال کې د چین د بهرنیو چارو وزیر هم کابل ته په سفر راغی، په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې افغان ولسمشر حامد کرزي چین ته سفرونه وکړل او همدا راز په ۲۰۱۴ کال کې یې په سوچي (روسیې) کې له شي جین پینگ سره ولیدل.

په دغه پړاو کې له افغانستان سره د چین مرستې او د افغان-چین دوه اړخیزه سوداگري هم مخ پر زیاتېدو شوه. له ۲۰۱۲ کال راهیسې تر اوسه چین له افغانستان سره د ۳۵۹ میلیون ډالرو د مرستو ژمنه کړې ده[۳۳۹] او په بل اړخ کې له ۲۰۱۲ کال راهیسې تر ۲۰۱۵ کال پورې دوه اړخیزه مجموعي سوداگري ۲۰۷۰.۶۴۸ میلیون ډالرو ته ورسیده[۳۴۰].

## د اشرف غني د واکمنۍ دوره

د ۲۰۱۴ کال د اپریل پر ۵مه په افغانستان کې ولسمشریزې ټاکنې ترسره شوې، چې په اول قدم کې هېڅ چا هم له ۵۰ سلنو زیاتې رایې خپلې نه کړې او له کبله یې ټاکنې دویم پړاو ته وغځېدلې. دویم پړاو د جون پر ۱۴مه پیل شو، چې د لومړنیو پایلو له مخې پکې اشرف غني بریالی شوی و؛ خو وروسته د درغلیو له کبله د ولسمشریزو ټاکنو پایلې وځنډول شوې او په پای کې د سپتمبر پر ۲۶مه اشرف غني د گټونکي په

۳۳۹ د نورو معلوماتو لپاره ولولئ د دغه فصل له افغانستان سره د چین مرستې (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې)

۳۴۰ د نورو معلوماتو لپاره ولولئ د دغه فصل د افغانستان او چین دوه اړخیزه تجارت (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې)

توګه اعلان شو[۳٤۱]. په دا ډول د افغانستان په تاریخ کې په لومړي ځل د حکومت واک په سوله‌ییزه توګه له یو ولسمشر بل ته منتقل شو.

د چین ولسمشر زي-جینپینګ هم په افغانستان کې له دغه نوي پرمختګ هرکلی وکړ او د اشرف غني د لوړې مناسباتو ته یې خپل ځانګړی استازی ین وایمین (Yin Weimin)، چې د چین د بشري منابعو او د ټولنیز امنیت وزیر دی، راولېږد. ده بیا له افغان ولسمشر اشرف غني، د اجرائیوي رییس ډاکتر عبدالله او له پخواني ولسمشر سره هم ولیدل[۳٤۲]. د دې ترڅنګ یې اشرف غني ته وړاندیز وکړ، چې چین ته په یوه رسمي سفر راشي.

## د اشرف غني د بهرنیو چارو تګلاره

د نړۍ په ډېموکراتیکو هېوادونو کې چې هلته ټاکنې ترسره کېږي، دا یو دود دی چې هره ډله/ګوند او یا څوک چې ټاکنو ته درېږي، د خپلو پلانونو یوه مجموعه، چې ورته منشور یا منیفیستو ویل کېږي، خپروي. په افغانستان کې هم، اشرف غني د ۲۰۱۴ کال ولسمشریزو ټاکنو وړاندې د خپل ټیم (تحول او تداوم) د راتلونکو برنامو یو لنډیز د یو منشور په توګه خپور کړ او په دا ډول دا د افغانستان په تاریخ کې لومړي ځل و، چې یو څوک دې له ټاکنو وړاندې خپل منشور خپروي.

د اشرف غني د انتخاباتي منشور اتمه برخه د ده پر بهرني سیاست راڅرخېږي. دی نه یوازې دا چې د ۲۰۱۴ کال وروسته، چې د امریکایانو د وتلو کال بلل کېده او د امریکایانو د پوځي عملیاتو وروستی کال وو، د افغانستان بهرنۍ چارو ته په یو نوي نظر وکتل، بلکې د بهرني سیاست له سره تعریفول یې هم اړین وبلل. په دې اړه دی وایي: ”د ۲۰۱۴ کال له پیل او په ځانګړي ډول د نوي حکومت له رامنځ ته کېدلو سره [سم] زموږ هېواد له نړۍ سره د یوې نوې اړیکې پړاو ته داخلیږي. په دې پړاو کې باید زموږ بهرنی سیاست د یوه مستقل او ملي حاکمیت لرونکي هېواد په توګه زموږ

---

۳٤۱ د افغانستان د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزه ټاکنو په اړه او د رایو د تفتیش او شمیرنو په اړه ولولئ د یوناما په ویب پاڼه کې:
UNAMA, 2014 Presidential and Provincial Council Elections, retrieved at 11 April 2015, see it online: http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=13936&language=en-US

۳٤۲ 'Foreign Ministry Spokesperson Hua Chunying's Regular Press Conference on September 30, 2014', Ministry of Foreign Affairs

ملي، سیمه ییزو او نړیوالو ګټو ته په پام سره له سره تعریف شي".[343]

په دغه منشور کې د تحول او تداوم ټیم د هېواد خارجي سیاست پر پنځو حلقو کې چې خپله د اشرف غني په اند «مشخصې او د هرې یوې لپاره ځانګړې طرحې او هر اړخیز اقدامات» لري، وویشه. دا پنځه کړۍ عبارت دي له:

لومړۍ کړۍ: ګاونډي هېوادونه (پاکستان، ایران، چین، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان)
دویمه کړۍ: اسلامي هېوادونه
درېیمه کړۍ: اروپا، امریکا، کاناډا او جاپان
څلورمه کړۍ: اسیایي هېوادونه
پنځمه کړۍ: نړیوال ستر بنسټونه

چین د اشرف غني د بهرنیو چارو په دغو پنځو حلقو کې په مستقیمه توګه په دوو کې راځي او په غیر مستقیم ډول د سینکیانګ ایالت د مسلمانانو له کبله د اسلامي هېوادونو یا د مسلمانانو له جملې هم راتلای شي. دا بیا تر ډېره حده د اشرف غني په بهرني سیاست کې د چین ارزښت ته اشاره ده. دا چې اشرف غني به د افغانستان له طبیعي زیرمو څخه ګټه ترلاسه کړي او که له موقعیت څخه، په دې تړاو ده د چین د سفر پرمهال د زینوا په پوهنتون کې وویل: "موقعیت"[344] . له دې سره، ده د مرستو په پرتله پانګونو او سوداګرۍ ته هم ارزښت ورکوي[345] او چین په دې تړاو څکه مهم بولي، چې دوی د مرستو په پرتله پانګونو او سوداګرۍ ته د ارزښت ورکولو ترڅنګ په دې اند دي چې له ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د افغانستان راتلونکی هم د سیمې له نورو هېوادونو سره تړل شوی دی او چین به د سیمې په اقتصادي الحاق کې له افغانستانه ملاتړ وکړي[346] .

---

۳۴۳ د تحول او تداوم منشور، مخ ۱۸۱

۳۴۴ See President Ashraf Ghani's lecture on,' the forthcoming Asian continental Integration and the role of the silk route' in Xinhua University

۳۴۵ په Chatham House کې د افغان ولسمشر اشرف غني لیکچر. ده په دغه لیکچر کې وویل: مرستې تاسو شتمن کولای نه شي؛ خو برعکس پانګونه او سوداګري یې کولای شي.

۳۴۶ هغه مهال چې افغان ولسمشر حامد کرزي د چین له ولسمشر شي جین پینګ سره د ۲۰۱۴ کال په فبروری میاشت کې په روسیې کې ولیدل نو شي جین پینګ دغه څرګندونه وکړه. د نورو معلوماتو لپاره ولولی:
Xi Jinping meets with President Hamid Karzai of Afghanistan', Ministry of Foreign Affairs of the People's' Republic of China, 8 Feb 2014, retrieved from:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/topics_665678/sqdah/t1128505.shtml>

### د اشرف غني د بهرني سیاست محورونه

که چېرې د اشرف غني ویناوې، نظریات، لیکنې او فکر راوسپړو، نو دغه نظر ته رسېږو، چې د اشرف غني د بهرني  سیاست درې مهم محورونه دي، چې په لاندې ډول دي:

- سوله
- اقتصادي پرمختګ
- اقتصادي الحاق او ترانزټ

**لومړی**؛ له سولې مراد د ګاونډیانو له لارې پر طالبانو فشار واردول ، ترڅو ګاونډیان د طالبانو له ملاتړ څخه لاس واخلي او په پای کې یې دوی اړ شي، چې له افغان حکومت سره د سولې خبرو اترو ته چمتو شي. اشرف غني په دې اند دی، چې د چین له لارې کولای شي پر پاکستان فشار وارد کړي او ترڅنګ یې پاکستان ته د امتیازاتو په ورکولو سره اسلام اباد نور هم وهڅوي چې له طالبانو څخه لاس واخلي او دوی اړ کړي، چې له افغان دولت سره خبرو اترو ته چمتو شي، د اشرف غني د دغه بهرني سیاست نچوړ دی. په دې تړاو اشرف غني د خلیجي هېوادونو او ترکیې مرستو اخیستو کوښښ هم وکړ. دا چې دغه پالیسي څومره سمه او څومره ناسمه ده او دا چې افغانستان به په دې تړاو له چین څخه څه ډول مرسته اخلي، په څلورم فصل کې د چین پر لور د افغانستان په خارجي سیاست کې ورته په تفصیلي توګه اشاره شوې.

**دویم**؛ اشرف غني خپله ډېری تګلاره پر اقتصادي پرمختګ راڅرخوي او له همدې کبله دی غواړي، چې له یوې خوا په هېواد کې نیابتي جګړې د همکارۍ په ډګر بدل کړي[۳۴۷] او له بلې خوا د نورو هېوادونو پانګونه د هېواد پر لور راماته کړي. د بیلګې په توګه دی غواړي چې خلیجي هېوادونه خپل خوراکي امنیت (Food Security) د افغانستان په زراعت کې د اوږدمهاله پانګونو پرمټ خوندي کړي[۳۴۸].

**درېیم**؛ اشرف غني په خپل ټاکنیز منشور او ډېری لیکچرونو او څرګندونو کې ویلي،

---

۳۴۷ ولسمشر اشرف غنِي د ملي شورا د شپاړسمې تقنیني دورې د پنځم کال ګډې غونډې ته وویل: « په دې به انشالله بریالي شو چې افغانستانَ ته د نیابتي جنګ د میدان نه، بلکې د آسیا د اقتصادي او ترانزیتي څلور لارې او د تعاون د مرکز په سترګه وکتل شي.» د نورو معلوماتو لپاره ولولی:
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز، جمهور رئیس غني د ملي شورا د شپاړسمې تقنیني دورې د پنځم کال ګډه غونډه پرانیستله، په پرلیکه ډول: http://www.gmic.gov.af/pashto/features/1592-2015-03-08-06-27-10

۳۴۸ په دې تړاو په (Chatham House) کې د اشرف غني لیکچر وګورئ:
Ghani, Ashraf, President. "Fixing Failed States: From Theory to Practice." London. 3 June 2015. Lecture. see <it online:< http://www.chathamhouse.org/event/fixing-failed-states-theory-practice

چې د افغانستان شمالي او لويديځه ولايتونه به په ترانزيتي مرکزونو بدل کړي.

د اشرف غني د بهرني سياست د همدغو محورونو له کبله اشرف غني په لومړي سر کې خپل لومړنی سفر چين ته ترسره کړ؛ ځکه د چين هېواد په دغو محورونو کې د يوه ښه رول لوبولو جوګه لري. ځکه که له يوې خوا د شي جين پينګ د وربښمو نوې لاره او د پاکستان-چين د انرژۍ حوزه ده، نو له بلې خوا د نړۍ تر ټولو زيات (Foreign Reserves) لرِي، دا بيا هغه څه دي، چې د اشرف غني خوب ريښتيا کولای شي.

## د چين-افغانستان د اړيکو نوی فصل

چين ته د ولسمشر اشرف غني سفر، د دغه هېواد او افغانستان ترمنځ د اړيکو يو نوی باب پرانيست. د اړيکو دا نوی پړاو په يوه داسې مهال پرانيستل کېږي، چې ناټو او امريکا له افغانستانه خپل پوځونه باسي او يو کم شمېر سرتېري به دلته د هغوی په اډو کې پاتې کېږي او په دې توګه په افغانستان کې تر يوه بريده د ځواک تشه هم رامنځته کېږي. چين دې تشې ته د يوه فرصت په سترګه ګوري او په افغانستان کې د خپل راتلونکي رول لپاره لومړني ګامونه اخلي.

دا چې د چين ولسمشر "شي جين پينګ" هوايي ډګر ته د ولسمشر غني د هرکلي لپاره راغلی و، په راتلونکو کلونو کې افغانستان ته د ارزښت ورکولو ښکارندويي کوي. له همدې ځايه ده، چې له افغان ولسمشر سره د

چين له ۲۰۰۱ کال راهيسې تر۲۰۱۳ کال پورې له افغانستان سره ۲۸۳ مليون ډالره مرسته کړې وه؛ خو د اشرف غني په لومړني سفر کې يې په لومړي ګام کې د راتلونکو درېيو کلونو لپاره له افغانستان سره د ۳۳۰ ميليون ډالره مرستې ژمنه وکړه.

دا چې اشرف غني ته چين څومره ارزښت لري، يوازې له همدې هم جوتېږي چې ده خپل لومړنی بهرنی سفر له چين څخه پيل کړ او له چين څخه يې وغوښتل، چې د افغانستان د سولې په پروسه کې رول ولوبوي. چين هم په همدې موخه دا مهال له طالبانو سره خبرې اترې پيل کړې دي او چينايي چارواکو په دې اړه په قطر کې د طالبانو د رسمي سياسي دفتر له پلاويو سره دوه ځله په چين کې کتلي دي؛ خو لاتراوسه د دغو سفرونو او ناستو جزئيات نه دي برسېره شوي. اشرف غني چين ته په خپل لومړني سفر سره له يوې خوا د دوه اړخيزو اړيکو يو نوی فصل پرانېست

او لـه بلـې خـوا یـې د اوږدمهالـه اړیکـو لپـاره هـم زمینـه برابـره کـړه. ښـاغلي غنـي خپـل چینایـي سـیال تـه څرګنـده کـړه، چـې افغانسـتان بـه لـه چیـن سره لنډمهالـې، منځمهالـې او اوږدمهالـې اړیکـې ولـري، چـې ورتـه هیلـه چینایـي ولسـمشر "شي جیـن پینـګ" هـم وښـوده او افغانسـتان یـې د چیـن لرغونـي ملګـری هېـواد وبالـه.

دا چـې وروسـته پـه ۲۰۱۵ کال کـې پـه ارګ ماڼـۍ او د افغانسـتان پـه بهرنیـو چـارو وزارت کـې د افغانسـتان او چیـن د اړیکـو د شـپېتمې کلیـزې د نمانځنـې پـه موخـه پروګرامونـه ترتیـب شـوي وو، پـه پراخـه کچـه لـه چین سره د ښـو اړیکـو لپـاره د افغـاني لـوري د لېوالتیـا او ارزښـت ښـودنه کـوي. پـه دغـه نمانځنـې کـې اشرف غنـي د چینایي-پښـتو ژبـې قامـوس لیکلـو لـه کبلـه هانـګ کای تـه سـید جـمال الدیـن مډال ورکـړ.

د دغـه سـفر پرمهـال اشرف غنـي د افغـان ځوانانـو د وړتیـاوو لوړولـو پـه موخـه لـه چیـن څخـه ۵۰۰ تحصیـلي بورسـونه او لـه چینایـي چارواکـو څخـه تـر راروانـو پنځـو کلونـو لپـاره د ۳۰۰۰ افغـاني چارواکـو د ټریننـګ زمنـه ترلاسـه کـړه.

## د وریښمو لارې بیا احیا

لکـه څرنګـه چـې پـه تېـرو مخونـو کـې ذکـر شـوه، چـې پـه چیـن کـې د شي جیـن پینـګ لـه راتـګ سره بیجینـګ د وریښـمو لارې بیـا جـوړول ګرنـدی کـړل. پـه ۲۰۱۴ کال کـې چـې کلـه حامـد کـرزی چیـن تـه پـه سـفر ولاړ، نـو د چیـن ولسـمشر شي جیـن پینـګ د خپلـو خـبرو اتـرو پرمهـال افغـان ولسـمشر تـه وویـل، چیـن غـواړي، چـې پـه ګـډه سره لـه افغـان لـوري سره د وریښـمو لارې اقتصـادي کـړۍ جـوړه او پرمـخ بوځـي[۳۴۹].

وروسـته چې اشرف غنـي هـم چیـن تـه پـه خپـل لومـړني سـفر ولاړ نـو هلتـه شي جیـن پینـګ ورتـه وویـل، چیـن پـه سـیمه ییـزه همـکارۍ کـې د افغانسـتان لـه الحـاق څخـه ملاتـړ کـوي او د وریښـمو لارې پـه اقتصـادي کـړۍ کـې د افغانسـتان د فعالـې ونډې هرکلـی کـوي[۳۵۰].

---

۳۴۹ 'Xi Jinping meets with President Hamid Karzai of Afghanistan', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, 19 May 2014, retrieved at:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/zxxx_662805/t1158098.shtml>

۳۵۰ 'Xi Jinping Holds Talks with President Ashraf Ghani of Afghanistan, Stressing China Values Developing China-Afghanistan Strategic Cooperative Partnership and Hopes Afghanistan Achieve Enduring Peace and Stable Development', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, 28 Oct 2014, retrieved at:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t1205547.shtml>

د اشرف غني له سفره وروسته د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر پر ۸مه نېټه د چین حکومت ۴۰ میلیارډه ډالره د وریښمو لارې جوړولو ته ځانګړي کړل[۳۵۱]. خو افغانستان لا تر اوسه د چین تر پولې پورې کوم سړک نه دی غځولی، په دې تړاو د اسیا پرمختیایي بانک د مرستو له کبله ۴۴ کیلو مېتره سړک جوړ شوی او په ۱۰۸ کیلو مېترو نور سړک په جوړولو کې به هم نوموړی بانک مرسته وکړي؛ خو بیا به هم پاتې ۳۸۰ کیلو مېتره سړک پاتې کېږي، خو اشرف غني هیله لري، چې په دې تړاو چین د فنډ ورکولو په اړه چمتووالی ښودلی دی[۳۵۲].

## له افغانستان سره د چین مرستې (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې)

د یو چینایي څېړونکي له مخې د ۲۰۰۲ کال تر ۲۰۱۰ کال پورې چینایانو له افغانستان سره تقریباً ۲۰۵.۳ میلیون ډالره مرستې وکړې او ترڅنګ یې د افغانستان د ۱۹۶۵ کال د ۱۹.۵ میلیون ډالرو پورونه هم معاف کړل[۳۵۳] . په ۲۰۱۱ کال کې چین له افغانستان سره ۱۵۰ میلیون یوان چې تقریباً (۲۳.۸ میلیون ډالره) کېږي مرستې وکړې او همدا راز په ۲۰۱۲ کال کې یې هم ۱۵۰ میلیون یوان (۲۳.۸ میلیون ډالره) مرستې وکړې[۳۵٤]. دغه راز په ۲۰۱۳ کال کې د چین مرستې ۳۲ میلیون ډالره شوې[۳۵۵] او په ۲۰۱۴ کال کې د اشرف غني له سفر سره چینایانو له افغانستان سره ۸۱.۸ میلیون ډالره مرستې اعلان کړې او د راتلونکو درېیو کلونو لپاره یې هم ۲۴۵.۲ میلیون ډالره

۳۵۱ Reuters, China to establish $40 billion Silk Road infrastructure fund, 8 Nov 2014, retrieved at:< http://www.reuters.com/article/2014/11/08/us-china-diplomacy-idUSKBN0IS0BQ20141108>

۳۵۲ Zabiullah Jahanmal, Ghani awaits Chinese delegation for silk road support, Tolo News, 19 April 2015, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.tolonews.com/en/afghanistan/19138-ghani-awaits-chinese-delegation-for-silk-road-support>

۳۵۳ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stances, and Perspectives, CSIS: Centre for Strategic and International Studies, 2012, pp:6

۳۵٤ په ۲۰۱۱ کال کې له افغانستان سره د چین د مرستو په تړاو په افغانستان کې د چین سفارت د ویب پاڼې لیکنه په دغه لینک کې وګورئ: China—Afghanistan relations in 2011 see it online at:< http://af.china-embassy.org/eng/zagx/introduction/t1088794.htm> او په ۲۰۱۲ کال کې د چین د مرستو په تړاو وګورئ د زینوا خبري اژانس دغه خبر:
Xinhua news, China to provide 150 million yuan grant to Afghanistan during 2012, 8 June 2012, retrieved at <5 June 2015 see it online:< http://news.xinhuanet.com/english/china/2012-06/08/c_131639621.htm

۳۵۵ Wadsam, China pledges to provide USD 32 million to Afghanistan for 2013, 28 sep 2013, retrieved at 1 june 2015, see it online:< http://wadsam.com/afghan-business-news/china-pledges-to-provide-usd-32mn-to-afghanistan-for-2013-454/>

اعلان کړل[۳۵٦].

د دې ترڅنګ چین له ۲۰۰۱ کال تر ۲۰۱۵ کال پورې تقریباً ۱۰۰۰ افغانانو ته په بېلا بېلو برخو کې روزنه ورکړې، همدا راز په بېلابېلو وختونو کې یې لس ځله خوراکي مرستې رالېږدولي او د یو شمېر پروژو په بشپړولو کې هم بوخته پاتې شوې، لکه د جمهوریت روغتون بیا رغول، په کابل پوهنتون کې د کنفیوشس انستیتوت او د پوهنتون میلمستون جوړول، د ولسمشرۍ ماڼۍ د سالون جوړول او د ساینس او ټکنالوژۍ مرکز جوړول شامل دي[۳۵۷]. له دې سره، د ستراتیژیکې او همکارۍ اړیکو ژورتیا په تړاو د دواړو لوریو په ګډه اعلامیه کې راغلي وو، چې چین به تر راتلونکو پنځو کلونو تقریباً ۳ زره افغانانو ته په بېلابېلو برخو کې وروزي[۳۵۸].

**جدول ۱: له افغانستان سره د چین مرستې (له ۲۰۰۱ کال تر ۲۰۰۴ کال)**

| د چا لهخوا؟ | له چا سره؟ | مرستې | نېټه |
|---|---|---|---|
| د چین د بهرنیو چارو وزارت | افغانستان | د دېرشو میلیونو یوان په ارزښت د عاجلو موادو مرسته | د ۲۰۰۲ کال د جنورۍ ۲۳مه |
| د چین حکومت | افغانستان | ۱۵۰ میلیون ډالره (د دغو مرستو پرمټ د جمهوریت روغتون، د پروان د اوبو پروژه او د افغانستان اردو او پولیسو ته د یونیفورم ورکول ګډ وو) | د ۲۰۰۲ کال د مۍ ۱۵مه |
| د چین سفارت | د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت | ۳۰ کمپیوټرونه | د ۲۰۰۲ کال د مۍ ۱۵مه |
| د چین خیریه موسسه | د افغانستان سره میاشت | ۵۰ زره ډالر (د بغلان د نهرین په ولسوالۍ کې له زلزله ځپلو سره مرستې | د ۲۰۰۲ کال د اپریل ۴مه |
| د چین د ښځو موسسه | د ښځو چارو وزارت | د خیاطۍ ٦۰۰ ماشینونه ۱۳۰۰۰ متره ټکه | د ۲۰۰۲ کال د اکتبر ۲مه |

۳۵٦ Pajhwok News, China pledges assistance; 4 accords signed, 28 oct 2014, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.pajhwok.com/en/2015/03/10/china-pledges-asistance-4-accords-signed>

۳۵۷ په افغانستان ټایمز ورځپاڼه کې د چینایي سفیر لیکنه:
Deng Xijun, China's Foreign Aid: Mutual benefits and win-win, Afghanistan Times, 12 May 2015, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=12110>

۳۵۸ See China-Afghanistan Joint Statement on Deepening strategic and cooperative partnership in Afghanistan's ministry of foreign affairs website:< http://mfa.gov.af/en/news/china-afghanistan-joint-statement-on-deepening-strategic-and-cooperative-partnership>

| | | | |
|---|---|---|---|
| د چين حکومت | د کابل ژوبڼ | يو جوړه زمريان<br>يو جوړه ييږې<br>يو جوړه هوسۍ<br>يو جوړه خنځيران<br>يو جوړه کرګس | د ۲۰۰۲ کال د جون ۱۰مه |
| د چين حکومت | د افغانستان دولت | ۱۰ مليون پونډ، چې له ۱۳۴۴ کال راهيسې پاتې وو، معاف کړل | د ۲۰۰۴ کال د مارچ ۲۷مه |
| د چين حکومت | د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت | ۱۵ افغان ډيپلوماتان د يوې مياشتنۍ ډيپلوماسۍ روزنې لپاره بيجينګ ته ولاړل | د ۲۰۰۴ کالل د اپريل ۳۰مه |
| په کابل کې د چين سفارت | د افغانستان د داخلې چارو وزارت | ۲۲ عراده جيپ<br>و وسايل مخابراتی | د ۲۰۰۴ کال د جون ۲۹مه |
| د چين حکومت | د معارف وزارت | د عبدالرحيم غفورزی مکتب، چې د ۱۴۵ زرو ډالرو پر لګښت جوړ شوی و. او ۵۰۰ يونيفورم د مکتب متعليمو ته ورکول | د ۲۰۰۴ کال د جولای ۱۸ |
| د چين سفارت | د افغانستان له بهرنيو چارو، لوړو زده کړو، داخلې وزارتونو او اولمپيک رياست سره مرستې | د يو ميليون ډالر پورې الات | د ۱۳۸۳ کال د ميران ۱٦مه |

ماخذ: غلام محمد سخنيار، روابط پنجاه ساله چين و افغانستان، کابل: مرکز مطالعات استراتيژيک وزارت امور خارجه، ۱۳۸۴، مخونه ۲۹۰-۳۱۳

## د افغانستان او چين سوداګريزې اړيکې (۱۹۹۹-۲۰۱۵)

افغانستان او چين ان د طالبانو د امارت پرمهال هم سوداګريزې اړيکې درلودې، په ۱۹۹۹ او ۲۰۰۰ کلونو کې چين ته د افغاني توکو صادرات او له چين څخه واردات په زياتېدو شول. په ۱۹۹۹ کال کې چين ته افغاني صادرات ۲.۹۰ ميليون ډالره وه، چې په ۲۰۰۰ کال کې ۵.۴۰ ميليون ډالرو ته ورسېدل. همداسې له چين څخه واردات هم له ۱۸ ميليون ډالرو څخه په زياتېدو ۲۲ مليون ډالره شول[۳۵۹].

۳۵۹ د افغانستان احصائيوي کلنی، او Stina Torjesen, Fixinig Afghanistan: What role for China?, Norwegian Peace building Centre, No 7, June 2010

د ۲۰۰۱ کال د جولای په مياشت کې يو طالب پلاوی، چې مشري يې په پاکستان کې د افغان سفارت سوداګريزې اتاشې کوله، په اووه ورځنی سفر چين ته ولاړل. د چين حکومت دوی ته يوازې ويزې ورکړې او له چينايي چارواکو سره يې د دوی له کتلو بښنه وغوښته. دغه پلاوي چين ته د سوداګرۍ د زياتېدو په موخه تللي وو، دوی هلته د چين له تجارانو سره وليدل[۳٦۰]. د دغه سفر څو مياشتې وړاندې د چين ځينو تجارانو هم افغانستان ته سفر کړی وو[۳٦۱]. خو د يوولسم سپتامبر پېښو بيا هر څه بدل کړل.

د نوي حکومت له راتګ سره دوه اړخيزه سوداګري په تدريجي توګه زياته شوه او په مشخصه توګه له ۲۰۰۳ کال راهيسې د زياتېدو پر لور روانه ده. په ۲۰۰۳ کال کې دوه اړخيزه سوداګري ۳۸۲.٦۱ ميليون ډالره شو، او د ۱۹۹۹ تر ۲۰۰۲ کال پورې، چې ځلور کلونه دي، مجموعي سوداګري بيا يوازې ۱۰۳.۳۸ ميليون ډالره وه[۳٦۲].

د موقتي او انتقالي پړاو پر ختمېدو او د حامد کرزي د لومړنۍ دورې له پيل کېدو سره دغه دوه اړخيزه سوداګري د ډېرېدو پر لور روانه شوه، په دغه دوره کې (له ۲۰۰۴ کال تر ۲۰۰۹ کال ) په مجموعي توګه د افغانستان او چين دوه اړخيزه سوداګري ۲۲۰۹.۳ ميليون ډالره وه، چې د طالبانو له وروستي کلونو، او د افغانستان موقتي او انتقالي پړاو له کلونو سره په پرتله د دوه اړخيزې سوداګرۍ لوړه کچه وه. په دغه دوره کې (له ۱۹۹۹ کال تر ۲۰۰۳ کال ) د افغانستان او چين دوه اړخيزه سوداګري ۴٦۸.۰۱ ميليون ډالره وه[۳٦۳]. دا چې د لومړي پړاو په مقابل کې په دويم پړاو کې دوه اړخيزه سوداګري ولې زياته شوه، لاملونه يې زيات دي؛ خو بيا هم يو څو لاملونه د يادولو وړ دي:

**لومړی:** له ۱۹۹۹ کال تر ۲۰۰۱ کال پورې سوداګري ځکه محدوده وه، چې د طالبانو اسلامي امارت د چين له خوا په رسميت نه و پېژندل شوی؛

**دويم:** له ۱۹۹۸ کال څخه د ملګرو ملتونو له خوا هر کال پر طالبانو اقتصادي بنديزونه لګېدل، چې له کبله يې د چين او افغانستان ترمنځ دوه اړخيزه سوداګري هم اغېزمنه شوه؛

---

۳٦۰ Munawar Hassan, Taliban team visit China to boost trade, The Nation, 4 July, 2001, retrieved at 25 May 2015, see it online at Afghanistan News Center:< http://www.afghanistannewscenter.com/news/2001/july/jul4p2001.html>

۳٦۱ ibid

۳٦۲ د څېړونکي خپل شمېرښت او محاسبه، د نورو معلوماتو لپاره وګورئ جدول ب: افغان-چين دوه اړخيزه تجارت (په مليون ډالرو کې)

۳٦۳ د څېړونکي خپل شمېرښت او محاسبه، د نورو معلوماتو لپاره وګورئ جدول ب: افغان-چين دوه اړخيزه تجارت (په مليون ډالرو کې)

**درېيم:** د ۲۰۰۱ کال په وروستيو کې په افغانستان کې د امريکايانو جګړه پيل شوه او په ۲۰۰۲ کال کې نوي حکومت بيا په ډېرى توګه د حکومت په جوړولو، تشکيلاتو او د نورو اساسي اړتياوو د بشپړولو په موخه بوخت وو.

وروسته چې کله په ۲۰۰٦ کال کې د افغان ولسمشر حامد کرزی په خپل دويم رسمي سفر چين ته ولاړ، نو هلته يې د اقتصادي تړونونو لاسليکولو ترڅنګ د چين-افغانستان اقتصادي کمېټه جوړه کړه. دغې کمېټې د دوه اړخيزې سوداګرۍ د زياتولو په موخه ۲۷۸ توکي له محصوله معاف کړل او له کبله يې دوه اړخيزه سوداګري چې په ۲۰۰٦ کال کې ۴۷۳.۱۹ ميليون ډالره وه، په ۲۰۰۷ کال کې ٦۱۳ ميليون ډالرو ته پورته شوه. چين ته افغان صادرات هم له ۰.۱۹ ميليون ډالرو څخه په پورته کېدو ۲ ميليون ډالرو ته ورسېدل.

که څه هم له ۲۰۰۴ کال راهيسې په دوه اړخيزه سوداګرۍ کې حرکت وليدل شو او په ۲۰۰۷ کال کې دوه اړخيزه سوداګري تر ټولو لوړې کچې ته هم ورسېد (٦۱۳ ميليون ډالره)؛ خو په ۲۰۰۸ کال کې په نړۍ او په تېره بيا په امريکا کې مالي بحران راغی، نو دغه مالي بحران پر نړېوالې سوداګرۍ اغېزه وښندله او په ۲۰۰۹ کال کې نړېواله سوداګري ۱۲ سلنه کمه شوه، چې د دويمې نړېوالې جګړې راهيسې په نړېوالې سوداګرۍ کې د کمښت تر ټولو لوړه سلنه وه[٣٦٤]. له دغه حالت څخه چين هم مستثنی نه و او د ۲۰۰۸ کال مالي بحران د چين پر اقتصاد هم ژوره اغېزه وښندله او له کبله يې افغان-چين دوه اړخيزه سوداګري هم اغېزمنه شوه.

د ۲۰۰۸ کال مالي بحران د چين پر اقتصادي وده منفي اغېزه وښندله، په ۲۰۰۷ کال کې د چين اقتصادي وده ۱۴.۲ سلنه وه، چې بيا په ۲۰۰۸ کال کې ۹.٦ سلنه او په ۲۰۰۹ کال کې ۹.۲ سلنه شوه[٣٦٥]. دغه حالت د چين مجموعي صادرات هم اغېزمن کړل. په ۲۰۰۸ کال کې د چين مجموعي صادرات ۱۴۲۸٦٦۰ ميليون ډالره وو او په ۲۰۰۹ کال کې ۱۲۰۱۷۹۰ ميليون ډالره شول، همدا راز د چين واردات په ۲۰۰۸ کال کې ۱۱۳۱٦۲۰ ميليون ډالره وو او په ۲۰۰۹ کال کې ۱۰۰۴۱۷۰ ميليون ډالره وو[٣٦٦].

---

٣٦٤ WTO Press Release 598, 26 March 2010, retrieved at 25 May 2015, see it online:< https://www.wto.org/english/news_e/pres10_e/pr598_e.htm>

٣٦٥ Linyue Li, Thomas D. Willett, and Nan Zhang, The effects of the global financial crisis on China's financial market and macro economy, Economics Research International, Volume 2012, (2012)

٣٦٦ United Nations International Merchandise Trade Statistics, 2010 Yearbook, download it from here:< http://comtrade.un.org/pb/WorldTables.aspx?y=2010>

لـه همـدې املـه افغانسـتان  تـه د چيـن صـادرات هـم پـه ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونـو کـې کـم شـول. پـه ۲۰۰۸ کال کـې افغانسـتان تـه د چيـن صـادرات د ۲۰۰۷ کال لـه ٦۱۱ ميليـون ډالـرو څخـه پـه کمېـدو ۴۳۰ ميليـون ډالـرو تـه راښـکته شـول او پـه ۲۰۰۹ کال کـې بيـا ۳٦۰ ميليـون ډالـرو تـه نـور هـم راټيـټ شـول[۳٦۷].

پـه ۲۰۱۰ کال کـې چـې کلـه چيـن د نړېـوال مـالي بحـران لـه اغېـزو بهـر شـواو د ۲۰۱۰ کال د مـارچ پـه مياشـت کـې حامـد کـرزي چيـن تـه سـفر وکـړ او پـه تـرڅ کـې يـې لـه چيـن سره د اقتصـادي او تخنيکـي همکاريـو  تـړون هـم لاسـليک کـړ او پـه سـوداګريز ډګـر  کـې افغـاني صـادرات ۱۲ ميليـون ډالـرو تـه لـوړ شـول او وروسـته چـې کلـه سـتراتيژيک تـړون لاسـليک شـو، نـو مجموعـي سـوداګري  هـم پـه زياتېـدو شـوه. پـه ۲۰۱۳ کال کـې مجموعـي سـوداګري  ۴۵۷ ميليـون ډالـره وه او پـه ۲۰۱۴ کال کـې بيـا ۱۰۵۳ ميليـون ډالـره شـوه.

**جدول ب: افغان-چين دوه اړخيزه تجارت ( په مليون ډالر کې)**

| کال | افغان صادرات | افغان واردات | د تجارت بيلانس | ټول تجارت |
|---|---|---|---|---|
| 1999-2000 | 2.90 | 18 | -15.1 | 20.9 |
| 2000-2001 | 5.40 | 22 | -16.6 | 27.4 |
| 2001-2002 | _ | 35 | -35 | 35 |
| 2002-2003 | 08. | 20 | -19.92 | 20.08 |
| 2003-2004 | 61. | 382 | -381.39 | 382.61 |
| 2004-2005 | 95. | 385 | -384.05 | 385.95 |
| 2005-2006 | 1.56 | 317 | -315.44 | 318.56 |
| 2006-2007 | 19. | 473 | -472.81 | 473.19 |
| 2007-2008 | 2 | 611 | -609 | 613 |
| 2008-2009 | 2 | 430 | -428 | 432 |
| 2009-2010 | 4 | 360 | -356 | 364 |
| 2010-2011 | 12 | 704 | -692 | 716 |
| 2011-2012 | 6 | 577 | -571 | 583 |
| 2012-2013 | 11 | 549 | -538 | 560 |
| 2013-2014 | 20 | 437 | -417 | 457 |
| 2014-2015 | 15.45 | 1038.198 | -1022.748 | 1053.648 |

ماخذ: د افغانستان احصائيوي کالنۍ (مختلف کلونه)

۳٦۷ د څېړونکي خپل شمېرښت او څېړنه (د نورو معلوماتو لپاره وګورئ جدول ب: افغان-چين دوه اړخيزه تجارت (په مليون ډالرو کې)

خلورم فصل

# په افغانستان کې د چين ګټې، اندېښنې او بهرنۍ سياست (۲۰۰۱-۲۰۱۵)

که څه هم د افغانستان او چين د خلکو جمهوريت ترمنځ له ۱۹۵۵ کال راهيسې ډيپلوماتيکې اړيکې پيل شوې او له همدغه مهاله چين په افغانستان کې يو شمېر ګټې درلودې، چې په ډېرى توګه به له نړېوالو چارو اغېزمنې وې. دا چې افغانستان ولې په دغه پړاو کې له چين سره ډيپلوماتيکې اړيکې پيل کړې، په تفصيلي توګه يې په دويم فصل کې يادونه وشوه. خو دا چې پر دغه مهال د چين ګټې څه وې او له ۲۰۰۱ کال راهيسې تر اوسه څه دي، په دغه فصل کې ورته اشاره شوې.

په لنډه توګه چين دغه مهال په تېره بيا له ۱۹۵۵ کال څخه تر ۱۹۷۸ کال پورې په افغانستان کې سياسي او ډيپلوماتيکې ګټې درلودلې. چين په دغه پړاو کې د خپلو مرستو له کبله په افغانستان کې خپلې موخې ته ورسيد؛ ځکه افغانستان په ۱۹٦۸، ۱۹۷۲ او وروسته د سردار داوود خان د جمهوريت په کلونو کې د شورويانو د ګډ اسيايي کمربند برخه نه شول.د دې ترځنګ افغانستان د شوروي او چين په سره جګړه کې هم ناپېيلی و او هم يې د چين او هند سره او ګرمه جګړه د ناپېيلتوب غورځنګ او ناپېيلو هېوادونو په ګټه نه ګاڼه. له دې سره يې په ملګرو ملتونو کې د چين د خلکو جمهوريت له استازيتوبه ملاتړ کاوه.

خو کله چې په هېواد کې د ثور کودتا رامنځته شوه او وروسته په ۱۹۷۹ کال کې شوروي پر افغانستان يرغل وکړ، نو دې حالت چين اندېښمن کړ او د شورويانو د

یرغل پرضد یې تود غبرګون وښود، چې یادونه یې په دویم فصل کې وشوه. دغه حالت نه یوازې دا چې د چین امنیت ته ګواښ و، بلکې په دویم قدم کې یې د چین ستراتیژیک ملګری پاکستان هم له ګواښ سره مواجه کاوه. له همدې کبله چین له افغان ملت او افغان مجاهدینو ملاتړ وکړ او دغه ملاتړ یې د شورویانو تر وتلو روان وساته. له همدې ځایه ده، چې په دغه پړاو کې د چین امنیتي ګټې هم په افغانستان کې رابرسېره شوې.

په ۱۹۸۹ کال کې چې کله د شوروي اتحاد سرتېري له افغانستانه ووتل، نو چین بیا یو داسې افغانستان غوښت، چې پکې یو پراخ بنسټیز حکومت رامنځته شي او له کبله یې ډېری افغان کډوال هم له پاکستانه خپل هېواد ته ستانه شي؛ خو کله چې په افغانستان کې کورنۍ جګړه ونښته او ورسره هممهاله د چین په سینکیانک ولایت کې هم د ختیځ ترکستان ګوند له خوا اړ دوړ پیل شو، نو چین دغه وضعیت اندېښمن کړ. په افغانستان کې د ۱۹۹۰ لسیزې پرمهال د مخدره توکو قاچاق هم پیل شو. د چینایانو په اند د مخدره توکو قاچاق نه یوازې دا چې په چین کې خلک روږدي کول، بلکې د چینایانو په اند د مخدره توکو له تجارته د ختیځ ترکستان ګوند هم ګټه ترلاسه کوله. له دې سره چین د منځنۍ اسیا په نویو جمهوریتونو هم لېوالتیا واخیسته او له همدې ځایه یې چین په ۱۹۹۶ کال کې د شانګهای-۵ تنظیم بنسټ کېښود، ترڅو د مخدره توکو قاچاق، توندلارۍ، تروریزم، بیلتون پالنې مخه ونیسي او په همدې موخه یې افغانستان ته د طالبانو د دورې پرمهال پلاوي هم راولېږدول.

دا چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې په افغانستان کې د چین ګټې څه وې، اندېښنې یې څه دي او په دې تړاو یې بهرنی سیاست څرنګه دی، په دغه فصل کې هڅه شوې، چې دغو پوښتنو ته ځواب ووایو.

دغه فصل پر درېیو برخو وویشو:

۱. په افغانستان کې د چین ګټې (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې)؛
۲. په افغانستان کې د چین اندېښنې (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې)؛
۳. د افغانستان په تړاو د چین بهرنی سیاست (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې).

## لومړی برخه: په افغانستان کې د چین ګټې (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې)

په افغانستان کې د چین ګټې تر درېیو عنوانو لاندې تحلیلوو: لومړی، امنیتي ستونزه چین ته تر ټولو زیاته د ارزښت وړ ده؛ دویمه بیا د اقتصادي سکالو لاندې یو شمېر ګټې دي؛ په درېیمه برخه کې بیا د چین نړیوالو ګټو ته اشاره شوې.

## امنیتي ګټې

چین په افغانستان کې امنیتي ګټې لري، دوی ته د افغانستان ثبات او یو داسې افغانستان ارزښت لري، چې پراخ بنسټیز، له توندلارۍ پاک، د تروریزم او مخدره توکو له صادرولو څخه عاجز وي؛ ځکه په افغانستان کې ناامني او بې ثباتي نه یوازې دا چې د دوی په داخلي چارو اغېزه ښندي، بلکې په سیمه ییزه او نړیواله کچه هم د دوی ګټې تر یو څه حده ګواښي.

دا چې د افغانستان ناامني او بې ثباتي به د چین پر داخلي چارو، سیمه ییزو او نړیوالو ګټو څه ډول اغېزه وښندي، په لاندې ډول بیان شوې:

## د افغانستان امنیت او د چین داخلي چارې

**سینکیانګ او د ختیځ ترکستان ګوند**: د یو چینایي څېړونکي (ژاو هوشینګ) په اند «د افغانستان په اړه چینایي تګلاره تر ډېره په سینکیانګ کې د ثبات او امنیت له چیني اوبه څښي»[۳٦۸]. دی زیاتوي ”که څه هم چین په افغانستان کې نورې ارزښتناکې اقتصادي ګټې هم لري؛ خو دغه ګټې بیا چین ته د ډېر ارزښت وړ نه دي. چین د ختیځ ترکستان ډله د سینکیانګ د داخلي امنیت او ثبات ته تر ټولو لوی ګواښ بولي او افغانستان د دغه ولایت لپاره له بهره جدي خطر ګڼي“[369] ځکه ”د سینکیانګ او افغانستان ترمنځ اړیکې حتمي دي (دواړه ګاونډیان دي) او افغانستان د سینکیانګ پر

۳٦۸ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stances and Perspectives, Centre for Strategic and Regional Studies, 2012, pp: 3

۳٦۹ تېر ماخذ

امنيت ژوره اغېزه ښندلای شي. او د ختيځ ترکستان او د طالبانو او القاعدې ترمنځ اړيکې له ۱۱ سپټامبر څخه دمخه هم موجودې وې، چې هغه مهال به طالبانو د ختيځ ترکستان ډلې ته وسلې او هغ، کسانو ته پټنځايونه ورکول، چې له چين به تښتيدل".[۳۷۰] د دې ترڅنګ دغه چينايي ليکوال، طالبان د چين د ختيځ ترکستان حرکت ته يو روحاني ځواک هم ګڼي[۳۷۱]. که څه هم په دې اړه چې د طالبانو د امارت پرمهال څومره يغور بيلتون خوښي په افغانستان کې شتون درلود، څېړنه نه شته؛ خو په دې اړه ارقام له يو بل سره توپير لري. په ۱۹۹۹ کال کې يو چينايي پروفيسور څېړنه وکړه او ويې ويل چې تقريباً ۱۰ زره چينايي يغوري مسلمانان پاکستان ته د ديني زده کړو او نظامي تمريناتو لپاره تللي دي[۳۷۲]. د ۲۰۰۲ کال د مې په مياشت کې د چين حکومت بيا ادعا وکړه، چې تقريباً ۱۰۰۰ يغوري مسلمانانو د طالبانو په دوره کې روزنه ترلاسه کړې وه او ځينې يې چين ته هم د بيلتون غوښتنو په تړاو بېرته ګرځېدلي وو[۳۷۳]. همدا راز چينايي حکومت دا هم وايي، چې د امريکايانو له بريدونو سره په افغانستان کې تقريباً ۲۰ يغوريان ووژل شول او تقريباً ۳۰۰ نور بيا د امريکايانو لخوا ونيول شول هم، او په دغو کې ۲۲ يغوري بنديان د ګوانتنامو زندان ته هم ورسېدل[۳۷٤].

په افغانستان کې د امريکا پوځي بريدونو له کبله يغوري مسلمانان له افغانستان څخه د پاکستان قبايلي سيمو ته کډه شول او د ۲۰۰۲ کال د جون په مياشت کې په واشنګټن کې د چين نظامي اتشې وويل، چې په افغانستان کې تقريباً ۴۰۰ يغوريان پر وسله واله مبارزې بوخت دي[۳۷۵].

د چينايي څېړونکي ژاو هوشينګ په اند چين د دې وړتيا لري، چې د ختيځ ترکستان وسله والې مبارزې ننګونې ته ټينګ شي؛ خو په بشپړه توګه له دغې ستونزې څخه خلاصون اوس هم ورته ستونزمنه برېښي. له همدې ځايه ده، چې په راتلونکي کلونو کې به د چين لپاره د ختيځ ترکستان او يغوري مسلمانانو وسله واله مبارزه يوه سرخوږی

۳۷۰ تېر ماخذ

۳۷۱ تېر ماخذ

۳۷۲ S. Frederick Starr, Xinjiang: China's Muslim Borderland, New York: Routledge, 2015, pp: 342

۳۷۳ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stances and Perspectives, Centre for Strategic and Regional Studies, 2012, pp: 3; S. Frederick Starr, Xinjiang: China's Muslim Borderland, New York: Routledge, 2015, pp: 342

۳۷٤ تېر ماخذونه

۳۷۵ S. Frederick Starr, Xinjiang: China's Muslim Borderland, New York: Routledge, 2015, pp: 342

وي. لـه دې خـبرې سره يـو چينايـي څېړونکـی زاو هوشـينګ هـم همغـږی دی او وايـي د ارومچـي-- چـې د سـينکيانک مرکـز دی-- د ۲۰۰۹ کال اړ دوړ ښـيي چـې د چيـن لپـاره د ختيـځ ترکسـتان ګونـد څومره ګواښـونکی دی؛ ځکـه د رسـمي ارقامـو لـه مخـې پـه دغـه بلـوا او اړدور کـې تقريبـاً ۱۹۷ کسـان ووژل شـول، ۱۷۰۰ کسـان ټپيـان او لـه ۱٦۰۰ ځخـه ډېـر دوکانونـه او موټرونـه هـم وسـوځول شـول[۳۷٦]. لـه دې زياتـه نومـوړې وسـله والـې ډلـې پـه چيـن کـې لـه ۱۹۹۲ کال تـر ۲۰۰۱ کال پـورې تقريبـاً ۲۰۰ بريدونـه تـرسره کـړي دي[۳۷۷].

=

زمـوږ موضـوع پـه چينايـي ترکسـتان کـې د چينايـي کړنـلارې ارزونـه نـه ده او نـه هـم پـر مسـلمانانو د دغـې کړنـلارې بـدې اغېـزې شـننول دي، بلکـې دلتـه مـوږ دغـه موضـوع د چينايـي واکمنانـو، څېړونکـو او د سـتراتيژيک مرکزونـو د اندېښـنو او وېـرو لـه ليـده پرمـخ بولـې، چـې دوی د سـنکيانک ايالـت امنيـت لـه افغانسـتان سره تـړي؛ خـو بيـا هـم پـه چيـن کـې د ختيـځ ترکسـتان ګونـد د يـو شـمېر فعاليتونـو سره نومـوړې ډلـه د چيـن لپاره ډېـر زيات جـدي ګـواښ نـه شي بلـل کېـدای[۳۷۸]، بلکـې چيـن لـه دې پرتـه لـه نـورو جـدي ګواښـونو سره مواجـه دی، چـې د نـړۍ د ريښـتينوالې نظريـې امريکايـي مفکـر جـان ميرشـيمر پـه انـد پـه سـيمه کـې د امريـکا د (Pivot of Asia) اصلـي هـدف د چيـن اقتصـادي او سـياسي ځـواک مهـارول دي[۳۷۹]. خـو د بيلتـون پالنـې او تونـدلارۍ د هڅولـو تـر شـا پـه خپلـه د چينايانـو تـګلارې هـم رول لوبولـی دی.

د پاکسـتان د بهرنيـو چـارو وزارت پخوانـی مرسـتيال ريـاض محمـد خـان پـه خپـل کتـاب کـې د ختيـځ ترکسـتان ډلـې د تاريخ پـه اړه وايـي: "پـه ۹۰مـه لسـيزه کـې د معصـوم حسـن پـه مـشرۍ د ختيـځ ترکسـتان د اسـلامي تحريـک[۳۸۰] تـاداب کېښـودل شـو. خـو چـې څرنګـه د

۳۷٦ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stances and Perspectives, Centre for Strategic and Regional Studies, 2012, pp:3-4

۳۷۷ Channel 4, CCTV, on the spot report: the crimes of eastern Turkestan terrorist power, July 22, 2002. Cited and translation in: Yitzhak Shichor, Fact and Fiction: A Chinese Documentary on eastern Turkestan terrorism, China and Eurasia Forum Quarterly, Volume 4, No. 2, p: 89-108 and 'Al Qaida: Dead or captured', MSNBC, 22 June 2005

۳۷۸ د افغانستان د تحليل ګرانو شبکې له څېړونکي برهان عثمان سره د ليکوال مرکه (۲۰۱۵)

۳۷۹ د چيکاګو د امنيت پروژه کې د پروفيسور جان ميرشيمر او يان زوتانګ د بحث په غونډه کې جان ميرشيمر پورته ادعا وکړه، د بحث کتلو لپاره وګورئ:
https://www.youtube.com/watch?v=Qwb-oF۳۳Rs۰

۳۸۰ East Turkistan Islamic Movement

سینکیانک په ولایت کې یو شمېر له تاوتریخواله ډکه پېښې رامنځته شوې او دا ګوند په دغو پېښو کې تورن شو، نو چین د دغه تحریک پرضد جدي ګامونه پورته کړل او له دې امله دغه نوی تاسیس شوی ګوند د منځنۍ اسیا پر لور ولاړ او بیا له هغه ځایه د طالبانو د امارت پرمهال افغانستان ته راغلل"[381]. په افغانستان کې د چینایي مسلمانانو شتون د چین لپاره د اندېښنې وړ و. په همدې تړاو د طالبانو د امارت پرمهال (په تېره بیا په ۱۹۹۹ کال کې) چینایانو له طالبانو سره خپله دغه اندېښنه شریکه کړه، او ترڅنګ یې له دوی وغوښتل، چې د چین ولایت سینکیانک ته د مخدره توکو لېږد بند کړي؛ ځکه د دوی په اند د مخدره توکو قاچاق د یغور او سینکیانک له مسلمانانو سره مرسته کوله[۳۸۲] او د دې ترڅنګ چینایي ډیپلوماتانو طالبانو ته دا هم وویل: " یغوري مسلمانانو چې کومې وسلې او چاودنیز مواد په چین کې د چینایي امنیتي ځواکونو پرضد استعمال کړي له افغانستانه راغلي وو". که څه هم طالبانو د چینایانو دا تورونه رد کړل خو له دې سره یې بیا هم وویل، چې "یو شمېر یغوري مسلمانان له یولداشیف او بن لادن سره دي"[383]. له همدې ځایه د پاکستان پخوانی ډیپلومات ریاض احمد خان دغه پورتنی لامل د دې وړ ګڼي، چې چینایانو د طالبانو حکومت په رسمیت ونه پېژنده او په ملګرو ملتونو کې یې د استاد رباني له استازي څخه ملاتړ کاوه[۳۸٤].

د یو چینایي څېړونکي په اند "چین له افغانستان سره د واخان په تړانګه کې نښتی دی او په افغانستان کې به سیاسي بدلون په نېغه یا نانېغه ډول پر چین اغېزې وښندي، په تېره بیا پر سینکیانک .دغه راز د دواړو هېوادونو د وسله والو مخالفینو ترمنځ همکاري هم له امکانه لرې نه برېښي. افغانستان چې ګڼ قومیز هېواد دی، پښتون په سویله، تاجک او ازبک په شمال کې استوګن دي. په یوه داسې هېواد کې د یوه عمده سیاسي پرمختګ له پېښېدو سره به د پولو دواړو خواو خلک اغېزمن شي"[385]. دغه چینایی څېړونکی په دې اند دی، چې په حقیقت کې "توکمیز بېلتونپال" او "مذهبي بنسټپال" تل هڅه کړې، چې له خپلو افغاني ورونو ملاتړ او پټنځایونه ترلاسه

---

۳۸۱ ریاض احمد خان، افغانستان اور پاکستان: تصادم، انتهاپسندي، اور عهد جدید سې مزاحمت، لاهور: القا پبلیکشنز، مخ ۱۷۷

۳۸۲ Ahmed Rashid, The Taliban: Exporting Extremism, Foreign Affairs, November/December Issue

۳۸۳ تېر ماخذ

۳۸٤ ریاض احمد خان، ۲۰۱۲، مخ ۱۷۷

۳۸۵ Zeng Xiangyu, Afghanistan and regional security: Implications for China, Perspectives, Volume 8, July/December Issue, P:65-71

کړي. د چينايي څېړونکي په اند که چېرې داسې وشي، نو دا به په نېغ او يا نانېغ ډول پر چين اغېزې وکړي. له دې سره جيو-پوليټيکي بدلونونه هم هغه نور لاملونه دي، چې بايد تر نظر لاندې ونيول شي[۳۸٦]. که څه هم دا لا تر اوسه معلومه نه ده، چې په افغانستان او پاکستان کې د ختيځ ترکستان ډلې څومره کسان پر وسله والې مبارزې بوخت دي، خو شتون يې ډېرى تاييدوي. په افغانستان کې د امريکايانو له بريدونو سره، د ختيځ ترکستان ډېرى غړي د پاکستان په قبايلي سيمو کې پناه واخيسته. په ۲۰۰۳ کال کې د دغه گوند مشر حسن معصوم په شمالي وزيرستان کې د پاکستاني ځواکونو سره په نښته کې ووژل شو. له دې وروسته د دغه گوند مشر عبدالحق وټاکل شو او القاعدې هم ده ته په ۲۰۰۵ کال کې په خپله شورا کې غړيتوب ورکړ. په ۲۰۱۰ کال کې د ده د مرگ خبرونه خپاره شول، چې دی په شمالي وزيرستان کې د امريکايانو په يو ډرون بريد کې ووژل شو؛ خو د ختيځ ترکستان گوند له خوا په رسمي توگه دغه خبر تاييد نه شو او وروسته په ۲۰۱۴ کال کې نوموړي گوند د عبدالحق يوه ويډيو خپره کړه، چې دی پکې غږيد. دغې ويډيو څرگنده کړه، چې عبدالحق د ۲۰۱۰ کال په بريد کې سخت ټپي شوی و، خو مړ شوی نه و[۳۸۷].

د پاکستاني استخباراتو په اند په پاکستان کې تقريباً له ۳۰۰ تر ۴۰۰ تنو د ختيځ ترکستان غړي شته دي[۳۸۸]، د ختيځ ترکستان گوند هم په افغانستان او پاکستان کې د خپل موجوديت په اړه خپلې ويډيوگانې خپروي[۳۸۹]. له دې وراخوا، د دغه گوند غړيو

۳۸٦ Zeng Xiangyu, Afghanistan and regional security: Implications for China, Perspectives, Volume 8, July/December Issue, P:65-71

۳۸۷ Bill roggio, Turkistan Islamic party emir thought killed in 2010 reemerged to lead group in 2014, long war journal ,11 June 2015, see it online:< http://www.longwarjournal.org/archives/2015/06/turkistan-islamic-party-emir-thought-killed-in-2010-reemerged-to-lead-group-in-2014.php>

۳۸۸ Zia ur rehman, ETIM's presence in Pakistan and China's growing pressure, NOREF: Norwegian peace building resource centre, Report August 2014, see it online:< http://www.peacebuilding.no/var/ezflow_site/storage/original/application/381280b226170116bb6f07dc969cb17d.pdf>

۳۸۹ په ۲۰۱۳ کال کې په پاکستان کې د ختيځ ترکستان گوند يوه ويډيو خپره کړه، چې يو ماشوم پکې ترينينگ ترلاسه کاوه، وگورئ:
Bill Roggio, Turkistan Islamic Party releases video of children in training, long war journal, 24 april 2013, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.longwarjournal.org/archives/2013/04/turkistan_islamic_pa_2.php>
په ۲۰۱۵ کال کې د ختيځ ترکستان گوند يوه ويډيو خپره کړه، چې د دوی په لاسونو کې يې د (Humvee) موټر نښودلی وو، وگورئ:
Caleb Weiss, Turkistan Islamic party captures humvee in afghanistan, long war journal, 22 feb 2015, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.longwarjournal.org/archives/2015/02/turkistan-islamic-party-captures-humvee-in-afghanistan.php>

ځانونـه سـوريې تـه هـم رسـولي او هلتـه د حـزب الـنصرة ترخنـګ د بشـار الاسـد پرضـد جنګيـږي او هلتــه يــې پــه جګــړو کــې مهــم رول هــم لوبولــی دی[۳۹۰].

دا چې چینایـان لـه دغـه ګونـده اندېښـنې لـري، لـوی لامـل يـې لـه طالبانـو سره د دغـه ګونـد بيعـت دی، چـې؛ ان هغـه سـوريې تـه د دغـه ګونـد تللـي کسـانو هـم لـه مـلا محمـد عمـر سره بيعـت اعـلان کـړی دی[۳۹۱] او لـه القاعـدې سره هـم د دغـه ګونـد نـږدې اړيکـې دي. لـه دې سره د دغـه ګونـد مـشر، عبدالحـق، څـو ځلـه چينايانـو تـه ګواښـونه کـړي[۳۹۲] او هـم يـې پـه چيـن کـې د ډېـرو چاودنـو ستاينه کـړې او خپلـه هـم پـه ځينـو چاودنـو کـې متهـم دی[۳۹۳].
پـه نويمـه لسـيزه کـې دغـه ګونـد د سـينکيانګ پـه ايالـت کـې وسـله وال پاڅـون پيـل کـړ او بيـا پـه بېلابېلـو چاودنـو او وژنـو کـې متهـم شـو. د چينايـي سرچينـو لـه مخـې د ختيـځ ترکسـتان ګونـد لـه ۱۹۹۰ کال تـر ۲۰۰۱ کال پـه ۲۰۰ تروريسـتي پېښـو کـې ښـکېل وو، چـې بيـا د دغـو پېښـو لـه کبلـه ۱۶۲ تنـه ووژل شـول او ۴۴۰ زخميـان[۳۹٤]. خـو يـوازې پـه ۲۰۱۴ کال کـې تقريبـاً ۱۸۷ کسـان پـه بېلابېلـو پېښـو کـې ووژل شـول[۳۹۵].

۳۹۰ Caleb Weiss, Turkistan Islamic party had significant role in recent Idlib offensive, long war journal, 30 April 2015, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.longwarjournal.org/archives/2015/04/turkistan-islamic-party-had-significant-role-recent-idlib-offensive.php>

۳۹۱ Caleb Weiss, Turkistan Islamic party had significant role in recent Idlib offensive, long war journal, 30 April 2015, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.longwarjournal.org/archives/2015/04/turkistan-islamic-party-had-significant-role-recent-idlib-offensive.php>

۳۹۲ د ۲۰۰۸ کال بيجينګ اولمپيک مقابلو پرمهال ده ګواښ کړی و، چې په دغه کې به چاودنې وکړي. وګورئ:
Tania Branigan, Olympics threatened by Islamic separatists, The Guardian, 27 July 2008, retrieved at 3 June 2015, see it online:< http://www.theguardian.com/sport/2008/jul/27/olympicgames2008.terrorism>
او په ۲۰۰۹ کال کې يې اعلان کړی و، چې په نړېواله کچه به د چين سفارتخانې په نښه کوي. وګورئ:
Bill roggio, Chinese terrorist leader abdul haq al turkistani is dead: Pakistani interior minister, long war journal, 7 May 2010, see it online:< http://www.longwarjournal.org/archives/2010/05/chinese_terrorist_le.php>

۳۹۳ دا چې د ختيځ ترکستان ګوند په کومو پېښو کې متهم دی، په دې اړه د بيلګې په ډول وګورئ:
http://www.china.org.cn/china/xinjiang/unrest_2009-07/24/content_18198088.htm

۳۹٤ "East Turkistan" Terrorist Forces Cannot Get Away With Impunity". PRC State Council. 2002-01-21. Retrieved 2015-02-15 from :< http://www.china.org.cn/english/2002/Jan/25582.htm>

۳۹۵ د مارچ په لومړۍ نېټه د کنمينګ په رېلوې سټيشن کې چاودنه وشوې، چې له کبله يې ۳۱ کسان ووژل شول او ۱۴۱ زخميان شول، وګورئ په دغه لينک کې: "Three get death for China train station attack".Reuters. Reuters. 2014-09-12.
د ۲۰۱۴ کال د مې په ۲۲مه په ارومچې کې دوه چاودنې وشوې، چې له کبله يې ۳۱ کسان ووژل شول او ۹۰ زخميان شول، وګورئ: Denyer, Simon (2014-05-22). "Terrorist attack on market in China's restive Xinjiang region kills more than 30". The Washington Post. Retrieved 2014-05-22.
د ۲۰۱۴ کال په ۲۸ جولای په سنکيانک کې ۳۷ ملکي کسان ووژل شول، وګورئ: "Xinjiang violence: China says 'gang' killed 37 last week" BBC News, August 3, 2014

همدا راز په ۲۰۰۹ کال کې د ۱۰۰۰ يغوري مسلمانانو له خوا د سينکيانک ايالت په مرکز ارومچي کې پاڅون وشو، چې بيا د همدغه پاڅون په اړ ودوړ کې 197 کسان ووژل شول او 1600 کسان زخميان شول[۳۹۶]. وروسته په ۲۰۱۱، ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ کلونو کې هم په ارومچي کې يو شمېر چاودني وشوې او په ۲۰۱۳ کال کې هم له سلو زيات کسان پکې ووژل شول، په ډېرى توګه د دغو وژنو او چاودنو تر شا د ختيځ ترکستان ګوند ته ګوته نيول کېده.

له همدغه ځايه ده چې چين په افغانستان کې ناامنۍ او يو داسې حکومت چې يغوريانو ته پکې پټنځايونه ورکړي، مخالفت کوي. له ۲۰۰۱ کال راهيسې چينايي چارواکو له افغاني چارواکو سره په خپلو خبرو اترو کې ډېر پر دې ټينګار کړی، چې بايد په ګډه توګه د تروريزم، تونډلارۍ، بېلتون‌پالنې او د مخدره توکو قاچاق پرضد مبارزه وکړي. ان په ۲۰۱۴ کال کې د چين د بهرنيو چارو وزارت وياند وويل، چې د چين حکومت په رسمي توګه د ختيځ ترکستان ګوند د چين او نړۍ لپاره يو ترهګريز ګواښ بولي[۳۹۷].

اوس چې په افغانستان کې د داعش تحريک ظهور کړی او يو شمېر جهادي تنظيمونو هم د داعش پر لور مخه کړې، دغه حالت به هم د چينايي چارواکو لپاره د اندېښنې وړ وي. دوی به له دې وېره ولري، چې د ختيځ ترکستان اسلامي ګوند غړي له داعش سره بيعت ونکړي؛ ځکه که د ختيځ ترکستان يغوري مسلمانان همداسې له طالبانو سره پاتې شي، نو چين ته به په راتلونکي وختونو کې اسانه وي، چې د [پاکستان او خپله] پر طالبانو د خپل نفوذ له کبله له دوی سره روغه جوړه وکړي[۳۹۸]؛ خو که چيرې د چين يغوري مسلمانان له داعش سره بيعت وکړي، نو دا به چين ته سرخوږی زيات

د ۲۰۱۴ کال د سپتامبر پر ۲۱مه په ارومچي کې ګڼ شمېر چاودنې وشوې، چې له کبله يې ۵۰ کسان ووژل شول، وګورئ:
http://www.nytimes.com/2014/09/26/world/asia/death-toll-in-xinjiang-violence-may-be-higher-than-reported.html?_r=0

د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر پر ۱۲مه څلور يغوريانو په سنکيانک کې بريدونه وکړل چې له کبله يې ۲۲ کسان وژل شول، وګورئ: http://www.rfa.org/english/news/uyghur/attack-10182014194433.html

همدا راز نورې پېښې.

۳۹۶ Xinhua Net, Innocent civilians make up 156 in Urumqi riot death toll, 5 August 2009, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://news.xinhuanet.com/english/2009-08/05/content_11831350.htm>

۳۹۷ 'Foreign Ministry Spokesperson Hong Lei's regular Press conference on November 13, 2014', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, 13 Nov 2014, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/xwfw_665399/s2510_665401/t1210596.shtml>

۳۹۸ د افغانستان د تحليل ګرانو شبکې له څېړونکي ښاغلي برهان عثمان سره د ليکوال مرکه (۲۰۱۵)

کړي؛ څکه طالبانو ورته بيا هم پخې ژمنې ورکړي، چې د افغانستان خاوره به د چين پرضد نه استعماليږي.

## سينکيانک او د قاشغر ځانګړی اقتصادي زون

کله چې په ۲۰۰۹ کال کې په ارومچي او سنکيانک ايالت کې اړ و دوړ پيل شو او له کبله يې ډېرى کسان ووژل شول، نو د چين حکومت په غبرګون کې له يوې خوا د يغوري مسلمانانو پرضد کلک امنيتي ګامونه پورته کړل او له بلې خوا يې په ۲۰۱۰ کال کې د سنکيانک ايالت د قاشغر ښار د يو ځانګړي اقتصادي زون په توګه اعلان کړ، ترڅو دغه سيمه په اقتصادي توګه پرمختللې کړي او له کبله يې ځان له يغوري ستونزې د تل لپاره خلاص کړي. څکه دوی په دې اند و، چې د اقتصادي پرمختګ سره به په سنکيانک کې حالات ښه شي.

د ځانګړي اقتصادي زون له اعلانولو سره، د چين حکومت په دغه ځای کې پانګوالو ته خدمات ورکول پيل کړل، همدا راز بهرنيو پانګوال يې هم له ماليې معاف کړل او اقتصادي هلې ځلې يې د مارکېټ د دوو ځواکونو (تقاضا او عرضه) له خوا وبلل (د آزاد مارکېټ اقتصاد). څکه چين غواړي دغه سيمه پر نړيوال تجارت متکي کړي،) او د دغې سيمې اقتصادي توکي بايد صادراتي بڼه ولري.

د ۲۰۱۴ کال د اپريل په مياشت کې د کرغزستان او قاشغر ځانګړي اقتصادي زون ترمنځ يو تړون لاسليک شو، چې له مخې به يې دواړه لوري په سوداګرۍ کې له يوه بل سره همکاري کوي[۳۹۹]. څکه چين غواړي، چې منځنۍ اسيا ته يې سوداګري له قاشغر وشي (منځنۍ اسيا ته تر ټولو نږدې لاره همدا د قاشغر او سينکيانک لاره ده)، چې دا به له يوې خوا د سينکيانک ايالت په اقتصادي توګه پرمختللی کړي او له بلې خوا به پر چين د ترانسپورت اضافي لګښتونه هم رانشي.

د قاشغر ځانګړی اقتصادي زون به تر ۲۰۲۰ کال بشپړ شي؛ خو د چين حکومت يې اوسمهال زيربناوو ته ډېره پاملرنه کوي او په دې تړاو هلته د ريل پټليو، سړکونو او هوايي ډګرونو په جوړولو بوخته ده. په دغو پروژو کې د پاکستان-چين انرژۍ حوزه،

---

۳۹۹ Kabar News, Naryn and Kashghar free economic zones signed agreement on trade and economic cooperation, 1 April 2014, retrieved at 20 June 2015, see it online:< http://kabar.kg/eng/economics/full/9593>

چین-کرغزستان-ازبکستان رېل پټلۍ او افغانستان-چین سړک باندې کاروانه روان دي. چینایان غواړي، چې دغه سیمه په یو سیمه ییز ترانزیتي او سوداګریز مرکز بدل کړي او له دغه ځایه له پاکستان، افغانستان، او منځنۍ اسیا سره خپله سوداګري زیاته کړي.

په همدې تړاو د ۲۰۱۴ کال د مې په میاشت کې بیجینګ وویل، چې ۵۳ حکومتي شرکتونه به په سینکیانګ کې په ٦۸۵ پروژو کې تر ۳۰۰ میلیارد ډالرو پورې پانګونه کوي. وروسته د چین کابینې هم د جون په میاشت کې اعلان کړه، چې ۱۳۰ میلیارډ ډالره به د سینکیانګ سړکونو، لویې لارو او ریل پټلیو ته ځانګړې کړي[٤٠٠].

سینکیانګ او د قاشغر ځانګړې اقتصادي زون، چې له افغانستان سره پوله لري او په سیمه کې توندلارې ډلې لکه د ازبکستان اسلامي غورځنګ، د ختیځ ترکستان ګوند، داعش، پاکستاني طالبان او نورې جهادي ډلې شتون ولري، نو د چین د دغو پلانونو په لاره کې بهخنډ وګرځوي. .

## داعش ډله په افغانستان کې

د ۲۰۱۴ کال د جون پر ۲۹مه داعش یا دولت اسلامي په عراق کې د خلافت اعلان وکړ، چې د اسلامي نړۍ ډېرى هېوادونو ورسره مخالفت څرګند کړ. دا حرکت د منځني ختیځ د حالاتو او په تېره بیا د شام وروستیو جګړو زېږنده وه.

د ۲۰۱۴ کال د جولای پر ۴مه ابوبکر البغدادي د روژې په میاشت کې مسلمانانو ته په خپل پیغام کې وویل: ”په چین، هند، فلسطین... کې د مسلمانانو حقونه په زوره ځپل کېږي“ [٤٠١] او ”په ټوله نړۍ کې ستاسو ورونه د نجات لپاره ستاسو په انتظار کې دي او ستاسو غونډونو ته هیله من دي“[402].

وروسته چې کله دولت اسلامي شمالي عراق ته نږدې شو، نو چین تقریباً ۱۲۰۰ چینایي

٤٠٠ Edward Wong, China invests in region rich in oil, coal and also strife, The New York Times, 20 Dec 2014, retrieved at 18 June 2015, see it online:< http://www.nytimes.com/2014/12/21/world/asia/china-invests-in-xinjiang-region-rich-in-oil-coal-and-also-strife.html>

٤٠١ د ابوبکر البغدادي د وینا لپاره ولولئ، په دغه لینک کې یې د انګریزي ژباړه: https://ia902501.us.archive.org/2/items/hym3_22aw/english.pdf

٤٠٢ تېر ماخذ

مزدوران د سمرې له ښاره بغداد ته انتقال کړل[۴۰۳] او وروسته يې ۱۰ زره کارکوونکي هم خونديو ځايونو ته ورسول. له دې سره د جولای پر ۷مه د چين د منځني ختيځ استازي عراق ته ولاړ او هلته يې له عراقي لومړي وزير سره وليدل او د عراق خپلواکۍ، ملي حاکميت او د ترورېزم پرضد په مبارزه کې يې تړي ملاتړ څرګند کړ[۴۰۴].

د دې ترڅنګ په مطبوعاتو کې داسې خبرونه هم خپاره شول، چې يو شمېر چينايانو د داعش په ليکو کې ګډ شوي[۴۰۵] او دا بيا چين ځان ته ديو حقيقي او نېغ ګواښ بولي[۴۰۶]. ځکه د دوی په ګمان د داعش په ليکو کې ګډ شوي چينايان به بېرته راګرځېږي او دوی به بيا له تحديدونو سره مخ کوي[۴۰۷].

په پيل کې په افغانستان کې هم د داعش د شتون په اړه بېلابېل خبرونه خپاره شول، وروسته بيا يو شمېر پاکستاني طالبانو له داعش سره بيعت هم وکړ، له دې وارخوا عبدالرحيم مسلم دوست، چې يو افغان ليکوال او د ګوانتنامو زنداني و، هم له داعش سره بيعت وکړ (خو وروسته تري بيا ووت). په افغانستان کې د داعش د شتون له خبرونو څو مياشتې وروسته د داعش او طالبانو ترمنځ نښتې ونښتې، چې له کبله يې بيا طالبانو د داعش امير ابوبکر بغدادي ته يو ليک هم واستاوه او داعش د طالبانو د ليک په ځواب کې خپل تود غبرګون وښود. اوس د طالبانو او داعش ترمنځ جګړه نښتې ده. په افغانستان کې د داعش شتون به په نېغ ډول پر چين اغېزه وښندي، هغه هم په يوه داسې مهال کې، که چېرې د طالبانو او افغان دولت ترمنځ سوله وشي، نو شايد د ختيځ ترکستان ګوند چې اوس هم له ملا محمد عمر سره بيعت لري د داعش په ليکو کې ګډ شي. د دې ترڅنګ، په بل اړخ کې له داعش سره د

٤٠٣ Radio Free Europe Radio Liberty, 1200 Chinese Evacuated from Iraq, 28 June 2015, retrieved at 8 June 2015, see it online:< http://www.rferl.org/content/china-iraq-/25438241.html>

٤٠٤ 'China supports Iraq to maintain sovereignty, calls for inclusive gov't: envoy', People China, 8 July 2014, retrieved at 9 June 2015, see it online:< http://en.people.cn/n/2014/0708/c90883-8752123.html>

٤٠٥ Tribune, Joining the ranks: about 300 Chinese fight alongside ISIS, 16 Dec 2014, retrieved at 7 June 2015, see it online:< http://tribune.com.pk/story/807410/joining-the-ranks-about-300-chinese-fight-alongside-isis/>

٤٠٦ 'Foreign Ministry Spokesperson Hua Chunying's regular press conference on September 10, 2014', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, 10 Sep 2014, retrieved at 11 June 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/xwfw_665399/s2510_665401/t1189900.shtml>

٤٠٧ Heather Saul, Chinese Uighurs 'join ISIS overseas and return to take part in terror plots', officials claim, The Independent, 11 March 2015, retrieved at 15 May, see it online:< http://www.independent.co.uk/news/world/asia/chinese-uighurs-join-isis-overseas-and-return-to-take-part-in-terror-plots-officials-claim-10099674.html>

ازبکستان اسلامي تحریک ګوند بیعت په منځنۍ اسیا کې د چین ګټې هم له خطر سره مخ کولای شي، هغه هم په داسې مهال چې د ازبکستان اسلامي غورځنګ د ختیځ ترکستان ګوند سره نږدې اړیکې لري.

چین هم د داعش د ویرې له کبله لومړی د عراق لومړي وزیر نوري المالکي ته د ملاتړ شین څراخ ورکړ او بیا یې له افغانستان سره د ۲۰۱۵ کال د مې په میاشت کې د تروریزم پرضد په جګړه کې د همکارۍ تړون وکړ. د افغانستان له خوا پرې د داخله چارو وزیر علومي او د چین له خوا پرې د پولیت بیورو غړي او د استخباراتو مشر مېنګ جیانزو لاسلیکونه وکړل[٤٠٨].

## د سینکیانک طبیعي زېرمې

د چین سینکیانک ایالت د چین ۴۰ سلنه د سکرو ډېرو زیرمې لري، چې دا بیا ۲۷ میلیونه ټنه جوړېږي[٤٠٩]. همدا راز د تیلو ۲۱ میلیاردو ټنو د تېلو زیرمې لري، چې د چین د تېلو مجموعي زیرمو 20 سلنه ده[٤١٠] او د غازو ۱۰.۸ ترلیونه مکعب متر منابع لري[٤١١].

د چین اقتصادي وده، چې له تېرو څو لسیزو راهیسې ۱۰ سلنه ده او د راتلونکو کلونو لپاره یې هم له ۷ سلنه څخه زیاته اقتصادي وده اټکل شوې به د خپل اقتصاد او اقتصادي پرمختګ لپاره لا ډېرې انرژۍ ته اړتیا ولري. په دې تړاو چین د روسیې او منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د نلیکو غځولو تړونونه لاسلیک کړي دي. خو بیا هم، چین به د هېواد دننه طبیعي زیرمو ته هم پاملرنه وکړي، چې د دې لپاره بیا امنیت او ثبات ارزښتناک دی.

---

٤٠٨ Mirabed Joyenda, Olomi signs security, Anti-Drug Agreement with China, TOLO News, 17 May 2015, retrieved at 20 May 2015, see it online:< http://www.tolonews.com/en/afghanistan/19569-olomi-signs-security-anti-drug-agreement-with-china>

٤٠٩ 'Xinjiang Uyghur autonomous region', The Australia-China Chamber of Commerce and Industry of New South Wales, retrieved at 18 June 2015, see it online:< http://www.accci.com.au/keycity/xinjiang.htm>

٤١٠ Edward Wong, China invests in region rich in oil, coal and also strife, The New York Times, 20 Dec 2014, retrieved at 18 June 2015, see it online:< http://www.nytimes.com/2014/12/21/world/asia/china-invests-in-xinjiang-region-rich-in-oil-coal-and-also-strife.html>

٤١١ Xinhua News, Xinjiang Becomes China's Second Largest crude oil producer, 2 Jan 2009, retrieved at 19 June 2015, see it online:< http://english.sina.com/business/2009/0102/208741.html>

## د نشه‌يي توکو قاچاق

په چين کې د مخدره توکو قاچاق کومه نوې ستونزه نه ده، بلکې د چين تاريخ د له دغې ستونزې سره له پخوا اشنا دی. چين د همدغې ستونزې له کبله له انګريزانو سره په نولسمه پېړۍ کې دوه ځله جګړې هم کړي او اوس هم ورته د مخدره توکو قاچاق يو سرخوږی دی. په چين کې د مخدره توکو قاچاق له دوو لارو کېږي، چې يوه ته يې دوی (Golden Triangle) او بل ته يې (Golden Crescent) وايي. په (Golden Triangle) کې د لاوس، ماينمار او تهای لينډ هېوادونه راځي او په (Golden Crescent) کې بيا افغانستان، پاکستان او ايران راځي. په ډېرى توګه په چين کې د مخدره توکو قاچاق د (Golden Triangle) له لارې کېږي او د (Golden Crescent) له لارې بيا ډېر کم کېږي. په همدې تړاو د چين کابينې په خپل ۲۰۱۴ کال راپور کې وويل، چې په چين کې چې په ۲۰۱۴ کال کې څومره مخدره توکي ضبط شول، ۹۰ سلنه يې په (Golden Triangle) ته نږدې سيمو کې وشول او پاتې بيا د (Golden Crescent) په سيمو کې. په دغه راپور کې راغلي، چې له ۱۱.۴ ټنه ضبط شويو هيروينو څخه ۹.۳ ټنه د لاوس، ماينمار او تهای لينډ په سيمو کې وشول او پاتې نور بيا (Golden Crescent) سيمو ته نږدې ضبط شوي وو[٤١٢].

خو بيا هم دغه لاره يعنې (Golden Crescent) د چين لپاره بالقوه ګواښ دی؛ ځکه د نړۍ ډېرى مخدره توکي دلته پيدا کېږي او د يوې ادعا له مخې چين ته تقريباً له ۱۵ څخه تر ۲۰ ټنو پورې مخدره توکي قاچاق کېږي، چې دا بيا په چين کې د مخدره توکو له ۲۰ څخه ۲۵ سلنه جوړوي[٤١٣]، چين هم همدې ټکي ته پام دی؛ ځکه خو لومړی په ۱۹۹٦ کال کې د شانګهای-۵ سازمان د جوړېدو يوه موخه سيمه له مخدره موادو څخه پاکول وو او وروسته يې بيا د مخدره توکو قاچاق پرضد په ۲۰۰۱ کال کې د شانګهای سازمان بنسټ کېښود. له دې سره، د چين لوړ پوړو چارواکو هر ځل له افغانانو سره په کتنو کې د مخدره توکو پرضد په ګډې مبارزې ټينګار کوي او

٤١٢ Associated Press, China says ‘Golden Triangle’ source of most dangerous drugs, 24 June 2015, retrieved at 25 June 2015, see it onine:< http://www.dailymail.co.uk/wires/ap/article-3137067/China-says-Golden-Triangle-source-dangerous-drugs.html>

٤١٣ UNODC, Central Asia, retrieved at 25 June 2015, see it onine:< http://www.unodc.org/unodc/en/drug-trafficking/central-asia.html> and Ko-lin Chin and Sheldon X. Zhang, The Chinese Heroin Trade: Cross-Border Drug Trafficking in Southeast Asia and Beyond, New York: New York University Press, 2015, p: 53

د افغانستان او چین ستراتیژیک تړون په ٦مه ماده کې هم ورڅخه یادونه شوې ده.

## د افغانستان امنیت او د چین سیمه‌ییزې ګټې

افغانستان د نړۍ په نقشه کې په یوه داسې ځای کې شتون لري، چې تقریباً له دریو سیمو سره پوله لري، په شمال کې د منځنۍ اسیا له پنځو څخه دریو هېوادونو سره پولې لري او کیسپین سمندرګي ته هم نږدې دی. په سویل کې له سویلې اسیا سره نښتی دی او په لویدیز کې د ایران په مرسته منځني ختیځ او د هارمرز تنګي ته نږدې دی. نو ځکه په یوه داسې ځای کې لږ بدلون هم د سیمې پر جیو-پولیتیکي بدلونونو ژوره اغېزه ښندلای شي. دا چې د افغانستان امنیت او ثبات د چین پر کومو سیمه ییزو ګټو اغېزه وښندي، په لاندې ډول بیان شوې:

- **د پاکستان-چین اقتصادي حوزه**

په چین کې د شي جین پینګ له راتګ سره، ده خپل بهرنۍ سیاست په ډېرې توګه د وربښمو نوې لارې او د پاکستان-چین د اقتصادي حوزې په جوړولو متکي کړ. د ۲۰۱۵ کال د اپریل په میاشت کې چې کله د چین رئیس جمهور شي جین پینګ اسلام اباد ته په سفر ولاړ، نو پاکستانیانو له دغه سفر تود هرکلی وکړ. د دغه سفر پرمهال چین او پاکستان ۵۱ تفاهمنامې لاسلیک کړې او ترځنګ یې د پاکستان-چین د اقتصادي حوزې پر تړون یې هم لاسلیک وکړ، چې تر ۴٦ میلیارډو ډالرو پروژې به پکې وي. دا پیسې به په لاندې ډګرونو کې ولګول شي:

د انرژۍ په برخه کې به ۳۳.۷۹ میلیارده ډالره؛ د سړکونو په برخه کې به ۵.۹۰ میلیارد ډالره؛ د رېل په برخه کې ۳.٦۹ میلیارد ډالره، پر ګوادر بندر به ۰.٦٦ میلیارد ډالره او د پاکستان-چین ترمنځ د اپتیک فایبر کرښې پر غځولو به ۰.۰۴ میلیارد ډالره ولګول شي.

د دې ترځنګ چین له ګوادر څخه د تېلو او غازو یو نلیکه هم خپل هېواد ته غځوي، چې دا به له یوې خوا د سمندر د اوږدې لارې واټن راکم کړي او له بلې خوا به د چین دا وېره هم ختمه کړي، چې چین ته تلونکي تېل د هند تر سترګو لاندې ځي؛ ځکه په نړۍ کې اوس د خوراک د امنیت وروسته د انرژۍ امنیت خورا ارزښت لري. د دې ترځنګ د دغه لارې پر مټ به سینکیانګ او د قاشغر ځانګړی اقتصادي زون به هم بحر ته لنډه لاره پیدا کړي؛ ځکه د چینایي ساحلو څخه دغو نوموړو ځایونو ته تقریباً

تـر ۳۰۰۰ کیلـو مېـترو پـورې لاره ده او د پاکسـتان لـه لارې بیـا تـر ۱۵۰۰ کیلومـترو پـورې ده. کـه چېـرې د افغانسـتان پـه بدخشـان کـې حـالات ورځ تـر بلـې همداسـې پـه خرابېـدو وي، او د افغانستان-پاکسـتان پـر پولـو هـم ناامنـۍ وي، نـو پـر دغـې پـروژې بـه هـم خپلـې اغېـزې وکـړي. پاکسـتان لـه همـدې کبلـه لـه وړانـدې څخـه تـر ۱۰ زرو پوځیانـو پـورې یـو ځانګـړی پوځـي ټولـی د دغـې لارې د امنیـت ټینګولـو لپـاره جـوړ کـړی دی.

- **د چین د ورېښمو نوې لاره**

همـدا رنګـه پـه افغانسـتان کـې بـه ناامنـۍ د چیـن د ورېښـمو پـر نـوې لارې بـه هـم اغېـزه وښـندي، هغـه هـم پـه داسـې مهـال کـې، چـې پـه ۲۰۱۵ کال کـې د افغانسـتان پـه شـمالي ولایتونـو کـې جګـړه ورځ تـر بلـې تـوده کېـږي.

## په افغانستان کې د چین اقتصادي ګټې (له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۵ کال)

افغانسـتان پـه یـوه داسـې ځـای کـې موقعیـت لـري، چـې د انـرژۍ او تجـارت پـه تـړاو د ترانـزت ډېـرې وړتیـاوې لـري او ترڅنـګ یـې غنـي طبیعـي منابـع هـم لـري. همدغـو دوو ځېزونـو (د انـرژۍ او تجـارت ترانزیتـي مرکـز او غنـي طبیعـي منابـع) تـه پـه کتلـو سره د افغانسـتان پـر لـور د چیـن پاملرنـه هـم زیاتـه شـوې.

**خـام مـواد:** د امریکایـي ځمکپوهانـو پـه انـد، افغانسـتان تقریبـاً ۱ تریلیـون ډالـره طبیعـي منابـع لـري، دغـه ځېړنـه یـوازې د افغانسـتان پـه درېیمـه برخـه کـې شـوې ؛ همـدا لامـل دی، چـې افغـان لـوړ پـوړي چارواکـي د ۳ تریلیـون ډالـرو منابعـو ادعـا کـوي. د امریکایانـو پـه دغـې سروې کـې راغـلي، چـې افغانسـتان تقریبـاً ۱.٦ ملیـارده بیرلـه تېـل او ۱٦ تریلیونـه مکعـب مـتر غـاز لـري[٤١٤]. دغـه منابـع د نـړۍ د انـرژۍ تـر ټولـو زیـات واردوونکـي هېـواد (چیـن) تـه د پاملرنـې وړ دي.

**مېـس عینـک: د ۲۰۰۳** کال د فـبرورۍ پـر ۲۴مـه نېټـه د چیـن China Metallurgical Group Corporation Resources Development مـشر Sun Changsheng د افغانسـتان د معدنـو او صنایعـو وزیـر جمعـه محمـد محمـدي سره یوځـای پـه یـوه هوایـي پېښـه کـې ووژل شـول. د دوی الوتکـه پـه بحـر هنـد کـې ولوېـده او تقریبـاً ټـول کسـان پکـې ووژل شـول.

---

٤١٤ Afghanistan Ministry of Mines, 'Afghanistan Oil and Gas resources', accessed 2 April 2015, see it online:http://mom.gov.af/content/files/Oil_&_Gas_Brochure_2.pdf

د مېس عینکو د کان د ترلاسه کولو پسې چینایان ان د ۲۰۰۳ کال څخه ورانـدې لېوالتیا ښودله. د مېس عینکو کان له کابل څخه تقریباً ۲۵ میله لرې په لوګر ولایت کې دی. دغه کان تقریباً ۲۴۰ میلیونه ټنه د مېسو کانې لري. که چېرې ۲.۴ سلنه Concentrate شي، نو دا به تقریباً شپږ میلیونه ټنه سوچه مېس پیدا کړي، چې دا بیا تقریباً له ۱۰۰ میلیارډ ډالرو څخه زیات ارزښت لري[٤١٥]. همدا کان د نړۍ د مېسو دویم ستر کان ګڼل کېږي.

که څه هم افغان حکومت غوښتل، چې ژر تر ژره دغه کان بولي ته وړاندې کړي؛ خو د معدنو په تړاو د قانون نشتوالي له کبله یې دغه کار تر ۲۰۰۵ کال پورې وځنډاوه. په ۲۰۰۵ کال کې په دې تړاو د قانون یوه مسوده چمتو شوه او له هغې وروسته افغان حکومت په ۲۰۰٦ کال کې له یوې کمپنۍ Gustavson Associates, LLC سره یو قرارداد لاسلیک کړ، چې د افغانستان د معدنیاتو وزارت ته به یې د قرارداد ورکولو په تړاو مشورې ورکولې[٤١٦]. د مېس عینکو د قرارداد اخیستنې په تړاو د پروپوزل غوښتنه په ۲۰۰۷ کال کې اعلان شوه، چې له کبله یې د ۲۰۰۷ کال د مۍ میاشتې تر ۲۸مې نېټې پورې د مختلفو کمپنیو له خوا پروپوزلونه ترلاسه شول او د ۲۰۰۷ کال د جون میاشت پر ۲مه نېټه د پروپوزلونو ارزونه پیل شوه، چې دغې پروسې بیا تقریباً څلور میاشتې ونیولې او د ۲۰۰۷ کال په وروستیو کې دوو چینایي کمپنیو China Metal-lurgical Construction Company (MCC) او Jiangxi Copper Company limited د مېس عینکو په بولیو کې تر ټولو ښه بولي ورکړه[٤١٧] او د ۲۰۰۷ کال د دیسامبر میاشت راهیسې تر د ۲۰۰۸ کال د مۍ میاشت پورې افغان حکومت له دغو دوو چینایي کمپنیو سره خبرې اترې وکړې او پای یې ورسره قرارداد لاسلیک کړ[٤١٨].

د یوې څېړنې له مخې په مېس عینکو کې تر ۲۵ کلونو پورې د مېسو پیداوار به د

---

٤١٥ James R. Yeager, The Aynak Copper Tender: Implications for Afghanistan and the West, pp: 16-17, see it online:< http://www.scribd.com/doc/22004530/The-Aynak-Copper-Tender-Implications-for-Afghanistan-and-the-West#scribd>

٤١٦ ‘Aynak Tender Process History’, Ministry of Mines and Petroleum, retrieved at 2 July 2015, see it online:< http://mom.gov.af/en/page/1401>

٤١٧ د چینایي کمپنیو بولي له نورو سره د پرتله کولو په تړاو د افغانستان د صناعیو او کانونو وزارت په ویبپاڼه کې وګورئ:
http://mom.gov.af/en/page/1401

٤١٨ ‘Executive Summary regarding tender process of Aynak Copper’, Ministry of mines and petroleum, retrieved at 2 July 2015, see it online:< http://mom.gov.af/en/page/1392>

چين د مېسو د مجموعي زيرمو د درېيمې برخې برابر وي[٤١٩].

دا چې دغه قرارداد به د افغانستان په اقتصادي پرمختګ کې څه ډول رول ولوبوي، په څلورم فصل کې ورته په تفصيلي توګه اشاره شوې؛ خو دلته به موږ دا وڅېړو چې ولې له ۲۰۰۸ کال راهيسې تر اوسه چينايان پر دې نه دي توانېدلي، چې د مېس عينکو کان څخه استخراج پيل کړي؟ دا بيا دوه ستر لاملونه لري:

- په افغانستان او لوګر ولايت کې ناامنی؛
- په مېس عينکو کې د لرغوني زمانې ښار او اثار راوتل.

**انرژي:** تاريخ جوتوي، چې تېل هم جنس دی او هم سياست[٤٢٠]. په اقتصاد کې انرژي خورا مهم رول لوبوي؛ له همدې ځايه ده، چې د نړۍ پرمختللي او پرمخ تلونکي هېوادونه د انرژۍ د ترلاسه کولو په موخه په رقابتونو او لوبو کې ښکېل دي. د بيلګې په توګه په منځني اسيا کې د انرژۍ په ترلاسه کولو کې روسيه، چين، هند، ترکيه، امريکا، او د اروپا اتحاديه په يوه نوې لوبه کې ښکېل دي او د سړې جګړې د مهال د امريکا د کمونيزم د حصار تګلاره هم د انرژۍ پر سر د رقابتونو يوه بېلګه وه،چې له کبله يې امريکا هغه مهال نه غوښتل چې د منځني ختيځ په شان غني سيمه د کمونيزم تر نفوذ لاندې راشي، په همدې تکل يې د افغان مجاهدينو څخه ملاتړ وکړ چې د شورويانو پرضد به جنګېدل، ترڅو منځنی ختيځ له کمونيزم وژغوري او امريکا ته د تېلو د رعرضې په لاره کې خنډونه جوړ نه شي.

د انرژۍ تقاضا پر لاندې څېزونو متکي وي، څومره چې دا څېړونه زيات وي، نو د يو هېواد د انرژۍ تقاضا هم زياته وي:

- نفوس؛
- اقتصادي پرمختګ؛
- لوړه اقتصادي وده؛
- پراخېدونکی ښاريتوب.

---

٤١٩ Andrew Small, The China-Pakistan Axis: Asia's New Geopolitics, USA: Oxford University Press, Tea with The Taliban Chapter.

٤٢٠ Dr Azmat Hayat Khan. Energy Cooperation and competition in Central Asian region. Area Study Centre, University of Peshawar. P: 5

چین چې د نړۍ تر ټولو زیات نفوس لرونکی، اقتصادي پرمختګ په لور روان، لوړه اقتصادي وده او پکې ورځ تر بلې ښاریتوب پراخېږي، به انرژۍ ته تر ټولو زیاته اړتیا ولري.

انرژي چې په اقتصادي پرمختګ کې ډېر ستر او ارزښتناک رول لوبوي او اوسمهال د نړۍ د هېوادونو د ملي ګټو په سر کې هم د سر خبره وي. د انرژیو ذرائعو ته لاسرسی د ملتونو لپاره له ستراتېژیکي نقطې کمه نه وي، په تېره بیا د هغو هېوادونو لپاره، چې په ډېره چټکۍ سره د پرمختګ پر پوړیو پورته روان دي. له همدې ځایه، چین په ۲۰۱۰ کال کې د نړۍ تر ټولو ډېر انرژي مصرفونکی هېواد شو[٤٢١] او په ۲۰۱۴ کال کې بیا د نړۍ تر ټولو زیات د پټرولو واردوونکی هېواد شو[٤٢٢]. د یوې سرچینې له مخې، چین به تر ۲۰۳۵ کال پورې تقریباً ۷۰ سلنه انرژي واردوي. دا خپله ښيي، چې په راتلونکي کلونو کې به چین انرژۍ ته څومره اړتیا ولري او د چین اقتصاد به پر انرژۍ څومره متکي وي. په همدې موخه چین اوسمهال د انرژۍ د کمبود د پوره کولو په تړاو د تېلو او غازو د نللیکو پر غځولو بوخته ده. که څه هم افغانستان به د انرژۍ په برخه کې چین ته هومره ارزښت ونه لري، لکه منځنۍ اسیا، منځنی ختیځ، افریقا او روسیه؛. خو بیا هم د افغانستان موقعیت به د چین د انرژۍ نللیکو غځولو په تړاو ډېر اهمیت ولري. د افغانستان موقعیت د چین لپاره دا ذمینه برابروي، چې د افغانستان له لارې د ایران او منځنۍ اسیا (ترکمنستان، ازبکستان) څخه خپل هېواد ته د انرژۍ نللیکې تېرې کړي او هم په افغانستان کې د امنیت له کبله د منځنۍ اسیا له لارې تیرې شوې نللیکې د هغو نادولتي وسله والو ډلو څخه خوندي کړي، چې په افغانستان کې پټنځایونه ولري او یا هم له هغه ځایه منشا اخلي

- **د آمو حوزه**

د مېس عینکو د قرارداد له ترلاسه کولو وروسته، د آمو حوزې د تېلو د استخراج قرارداد ترلاسه کول په افغانستان کې د چین د اقتصادي ګټو دویمه نښه ده. د یوې څېړنې له مخې د آمو په حوزه کې تقریباً له ۸۰ تر ۹۰ میلیون بیرله تېل شته دي. د چین د

٤٢١ Spencer Swartz and Shai Oster, China tops U.S. in Energy use, Wall Street Journal, 18 july 2010, retrieved at 1 July 2015, see it online:< http://www.wsj.com/articles/SB10001424052748703720504575376712353150310>

٤٢٢ EIA, China is now the world's largest net importer of petroleum and other liquid fuels, 24 march 2014, retrieved at 1 July 2015, see it online:< http://www.eia.gov/todayinenergy/detail.cfm?id=15531>

پترولو ملي شرکت (China National Petroleum Corporation) د ۲۰۱۱ کال د دیسامبر په میاشت کې د ۲۵ کلونو لپاره په دغه حوزه کې د درېیو ځاه ګانو د کیندنې او د تېلو د استخراج قرارداد ترلاسه کړ[٤٢٣].

- **د کونړ بند**

د کونړ پر سیند د برېښنایي بندونو طرحې او سروې ګانې د سردار داوود خان د واکمنۍ پرمهال شوې وې، وروسته د کرزي په دوره کې هم پر دغه سیند د بندونو جوړولو په اړه هند سروې ګانې وکړې؛ خو د کونړ پر سیند د بند جوړولو په تړاو هېڅ کوم ګام پورته نه شو. نړېوال بانک تر څلورو کلونو پورې د دواړو هېوادونو پسې و، چې دوی په ګډه سره د شریکو اوبو څخه ګټه واخلي او په پای کې د ۲۰۱۳ کال د اګست پر ۲٦مه بریالی شو، چې افغانستان او پاکستان دغه کار ته وهڅوي. په دغه نېټه د افغانستان او پاکستان د مالیې وزیرانو پرېکړه وکړه، چې په ګډه به د کونړ پر سیند د ۱۵۰۰ میګاواټه ظرفیت لرونکی برېښنایي بند جوړوي. نړېوال بانک به دغه بند ته فنډ ورکړي[٤٢٤]. وروسته چې کله د ۲۰۱۵ کال د فبروري په ۹مه د افغانستان-پاکستان-چین د بهرنیو چارو وزارتونو مرستیالانو دري اړخیزه غونډه په کابل کې وکړه، نو چین د افغانستان او پاکستان ترمنځ د لویو سړکونو او رېل پټلیو جوړولو ترڅنګ د کونړ د برېښنایي بند په جوړولو کې هم لیوالتیا ونښودله[٤٢٥].

## ترانزیټي ګټې

دا د افغانستان د جغرافیاوي موقعیت له کبله ده، چې افغانستان د ترانزت په برخه کې ډېرې ورتیاوې لري. تقریباً د افغانستان ټول ګاونډي هېوادونه په ترانزیټي برخه کې افغانستان ته اړتیا لري. په همدې تړاو چین او افغانستان تر اوسه په دوو برخو کې تفاهم لیکونه لاسلیک کړي ، چې یو یې د انرژۍ په برخه او بل د رېل پټلیو د جوړولو

٤٢٣ BBC News, China gets approval for Afghanistan oil exploration bid, 27 Dec 2011, retrieved at 4 July 2015, see it online:< http://www.bbc.com/news/business-16336453>

٤٢٤ Khaleeq Kiani, Pakistan, Afghanistan mull over power project on Kunar river, DAWN newspaper, 26 august 2013, retrieved at 4 July 2015, see it online:< http://www.dawn.com/news/1038435>

٤٢٥ 'Joint Press release first round of China-Afghanistan-Pakistan trilateral strate', Ministry of foreign affairs of Islamic Republic of Afghanistan, 9 Feb 2015, retrieved at 5 July 2015, see it online:< http://mfa.gov.af/en/news/news-mfa-afg-jt-st-afg-pk-cn-09-02-2015> and 'First round of China-Afghanistan-Pakistan Trilateral Strategic Dialogue held in Kabul', Foreign ministry of People's republic of China, 10 Feb 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjbxw/t1236606.shtml>

او مارکېټ ته د ځان رسولو په موخه دی.

د انرژۍ نلليکو غځولو په تړاو دواړو لوريو له نورو سره يوځای مقدماتي تفاهم هم لاسليک کړی دی. دغه د انرژۍ نلليکې به په دا ډول تېرېږي:

## ۱. ترکمنستان-افغانستان-تاجکستان-چین انرژۍ نلليکه

د ۲۰۱۲ کال د جون پر ۱٦مه نېټه د افغانستان د معدن او صنايعو وزير وحيد الله شهراني او د چين د پټرولو ملي شرکت مشر زان زيمېنګ ترمنځ له ترکمنستان څخه د غازو نلليکه چې له افغانستان او تاجکستان څخه په تېرېدو به چين ته ورسېږي، د همکارۍ پر چوکاټ لاسليک وکړ، ترڅو د دغه نلليکې Feasibility مطالعه وشي[٤٢٦]. خو لا تر اوسه په دې تړاو نور عملي ګامونه نه دي اخيستل شوي.

## ۲. ايران-افغانستان-چين انرژۍ نلليکه

که چېرې د ترکمنستان-افغانستان-تاجکستان-چين د غاز نلليکه په برياليۍ توګه وغځېدله، نو دا به چين او د چين د پټرولو ملي شرکت ته اسانه کړي، چې له ايران، چې د نړۍ د غازو ډېر منابع لري، څخه د غازو نلليکې هم چين ته وغځوي. په دې تړاو د چين د پټرولو ملي شرکت په دغې پروژه کې له وړاندې ليوالتيا ښودلې ده[٤٢٧].

د دې ترڅنګ چين په سيمه کې د تجارت زياتولو او چينايي توکو ته د يو لوی مارکېټ پيدا کولو په موخه هم د رېل پټليو پر غځولو بوخته ده. په دې تړاو د ۲۰۱۴ کال د ديسامبر پر ۱٦مه نېټه د چين، کرغزستان، تاجکستان، افغانستان او ايران ترمنځ يو تړون لاسليک شو، چې له چين څخه به د رېل يوه پټلۍ د کرغزستان، تاجکستان، افغانستان له لارې ايران ته ورسېږي. په مجموع کې دغه رېل پټلۍ ۲۱۰۰ کليو مېتره ده، چې له افغانستان څخه به ۱۱۵۰ کيلومېتره له شپږو ولايتونو (کندز، بلخ، جوزجان، فارياب او بادغيس) څخه تېره شي[٤٢٨]. دغه لاره به د افغانستان په اقتصادي

٤٢٦ ‘framework for construction of Turkmenistan gas pipeline via Afghanistan to Tajikistan and China signed’, Ministry of Mines and Petroleum of Islamic republic of Afghanistan, 16 Jun 2012, see it online:< http://mom.gov.af/en/news/10587>

٤٢٧ Erica Downs, China buys into Afghanistan, SAIS Review, Vol. XXXII, No. 2 (Summer-Fall 2012), pp: 65-84

٤٢٨ Zenat, Iran-China railway project moving forward, expected to boost Afghan economy, TOLO news, 16 Dec 2014, see it online:< http://www.tolonews.com/en/afghanistan/17500-iran-china-railway-project-moving-forward-expected-to-boost-afghan-economy>

پرمختگ او د ترانزیت په برخه کې افغانستان ته خورا ډېرې گټې ورکړي.

## سوداگریزې گټې

که څه هم د افغانستان او چین د مجموعي دوه اړخیزه سوداګرۍ حجم د نورو هېوادونو په پرتله کم دی؛ خو بیا هم چین له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر اوسه په افغانستان کې تجارتي گټې هم درلودلې دي. د ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې افغانستان له چین سره د سوداګرۍ په بیلانس کې ٦۲۴۲.۳۵۸ میلیون ډالره خساره لیدلې. که چېرې د افغانستان او چین دوه اړخیزه سوداګري په نېغ ډول له یو بل سره د ګډې پولې له لارې وشي او ترڅنګ یې اقتصادي او تجارتي تړونونه هم لاسلیک شي، نو دا به د دوه اړخیزې سوداګرۍ کچه زیاته کړي. ځکه د افغانستان او چین ترمنځ د سوداګرۍ ډېرې وړتیاوې شتون لري، چې دا بیا له دې هم جوته ده، چې یوازې په ۲۰۱۴ کال کې مجموعي سوداګري ۱۰۵۳.٦۴۸ میلیون ډالرو ته ورسېدله او له چین څخه د وارداتو کچه بیا ۱۰۳۸.۱۹۸ میلیون ډالره وو.

## نړیوالې گټې

## نرم ځواک ترلاسه کول

په نړېوال سیاست کې ځواک په دې معنا دی، چې (الف) هېواد د اغېزو په مرسته د (ب) هېواد غبرګون په خپله خوښه بدل کړي. جوسیف نای (Joseph Nye)، چې د نرم ځواک اصطلاح مبتکر دی او په دې اړه یې ځېړنې او کتابونه مشهور دي[۴۲۹]، وایي: ځواک له هغې وړتیا څخه عبارت دی، چې له کبله یې یو هېواد د بل هېواد عادت ته بدلون ورکړي. د هغه په اند، دغه د عادتونو بدلون په درېیو طریقو سره ترسره کېږي:

- لومړی د زور پر مټ؛
- دویم د اقتصادي مرستو په زور؛

۴۲۹ د نرم ځواک په اړه یې کتابونه په دا ډول دي:
Soft Power: The means to success in world politics
The Future of Power

- او درېیم چې یو هېواد بل هېواد د ځان په لور راجذب کړي او پای ترې هغه څه وغواړي، چې یې زړه وي[٤٣٠].

جوسیف نای د ځواک همدغې درېیم ډول ته نرم ځواک وایي[٤٣١]. دی د نرم ځواک په اړه په خپله یوه مقاله کې یو څو بیلګې وړاندې کوي:

ریښتیني کاتولیک لارویان، د پاپ خبره له دې کبله نه مني، چې هسې نه هغه یې په نه منلو سزا ووینې، بلکې هغوی یې له دې امله مني، چې هغوی د پاپ عزت کوي. د پاپ همدا عزت نرم ځواک دی. همداسې ځینې تونددلاري مسلمانان د اسامه بن لادن څخه له دې کبله ملاتړ نه کوي، چې هغوی ته به مادي ګټه او یا تاوان ورسوي؛ بلکې هغوی د اسامه د موخو پر حقانیت ایمان لري[٤٣٢].

د چین د نرم ځواک په اړه جوشوا کورلانتزیک[٤٣٣] په دې اند دی، چې چین په دې تېرو څو لسیزو کې په نړیواله کچه یو داسې ښه نوم پیدا کړی، چې ځان یې له هغه انځور څخه چې په ۱۹۷۰لسیزه[٤٣٤] او ۸۰مه لسیزه[٤٣٥] کې د چین په اړه تصور کېده، ګوښه کړی او خپل نرم ځواک او کلچري ډیپلوماسۍ یې داسې استعمال کړې ده، چې په سیمه ییزه کچه نورو ته ښیي چې د امریکا په پرتله ښه او صادق ګاونډی دی[٤٣٦].
له دې سره، د لویدیځ او د امریکا ځینې شنونکي د چین پر نرم ځواک خپلې نیوکې لري. په دې اړه د نرم ځواک د اصطلاح جوړونکي جوسیف نای هم خپله نیوکه لري او وایي د چین کانفیوشستي انستیتونه بې له دې چې چین ته کومه ګټه ورکړي، ډېر لګښتونه پرې راځي[٤٣٧].

---

٤٣٠ Joseph Nye, The Benefits of Soft Power, retrieved 1 May 2015, from:http://hbswk.hbs.edu/archive/4290.html

٤٣١ Joseph Nye, Bound to lead: the changing nature of American Power, New York: Basic Books, 1990

٤٣٢ Joseph Nye, The benefit of Soft Power, retrieved on 12 June 2015, see it online:< http://hbswk.hbs.edu/archive/4290.html>

٤٣٣ Joshua Kurlantzik، د Charm Offensive: How China's Soft Power is transforming the world لیکوال دی.

٤٣٤ په دې اړه چین په دغه مهال په ډېری توګه د ثقافتي انقلاب په تړاو بدنامه وه، چې له کبله یې میلونونه کسان له مرګ سره مخ شول

٤٣٥ د ۱۹۸۹ کال په وروستیو کې په تیانمین څوک کې د محصلینو له خوا مظاهره وشوه چې بیا د چینایانو له خوا وځپل شوې او له کبله یې په نړۍ کې د چین پرخلاف یو شور راپورته شو.

٤٣٦ د چین د نرمځ واک به اړه له ډیپلومات مجلې سره د Joshua Kurlantzik مرکه، china's soft power, March 25, 2011

٤٣٧ د جوسیف نای د نیوکو په اړه ولولئ:
http://www.project-syndicate.org/commentary/china-civil-society-nationalism-soft-power-by-joseph-s--nye-۲۰۱۵-۰۷
او http://foreignpolicy.com/۲۰۱۳/۰۴/۲۹/what-china-and-russia-dont-get-about-soft-power/ او http://www.wsj.com/articles/SB۱۰۰۰۱۴۲۴۰۵۲۷۰۲۳۰۴۴۵۱۱۰۴۵۷۷۳۸۹۹۲۳۰۹۸۶۷۸۸۴۲

خو له دغو هر څه سره، چین چې په څه ډول په درېیمه او اسلامي نړۍ کې د امریکا په پرتله ښه نوم ګټلی، هغه یې د ناپېیلتوب او د پوځي تګلارې د نه لرلو له کبله ګټلی دی؛ څکه خو جوشوا کولاتنزیک د چین د نرم ځواک حدود یا سره کرښه د چین سخت ځواک ګڼي[٤٣٨].

په بل اړخ کې په افغانستان کې هم، چین د ترکمنستان سره یوځای د افغانستان د نورو ګاونډیانو په پرتله ښه نوم لري. خو بیا هم یو شمېر افغانانو یوازې د سړې جګړې د پیل په وختونو کې چین د شعله جاوید پر ملاتړ تورن کاوه؛ خو کله چې پر افغانستان شورویانو یرغل وکړ، نو ځینو نورو افغانانو بیا د چین مرستې له یو شمېر اسلامي هېوادونو څخه زیاتې وګڼلې او پر ځینو اسلامي هېوادونو یې مخکې هم وګاڼه[٤٣٩] او ځینو افغان شنونکو بیا چین یوازینی ګاونډي وګاڼه چې د افغانستان په کورنیو چارو کې یې لاسوهنه نه ده کړې[٤٤٠].

په ټولیزه توګه که ووایو، نو چین په افغانستان کې ښه نوم لري. دغه ښه نامیتوب یې د افغانستان په چارو کې د ناپېیلتوب او نه لاسوهنې له کبله ګټلی دی. په همدې موخه د بیجینګ د حکومت له اړخه په ۲۰۰۲ کال کې د هغوی وزیر خارجه، جیاګزان او په ۲۰۰۷ کال کې یانګ جیوچي کابل ته راغلل، د دواړو د سفرونو موخه افغان چارواکو ته د چین ناپېیلتوب او د افغانستان په داخلي چارو کې د نه لاسوهنې باور ورکونه وو . د دې ترڅنګ د ۲۰۰٦ کال د ملګرتوب تړون، د ۲۰۱۲ کال ستراتیژیک تړون او وروسته په ګډو اعلامیو کې هم د دواړو هېوادونو د دوه اړخیزو اړیکو په تړاو وویل شول ، چې د Peaceful co-existence پر اصولونو متکي دي.

که څه هم ځینې دا ګڼي، چې دا د چین له خوا د افغانانو په وینه تویولو کې نه ګډون دی، چې د افغانستان په قضیه کې یې چین د یو بریالي لوبغاړي په توګه میدان ته راویستی دی[٤٤١]. خو دا یوازې د چین له خوا د افغانانو په وینه تویولو کې د نه ګډونتیا لامل نه دی، بلکې دا یوه درې اړخیزه پروسه ده: که له یوې خوا چین د افغانستان په معاملاتو کې د نه لاسوهنې ژمنتیا ورکوي، په افغانستان کې په چوپتیا

---

٤٣٨ د چین د نرمځ واک به اړه له ډیپلومات مجلې سره د Joshua Kurlantzik مرکه، china's soft power, March 25, 2011

٤٣٩ محمد زمان مزمل، افغانستان؛ د ستراتیژیو بحران،

٤٤٠ دچین پر کتاب د شهرت ننګیال سریزه. وګورئ د چین کتاب چې د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې لخوا خپور شوی دی، مخ الف

٤٤١ Daily Chronicle, China could prove ultimate winner in Afghanistan, 27 Jan 2013

سره پانګونې کوي، نو له بلې خوا هڅه کوي چې خپل نرم ځواک زيات کړي.

دلته د لومړيو دوو په اړه، چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه نه کوي او د افغانستان په اقتصاد کې پانګونه کوي، يادونه يې شوې.

دا چې چين په افغانستان کې د خپل نرم ځواک زياتولو په تړاو له کومو ابزارو څخه ګټه پورته کوي، په لاندې ډول دي:

۱. **مرستې:** چين له افغان دولت سره له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې تقريباً ۶۱۱.۹ ميليون ډالره مرستې وکړې، چې په تفصيلي توګه يې يادونه په دريېم فصل کې وشوه؛

۲. **ودانۍ جوړول:** د ارګ ميلمستون جوړول، د کابل پوهنتون ميلمستون جوړول، د جمهوريت روغتون بيا رغونه، د ساينس او ټکنالوژۍ مرکز جوړول[٤٤٢]، همدا راز نورې ودانۍ؛

۳. **کنفيوشست انستيتوت:** چين د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د چينايي ژبې د ترويج لپاره کنفيوشيستي مرکزونه جوړ کړي ، همدا راز دوی په ۲۰۰۹ کال کې په کابل پوهنتون کې کنفيوشست انستيتوت پرانيست او په لومړي کال يې ۳۵ محصلين جذب کړل[٤٤٣]؛

٤. **روزنه:** چين له ۲۰۰۱ کال راهيسې تر اوسه (۲۰۱۵) تقريباً ۱۰۰۰ افغانانو ته په مختلفو ډګرونو کې روزنې ورکړي دي[٤٤٤]. همدا راز په ۲۰۱۴ کال کې پرېکړه وشوه، چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې چين به ۳ زره نورو افغانانو ته هم په بېلابېلو برخو کې روزنې ورکړي[٤٤٥]؛

---

٤٤٢ په افغانستان ټايمز ورځپاڼه کې د چينايي سفير ليکنه:
Deng Xijun, China's Foreign Aid: Mutual benefits and win-win, Afghanistan Times, 12 May 2015, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=12110>

٤٤٣ 'China-Afghanistan relations in 2009', Embassy of the People's republic of China in the Islamic Republic of Afghanistan, 30 August 2011, retrieved at 9 June 2015, see it online:< http://af.china-embassy.org/eng/zagx/introduction/t853111.htm>

٤٤٤ په افغانستان ټايمز ورځپاڼه کې د چينايي سفير ليکنه:
Deng Xijun, China's Foreign Aid: Mutual benefits and win-win, Afghanistan Times, 12 May 2015, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.outlookafghanistan.net/topics.php?post_id=12110>

٤٤٥ See China-Afghanistan Joint Statement on Deepening strategic and cooperative partnership in Afghanistan's ministry of foreign affairs website:< http://mfa.gov.af/en/news/china-afghanistan-joint-statement-on-deepening-strategic-and-cooperative-partnership>

۵. **بورسونه:** چین له ۲۰۰۱ کال راهیسې افغان محصلینو ته ( ) تحصیلي برسونه ورکړي او په ۲۰۱۴ کال کې د اشرف غني د سفر پرمهال دواړو هېوادونو پرېکړه وکړه، چې افغانستان ته به په راتلونکو پنځو کلونو کې ۵۰۰ تحصیلي برسونه ورکړي[٤٤٦]؛

٦. **د ځناورو ډیپلوماسي:** چین په نړۍ کې د خپلې «پانډا ډیپلوماسۍ» په تړاو مشهور دی؛ ځکه په نړۍ کې د پانډا نسل اوسمهال د نسل له ورکېدا سره مخ دی او دغه ځناور بیا په چین کې د نورې نړۍ په پرتله زیات دي. چین د نړۍ ډېری هېوادونو ته د پانډا جوړې ورکړې دي. که څه هم افغانستان ته یې لا تر اوسه دغه ځناور نه دی ورکړی، البته د ۲۰۰۲ کال د جون پر ۱۰مه نېټه د چین حکومت د کابل ژوبڼ ته یو شمېر ځناور وسپارل[٤٤٧]، چې یادونه یې په درېیم فصل کې وشوه.

## په لومړي ځل په بهرني هېواد کې د سولې په اړه رول لوبول

چین په خپل ټول تاریخ کې د هېواده بهر په کوم بل هېواد کې د دوو ښکېلو اړخونو ترمنځ د مصالحې کوم رول نه دی لوبولی؛ خو له ۲۰۱۲ کال راهیسې، چین لومړی د خپلو ډیپلوماتیکي هڅو له کبله د افغانستان په تړاو د سیمه ییزو هېوادونو د همغږۍ په اړه څو اړخیزه ډیپلوماسي پر لاره واچوله چې یادونه به یې د افغانستان په تړاو د چین په خارجي سیاست کې راشي، او ترڅنګ یې د ۲۰۱۴ کال راهیسې له افغان دولت، طالبانو او د سولې د عالي شورا له غړیو سره هم لیدلي دي.

په افغانستان کې د چین د دغه مصالحې رول څخه څرګنده ده، چې چین نور د لویدیز د ډېرو نیوکو پرضد، چې چین په نړېوالو چارو کې د یو زبرځواک په توګه مسؤلیت نه ادا کوي، په سیمه او نړۍ کې د یو با مسؤله ځواک په توګه کار کول غواړي.

٤٤٦ 'information on Chinese Government Scholarship', Embassy of the People's republic of China in the Islamic Republic of Afghanistan, 28 Jan 2015, retrieved at 15 June 2015, see it online:< http://af.china-embassy.org/eng/sgxx/Notices/t1232023.htm>

٤٤٧ غلام‌محمدسخنیار، روابط‌پنجاه‌ساله‌چین‌وافغانستان، کابل: مرکزمطالعات‌استراتیژیک‌وزارت‌امورخارجه، ۱۳۸۴، مخونه۲۹۰-۳۱۳

که چېرې چین د افغانستان دغه قضیه په سمه توګه حل کړي، نو دا به بیا په نړېوالو چارو او قضیو کې د نړېوالو لپاره یو رول ماډل (قدوه) هم شي او هم به د چین نرم ځواک او ښه نوم هم زیات کړي.

د دې ترڅنګ د افغانستان داخلي عوامل هم د افغانستان په قضیه کې د چین رول مطرح او زیاتوي. طالبان د یو ضامن کوونکي په توګه یو نړېوال زبرځواک ته اړتیا لري او په دې تړاو دوی چین ته ډېر ارزښت ورکوي. ځکه که څه هم چین له افغان دولت سره همکاري کوي او په ۹۰مه لسیزه کې یې په ملګرو ملتونو کې یې په هر قرارداد کې د طالبانو پرضد رایه کارولې، خو بیا هم چین له طالبانو سره ان په همغه لسیزه کې د نورو په پرتله ښې اړیکې درلودې او هم یې له ۲۰۰۱ کال راهیسې له چین سره اړیکې درلودلې دي.

افغان دولت هم، چین ته د څلورو لاملونو له کبله په ښه سترګه ګوري:

**لومړی:** دا چې چین خپله د تروریزم او توندلارۍ ستونزې ته د ګواښ په سترګه ګوري او له همدې ځایه چین د افغانستان په امنیت او سوله کې هم ډېره لېوالتیا اخلي؛ ځکه د دوی په اند دا بیا پر چین او سینکیانګ ژوره اغېزه ښندي؛

**دویم:** دا چې چین په ټول معاصر تاریخ کې له افغان حکومتونو سره په تېره بیا له ۲۰۰۱ کال راهیسې ښې اړیکې درلودلې دي او د افغانستان په بیارغونه کې یې ونډه اخیستې ده؛

**درېیم:** دا چې چین د پاکستان ستراتیژیک ملګری دی او د افغان حکومت په ګومان پر پاکستان هم اغېزې ښندلی شي، له همدې ځایه ده، چې افغانستان د شورویانو له وتلو وروسته څلور ځله له چین څخه غوښتي، ترڅو پر پاکستان له خپل نفوذه ګټه واخلي او په هېواد کې روانه جګړه تم کړي؛

**څلورم:** دا چې چین له طالبانو سره هم روابط لري او دا بیا د افغانستان د قضیې په حلولو کې مهم رول لوبولای شي.

د اشرف غني د سولې په تګلاره کې یوه مهمه نیمګړتیا دا وه، چې ده خپل بهرنی سیاست په دا ډول پر لاره واچوو، چې له کبله یې طالبان په زوره اړ کړي، ترڅو خبرو اترو ته کېښني؛ خو دغه حالت نه طالبان اړ کړل او نه یې سوله راوستله، بلکې په هېواد کې یې جګړه لا توده او د جګړې لمن یې شمالي سیمو ته هم وغځوله.

دلته په کار وه، چې اشرف غني د سردار داود خان د سولې تګلاره پر لاره اچولې وه. له يوې خوا يې د دولت له مخالفينو سره خبرې اترې کړې وې او له بلې خوا يې له ګاونډيو هېوادونو سره خپل روابط سم کړي وو. بيا ممکنه وه، چې موږ د سولې پروسې په برخه کې د يو سم حل په لور تللي وو. ځکه د ډېرو هغو کسانو په اند چې په قطر کې يې له طالبانو سره ليدلي وو، اشرف غني له طالبانو سره ژمنه کړې وه، چې تر خپل توان پورې به د امنيتي تړون لاسليکول وځنډوي. خو اشرف غني له ولسمشرېدو سره نه يوازې دا چې د ۲۴ ساعتونو دننه امنيتي تړون لاسليک کړ، بلکې ده يو داسې خارجي سياست خپل کړ، چې موخه يې پر طالبانو فشار راوړل او يوازې د زور له لارې دوی خبرو اترو ته کېښنول وو. طالبانو بيا دغه هر څه د خپل سياسي راتلونکي لپاره ځانمرګی باله، له همدغه ځايه يې خپل پسرلني عمليات چټک او په زور او زوږ سره روان کړل.

## دويمه برخه: په افغانستان کې د چين اندېښنې (له ۲۰۰۱ تر ۲۰۱۵ کال)

په افغانستان کې چين يو شمېر اندېښنې هم لري، چې په ډېرې توګه په مطبوعاتو کې نه دي څرګندې شوي. دا چې چين په افغانستان کې څه ډول اندېښنې لري، په لاندې ډول دي:

### لومړی: په افغانستان کې د امريکايي سرتېرو شتون

که څه هم چينايان په ښکاره په افغانستان کې د امريکايانو د شتون پرضد خپلې څرګندونې نه کوي؛ خو بيا هم په ځينو مواردو کې يې دغه ډول اواز پورته کړی دی. د ۲۰۰۹ کال د جنورۍ پر ۱۹مه چينايي ډيپلوماتانو په چين کې د افغانستان سفارت لومړي سکرتر نبي ته د چين پر پوله په تېره بيا په هغو ځايونو کې چې د سينکيانک حساسې سيمې بلل کېږي د امريکايي پوځيانو پر شتون اندېښنې څرګندې کړې[٤٤٨] له دې سره په پاکستان کې پخواني چينايي سفير زهو کانګ هم په ۲۰۱۳ کال کې وويل، امريکايان بايد په افغانستان کې خپل نظامي شتون او په راتلونکي کې نظامي

٤٤٨ په چين کې د افغانستان سفارت لومړي سکرتر نبي د ويکي ليکس په دغه لينک کې:
https://wikileaks.org/plusd/cables/۰۹BEIJING۱۴٦_a.html

هڅې ونه ساتي؛ ځکه د ده به اند حالات له ۲۰۰۱ کال راهیسې لا خراب شوي دي[۴۴۹].

## دویم: په افغانستان کې د هند نفوذ او اغېزې

چین په افغانستان کې د هند د ډېر نفوذ او اغېزو هم اندېښنه لري. دا بیا دوه لاملونه لري: لومړی، دا ډول اندېښنې د خپل ستراتیژیک ملګري پاکستان لپاره څرګندوي؛ او دویم، چین او هند له یو بل سره په اقتصادي، سوداګرۍ او د انرژۍ په ډګر کې د یو بل رقیبان هم دي؛ دغه رقابت له افغانستانه ان منځنۍ اسیا ته غځېدلی دی.

په ۲۰۰۹ کال کې چینایي ډیپلوماتانو په چین کې کاناډایي ډیپلوماتانو ته- په افغانستان کې د هند د نفوذ په تړاو -خپلې اندېښنې څرګندې کړې. چینایي ډیپلوماتانو د پاکستان اندېښنې بیان کړې، چې په افغان حکومت کې د پښتنو ډېر استازیتوب نه شته او هند په افغانستان کې د خپلو قونصلګریو له لارې غواړي د پاکستان قبایلي سیمې نارامې کړي، په دې اړه په چین کې د افغانستان لومړی سکرتر نبي هم وویل، چې د چین او پاکستان د تودو اړیکو له کبله چین په افغانستان کې د هند له نفوذه اندېښنه لري[۴۵۰].

## درېیم: د ختیځ ترکستان ګوند

په افغانستان کې د چین تر ټولو لویه اندېښنه د ختیځ ترکستان ګوند د غړو شتون او له دوی سره په افغانستان کې د ځینو خلکو د ملاتړ اندېښنې دي. په همدې تړاو، ځینو چینایي ډیپلوماتانو ورته اندېښنې هم کړې دي[۴۵۱].

---

۴۴۹ Pakistan-China Institute, Annual Report 2013, pp: 18

۴۵۰ چینایي ډیپلوماتان د کاناډا ډیپلوماتو سره دغه خبره شریکه کړه، ولولئ د ویکي لیکس په دغه سند کې
html.a_۰۹BEIJING۱۴۶/cables/plusd/org.wikileaks//:https

۴۵۱ وګورئ د ویکي لیکس دغه سند:
https://wikileaks.org/plusd/cables/09BEIJING146_a.html

## درېیمه برخه: د افغانستان په تړاو د چین بهرنی سیاست
## (له یوولسم سپټامبره تر اوسه)

په تېرو پنځلسو کلونو کې چین د افغانستان په تړاو لاندې تګلاره غوره کړې ده:

### له پوځي حضور ډډه

که څه هم چین د امریکایانو له بریدونو ملاتړ کړی او په ملګرو ملتونو کې یې هم د افغانستان په تړاو په هر قرارداد کې د امریکا پر پلوی رایه کارولې؛ خو بیا هم لا تر اوسه په افغانستان کې پوځي حضور نه لري او نه غواړي چې افغانستان ته ان د خپلو کاریګرو د ژوند خوندي کولو په موخه هم خپل سرتیري راولېږدوي. په ۲۰۰۸ کال کې هم، چې کله د انګلستان لومړي وزیر ګورډن براون له چین وغوښتل چې افغانستان ته خپل سرتیري ولېږدوی، نو د چین د بهرنیو چارو وزارت ډېر توند غبرګون وښود او ویې ویل، چین د ملګرو ملتونو د سوله ساتي عملیاتو چې امنیتي شورا منلي وي څخه پرته نورو ځایونو ته خپل سرتیري نه لېږدوي[٤٥٢]. البته د دې دا معنا نه ده، چې چین به په راتلونکو کلونو کې په خپل دغه اصول ټینګ ودرېږي؛ خو بیا هم اوسني حالات داسې برېښېږي، چې چین به په نږدې وختونو کې هم، په افغانستان کې خپل پوځي حضور زیات نه کړي.

### چین په افغانستان کې د امریکا د اکمالاتي ترانزیټي لارو برخه نه دی

د دې ترڅنګ چین په افغانستان کې د امریکا او ناټو د اکمالاتي ترانزیټي لارو برخه هم نه دی، چې موخه یې افغانستان ته غیر مرګوني توکي او مرګوني وسلې عرضه کول وي. په ۲۰۰۹ کال کې امریکا افغانستان ته له شمال څخه یوه اکمالاتي لاره پرانیسته. امریکا په افغانستان کې د خپلو پوځیانو لپاره دغه د شمال اکمالاتي لاره له دې کبله پرانیسته، چې د پاکستان لاره د ډېرو ناامنو سیمو تېرېده، او ځینې مهال به دغه لاره

٤٥٢ Richard Spencer, China says no to Brown on sending troops to Afghanistan, The Telegraph, 18 Nov 2008, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/china/3477605/China-says-no-to-Brown-on-sending-troops-to-Afghanistan.html>

بندېده هم.  دغه راز امریکایانو په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې د خپلو سرتېرو د زیاتولو پرېکړه هم وکړه، چې دغه بیا په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو ته د اړتیا وړ توکو تقاضا لوړه کړه.  په همدغه مهال یې وغوښتل چین هم وهڅوي چې د امریکا د اکمالاتي شمالي ترانزیتي جال (Northern Distribution Network NDN) کې برخه واخلي. ځکه د امریکایانو په اند په NDN کې د چین شاملول به دوی ته ستراتیژیک، تاکتیکي او عملیاتي ګټه ورکړي، له همدې ځایه امریکایانو په چین کې خپل سفارت ته دنده ورکړه، چې په دې تړاو د چین بهرنیو چارو وزارت سره اړیکه ټینګه کړي او چین دې ته چمتو کړي[٤٥٣]. د دې ترڅنګ واشنګټن له چین څخه وغوښتل چې د واخان پوله هم پرانیزي؛ خو چین له دغو دواړو وړاندیزونو سره مخالفت وښود. دغه مخالفت د دوو لاملونو له کبله وو:

**لومړی:** د واخان پوله پرانیستل تقریباً ناممکنه و؛ ځکه نه یوازې دا چې دغه لاره له سختو غرنیو سیمو تیرېږي، بلکې د چین له سرحده راپدېخوا د افغانستان په خاوره کې لا سړک جوړ هم نه و؛

**دویم:** چین نه غوښتل، له داسې سیمو څخه د امریکا ترانزیتي لاره تېره شي، چې دوی یې حساسې بولي (سینکیانک)[٤٥٤].

## اقتصادي حضور

چین په افغانستان کې پراخ اقتصادي حضور لري، یوازې د مېس عینکو قرارداد ترلاسه کونه او پانګونه یې د ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې په افغانستان کې د ټولې پانګونې ۷۰ سلنه برابر دی. دغه راز د پانګونې دا کچه که چیرې عملي شي، نو د ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۰۷ کال پورې د نړېوالو مرستو ۳۵ سلنه جوړیږي. له دې ور اخوا چین د آمو حوزې د تېلو قرارداد هم ترلاسه کړی او د سوداګرۍ په ډګر کې هم خپل حضور لري، چې یوازې په ۲۰۱۴ کال کې د دواړو لوریو مجموعي سوداګري له یو میلیارد ډالرو زیات وو.

٤٥٣ د امریکایانو دغه طرحه د واشنګټن پوسټ په ورځپاڼه کې افشا شوه، وګورئ:
Washington Post, Approaching China on the Northern Distribution Network (NDN), retrieved at 4 July 2015, see it online:< http://www.washingtonpost.com/wp-srv/special/world/wikileaks/sup-ply/09state13026.html>

٤٥٤ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stances, and perspectives, Center For Strategic and International Studies, 2012, p: 8

## مرستې او نرم ځواک ګټل

په افغانستان کې د چین د بهرني سیاست بل محور له افغانستان سره مرستې او د افغانستان په بیا رغونه کې ونډه اخیستل دي. له همدې کبله په افغانستان کې ډېری خلک د چین پر لور ښه ګمان لري او په افغانستان کې د دوی اقتصادي پانګونو ته سترګې په لاره دي.

## د امریکایانو د وتلو له اعلان سره یې حضور مخ پر زیاتېدلو دی

کله چې امریکا له افغانستان څخه د وتلو اعلان وکړ، نو د چین پاملرنه د افغانستان پر لور ډېره زیاته شوه. په همدې تړاو د امریکایانو له دغه اعلان څخه وروسته د چین او افغانستان اړیکې ډېرې نږدې شوې، ستراتیژیک تړون لاسلیک شو، د لوړ پوړو چارواکو ترمنځ سفرونه زیات شول، چین د افغانستان لپاره ځانګړی استازی اعلان کړ، له افغانستان سره یې په بې ساري ډول نظامي مرستې پیل کړې او په نظامي، استخباراتي او دفاعي برخو کې یې هوکړهلیکونه لاسلیک کړل، او اوس د افغانستان د سولې په پروسه کې هم خپل رول لوبوي.

## له هر لوري سره اړیکې لري

له ۲۰۰۱ کال راهیسې چین د افغانستان له ټولو لوریو سره اړیکې لري. په دې تړاو یې له افغان دولت سره هم پراخې اړیکې درلودې، چې په دربیم فصل کې ورته اشاره وشوه او له طالبانو سره هم پټې اړیکې لري. طالبانو د قطر دفتر څخه هم وړاندې چین ته سفرونه کړي او د قطر دفتر له جوړېدو وروسته هم د چین او طالبانو ترمنځ اړیکې د پراخېدو پر لور روانې دي او له ۲۰۱۴ کال راهیسې د قطر دفتر استازي چین ته څو ځله تللي دي.

## د افغانستان په لور څو اړخیزه ډیپلوماسي

د دې ترڅنګ چین د افغانستان په تړاو له نورو هېوادونو سره هم خبرې اترې کوي، چې دغه درې او دوه اړخیزې غونډې یې په لاندې ډول دي:

- **چين-پاکستان-روسيه**

د ۲۰۱۳ کال د اپريل په مياشت کې چين-پاکستان-روسيې د افغانستان په اړه خبرې اترې وکړې، د دغې غونډې موخه دا وه، چې درېواړه لوري خپل دريځونه له يو بل سره همغږي کړي او ترڅنګ يې دوی د شانګهای همکارۍ له سازمان څخه هم يو داسې ملاتړ څرګند کړ، چې د ناټو له وتلو وروسته په افغانستان کې يو رول ولوبوي[٤٥٥].

- **چين-هند-روسيه**

د افغانستان په اړه د چين-هند-روسيې خبرې اترې په ۲۰۱۴ کال کې په يوه داسې مهال پيل شوې، چې د ناټو ماموريت د خپل پای پر لور روان وو. په دغو خبرو اترو کې درېواړو لوريو د افغانستان د حالاتو په اړه نظرونه تبادله کړل او له دې سره يې همغږي ښکاره کړه، چې د افغانستان امنيت نه يوازې دا چې دغه هېواد ته مهم دی، بلکې د سيمې لپاره هم مهم دی او ترڅنګ يې د يو پياوړي، متحد، باثباته، سوله ييز او خوشاله افغانستان څخه ملاتړ هم وکړ[٤٥٦]. د دغه درې اړخيزې غونډې دويمه ناسته د ۲۰۱۵ کال د مې په مياشت کې وشوه، په دغه غونډه کې هم درې واړو لوريو د افغانستان د سولې پروسې او اقتصادي بيا رغونې څخه ملاتړ وکړ او ويې ويل چې د سيمې امنيت د افغانستان له حالاتو سره تړل شوی دی. په دې ناسته کې هم دوی د افغانستان په تړاو خپل نظرونه تبادله کړل او د همکارۍ په تړاو هم وغږېدل[٤٥٧].

- **چين-هند**

چين-هند د افغانستان په تړاو خپلې خبرې اترې د ۲۰۱۳ کال د اپريل په مياشت کې وکړې او د سيمې امنيت او ثبات يې د افغانستان له حالاتو سره ونښلاوه. دا لومړی ځل و، چې دوی د افغانستان د امنيت په تړاو خبرې اترې کولې. په دغه کتنه کې دوی

---

٤٥٥ Ananth Krishnan, China, Russia, Pakistan discuss Afghanistan situation, The Hindu, 4 April 2013, retrieved at 18 May 2015, see it online:< http://www.thehindu.com/news/international/china-russia-pak-discuss-afghanistan-situation/article4577718.ece>

٤٥٦ The Hindu, India, China, Russia hold talks on Afghan issue, 17 Jan 2014, retrieved at 16 May 2015, see it online:< http://www.thehindu.com/news/international/world/india-china-russia-hold-talks-on-afghan-issue/article5583356.ece>

٤٥٧ IbnLive, India, Russia, China for Peaceful reconciliation in Afghanistan, 29 May 2015, retrieved at 5 June 2015, see it online:< http://www.ibnlive.com/news/india/india-russia-china-for-peaceful-reconciliation-in-afghanistan-998717.html>

وويل، چې موږ بايد له افغانستان سره د سولې، ثبات، خپلواکۍ، او پرمختګ په تړاو همکاري او مرسته وکړو[٤٥٨].

## ۲۰۱۴ کال او د چين بهرنۍ سياست

د ۲۰۱۴ کال له افغانستان څخه د امريکايانو او د ناټو ځواکونو د وتلو د اعلان په توګه مشهور دی، که څه هم په دغه کال له افغانستان څخه د امريکا او ناټو ځواکونه په بشپړه توګه ونه وتل خو بيا هم د ناټو او امريکا ماموريت په افغانستان کې په ظاهره توګه پای ته ورسيد او د سرتيرو کچه يې هم ډېره راکمه شوه . له همدې ځايه ده چې چين له ۲۰۱۳ کال راهيسې په افغانستان کې ډېره لېوالتيا اخيستې او دوی يو باثباته افغانستان غواړي؛ ځکه دوی نه غواړي، چې د امريکايانو له وتلو وروسته، افغانستان بيا د يغوريانو لپاره پټن ځايونه شي او همدا راز په سيمه کې د ناامنۍ د خپرېدا لامل وګرځېږي. له دې سره، چين د امريکا او ناټو تېرې لس کلنې تجربې ته په کتلو سره به دا هم ونه غواړي، چې د افغانستان په قضيه کې تر حده زيات ښکېل شي، چې بيا به ورته ترې وتل ستونزمن وي[٤٥٩].

## چين څه ډول افغانستان غواړي؟

که د چينايي څېړونکو، سياسي تحليلګرانو، ډيپلوماتانو او لوړ پوړو چارواکو څرګندونو او تبصرو ته تم شو، نو چين يو داسې افغانستان غواړي، چې لاندې خصوصيات ولري:

- باثباته؛
- ناپېيلی؛
- خپلواک؛
- سوله ييز او له تروريزم پاک؛
- له مخدره توکو پاک؛
- بايد ختيځ ترکستان يا چين دښمنه ته پټن ځای نه وي؛
- له پاکستان سره ښې اړيکې او له پاکستان څخه د افغان کډوال بېرته

٤٥٨ Beijing Review, China, India hold first talks on Afghanistan security, 19 April 2013, see it online:< http://www.bjreview.com.cn/special/2013-04/19/content_543567.htm>

٤٥٩ Dirk van der Kley, China's foreign policy in Afghanistan, Lowy Institute for International Policy, Oct 2014

ستنېدنه.

**باثباته افغانستان:** چینایي څېړونکي، سیاسي تحلیلګران، ډیپلوماتان او لوړ پوړي چارواکي په دې اند دي، چې یو باثباته او ناپېیلې افغانستان د چین له ملي ګټو سره سر خوري؛ ځکه په افغانستان کې ثبات او امنیت به د بنسټپالو/توندلارو څپه ارامه کړي. او په کابل کې یو ناپېیلې حکومت به د نورو ځواکونو پر اشاره د چین پرضد استعمال نه شي[٤٦٠].

تر ډېره ځایه، که څېړې چین په ریښتیا هم داسې افغانستان وغواړي، نو دا د افغانستان د ملي ګټو انعکاس دی او تر دې ځایه له چینایي ګټو سره ورته والی لري.

چین یو داسې افغانستان غواړي، چې باثباته وي. په همدې تړاو د چین خارجي سیاست له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر اوسه پورې په همدې ټینګار کړی دی. د دې ستر لامل دا دی، چې دوی وېره او اندېښنه لري، چې په افغانستان کې بې ثباتي به پر سینکیانګ ایالت، د قاشغر ځانګړی اقتصادي زون، د چین د وربښمو نوې لاره، پاکستان-چین اقتصادي حوزه او پر ختیځ ترکستان ګوند اغېزې وکړي. یو چینایي څېړونکی په همدې تړاو وایي: "په افغانستان کې بې ثباتي به د چین هغو سیمو ته چې له افغانستان سره پولې لري، هم انتقال شي. چین پرته له دې چې د افغانستان ستونزه حل شي، د سینکیانګ قضیه نه شي حلولی. په افغانستان کې بې ثباتي به بنسټپالي/توندلارې ډلې تقویه کړي او دا به بیا د ختیځ ترکستان د حوصلو لپاره کافي وي، نو ځکه چینایان د افغانستان امنیت د سینکیانګ د امنیت لپاره نه پرې کېدونکی لامل ګڼي"[461].

**ناپېیلی او خپلواک افغانستان:** د طالبانو د نظام له ړنګېدو سره، چې کله په افغانستان کې د نوي نظام بنسټ کېښودل شو، نو چینایانو له دغه نوي بدلون هرکلی وکړ؛ خو په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو شتون او د افغانستان د نظام په جوړولو کې د دوی جوت رول چینایان یو څه اندېښمن کړل او کله چې په ۲۰۰۵ کال کې د افغانستان او امریکا ترمنځ ستراتیژیک پارتنرشیب اعلان شو، نو دغه حالت

٤٦٠ Zeng Xiangyu, Afghanistan and regional security: implications for China, Perspectives, Volume 8, July/December Issue, pp: 65-71 (Institute of Policy Studies, Islamabad, research Journal)

٤٦١ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stance, and perspectives, Center For Strategic and International Studies, 2012

بیا چینایان او د دوی ملګري پاکستانیان په دې اند کړل چې په افغانستان کې د امریکایانو شتون په تېره بیا د چین پرضد او د چین د حصار یوه کړۍ ده، ترڅو د چین پورته کېدونکی اقتصادي ځواک مهار کړي. له همدې ځایه له افغان لوري سره د چینایي لوړ پوړو چارواکو په خبرو اترو کې دا خبرې هم ډېرې ولیدل شوې، چې دوی د یوې داسې افغانستان څخه ملاتړ کوي، چې باثباته، یو، ناپېیلی او خپلواک وي او دا په خپله د دې خبرې ثبوت دی، چې چین نه غواړي افغانستان د کوم بل چا په لمسه د چین پرضد وکارېږي.

**سوله‌ییز او له «ترورېزم» څخه پاک:** چین یو داسې افغانستان غواړي، چې سوله ییز او له ترورېزم څخه پاک وي.په همدې تړاو چینایي لوړ پوړو چارواکیو له ۲۰۰۱ کال راهیسې له افغان لوري سره د خپلو خبرو اترو پرمهال د تروریزم پر ضد جګړې ټینګار کړی او د چین او سیمې د ثبات او پرمختګ لپاره یې د افغانستان سوله مهمه ګڼلې ده.

په ۲۰۰۲ کال کې چې کله حامد کرزی چین ته ولاړ، هلته یې د چین لومړي وزیر چورونګ جي سره ناسته درلودله، نو د چین لومړي وزیر دترهګرو په اړه وویل: "چین د هر ډول تروریزم مخالف دی. د تروریستانو یوه وړه ډله (ختیځ ترکستان) چې له پولو وراخوا یې ترینینګ ترلاسه کړی دی د چین د سنکیانګ پر سولې او ثبات بده اغېزه ښندي او چین پر دې نظر ساتي"[462]. همدا راز د حامد کرزي د ۲۰۰۲ کال د سفر پرمهال د چین رئیس جمهور جیانګ زیمن هم حامد کرزي ته د خپلو خبرو پرمهال ټینګار وکړ، چې چین د هر ډول تروریزم ضد دی، تروریزم پرې اغېزې ښندلې ، له همدې کبله چین د تروریستانو په له منځه وړلو کې له افغان دولت څخه ملاتړ کوي[٤٦٣].

د ۲۰۰۲ کال په دسامبر میاشت کې د افغانستان انتقالي حکومت له خپلو شپږو ګاونډیانو سره د ښو اړیکو په تړاو د کابل اعلامیه صادره کړه، چې د سیمې سوله او ثبات یې له یو بل سره نښتي وبلل او د تروریزم، بنسټپالنې او د مخدره توکو پرضد یې د ګډې مبارزې په تړاو ټینګار وکړ[٤٦٤].

---

٤٦٢ سخنیار، مخ ۲۹۲

٤٦٣ سخنیار، مخ ۲۹۳

٤٦٤ سخنیار، مخ ۲۹۸

وروسته په ۲۰۰۶ کال، چې حامد کرزی بیا چین ته ولاړ،نو هو جن تاو د دوه اړخیزو اړیکو د ژورولو په تړاو پنځه وړاندیزونه وکړل، چې درېیم وړاندیز یې د امنیتي همکاریو په تړاو و. په دغه وړاندیز کې هوجن تاو وویل، موږ د تروریزم پرضد د افغانستان له دریغ څخه ملاتړ کوو او غواړو چې په امنیتي سکتور،د مخدره موادو او تروریزم پرضد په مبارزه کې همکاري وکړو، ترڅو د درېیو شیطاني ځواکونو او فراملي جرمونو پرضد په ګډه سره مبارزه وشي[٤٦٥].

په ۲۰۱۰ کال کې چې حامد کرزی چین ته ولاړ، نو هلته ورته د چین لومړي وزیر د خپلو خبرو اترو پرمهال وویل، چې موږ باید درې شیطاني ځواکونه (تروریزم، بیلتون پالنه او افراطیت) منزوي کړو او د فراملي جرمونو مخه ونیسو[٤٦٦]. همدغه د تروریزم پرضد ګډه مبارزه بیا د ۲۰۱۲ کال د دواړو هېوادونو ترمنځ د ستراتیژیک تړون برخه هم وګرځېده او له هغې وروسته به بیا په هره ناسته کې پرې ټینګار کېده.

**په پاکستان کې افغان کډوال:** چین یو داسې افغانستان غواړي، چې کډوال یې بېرته خپل هېواد ته وګرځېږي. چین دغه تګلاره د شورویانو له وتلو سره غوره کړې، د ۱۹۸۹ کال د اپرېل پر ۲۰مه نېټه د چین لومړی وزیر لي پینګ د چین د خلکو د اوومې کنګرې په دویمه جلسه کې وویل: "له افغانستان څخه د شورویانو د سرتېرو د وتلو څخه هرکلی کوو او هیله لرو چې د مذاکراتو له لارې په افغانستان کې یو ایتلافي حکومت جوړ شي او داسې زمینه مساعده کړي، چې افغان کډوال بېرته خپل هېواد ته وګرځېږي"[467]. له دې سره، چین له ۱۹۹۵ کال څخه تر ۲۰۰۱ کال پورې له افغان کډوالو سره تقریباً ۱.٦ میلیون ډالره مرسته وکړه. د ۲۰۰۱ کال د جولای په میاشت کې یې تقریباً دوه میلیونه یوان (۲۴۲۰۰۰ امریکایي ډالره)مرسته د افغانستان له یو این ایچ سي آر سره وکړه[٤٦٨] او وروسته یې د همدغه کال د اکتوبر په میاشت

٤٦٥ 'Hu Jintao Holds talks with Afghan President Karzai', Ministry of Foreign Affairs of the people's republic of China, 21 June 2006, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t258995.shtml>

٤٦٦ 'Wen Jiabao meets with afghan president Karzai', Ministry of Foreign Affairs of the people's republic of China, 25 March 2010, retrieved at 1 June 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t675843.shtml>

٤٦٧ سخنیار، مخ ۲۵٦-۲۵۷

٤٦٨ Agence France-Presse, China extends aid for Afghanistan, Relief Web, 3 July 2001, retrieved at 3 July 2015, see it online:< http://reliefweb.int/report/afghanistan/china-extends-aid-afghan-refugees>

کې بیا یو میلیون یوان  له افغان کډوالو سره مرسته وکړه[٤٦٩]. پر دغه مهال چینایي حکومت پر نړېوالو هم غږ وکړ، چې د افغان کډوالو په تړاو د افغانستان له ګاونډیانو، په تېره بیا پاکستان، سره مرستې وکړي؛ ځکه په دغه هېواد کې تر ټولو زیات افغان کډوال اوسېږي[٤٧٠].

دا چې چین ولې د افغان کډوالو په بېرته تګ کې ډېره لېوالتیا اخیسته، لاملونه یې څه دا ډول کېدای شي:

**لومړی:** دا یوه انساني قضیه وه او چین هم له همدې ځایه په دغه قضیه کې لیوالتیا اخیسته؛

**دویم:** دا چې له خپل ستراتیژیک ملګري پاکستان څخه تر ډېره د افغان کډوالو بار کم کړي.

**له مخدره توکو څخه پاک:** چین یو داسې افغانستان غواړي، چې د مخدره توکو کښت پکې صفر وي؛ ځکه چین ته چې د کومو دوو لارو څخه د مخدره توکو قاچاق کېږي، د یوه یې مهمه برخه افغانستان جوړوي. د دې ترڅنګ د چینایانو په اند په سینکیانګ کې د مخدره توکو قاچاق په ډېرې توګه د ختیځ ترکستان ګوند ته هم ګټه رسوي.

٤٦٩ People's daily, China provides aid for Afghan refugees, 2 Oct 2001, retrieved at 3 July 2015, see it online:< http://www.china.org.cn/english/2001/Oct/19996.htm>

٤٧٠ 'The Chinese government decided to provide commodities in order to properly settle afghan refugees', Ministry of Foreign Affairs of the People's republic of China, 2 Oct 2001, retrieved at 3 July 2015, see it online:< http://www.fmprc.gov.cn/mfa_eng/wjb_663304/zzjg_663340/yzs_663350/gjlb_663354/2676_663356/2678_663360/t15824.shtml>

پنځم فصل

# په چين کې د افغانستان ګټې او د افغانستان بهرنی سیاست (۲۰۰۱-۲۰۱۵)

په اقتصادي او سياسي توګه افغانستان په نړيوال سياست کې د اغېزو او ځواک ډېر څه نه لري، له همدې ځايه ده، چې زموږ د اغېزو او ګټو لمن يوازې تر ګاونډيو او سيمه ييزو هېوادونو پورې محدودېدلای شي. خو د ګاونډيانو په تړاو هم، چې هلته مو ګټې څه دي؟ په نړېوالو او ملي ژبو کې ډېر څه نه لرو. موږ يوازې او ډېری ځل همدا لولو او اورو، چې دلته د ګاونډيانو، زبرځواکونو او سيمه ييزو هېوادونو ګټې دي او په هېواد کې د تېرو څو لسيزو د غميزې يو لامل دا هم دی، چې دلته د بېلابېلو هېوادونو ګټې له يو بل سره په ټکر کې پاتې شوي او له کبله يې په دغه هېواد کې د نيابتي جګړې اور بل شوی دی. خو لا تر اوسه مو نه دي اوريدلي، چې په ګاونډيو او يا نورو هېوادونو کې زموږ ګټې څه دي؟

دا چې افغانستان له ۲۰۰۱ کال راهيسې تر اوسه (۲۰۱۷) په چين کې څه ګټې درلودې، په اړه به يې تفصيلي يادونه وشي؛ خو له دې وړاندې غواړو، چې په لنډه توګه له ۱۹۵۰ کال راهيسې په چين کې د افغانستان ګټو ته اشاره وکړو.

په ۱۹۵۵ کال کې د افغانستان او چين ترمنځ ډيپلوماتيکې اړيکې پيل شوې، دا چې ولې په ۵۰مه لسيزه کې د دواړو هېوادونو اړيکې پيل شوې، عمده لامل يې د هغه مهال د نړېوال سياست او سړې جګړې سيناريو وه، چې له يوې خوا پکې په سيمه کې د سيټو او سېنټو ايتلافونه رامنځته شوي وو او له بلې خوا د افغانستان او چين

بهرنـی سیاسـت پـر ناپېیلتـوب متکـي وو او لـه هنـد او شـوروي سره یـې ګـډه ملګرتیـا بیـا هغـه نـور لاملونـه شـول، چـې دواړه هېوادونـه یـې یـو بـل تـه نـږدې کـړل. افغانسـتان هغـه مهـال غوښـتل، چـې پـه ډیپلوماتیکـي ډګـر کـې د خپلـو خواخـوږو هېوادونـو لېسـت پـراخ کـړي؛ ځکـه د چیـن د بهـرني سیاسـت اصـول او د افغانسـتان د بهـرني سیاسـت اصـول تـر ډېـره یـو شـان وو.

خـو لـه ۱۹٦۲ کال وروسـته، ان تـر د ثـور کودتـا پـورې کابـل وغوښـتل، چـې پـه هېـواد کـې تـر یـوه حـده د شـوروپانو نفـوذ د چیـن پـر مرسـته راکـم کـړي. لـه همـدې ځایـه وه، چـې څـو ځلـه یـې د شـوروپانو پـر بلنـه د برېژنیـف پـه ګـډ اسـیایي امنیتـي کمربنـد کـې برخـه وانـه خیسـته؛ ځکـه د دې ایتـلاف بنسـټیزه موخـه چیـن و. لـه دې سره، چیـن لـه ۱۹٦۲ کال تـر ۱۹۷۸ کال پـورې، لـه افغانسـتان سره پـه یـو شـمېر اقتصـادي پـروژو کـې مرسـتې وکـړې او همـدا راز یـې لـه افغانسـتان سره مـالي مرسـتې هـم وکـړې، چـې پـه درېیـم فصـل کـې ورتـه پـه تفصیـلي توګـه اشـاره شـوې.

د شـوروپانو لـه یرغـل سره د افغـان ملـت پـه ګټـو کـې دا هـم شـامله شـوه، چـې چیـن هـم د شـوروپانو پرضـد د آزادۍ پـه جګـړه کـې د دوی تـر شـا ودرېـږي. چیـن هـم د یـو شـمېر هغـو لاملونـو لـه کبلـه، چـې پـه دویـم فصـل کـې ورتـه اشـاره وشـوه، پـه دغـه جګـړه کـې د افغـان ملـت تـر شـا ودرېـد او پـه ډیپلوماتیکـي او نظامـي ډګرونـو کـې یـې لـه مجاهدینـو څخـه ملاتـړ وکـړ.

خـو کلـه چـې لـه افغانسـتان څخـه شـوروپان ووتـل او پـه هېـواد کـې ورځ تـر بلـې ناامنـۍ پـه زیاتېـدو شـوې، نـو د خوسـت محـاصرې پرمهـال ډاکټـر نجیـب اللـه وغوښـتل، چـې لـه چیـن څخـه د مرسـتې پـه ترلاسـه کولـو سره پـر پاکسـتان فشـار وارد کـړي او پـه پـای پـه هېـواد کـې روانـه جګـړه تـم کـړي. پـه همـدې تـړاو ډاکټـر نجیـب اللـه د چیـن رئیـس جمهـور یانـګ شـان کـن تـه د ۱۹۹۱ کال د اپرېـل پـر ۴مـه نېټـه یـو لیـک واسـتاوه او لـه هغـه یـې وغوښـتل، چـې پـر پاکسـتان لـه خپـل نفـوذه ګټـه واخـلي او دغـه جګـړه نـوره پـای تـه ورسـوي.

لـه دې وروسـته، همداسـې یـو بـل ګام اسـتاد ربـاني هـم د ګلبدیـن حکمتیـار او دوسـتم د ایتـلاف پرمهـال واخیسـت. اسـتاد ربـاني د چیـن رئیـس جمهـور جیانـګ زیمـن تـه لیـک واسـتاوه او د ډاکټـر نجیـب اللـه پـه شـان یـې لـه چیـن څخـه هیلـه وکـړه، کـه چېـرې پـر پاکسـتان لـه خپـل نفـوذ ګټـه واخـلي او پـه هېـواد کـې روانـه جګـړه تـم کـړي. ورپسـې

چې کله په ۱۹۹٦ کال کې د استاد رباني د سولې پرختې (طالبان) د کابل پر درشل ودرېدل، نو استاد رباني د یو ځل بیا لپاره د چین رئیس جمهور جیانګ زیمن ته لیک ولیکه او ورته هیله یې تړې وکړه.

خو بیا هم په ۹۰مه لسیزه کې د افغانستان لخوا دا دړې واړه هڅې ناکامې شوې. چین ونه غوښتل چې یو ځل د ډاکټر نجیب الله لپاره خپل ستراتیژیک ملګری خپه کړي او بل ځل له یوه داسې چا څخه ملاتړ وکړي، چې له کابل وراخوا یې واکمني هیڅ وه!

طالبانو د خپلې دورې پرمهال وغوښتل، چې د یغوري مسلمانانو سره د مرستې نه کولو په بدل کې چینایان دې ته وهڅوي، چې د ملګرو ملتونو په امنیتي شورا کې هغه قراردادونه ویټو کړي، چې د دوی پرضد راتلل او ترڅنګ یې دوی په رسمیت هم وپېژني؛ خو د یوولسم سپتامبر پېښو بیا هر څه بدل کړل.

## په چین کې د افغانستان ګټې او بهرنی سیاست (له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې)

د طالبانو له واکمنۍ وروسته، په افغانستان کې د بیا رغونې او جوړونې بهیر پیل شو. په دغه تړاو افغانستان هغه مهال او اوس هم، د بهرنیو هېوادونو مرستو ته اړتیا درلوده. د حکومتي چاروا کو او پرګنو د ظرفیت لوړولو په موخه یې د بهرنیانو له خوا ترینینګ او تحصیلي برسونو ته ضرورت درلود. همدا راز له افغانستان سره اقتصادي همکاري او د هېواد پرمختګ بهرنیو پانګونو ته سترګې په لاره وو. وروسته، چې په افغانستان کې جګړه ورځ تر بلې توده شوه، نو د دې خبرې ضرورت لا هم زیات شو، چې یو بهرنی هېواد د افغانستان د سولې په تړاو خپل مثبت رول ولوبوي. که څه هم چین په لومړیو دوو (مرستې او ترینینګ او برسونه) کې د نورو په پرتله کم رول ولوباوه؛ خو په وروستیو دوو -اقتصادي همکاري، پانګونې، او د سولې په پروسه کې ونډه- کې یې رول تر ټولو جوت دی.

دا چې په مشخصه توګه په چین کې د افغانستان ګټې څه وي او څه دي، په لاندې موضوعاتو کې ورته اشاره شوې.

**اقتصادي مرستې:** افغانستان د حامد کرزي د واکمنۍ له لومړۍ ورځې راهیسې اقتصادي مرستو ته اړتیا درلودله. په همدې تړاو د هېواد دننه او بهر ډېری نړېوال کنفرانسونه هم جوړ شول. چین هم، هم د دغو کنفرانسونو له لارې او هم له افغانستان سره په دوه اړخیزه توګه اقتصادي مرستې وکړې. چین له ۲۰۰۱ کال راهیسې له افغانستان سره تقریباً ٦۱۳ میلیون ډالره مرسته وکړه. دغه مرستې په ډېری توګه د (Grants[471]) په توګه وې.

**د ظرفیت لوړول:** د یوه وروسته پاتې هېواد د وروسته پاتېوالي له عواملو یوه دا هم ده، چې په دغه هېواد کې به د معارف او لوړو زده کړو د نشتون ترڅنګ د ظرفیت ټیټوالی هم وي. ځکه، له هر څه وړاندې د پرمختګ لپاره دوه کارونه ډېر اساسي وي: لومړی، په هېواد کې د معارف، لوړو زده کړو او کاري طبقې د ظرفیت لوړوالی او دویم په هېواد کې د زیربناوو جوړېدنه یا نظام دی.

افغانستان چې تر څو لسیزو د جګړو ښکار و، له همدې کبله یې نه یوازې دا چې زیربناوې تباه شوې، بلکې مخ پر زړښت کدرونه یې لولپه شول او په جګړو کې رالوی شوی نسل یې بیا هم د سیمې او نړۍ په پرتله د کم ظرفیت خاوندان وو. له همدې ځایه ده، چې د حامد کرزي د واکمنۍ په راتګ سره، دغو دوو څېزونو (معارف او لوړې زده کړې، او د زیربناو جوړول) ته ډېره پاملرنه وشوه.

د حامد کرزي د واکمنۍ په پیل کې په افغانستان کې د زده کړې او ظرفیت لوړولو کیفیت او ارقام دواړه کم وو؛ خو د کرزي د دیارلس کلنې دورې وروسته، د زده کړو ارقام لوړ شو او د کیفیت او ظرفیت جوړولو په تړاو هم هڅې وشوې. دلته له ظرفیت لوړولو موخه د حکومتي مامورینو او په مجموع کې د افغاني ځوانانو ظرفیت لوړول مراد دي. په همدې تړاو، چین له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ۱۰۰۰ پورې د افغانستان حکومتي مامورین په بېلابېلو ډګرونو کې وروزل او ډېرو ته یې تحصیلي برسونه هم ورکړل. خو دغه ارقام هغه مهال لوړ شو، چې کله اشرف غني چین ته په خپل لومړني سفر ولاړ او هلته دواړو لورو په یوه ګډه اعلامیه کې په دې سره سلا شول، چې چین به په

471 په اقتصاد کې مرستې په درې ډوله وي:
grants
Aid
loan

راروانو پنځو کلونو کې تر ۳ زرو افغانانو روزي او په دغه موده کې به افغانانو ته ۵۰۰ تحصيلي بورسونه هم ورکوي.

**پانګونه:** پانګونه هغه بله برخه ده، چې له ۲۰۰۳ کال راهيسې افغانستان ورته سترګې په لاره دی. په ۲۰۰۷ کال کې چين د مېس عينکو د استخراج قرارداد ترلاسه کړ او که چېرې دغه پروژه په سمه توګه پرمخ ولاړه شي، نو دا به د افغانستان په تاريخ کې د کوم بهرني هېواد تر ټولو زياته پانګونه وي.

د دغې پانګونې ارزښت په دې کې هم دی، چې دا به له يوې خوا د افغانستان عايدات لوړ کړي او له بلې خوا به د افغانستان پر اقتصاد هم ژورې اغېزې وښندي. لکه د زيربناو (سړکونو، رېل پټلۍ) جوړول، د مېسو راويستل، خلکو ته روزګار پيدا کول او د برېښنا بند جوړول او نور. د يوې سرچينې له مخې هر کال به د دغې پروژې له کبله تقريباً تر ۳۹۰ ميليون ډالرو عايد د افغان دولت جيب ته د ماليې په توګه ولاړه شي، چې دا به د افغانستان په عايد کې ۵۰ سلنه زياتوالی راولي[٤٧٢]، همدا راز د ۸۰۸ ميليون ډالرو درې قسطونه او ۱۹.۵ سلنه Royalties به هم افغان دولت ته ورکړل شي[٤٧٣]. په پای کې به دغه پانګونه تقريباً تر ۱۰ ميلياردو ډالرو پورې ورسېږي[٤٧٤].

دلته د يادونې وړ بولو، چې د مېس عينکو په کان کې چينايي پانګونې له ۲۰۰۲ کال راهيسې تر ۲۰۰۷ کال پورې په هېواد کې د ټولو پانګونو ۷۰ سلنې برابره ده او په همدغه پړاو کې (۲۰۰۲-۲۰۰۷) د ټولو نړېوالو مرستو ۳۵ سلنې برابره هم ده[٤٧٥].

په افغانستان کې د چين دويمه پانګونه د آمو حوزې د تېلو د استخراج په برخه کې ده. د ۲۰۱۱ کال د ديسامبر په مياشت کې د چين د پترولو ملي شرکت او د افغانستان وطن شرکت په شريکه د دغې پروژې قرارداد ترلاسه کړ. په دغه حوزه کې ويل کېږي تر ۸۷ ميليون بيرلو پورې تېل شته دي[٤٧٦]. د چين د پترولو ملي شرکت به تر ۴۰۰ ميليون ډالرو پورې په دغه حوزه کې پانګونه وکړي او افغانستان ته به تر ۷ ميلياردو

---

٤٧٢ Andrew Small, The China-Pakistan Axis: Asia's New Geopolitics, USA: Oxford University Press, Tea with The Taliban Chapter.

٤٧٣ تېر ماخذ

٤٧٤ تېر ماخذ

٤٧٥ تېر ماخذ

٤٧٦ تېر ماخذ

ډالـرو عایـد پیـدا کـړي[٤٧٧]. لـه دې سره بـه چینایـان پـه افغانسـتان کـې د تېلـو د پاکولـو یـوه ریفایـنري هـم جـوړه کـړي[٤٧٨]، چـې دا بـه بیـا د بلـخ او شـمالي افغانسـتان د نـورو تېلـو پـه پاکولـو کـې هـم مهمـه ونـډه ولوبـوي او افغانسـتان بـه لـه اضـافي لګښـتونو هـم خـلاص کـړي.

**امنیتـي ګټـې:** چیـن پـه افغانسـتان کـې لـه ۱۹۹۳ کال راهیسـې خپلـه بنـده سـفارتخانه پـه ۲۰۰۲ کال کـې بیـا پرانیسـته. لـه همـدې مهالـه دواړو هېوادونـو پـه امنیتـي برخـه کـې پـر همـکارۍ ټینـګار وکـړ. افغانسـتان لـه چینایـي چارواکـو سره پـه ناسـتو کـې تـل پـه دغـې خبرې ټینـګار کـړی، چـې د افغانسـتان خـاوره بـه د چیـن پرضـد نـه اسـتعمالیږي او افغانـان بـه د ختیـځ ترکسـتان ګونـد غـړو پرضـد مبـارزه کـوي.

د دې ترڅنـګ افغـان دولـت هیلـه کولـه، چـې لـه پاکسـتان سره د چیـن نـږدې اړیکـې بـه دغـه کان [د مېـس عینکـو] خونـدي کـړي او پـه امنیتـي توګـه بـه ان د افغانسـتان پـر راتلونکـي هـم اغېـزه وښـندي[٤٧٩]. پـه دې تـړاو د افغـان حکومـت یـو لـوړ پـوړي چارواکـي لـه دې پوښـتنې سره ، چـې: آیـا آی ایـس آی بـه پـه ریښـتینې توګـه خپلـو اثاثـو (Assets) تـه اجـازه ورکـړي، چـې د چینایانـو پانګونـې لـه ګـواښ سره مـخ کـړي؟ ناموافقـه وو؛ ځکـه د ده پـه انـد د کابـل پـر لـور د ناامنیـو هـر قـدم بـه بیجینـګ هـم پـه اندېښـنو کـې اچـوي[٤٨٠].

**د سـولې پـه پروسـه کـې رول:** پـه افغانسـتان کـې د ډاکټـر نجیـب اللـه د واکمنۍ راهیسـې هڅـې وشـوې، چـې چیـن وهڅـوي پـه افغانسـتان کـې کورنـۍ جګـړه تـم کـړي. ځکـه ډاکټـر نجیـب او بیـا اسـتاد ربـاني پـر دې بـاوري وو، چـې پاکسـتان پـر مجاهدینـو، حزب اسـلامي او طالبانـو ډېـر نفـوذ لـري او چیـن بیـا د پاکسـتان سـتراتیژیک ملګـری دی. کـه چیـن وغـواړي، نـو پاکسـتان هڅولـی شي، چـې دغـه درېیـواړه لـوري دې تـه اړ کـړي، چـې پـه کابـل کـې

٤٧٧ د چین د پټرولو ملي شرکت به افغان دولت ته ۲۰ سلنه د خپلو ګټو پر سر ټکس ورکړي او همدا راز د مجموعي ګټې ۷۰ سلنه به هم ورکوي. د افغانستان د معادنیانو او صنایعو وزیر شهراني په اند په مارکېټ کې د یو بېرل تېل نرخ تقریباً ۱۰۰ ډالره دی او د آمو حوزه تقریباً ۸۷ ملیون بیرله لري نو له همدې ځایه دغه پروژه به تر ۲۵ کلونو پورې افغانستان ته تر ۷ ملیارد ډالرو پورې آمدن ورکړي. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ:
Steven A. Zyck, The role of China in Afghanistan's Economic Development and reconstruction, Civil Military Focus Centre, (March 2012), p. 6

٤٧٨ Steven A. Zyck, The role of China in Afghanistan's Economic Development and reconstruction, Civil Military Focus Centre, (March 2012), p. 6

٤٧٩ Andrew Small, The China-Pakistan Axis: Asia's New Geopolitics, USA: Oxford University Press, Tea with The Taliban Chapter.

٤٨٠ تېر ماخذ

جګړه نوره تم کړي؛ خو ډاکټر نجیب او استاد رباني دواړه په خپلو دغو هڅو کې ناکام شول[٤٨١]. له ۲۰۰۱ کال راهیسې او په تېره بیا چې کله په افغانستان کې چین د مېس عینکو قرارداد ترلاسه کړ، نو د دې تر شا یو لامل دا هم وو، ځکه افغان دولت ګمان کاوه، چې طالبان د پاکستان تر نفوذ لاندې دي او طالبان او پاکستان به هغه ځایونه په نښه نه کړي، چې چینایان به پکې کار کوي[٤٨٢]. همدا راز په ۲۰۱۲ کال کې حامد کرزي وړاندیز وکړ، چې د افغانستان-پاکستان-چین ترمنځ دې درې اړخیزې ناستې پیل شي. چینایانو له دغه وړاندیز هرکلی وکړ او په دې تړاو یې ډیپلوماسي په کار واچوله، چې یادونه یې په درېیم فصل کې وشوه. وروسته چې په ۲۰۱۴ کال کې اشرف غني د افغانستان رئیس جمهور شو، نو ده د یو ځل بیا لپاره وغوښتل، چې د افغانستان د سولې په تړاو د چین کارد استعمال کړي. خو ترڅنګ یې له پاکستان سره هم اړیکې ښې کړې او ډېرې امتیازات یې ورکړل[٤٨٣]. دا چې اشرف غني ولې د سولې په پروسه کې چین رادخیل کړ، لاندې عوامل یې درلودل:

- چین د پاکستان ستراتیژیک ملګری دی او پر پاکستان نفوذ لري؛
- اوسمهال چین په خپله د سینکیانګ په ایالت کې د ثبات پسې دی[٤٨٤] او د افغانستان ثبات او آرامي نه یوازې دا چې د سینکیانګ پر ایالت اغېزه ښندلای شي، بلکې د شي جین پینګ د وربښمو نوې لارې او د پاکستان-چین پر اقتصادي حوزې هم اغېزه ښندلای شي؛
- چین د افغانستان د قضیې له دواړو طرفونو (طالبان او افغان حکومت) سره ښې اړیکې لري؛
- چین کولای شي، چې د افغانستان د سولې په پروسه کې د یو نړېوال

---

٤٨١ یادونه یې په لومړي فصل کې هم شوې، ترڅنګ یې د لیکوال د انګریزي څېړنیزې مقالې ته مراجع وکړئ:
Ahmad Bilal Khalil, The Chinese Card in Afghan Foreign Policy: A historical Perspective

٤٨٢ Andrew Small, The China-Pakistan Axis: Asia's New Geopolitics, USA: Oxford University Press, Tea with The Taliban Chapter.

٤٨٣ دا چې اشرف غني په پیل کې پاکستان ته څه ډول امتیازات ورکړل، په لاندې ډول دي:
له هند څخه د ثقیلو وسلو رانیول ردول؛ پاکستان ته د اپټا ترانزیتي تړون کې منځنۍ اسیا په تېره بیا تاجکستان ته لاره ورکول، هغه هم په داسې مهال کې چې پاکستان افغانستان ته له هند سره په تجارتي برخه کې لاره نه ورکوي؛ ګډ پوځي عملیات؛ پاکستان ته د حکیم الله محسود ورور سپارل، چې په افغانستان کې یې پناه اخیستې وه؛ له آی ایس آی سره تفاهملیک؛

٤٨٤ له تېرو درېیو کلونو راهیسې (۲۰۱۲ څخه تر اوسه) په سینکیانګ ایالت کې ثبات ورځ تر بلې خرابیږي او په دغه مهال په لسګونو چاودنې هم شوي دي.

ضامن کوونکي په توګه رول ولوبوي؛ ځکه په کابل کې ډېری د پاکستان پر کړنو، ژمنو او ویناوو شکونه څرګندوي؛ خو چین بیا په دې برخه کې هم د پاکستان په تړاو او هم د طالبانو په تړاو د یو ضامن کوونکي ځواک په توګه ټولو ته د باور وړ دی؛

- چین هم د خپلو داخلي او بهرني عواملو له کبله غواړي د افغانستان د سولې په پروسه کې مثبت رول ولوبوي. دا به د چین له خوا لومړی نړېوال رول وي، چې د خپلو پولو وراخوا یې ترسره کوي.

وروستی فصل

# لنډیز، پایله او سپارښتنې

د افغانستان او چین اړیکې؛ ان د چین د وریښمو لارې له تېرېدو څخه راپیل شوې دي. دواړه هېوادونه له یو بل سره په لرغونې زمانه کې په اقتصادي ډیپلوماسۍ کې ننوتل، چې د وریښمو لاره یې ستره بېلګه ده. په افغانستان کې کوشانیان او د کوشانیانو امپراتوري هم چینایي ریښې لري، هغه په دې معنا، چې دوی له چین څخه راغلي وو. دغه راز لومړني چینایي هم د یوه افغان راهب لهخوا د بودا دین قبول کړ.

افغانستان او چین د وریښمو لارې او یو شمېر نورو اړیکو پرته، په همدغه لرغوني پړاو کې د خپلو ګاونډیانو په پرتله له یو بل سره د ټیټې کچې اړیکې لرلې. د بېلګې په ډول، افغانستان د تاریخ په تېرو اوږدو پړاوونو کې له هند او فارس سره پراخې اړیکې لرلې او په بل اړخ کې چین هم، تر ډېره له جاپان، کوریاګانو او هند سره پراخې اړیکې پاللې. خو بیا هم که د افغانستان او چین اړیکو ته، د دوی له ګاونډیانو سره له پرتلې وراخوا ځیر شو، نو څرګندېږي، چې د تاریخ په اوږدو کې د دواړو هېوادونو دوه‌اړخیزې اړیکې د ښو اړیکو هنداره وه.

هغه مهال چې په چین کې د کمونېزم انقلاب وشو، نو افغانستان نه یوازې دا چې د چین دا نوی بدلون (کمونستي انقلاب) یې داسې مهال په رسمیت وپېژانده، چې پانګوالې او لوېدیزې نړۍ ورته د شک په سترګه کتل، بلکې له همغه مهال راهیسې یې په ملګرو ملتونو کې د چین له داعیې هم ملاتړ وکړ. په چین کې د کمونستانو د دغه نوي بدلون له راتګ سره د افغانستان او چین ترمنځ په ۱۹۵۵ کال کې دیپلوماتیکې اړیکې ټینګې شوې او د یو بل هېوادونو ته د لوړ پوړو چارواکو سفرونه هم زیات شول. وروسته بیا د ۱۹۵۷ کال د جولای په ۲۸مه د دواړو هېوادونو

ترمنځ د سوداګرۍ قرارداد لاسليک شو. په همدغه کال د چين لومړی وزير چو اين لای هم افغانستان ته راغی او ورپسې د افغانستان صدراعظم محمد داوود خان هم د ۱۹۵۷ کال د اکتوبر په ۲۲مه پيکينګ ته ولاړ. هلته يې د چين د انقلاب له پلار (ماؤ) سره وکتل او لا به دوه کاله پوره نه وو، چې د بهرنيو چارو وزير يې هم ور واستاوه، په ۱۹٦۰ کال کې بيا د دواړو هېوادونو ترمنځ د ملګرتوب او نه تعرض تړون لاسليک شو، چې وروسته بيا دغه تړون د سرحدي شخړې په هواري او د افغانستان او چين ترمنځ د سرحد په نښه کولو کې هم مرسته وکړه.

دا چې چين د سړې جګړې په دوران کې ولې افغانستان ته نږدې شو او د چين لومړي وزير چو اين لای، په ۱۹۵٦ کال کې د افغانستان صدر اعظم چين ته په رسمي سفر دعوت کړ، تر ډېره يې تر شا د سړې جګړې د نړيوال سياست عوامل وو.

افغانستان او چين له ۱۹۵۰ تر ۱۹٦۲ کال پورې تقريباً د يو ډول همغږي بهرني سياست له کبله يو بل ته نږدې شول. په دغه پړاو کې دواړو هېوادونو پر ناپېيلتوب تکيه کوله. همدا راز له شوروي او هند سره ګډې دوستۍ هم د دواړو په نږدې کولو کې رول ولوباوه. د دې ترڅنګ په سيمه کې د امريکايانو نظامي پکتونه (سيټو او سېنټو) هغه نور عنصرونه وو، چې دواړو پرې يو ډول تبصرې او غبرګونونه درلودل.

په افغانستان کې د دېموکراسۍ لسيزې له پيلېدو سره د دواړو هېوادونو دوه‌اړخيزې اړيکې لا وغوړېدې. په دغه پړاو کې د افغانستان پاچا ظاهر شاه په ۱۹٦۴ کال کې چين ته ولاړ او د چين د بهرنيو چارو وزير په ۱۹٦۵ کال او د چين ولسمشر ليوشاوچي هم په ۱۹٦٦ کال کې کابل ته راغلل. په همدغه پړاو کې په سوله‌ييزه توګه د دواړو هېوادونو ترمنځ سرحدي پوله هم په نښه شوه او په دې توګه دا پوله د افغانستان يوازېنۍ سرحدي پوله شوه، چې په خپله خوښه يې له خپل يوه ګاونډي هېواد سره په خپلواک ډول وټاکله. همدا راز د دېموکراسۍ په لسيزه کې د چين له‌خوا له افغانستان سره لومړنۍ مالي مرسته هم وشوه او په مجموع کې په دغه پړاو کې چين له افغانستان سره کابو ۳۳ ميليون ډالره مرسته وکړه.

وروسته چې د محمد داوود خان کودتا د موسى شفيق حکومت او د دېموکراسۍ لسيزې ته د پای ټکی کېښود، نو په لومړي سر کې د چين او افغانستان اړيکې سړې شوې؛ ځکه چينايان په افغانستان کې د محمد داوود خان له راتګ سره لاس تر زنې کېناستل او دا وېره ورسره وه، چې محمد داوود خان به بيا پښتونستان‌محوره بهرنۍ

سیاست پلی کړي او د دوی نااعلان شوی ستراتېژیک ملګری به داسې مهال له ګواښ سره مخ کړي، چې پاکستان پکې ایله خپل ختیځ وزر (ختیځ پاکستان یا اوسنی بنګله‌دېش) بایللی و.

دغه راز چین له شوروي سره د سړې جګړې له کبله هم اندېښمن و، چې هسې نه دا کودتا د شوروي په اشاره شوې وي. له همدې ځایه، چین د داوود خان کودتا په خپله خوښه په رسمیت ونه پېژندله، بلکې دا کار یې یوازې د کابل په خوښه وکړ.

خو وروسته چې محمد داوود خان خپل ځانګړی استازی، محمد نعیم، چین ته واستاوه؛ نو ده بیا تر ډېره د چین دا اندېښنې راکمې کړې او چین په ځواب کې له افغانستان سره ۵۵ میلیون ډالره مرسته وکړه.

د دېموکراسۍ په لسیزه او د محمد داوود خان د جمهوریت په دوره کې له کابل سره د چین د مرستو موخه، په افغانستان کې د شوروي او هند د نفوذ مخنیوی و؛ ځکه چین هغه مهال له دواړو هېوادونو (شوروي او هند) سره په سړه جګړه کې ښکېل و.

که څه هم په افغانستان کې د ثور له کودتا سره، چین په افغانستان کې د ټیټې کچې اړیکې درلودې؛ خو د شورویانو له یرغل سره دغه اړیکې هم پرې شوې. چین د شورویانو یرغل وغنده او له مجاهدینو سره یې مرستې پیل کړې. چین په دغه پړاو (۱۹۷۹- ۱۹۸۹) کې نه یوازې دا چې د ببرک کارمل حکومت په رسمیت ونه پېژنده، بلکې په دغه پړاو کې یې د افغانستان له دولت سره یوه تفاهمنامه، یادښت او یا کوم قرارداد هم لاسلیک نه کړ. خو برعکس له افغان مجاهدینو او د آزادۍ له مبارزینو سره یې مرستې روانې وساتلې. دوی دغه کار د څو لاملونو له کبله وکړ: لومړی، له شوروي سره یې رقابت و؛ دویم، له افغانستان وروسته، د چین ستراتیژیک ملګری (پاکستان) د خطر پر لومړۍ لیکه و ؛ له دې سره، چین د شورویانو له‌خوا د افغانستان نیول له خپلو نړیوالو ګټو سره هم په ټکر کې بالله.

خو د شورویانو له وتلو وروسته، د چین او د ډاکټر نجیب الله د حکومت ترمنځ د ټیټې کچې اړیکې پیل شوې او د مجاهدینو په راتګ سره دغه اړیکې ان تر دې ورسیدې، چې د چین رئیس جمهور جیانګ زیمن د افغانستان د وخت رئیس جمهور استاد رباني چین ته په یو رسمي سفر دعوت کړ؛ خو د کورنۍ جګړې له نښلېدو سره دغه سفر ترسره نه شو او وروسته دوه اړخیزې اړیکې خړې پړې شوې او په پای کې په

کابـل کـې د چيـن سـفارت هـم وتـړل شـو.

ډاکټـر نجيـب اللـه د خپلـې واکمنـۍ پـه وروسـتيو وختونـو کـې کوښـښ وکـړ، چـې د افغانسـتان پـه تاريـخ کـې پـه لومـړی ځـل د پاکسـتان پرضـد د چيـن لـه کارډ گټـه واخلـي. ځکـه دی د پاکسـتان او چيـن پـر سـتراتيژيکه ملگرتيـا پـوه و او پـر دې هـم ښـه خبـر و، چـې شـايد چيـن بـه يـوازې د ده لپـاره پـر پاکسـتان فشـار رانـه وړي، لـه همـدې ځايـه ده خپلـې دغـې هڅـې تـه تـر ډېـره د انسـاني حقونـو او انسـانيت رنـگ ورکـړ؛ خـو دی بيـا هـم پـه خپلـه دې هڅـه کـې نـاکام شـو. دغـه کار نـه پـه افغانسـتان کـې جگـړه تـم کـړه او نـه يـې هـم د پاکسـتان پرضـد د چيـن ملاتـړ ترلاسـه کـړای شـو. وروسـته ورتـه هڅـه اسـتاد ربـاني هـم دوه ځلـه وکـړه. اسـتاد ربـاني پـه لومـړي ځـل د حـزب اسـلامي (حکمتيـار) او عبدالرشـيد دوسـتم د ايتـلاف پرمهـال د چيـن کارډ اسـتعمال کـړ او وروسـته يـې دويمـه هڅـه بيـا پـر هغـه مهـال وکـړه، چـې کلـه د اسـتاد ربـاني د «سـولې کوتـرو» د کابـل دروازو تـه پـه نـږدې کېـدو د امـارت جوړولـو پيغـام لـه ځـان سره راوړی و.

د طالبانـو لـه راتـگ سره چيـن کوښـښ وکـړ، چـې لـه دواړو لوريـو [شـمالي ټلوالـه او طالبان] سره اړيکـې ټينگـې کـړي. پـه همـدې موخـه يـې د طالبانـو اميـر مـلا محمـد عمـر اخونـد تـه خپـل ډيپلوماتيـک پـلاوی راولېـږه، همـدا راز پـه چيـن کـې يـې د اسـتاد ربـاني سـفارت هـم همداسـې پرانيسـتی پرېښـود او پـه ۱۹۹٦ کال کـې يـې د افغانسـتان د بهرنيـو چـارو وزارت معـاون او پـه ۱۹۹۸ کال کـې يـې د شـمالي ټلوالـې ډاکټـر عبداللـه عبداللـه او امراللـه صالـح هـم د يـو سفر پـه موخـه چيـن تـه دعـوت کـړل.

پـه عمومـي توگـه د شـلمې پېـړۍ پـه وروسـتۍ لسـيزه کـې د چيـن اړيکـې پـه ډېـرى توگـه لـه تونـدلارۍ او د مخـدره توکـو لـه قاچـاق اغېزمنـې وې؛ ځکـه خـو يـې لومـړی لـه روسـيې سره د شـانگهای پنځـه سـازمان جـوړ کـړ او وروسـته يـې بيـا دغـه سـازمان پـه ۲۰۰۱ کال کـې د ازبکسـتان لـه راتـگ سره د شـانگهای د همـکارۍ پـه سـازمان ونومـاوه.

پـر امريـکا د يوولسـم سـپتامبر بريدونـو وروسـته، د بُـن کنفرانـس او امريکايـي بريدونـو پـه هېـواد کـې د نـوي نظـام جوړېـدو تـه لاره پرانيسـتله. چيـن هـم لـه دغـه نـوي بدلـون هرکلـی وکـړ او پـه کابـل کـې يـې خپـل تړلـی سـفارت بيـا پرانيسـت. کـه څـه هـم د دواړو هېوادونـو ترمنـځ ورځ تـر بلـې اړيکـې پراخـې شـوې خـو بيـا هـم دغـه اړيکـې تـر ۲۰۰۷ کال پـورې ډېـرې فعالـې او پراخـې نـه وې.

دا چې د يوولسم ستامبر له پېښې وروسته چين په افغانستان کې په سمه توګه فعال او ډېر پراخ حضور نه درلود، ستر لامل يې هغه مهال د افغانستان پر پېښو د لويديځ او امريکا د لاسبري نفوذ اندېښنه وه؛ ځکه که لويديځ له يوې خوا د رژيم او نظامي اردو پر جوړولو بوخته وه، نو له بلې خوا يې د افغانستان په اقتصادي بيارغونه کې هم لويه ونډه اخيسته. له همدې کبله چين په افغانستان کې لوی رول ونه لوباوه او ترڅنګ يې د لويديځ تر چتر لاندې د دوی تر ماتحت لاندې پر يو ډول رول قانع هم نه و[٤٨٥].

له همدې ځايه ده، چې چين د خپلو نورو ګاونډيانو په پرتله له افغانستان سره ډېرې فعالې اړيکې نه لري او د يو شمېر کاربوهانو او څېړونکو په اندافغانستان ته يې په خپل بهرني سياست کې ”ثانوي ارزښت[٤٨٦]“ ورکړی. د دغو کارپوهانو او څېړونکو په اند دا له دې کبله ده، چې له افغانستان سره د چين اړيکې تر ډېره د شوروي-افغانستان، هند-افغانستان، شوروي-چين او چين-هند اړيکو تر اغېزو لاندې پاتې شوي او دغه راز د چين او افغانستان د ګرمو اړيکو پر وړاندې لوی خنډ د چين او پاکستان امنيتي ايتلاف هم و[٤٨٧].

٤٨٥ Zhao Huasheng, China and Afghanistan: China's interests, stances and Perspectives, Center for Strategic and Regional Studies, March 2008, p: 2

٤٨٦ See Zhao Huasheng. 2014. Chinese views of post 2014 Afghanistan. Asia Policy, Number 17 (January 2014), 54-58

٤٨٧ د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت پخوانی مرستيال رياض احمد خان هم په دې نظر دی. که څه هم دغه نيوکه تر يوه ځايه صحيح ده؛ خو بيا هم دا تر ډېره د يو هېواد په واک کې نه ده او نه دا د دوی پر خوښه وي، چې له يوه هېواد سره دوی ښې اړيکې ولري او له بل سره نه. بلکې په دې تړاو دا داخلي، سيمه ييز او نړېوال عوامل دي، چې هېوادونه يو بل ته نږدې کوي. دا چې پاکستان او چين يو بل سره نږدې اړيکې لري، دا تر ډېره له هند سره د دوی د ګډې دښمنۍ له کبله ده؛ ځکه دواړه له هند سره سرحدي شخړې لري او ترڅنګ يې دواړه په سيمه کې د هند د سيمې د سيمه ييز ځواک په توګه له پورته کېدا سره هم مخالفت لري. د دې ترڅنګ له جاپان سره د چين اړيکې تر ډېره اقتصادي لاملونه لري او جاپان ته د چين ډېرې پاملرنه د دواړو هېوادونو د تاريخي دښمنۍ او په سيمه کې له امريکا سره د جاپان د ګډ ايتلاف له کبله هم ده. همدا راز منځنۍ اسيا ته د چين پاملرنه د دوی د طبيعي منابعو له کبله ده او له روسيې سره د چين اړيکې بيا اقتصادي، جيو-پوليتيکي او د نړېوال سياست له کبله دي. دلته بايد يوه خبره هېره نه کړو، چې که څه هم هند له چين سره رقابت لري خو بيا هم دوی هڅه کوي، چې خپلې دوه اړخيزې اړيکې په اقتصادي ډګر کې نورې هم پياوړې کړي. د چين او هند رقابت بيا پر هغو همکاريو منفي سيوری نه غورځوي چې کومې دوی ته ګټه رسوي. د بيلګې په توګه دواړه له روسيې، برازيل او سويله افريقا سره د برېکس په لوبه بدلوونکي سازمان کې يوځای شوي دي. همداسې چين وار له مخه د ملګرو ملتونو په امنيتي شورا کې د هند له څوکۍ څخه هم ملاتړ څرګند کړی دی. دا دوه څېزونه ښيي، چې دواړه پر يو قطبه نړېوال نظام باور نه لري، بلکې دوی د ډېر قطبه نړېوال نظام ملاتړي دي. دا چې هند او چين يا چين او روسيه په ځينو قضاياو کې له يو بل څخه ملاتړ کوي او په ځينو کې له يو بل سره جدي مخالفتونه او رقابتونه، نو دا بيا له سړې جګړې وروسته ملي ګټو ته د ډېر ارزښت ورکولو له کبله ده. ځکه په سړه جګړه کې اډيالوژۍ د ډېری هېوادونو پر بهرني سياست سيوری غوړولی وو. دا مهال به، چې يو هېواد له يوه سره مخالف کاوه، نو دغه مخالفت به ورسره په هر ډګر کې وو؛ ځکه د سړې جګړې پرمهال د ډېری هېوادونو اډيالوژۍ له يو بل سره په ټکر کې وې، له همدې ځايه وه چې مخالفتونو به هم هر اړخيزه جامه رانغاړله.

د چین دغه چلند بیا د ۲۰۰۹ کال وروسته بدل شو او کال تر بله یې افغانستان ته پاملرنه زیاته شوه. په ۲۰۰۹ کال کې د امریکا او افغانستان اړیکې سړې شوې او اوباما له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو د ایستلو اعلان وکړ، نو د چین او افغانستان اړیکې ورځ تر بله نږدې شوې. ځکه چین د امریکایي سرتېرو له وتلو وروسته د ځواک تشه لیدله. له همدې کبله یې د افغانستان پر لور پاملرنه زیاته شوه.

د دواړو هېوادونو په نږدې کولو کې د افغانستان پخوانی رییس جمهور حامد کرزي هم ډېر مهم رول ولوباوه. له همدې کبله مورږ په دغه کتاب کې حامد کرزي ته د چین او افغانستان د نویو اړیکو د بنسټګر لقب ورکړی دی. ده له ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۰۶ کال پورې چین ته دوه ځله سفرونه وکړل. په ۲۰۰۷ کال کې چین د مېس عینکو کان قرارداد ترلاسه کړ. په ۲۰۰۸ کال حامد کرزی چین ته ولاړ او په ۲۰۱۰ کال کې بیا ولاړ. په ۲۰۱۲ کال کې حامد کرزی یو ځل بیا چین ته ولاړ، هلته یې له چین سره ستراتیژیک تړون لاسلیک کړ او د چینایي لوړ پوړو چارواکو سره یې ولیدل. د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په میاشت کې د چین کمونست ګوند د پولېټ بیورو غړی او د استخباراتو مشر کابل ته راغی. په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې حامد کرزی بیا چین ته پر رسمي سفرونو ولاړ او د ۲۰۱۲ کال راهیسې یې د افغانستان-چین-پاکستان د درې اړخیزو ناستو وړاندیز هم وکړ. د ۲۰۱۴ کال په سپتامبر کې کرزی په څلور ورځنی سفر چین ته ولاړ او د ۲۰۱۴ کال په وروستیو میاشتو کې اشرف غني هم په خپل لومړني سفر چین ته ولاړ.

د افغانستان پر لور د چین بهرنی سیاست او ډیپلوماسي هغه مهال هم لا زیاته متحرکه شوه، چې کله په چین کې واک پنځم نسل ته وسپارل شو او د شي جین پینګ له راتګ سره د هغه د دوو ځانګړو طرحو[488] له کبله د چین په بهرني سیاست کې د افغانستان ارزښت د نورو وختونو په پرتله نور هم زیات شو.

د دې ترڅنګ له ۲۰۱۲ کال راهیسې د افغانستان او چین ترمنځ د ستراتیژیکو مرکزونو ترمنځ ناستې هم زیاتې شوې. تر اوسه پورې د افغانستان، چین او پاکستان د درېیو ستراتیژیک مرکزونو ترمنځ دوه غونډې ترسره شوي، چې یوه یې په چین او بله په پاکستان کې وشوه. شونې ده چې درېیمه غونډه به یې په افغانستان کې هم په راتلونکي وختونو کې وشي.

---

۴۸۸ د وربښمو نوې لاره او د پاکستان-چین اقتصادي حوزه

لـه دې سره چيـن د افغانسـتان پـه تـړاو درې اړخيـزه ډيپلومـاسي هـم پـر لاره اچولـې او لـه لانـدې هېوادونـو سره يـې د افغانسـتان پـه تـړاو خـبرې اتـرې کـړې دي:

- چين-پاکستان-افغانستان درې اړخيزې غونډې؛
- چين-هند-روسيه درې اړخيزې غونډې؛
- چين-هند دوه اړخيزې غونډې؛
- چين-امريکا-افغانستان درې اړخيزې غونډې؛

دا چـې پـه افغانسـتان کـې د چيـن پاملرنـه ورځ تـر بلـې زياتيـږي، دا يـو شـمېر امنيتـي، اقتصـادي، سـتراتيژيک او سـياسي عوامـل لـري، چـې پـه تفصيـلي توگـه ورتـه پـه څلـورم فصـل کـې اشـاره شـوې. خـو بيـا هـم پـه دغـو کـې امنيتـي اړخ تـر ټولـو غالـب دی.

همـدا راز افغانسـتان هـم د سـولې، امنيـت او اقتصـاد لـه کبلـه د چيـن پـر لـور پاملرنـه زياتـه شـوې، چـې پـه پنځـم فصـل کـې ورتـه پـه تفصيـلي توگـه اشـاره وشـوه.

# وړاندیزونه او سپارښتنې

## لومړی؛ افغانستان ته:

- **د افغانستان په اوسني او راتلونکي بهرني سياست کې د چين موقعيت**

چين يو داسې اقتصادي ځواک دی، چې له ۱۹۸۰ کال څخه تر اوسه (۲۰۱۴)هر کال في اوسط ۱۰.۱ سلنه اقتصادي پرمختګ کړی دی[۴۸۹]. که څه هم د نړيوال بانک د ارقامو له مخې دغه وده به په راتلونکي کلونو کې کمه شي؛ خو بيا هم چين به په راروانو لسيزو کې د نړۍ لومړی اقتصادي ځواک شي او په نړيوال تجارت کې به يې ونډه هم تر ټولو زياته وي.

له دې وراخوا، چين د نړيوال سياست يو مهم لوبغاړی دی. اوسمهال په ډېرې چوپتيا سره د يو نوي نړيوال نظام جوړولو په هڅو کې دی. تر اوسه يې د بريکس سازمان جوړ کړی، د وريښمو نوې تګلاره يې پرمخ اچولې او د نړيوال بانک او آی ايم ايف په مقابل کې يې AIIB بانک د ۵۰ مليارده ډالرو په مرسته جوړ کړی او د نړۍ يو شمېر هېوادونو او د امريکا ايتلافي ځواکمنو هېوادونو پکې هم غړيتوب ترلاسه کړی دی. د بيلګې په ډول انګلستان.

مونږ بايد دغو بدلونونو ته ځير واوسو او دا ځل خپل بهرنی سياست په سمه توګه رهبري کړو. له همدې ځايه د افغانستان په بهرني سياست کې بايد چين ته ځانګړی ځای ورکړل شي او د اړيکو نږدې کولو په تړاو په چين کې تکړه سفيران او ډيپلوماتان ځای پرځای شي، ترڅو دوی د خپلو وړتياوو پرمټ دواړه هېوادونه يو بل ته نور هم نږدې کړي؛ ځکه ځينې مهال د هېوادونو ترمنځ اړيکې د جيو-پوليتيکي بدلونونو له کبله په طبيعي او اتومات ډول ښې کېږي؛ خو په نورو حالاتو کې بيا دا د ډيپلوماسۍ کمال وي، چې د يو هېواد زړه او پاملرنه ځان ته راړوي.که څه هم مونږ اوس د داعش او له افغانستان څخه د امريکايي سرتېرو د وتلو له کبله په طبيعي ډول د چين پاملرنه ځان ته راړولې ده؛ خو بيا هم يوه فعاله او متحرکه ډيپلوماسي به چين د افغانستان

۴۸۹ نړيوال بانک له ۱۹۸۰ کال څخه تر اوسه پورې د ډېرو هېوادونو اقتصادي پرمختګ په دغه جدول کې ورکړی. وګورئ: ZG.KD.MKTP.GDP.NY/indicator/org.worldbank.data//:http

یو فعال ملګری کړي.

- **په اقتصادي پیوستون کې د چین ارزښت**

د افغانستان موقعیت د شلمې پېړۍ مسلمان فلسفي علامه اقبال ښه درک کړی و، ده افغانستان د اسیا زړه بللی و او دلته یې پېښېدونکې هره پېښه پر اسیا اغېزناکه ګڼله[۴۹۰].

په تېره یوه لسیزه کې حامد کرزي او اوس اشرف غني غواړي چې افغانستان د سیمې په ترانزیتي، تجارتي او اقتصادي مرکز بدل کړي. په دې تړاو په سیمه کې د تاپي، کاسا-زر، تاتک نللیکه (ترکمنستان-افغانستان-تاجکستان-چین)، د پنځو هېوادونو ترمنځ د رېل پټلۍ (چین-قازقستان-تاجکستان-افغانستان-ایران)، لاجوردو لاره، د ورېښمو لاره او نورې پروژې د افغانستان په بهرني سیاست کې مهم ځای لري.

که افغانستان په تجارتي، ترانزیتي او اقتصادي ډګر کې د سیمې مرکز جوړېدل غواړي، نو دا به تر ډېره د چین مرستو ته اړتیا ولري او د چین د مرستو پرته به د افغانستان دا خوب، چې په سیمه کې اقتصادي مرکز شي، له ډېرو ننګونو سره مخ شي، بلکې که په مشخصه توګه یې ووایو، نو د بریالیتوب ډېری دارومدار به یې د چین پر مرستو او ملاتړ متکي وي؛ ځکه چین هم زموږ په سیمه کې ډېرې لویې پروژې لري لکه د یو کمربند او یوې کرښې او د چین-پاکستان اقتصادي حوزې پروژې.

- **افغانستان باید د چین د ورېښمو په نوې لاره کې مدغم شي!**

افغانستان باید د چین د ورېښمو په نوې لاره کې مدغم کړای شي. په دې موخه بنسټیز او ابتدایي ګامونه پورته شوي. افغانستان او چین د ورېښمو لارې په تړاو چین ته د اجرایوي رییس ډاکټر عبدالله د سفر پرمهال یوه تفاهمنامه لاسلیک شوې او د آی ایم ایف د وروستي راپور له مخې بیجینګ د یوې کرښې او یو کمربند له فنډ څخه یو څه پیسې افغانستان ته مختص کړي هم دي. دغه راز افغانستان د چین د اسیا د

---

۴۹۰ از فساد او فساد اسیا
از کشاد او کشاد اسیا

زیربناوي او پانګونې په بانک کې هم غړیتوب ترلاسه کړی دی، چې د وربښمو د نوې لارې د تېرولو په تړاو جوړ شوی دی. خو تر اوسه په عملي ډګر کې ډېر څه نه دي شوي. لاندې ګامونه کولای شي، افغانستان د چین د یوې کربښې او یو کمربند برخه وګرځوي:

**لومړی**؛ د افغانستان داخلي زیربناوي پروژې د یو کمربند او یوې کربښې برخه وګرځول شي. د بېلګې په توګه د افغانستان د رېل شمالي نېټ ورک، چې له مخې یې افغانستان غواړي د شیرخان بندر نیولې د هرات تر اقینې پورې یو رېل کربښه جوړه کړي. دا به د پنځو ملتي رېل کربښې ته هم لاره هواره کړه، چې د چین، کرغزستان، تاجکستان او افغانستان څخه په تېرېدو به ایران ته ورسېږي.

**دویم**؛ د افغانستان، ترکمنستان، آذربایجان، جورجیا او ترکیې ترمنځ د سوداګرۍ، ترانزټ او ټرانسپورټ په موخه د لاجوردو لاره هم باید د یو کمربند او یوې کربښې برخه وګرځول شي. ځکه دغه نوي کوریدور یا لارې په سیمه کې د سړک، رېل او سمندر له لارې زیربناوې او ترانزټي پروسیجرونه اسانه او ښه کړي دي. د چین یو کمربند او یوه کربښه هم تر ډېره له همدغو هېوادونو تېرېږي. چین به هم په سیمه کې د لاجوردو لارې له کبله د رامنځته کېدونکې ترانزټي او زیربناوي اسانیو څخه هم مستفید شي.

**درېیم**؛ د چابهار تړون ته باید د یو کمربند او یوې کربښې د رقیب په سترګه ونه لیدل شي. ځکه دا به په هغه سیمه کې زیربناوي اسانتیاوې راولي، چې د چین د یو کمربند او یوه کربښه به ترې تېرېږي. دغه راز د چابهار تړون یا بندر نه کوم نظامي بندر دی او نه هم نظامي تړون چې په مستقیمه او نامستقیمه توګه به د چین-پاکستان اقتصادي حوزه به اغېزمنه کړي.

**څلورم**؛ د ترکمنستان، افغانستان، تاجکستان او چین د انرژي نللیکې فیسیبلیټي مطالعه باید پیل شي او د یو کمربند او یوې کربښې برخه وګرځول شي. افغان حکومت او یوه چینایي کمپنۍ په دې تړاو یوه تفاهمنامه وختي لاسلیک کړې.

**پنځم**؛ په افغانستان کې د میس عینک او د آمو حوزې د تیلو قراردادونه هم باید د چین یو کمربند او یوه کربښه کې شامل شي او دغه پروژې بشپړې کړای شي.

- **افغانستان بايد د چين-پاکستان اقتصادي حوزې برخه شي!**

که څه هم په پاکستان کې دوو افغان سفيرانو جانان موسی زي او عمر زاخيلوال د چين-پاکستان اقتصادي حوزې ملاتړ کړی او هيله يې څرګنده کړې چې افغانستان هم د دغې حوزې برخه وګرځول شي. په بل اړخ کې پاکستاني نظامي او ملکي چارواکي هم د چينايانو ترڅنګ په چين-پاکستان اقتصادي حوزه کې د پاکستان له شاملولو هرکلی کوي؛ خو تر اوسه په دې اړه سم بحث نه دی شوی، چې افغانستان څرنګه د دغې حوزې برخه وګرځول شي.

که موږ د چين-پاکستان دغې اقتصادي حوزې ته نظر کړو، نو څلور عنصرونه يې تر سترګو کېږي: ترانزت او سوداګري، زيربناوې، د انرژۍ همکاري او اقتصادي الحاق. افغانستان به په دغو ټولو عنصرونو کې مرستندوی واقع شي. د دې لپاره چې افغانستان او منځنۍ اسيا د چين-پاکستان اقتصادي حوزې برخه وګرځول شي، بايد لاندې ګامونه پورته شي:

لومړی؛ د افغانستان-پاکستان د سوداګرۍ او ترانزت تړون يعنې آپټا دې نوی شي. په دغه تړون کې بايد د منځنۍ اسيا او وراخوا هېوادونه شامل کړای شي. چين او هند هم بايد د دغه تړون برخه وګرځول شي (که څه هم د آپټا ۲۰۱۰ کال تړون کې چين شامل دی). د هند شاملول به يوه ګټه دا هم وي، چې په يو ډول به د چين د ورېښمو په نوې لاره کې شامل شي. بله ګټه به دا وي، چې له چين سره د سوداګرۍ او ترانزت په برخه کې به د افغانستان ډېرې ستونزه هواره شي. اوسمهال له چين سره د افغانستان ډېری سوداګري د ايران او پاکستان له لارې کېږي. د ازبکستان له لارې له چين څخه د ريل له لارې سوداګري هم له ازبکستان سره د افغانستان د ترانزتي تړون د نشتونوالي له کبله ځنډېدلې دی.

دويم؛ له پاکستان څخه منځنۍ اسيا ته د افغانستان له لارې د موټروې او ريل کرښې د تېرولو له کبله به د چين-پاکستان اقتصادي حوزه د اسيا پرمختيايي بانک د (CAREC) پروژه به هم يو بل کې مدغم شي، چې دا به د سيمې لپاره مثبت زيری وي. دغه راز له مېس عينکو څخه تر تورخم پورې د ريل کرښې جوړونه هم د چين-پاکستان اقتصادي حوزې برخه وګرځول شي.

دربیم؛ افغانستان د انرژۍ د پیدا کولو او ترانزت په برخه کې ډېرې وړتیاوې لري. د یوې احصایې له مخې، افغانستان تر ۲۲۳ زره میګاواټه لمرې، ۲۳ زره اوبو، ٦۸ زره بادي برېښنا پیدا کولو وړتیا لری. که څه هم له دغې دومره وړتیا سره، افغانستان یوازې ۲ زره میګاواټه برېښنا تولیدوي او یوازې ۴۱ سلنه خلک یې برېښنا ته لاسرسی لري. له همدې ځایه ده، چې د تقاضا پوره کولو لپاره برېښنا واردوي او د ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۵ کال پورې یې تر اوسه ۹۷۳ میلیون ډالرو برېښنا وارده کړې.

په بل اړخ کې پاکستان هم د انرژۍ په برخه کې له کمۍ سره مخ دی. اوسمهال د پاکستان د برېښنا د تقاضا او رصد ترمنځ د ٦ زره میګاواټه توپیر دی. له همدې ځایه باید د کاسا-۱۰۰۰ او یا هم د ټاپ-۵۰۰ وولتیژ له لارې برېشنا تولیده کړې. دغه راز چین، پاکستان او افغانستان هم وار دمخه د کونړ پر سیند د بند جوړولو په تړاو همغږي ښودلې. د افغان حکومت د څېړنې له مخې د کونړ سیند په کلنې ډول د ۲۸۰۰ میاګاواټه برېښنا تولیدولو وړتیا لری. خو له دې وړاندې باید د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اوبو د ویشلو تړون لاسلیک شي. چین په دې برخه او منځګړتوب کې د دواړو هېوادونو مرسته کولای شي؛ ځکه د کونړ پر سیند د بند جوړولو یو لوبغاړی هم دی.

د دې ترڅنګ هغه پروژې چې افغانستان او پاکستان پورې تړاو لري، هم د چین-پاکستان اقتصادي حوزې برخه ګرځول کېدای شي، که چیرې د چین د وربښمو لارې بانکونه لکه ,Asian Infrastructure Investment Bank (AIIB) the Bank of China, the Chinese Development Bank and the Silk Road Fund یې مالي ملاتړ وکړي.

- **افغانستان باید د چین د دوو طرحو نښلوونکی شي!**

د چین رئیس جمهور شي جین پینګ د افغانستان په ګاونډ کې دوه داسې طرحې پلي کړې، چې یوه به د افغانستان له شمال څخه تېره شي او بله به یې له ختیځ سویل څخه. د چین لومړۍ طرحه د وربښمو نوې لارې ده، چې له چین څخه به په پیلیدلو او له منځنۍ اسیا څخه په تېریدو به اروپا او افریقا ته رسیږي. دویمه طرحه د

پاکستان او چین د اقتصادي حوزې ده. دا به بیا له سینکیانک څخه پیل، د پاکستان له شمالي سیمو څخه په تېرېدو د ګوادر ګرمو او ژورو اوبو ته ورسیږي.

افغانستان باید په دې تړاو خپله ډیپلوماسي متحرکه کړي او د چین د ورېښمو په نوې لاره کې مستقیماً برخه واخلي. د دې ترڅنګ باید داسې سیاست هم غوره کړي، چې د افغانستان له لارې د چین دا دوه طرحې له یو بل سره ونښلوي (لومړۍ لاره: پېښور-کابل-بلخ؛ دویمه لاره: چمن-کندهار-هرات).

په داسې کولو سره به افغانستان په موقتي توګه چین ته هم نږدې لاره ومومي؛ ځکه د پېښوره او د پاکستان د قراقرم د لویې لارې له کبله به چین ته نږدې لاره ومومي، او په بله خوا د چین د دغو دوو مهمو طرحو په نښلولو سره به د سیمې ترانزیټي او تجارتي مرکز شي.

- **په راتلونکیو لسیزو کې اسیامحوره بهرنی سیاست**

د اسیا پرمخ تلونکو او صنعتي هېوادونو، په تېره بیا د چین، هند، جاپان، ترکیې، آسیان هېوادونو اقتصاد او د آسیا طبیعي زیرمو لرونکو هېوادونه (منځنۍ اسیا) ته په کتلو سره باید افغانستان هغه څه شروع کړي، چې د نولسمې پیړۍ په پای کې یې علامه سید جمال الدین افغان او د شلمې پیړۍ د پیل په درېیو لسیزو کې غازي ایوب خان، مفکر محمود طرزي او پر خپلواکۍ مئین او رفارمر غازي امان الله خان پکې یو نه یو ډول ښکېل و: پان-آسیاییزم.

البته اوسمهالنۍ نړۍ د شلمې پیړۍ د سر له کلونو سره د ډېرو عواملو له کبله تفاوت لري؛ خو بیا هم د اسیا اوسني حالاتو او راتلونکي پنځو لسیزو ته په کتلو سره دغه پان-آسیاییزم موږ په اقتصادي ژبه د سیمې اقتصادي الحاق یا (Economic integra-tion) ګڼلای شو.

د اسیا پرمختیایي بانک د یو راپور له مخې په ۲۰۵۰ کال کې به د اسیا اوسط عاید ٦ چنده زیات شي. په ۲۰۱۰ کال کې د اسیا د کورنیو تولیداتو ټولیز ارزښت ۱۷ تریلیون ډالره وه، چې دا به بیا په ۲۰۵۰ کال کې ۱۷۴ تریلیون ډالرو ته ورسیږي او هغه

مهال بـه بیـا د نـړۍ د نیـم د کورنیـو تولیداتـو د ټولیـز ارزښـت برابـر وي[۴۹۱]. پـه اقتصـادي توګـه د اسـیا پـه پورتـه کېدنـه کـې بـه اوه هېوادونـه تـر ټولـو زیـات رول ولوبـوي: چیـن، هنـد، اندونیزیـا، جاپـان، کوریـا، تایلینـډ او مالیزیـا. دغـو اوو هېوادونـو پـه ۲۰۱۰ کال کـې هـم د اسـیا د کورنیـو تولیداتـو د ټولیـز ارزښـت ۸۷ سـلنه پیـدا کـوي او پـه ۲۰۵۰ کال کـې بـه بیـا ۹۰ سـلنه پیـدا کـوي[۴۹۲].

لـه همـدې ځایـه ده، چـې افغانسـتان تـه پـکار دي پـه راروانـو وختونـو کـې یـوه اسـیا محـوره بهرنـۍ سیاسـت پـر لاره واچـوي او یـا دې د اشرف غنـي د بهـرني سیاسـت دوکتریـن پـه سـمه توګـه عملـي کـړي او یـا دې پکـې پـه لانـدې ډول بدلـون راوړي:

لومړۍ کړۍ: ګاونډي هېوادونه
دویمه کړۍ: آسیایي هېوادونه
درېیمه کړۍ: اروپا، امریکا، کاناډا او جاپان
څلورمه کړۍ: اسلامي هېوادونه
پنځمه کړۍ: نړېوال ستر بنسټونه

مـوږ د اشرف غنـي پـه دوکتریـن کـې یـوازې د اسـلامي هېوادونـو او اسـیایي هېوادونـو ځـای وربـدل کـړی دی. اسـلامي هېوادونـو تـه مـو پـه څلورمـه کـړۍ کـې ځـای ورکـړ او اسـیایي هېوادونـه مـو بیـا پـه دویمـه کـړۍ کـې راوسـتي دي. دا پـه بهرني سیاسـت کـې د یو سـیکولر یـا لیـبرال لیدلـوري پایلـه نـه ده، بلکـې یـو حقیقـي او منطقـي چلنـد دی؛ ځکـه پـه اسـیا کـې هسـې هـم د نـړۍ ٦٢ سـلنه مسـلمانان اوسـیږي او د مسـلمانانو ډېـری هېوادونـه هـم پـه همـدې اسـیا کـې پراتـه دي. نـو ځکـه پـه دویمـه کـړۍ کـې د اسـیایي هېوادونـو راتـګ لـه دې کبلـه نـه دی، چـې مـوږ اسـلامي هېوادونـو تـه کـم ارزښـت ورکـوو.

- **له چین څخه صنعتي ټکنالوژي واردول**

ویـل کېـږي چـې چیـن بـه پـه راتلونکـو کلونـو کـې خپلـه صنعتـي ټکنالـوژي نـوې کـړي. دا کار پـه ۷۰، ۸۰ او ۹۰مـو لسـیزو کـې جاپـان وکـړ او خپلـه زړه ټکنالـوژي یـې تـر ډېـره مالیزیـا تـه صـادره کـړه. مالیزیـا بیـا د همدغـې ټکنالـوژۍ او د مهاتیـر محمـد د مدیریـت او

۴۹۱ Asian Development Bank, Asia 2050: Realizing the Asian Century,

۴۹۲ ibid

ښو پریکړو له کبله پرمختګ وکړ. له همدې ځایه افغانستان باید کوښښ وکړي، چې د دغې زړې ټکنالوژۍ ترلاسه کولو پسې هلې ځلې وکړي[۴۹۳].

- **د پانګونې ګډه خونه جوړول**

افغانستان او چین باید د پانګونې ګډ اطاق جوړ کړي. دواړه هېوادونه باید دغې اطاق ته پیسې مختص کړي او بیا د دغو پیسو له لارې پانګونه وشي. افغانستان چې څرنګه په اقتصادي توګه پرمختلونکی هېواد دی، نو اړینه ده چې په دې برخه کې چین تر ټولو زیاته ونډه واخلي.

- **د افغانستان او چین انستیتوت یا تحقیقاتي مرکز جوړول**

دا چې تر اوسه پورې د افغانستان او چین په تړاو نه څېړنې شوي او نه مطالعې. نه په هېواد کې داسې کومه اداره شته چې حکومت ته په دې اړه خپلې طرحې او سپارښتنې وکړي. نو اړینه ده چې د افغانستان او چین په نامه سره یو تحقیقاتي انستیتوت پرانیستل شي، چې عمده کار به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ ډګرونه په نښه کول او د اړیکو د پراخولو په تړاو طرحې او سپارښتنې کول وي.

- **په حکومتي، پارلماني او په سیاسي کچه باید اړیکې پراخې شي**

که څه هم د سړې جګړې په پرتله له ۲۰۰۹ کال راهیسې د افغانستان او چین ترمنځ په حکومتي، پارلماني او په سیاسي کچه اړیکې پراخې شوې؛ خو د چین او د افغانستان د نورو ګاونډیانو په پرتله د دواړو اړخونو له‌خوا دا ډول اړیکې کم رنګه دي.

---

۴۹۳ هغه مهال چې لیکوال د اسلام آباد د پالیسۍ د مطالعاتو مرکز (Institute of Policy Studies) کې انټرنشېپ کاوه، نو په یوه سیمینار کې یې په چین کې د پخواني پاکستاني سفیر څخه واورېدل، چې چین اوس ډېر پرمختګ کړی دی او شاید په راتلونکو کلونو کې خپله ټکنالوژي بدله کړي یعنې د دوی اوسنۍ ټکنالوژي زړه شوې او اوس د پرمختللو هېوادونو په شان د اوچتې درجې ټکنالوژۍ ته اړتیا لري. نو ځکه پاکستان باید د چین له دغه حالت څخه ګټه پورته کړي او دغه زړه ټکنالوژي خپل هېواد ته وارده کړي (د ۲۰۱۳ کال د لیکوال یادښتونه)

- **په چین کې د لابي جوړولو اړتیا**

د چین راتلونکی نړیوال رول او په تېره بیا په سیمه او افغانستان-پاکستان ته په کتو باید په چین کې د لابي‌ګرۍ لپاره ډېر څه وشي. له ښه مرغه، د ملي یووالي حکومت له راتګه او په تېره بیا په چین کې د جانان موسی‌زي له دندې راهیسې د افغانستان-چین د څېړنیزو مرکزونو ترمنځ اړیکې پراخې شوې او سفرونه هم زیات شوي دي.

- **د کابل په لور د بیجینګ اسلام‌آباد لیدلوری بدلول**

د چین په تړاو د کابل د بهرني سیاست تر ټولو لویه ننګونه د افغانستان په لور د بیجینګ د اسلاماباد لیدلوری بدلول دي. که څه هم چینایي چارواکي په څرګند ډول وایي، چې موږ د افغانستان او پاکستان ترمنځ ناپېیلي یو؛ خو ځمکني حقایق او د چین-پاکستان ژورې اړیکې تر ډېره د دې اجازه نه ورکوي، چې د بیجینګ تمایل د پاکستان په پرتله د افغانستان په لور زیات شي. خو د کابل لپاره به همدا تر ټولو لویه لاسته‌راوړنه وي، چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ چین همداسې ناپېیلی پاتې شي.

- **د خلکو ترمنځ اړیکې پراخول**

موږ هغه مهال په تلپاتو او اوږدمهاله اړیکو کې سره پاتې کېدلای شو، چې کله د دواړو هېوادونو ترمنځ د خلکو، محصلینو، نخبه ګانو، رسنیو او اکاډمیکو شخصیتونو ترمنځ اړیکې پراخې شي. په دې تړاو افغانستان د چین محصلینو ته د ژبې او افغانستان شناسۍ په برخه کې یو شمېر تحصیلي بورسونه ورکولای شي او همدا راز د چین هېواد هم په مختلفو برخو کې افغانستان ته تحصیلي بورسونه ورکولای شي.

د دې ترڅنګ د دواړو هېوادونو د تحقیقاتي مرکزونو، پوهنتونونو او نورو ادارو ترمنځ هم باید اړیکې پراخې او تفاهمنامې لاسلیک شي. همدا راز د رسنیو، مطبوعاتو او ستراتیژیک مرکزونو څېړونکي او شنونکي باید د یو بل هېوادونو ته په مسلسله توګه سفرونه ترسره کړي.

- **د شانگهای د همکارۍ په سازمان کې غړیتوب**

د ۲۰۱۵ کال د جون پر ۴مه نېټه په ماسکو کې د شانگهای د همکارۍ سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه وشوه. په دغه غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني وړاندیز وکړ، چې په دغه سازمان کې باید افغانستان ته بشپړ غړیتوب ورکړای شي[٤٩٤]. افغانستان تر اوسه په دغه سازمان کې د ناظر څوکۍ لري، له همدې ځایه ده چې اوس یې په دغه سازمان کې د غړیتوب ترلاسه کولو په تړاو هلې ځلې شروع کړي. چین په دې برخه کې د افغانستان غوښتنې پوره کولو کې مرسته کولای شي؛ ځکه یو د دغه سازمان له تاداب ایښودونکو څخه دی.

- **د ژبې خنډ باید مات شي!**

هغه افغان ډیپلوماتان چې په چین کې پر دندو بوخت دي او یا هلته د خپلو دندو په تړاو نوي لېږدول کېږي باید د دوی لپاره داسې ورکشاپونه یا کورسونه جوړ شي چې دوی لومړی د چین له تاریخ څخه خبر شي او په تېره بیا پر چینایي ژبې لاسبري ومومي. په دا ډول به دوی د ژبې خنډ مات کړي او د اړیکو په پراخولو او نړدې کولو کې به ډېر ستر رول ولوبوي.

## دویم؛ چین ته:

- **افغانستان د سیمه‌ییز الحاق ډېرې وړتیاوې لري**

دا چې مونږ وایو افغانستان د سیمه ییز الحاق په برخه کې ډېرې وړتیاوې لري، دا د لاندې عواملو له کبله دي:

### لومړی: د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان ژورې تاریخي، فرهنگي، قومي او اقتصادي اړیکې

---

٤٩٤ Statement of his excellency Salahuddin Rabbani Foreign Minister of the Islamic Republic of Afghan-' istan High level Conference 'Security and stability in the SCO region", Ministry of Foreign Affairs Islamic .republic of Afghanistan, 6 June 2015

پـه تاریخـي توګـه افغانسـتان د وریښـمو پـه لاره کـې ارزښـتناک رول لوبولـی دی. پـه دې تـړاو د هـرات، بلـخ، غـزني او باميـان ښـارونه د ثبوتونـو نغـدې بېلګـې دي. افغانسـتان د سـیمې لـه هېوادونـو لکـه چيـن، منځنـۍ اسـيا، ایـران، ترکيـې او برصغیـر سره ډېـرې ژورې فرهنګـي، کلچـري، تاریخـي او قومـي اړیکـې لـري. همـدا راز زمـوږ پـه هېـواد کـې د منځنـۍ اسـیا ډېـرى خلـک لـوړ پـوړي چارواکـي پاتـې شـوي او اوس هـم د منځنـۍ اسـیا قومونـه زمـوږ د سـتر افغـان ملت برخـه جـوړوي. پـه دې اړه زمونـږ تاریـخ او هـم مـو وطـن لـه داسـې ډېـرو بیلګـو ځخـه غنـي دی، چـې لـه مخـې یـې پـه زغـرده ویـلای شـو، مـوږ د سـیمې د قومونـو ګـډ کـور او د سـیمې د قومونـو یـوه امتزاجـي پلورالیسـتیکه ټولنـه وو او یـو!

زمـوږ پـه هېـواد کـې کوشـانیان یعنـې د یـو چـې قبایـل لـه چیـن ځخـه راغـلي وو. افغانسـتان او منځنـۍ اسـیا تـه لومړنـی چینایـي ډیپلوماتیکـي پـلاوی د چیانـک کای کیـن پـه مـشرۍ راغلـی و او چـې کلـه بلـخ تـه راغلـل نـو چیـن تـه پـه بېرتـه تـګ یـې د چیـن بادشـاه تـه د وریښـمو لارې تېرولـو وړاندیـز وکـړ. لومړنـی چینایـي د یـو افغـان راهـب لـه خـوا بودایـي شـو. د فـارسي ژبـې پـه ادبیاتـو کـې زیاتـه ونـډه افغانانـو لرلـې ده. دغـه یادونـه مـو د دې لپـاره وکـړه، چـې افغانسـتان د سـیمې پـه تاریـخ کـې خپـل مقـام لـري.

د مـصر پـه احرامونـو کـې د بدخشـان د لعـل او مرجانـو شـتون پـه دغـې خبرې هـم د حقیقت مېـخ ټـک وهـي، چـې د وریښـمو پـه زړې تاریخـي لاره کـې یـې مثبـت رول درلودلـی و. نـو لهـاذا د پخوانـۍ وریښـمو لارې پـه تېرولـو کـې یـو زوړ مدنیـت، د دغـه لارې مهمـه کـړۍ او د اقتصـادي الحـاق طبیعـي بدیـل افغانسـتان مـه هېـروئ!

## دویم: افغانستان د طبیعي منابعو زیرمې لري

د افغانسـتان بلـه وړتیـا دا ده چـې د طبیعـي منابعـو ډېـرې زیرمـې لـري، چـې تفصیـلات یـې پـه ځلـورم فصـل کـې راغلـل.

## دریم: د سیمې په تقاطع کې پروت دی!

د سـیمې پـه ترلتیـا کـې د افغانسـتان تـر ټولـو مهمـه وړتیـا دا ده چـې د مختلفـو سـیمو د

تقاطع په موقعیت کې پروت دی[۴۹۵]. د منځنۍ اسیا، سویله اسیا، منځني ختیځ او ختیځ اسیا ترمنځ پروت دی. له همدې ځایه ده، چې ځوک یې د منځنۍ اسیا له هېوادونو څخه بولي او ځوک یې د منځني ختیځ څخه او ځوک یې بیا د سویلې اسیا یوه برخه ګڼي. همدا بحث هغه مهال هم راپورته شو، چې کله افغانستان د سارک په سازمان کې د غړیتوب وړاندیز کړی و.

- **چین ولې باید افغانستان د خپلې د وریښمو نوې لاره برخه‌وال وګرځوي؟**

ولې چین باید افغانستان د خپلې د وریښمو نوې لارې برخه وګرځوي:

لومړی؛ د افغانستان د سیمه‌ییزې تړلتیا تګلاره تر ډېره د چین د وریښمو له نوې لارې سره همغږې ده.

دویم؛ د افغانستان د زیربناوو داخلي تګلاره هم د چین د وریښمو له نوې تګلارې سره په ټکر کې نه ده، بلکې تکمېلوونکې یې ده.

دریم؛ افغانستان په تاریخي توګه د پخوانۍ وریښمو لارې یو مهم غړی و، او د وریښمو لارې په اوسنۍ تګلارې کې د افغانستان هیرول به د دغه لارې تاریخي حیثیت تر پوښتنې لاندې راولي.

- **د افغانستان د مطالعاتو مرکز جوړول**

د چین حکومت باید په خپل هېواد کې په ځانګړې ډول د افغانستان په تړاو د مطالعاتو مرکز جوړ کړي او یا دې بیا په کوم پوهنتون کې یوه داسې مرکز ته ځای ورکړي، چې د څېړنو موخه یې یوازې او یوازې افغانستان وي. په دا ډول به چینایان په نېغ ډول افغانان وپېژني او خپل افغان شناسان به پیدا کړي، له همدې ځایه دې ته به یې اړتیا نه شي، چې د کوم بل هېواد له لارې د افغانستان د حالاتو په تړاو تبصرې او معلومات ترلاسه کړي.

---

۴۹۵ د نړیوال تاریخ نامتو مورخ او فلسفي آرنلډ ټواین بي هم افغانستان د تمدنونو د تقاطع مرکز ګڼلی دی او په دې تړاو یې وړوکی کتابګوټی هم لیکلی دی. The cross road of civilizations

- **د «تروریزم ایکالوجي»**[٤٩٦]

د «تروریـزم ایکالوجـي» یـوازې تـر یـوه ځایـه محـدوده نـه ده او نـه یـې اغېـزې تـر محـدودې سـیمې پـورې محـدودې وي، بلکـې د ګلوبلائزیشـن لـه کبلـه دغـه اغېـزې د نـړۍ پـه بـل کونـج کـې هـم محسوسـیږي او د افغانسـتان ۹۰ مـې لسـیزې تجربـې تـه پـه کتلـو سره باید د افغانسـتان سـیمه ییـز ګاونډیـان دغـه خـبره تـر ټولـو ښـه درک کـړي، چـې دلتـه تـر ټولـو ووړ پرمختـګ بـه د دوی تـر پولـو او هېـواده ورسـېږي او دلتـه لګېدونکـی اور بـه د نـورو سـترګې هـم وروسـوځوي.

اوسـمهال چـې پـه افغانسـتان کـې داعـش ورځ تـر بلـې خپلـې پښـې ټینګـوي، چیـن بایـد لـه افغانسـتان سره د دغـې طایفـې پـه منځـه وړلـو کـې مرسـته وکـړي او خپـل هېـواد د تـل لپـاره خونـدي وسـاتي.

- **د افغان سوداګرو د ویزې ستونزې**

د چیـن حکومـت بایـد د افغـان سـوداګرو د ویـزو سـتونزې پـه لانـدې ډول حـل کـړي:
**لومـړی:** د چیـن سـفارت بایـد افغـان سـوداګرو تـه د یـوې میاشـتې ویـزې پرځـای د شـپږو او یـوه کال ویـزې ورکـړي. د دغـه کتـاب د لیکلـو پرمهـال چـې لیکـوال لـه یـو شـمېر افغـان سـوداګرو سره مرکـې کـړي نـو ډېـرو د چیـن لـه دغـه پالیسـۍ څخـه اندېښـمن وو. د دوی پـه وینـا ډېـری مهـال بـه یـې کارونـه پـه یـوه میاشـت کـې نـه بشـپړېدل.

**دویـم:** د چیـن سـفارت بایـد ویـزې پـه نېـغ ډول ورکـړي، د کمېشـنکارانو رول بایـد ختـم کـړي. د افغـان سـوداګرو پـه وینـا د چیـن سـفارت د ویـزې فیـس ۵۰ ډالـره اخلـي؛ خـو دوی تـه دغـه ویـزې بیـا د کمېشـنکارانو لـه خـوا ورکـول کېـږي او هغـوی بیـا هغـو افغـان سـوداګرو تـه چـې چیـن تـه پـه لومـړي ځـل ځـي د چیـن ویـزه لـه ۸۰۰ څخـه تـر ۱۲۰۰ امریکایـي ډالـرو پـورې اخلـي او نـورو افغـان سـوداګرو تـه چـې چیـن تـه پخـوا تللـي وي ویـزه تـر ۸۰۰ امریکایـي ډالـرو پـورې اخلـي. نـو ځکـه اړینـه ده، چـې د چیـن سـفارت پـه نېـغ ډول او مسـتقیماً پـه خپلـه افغـان سـوداګرو تـه ویـزې ورکـړي. د ویـزې د فیـس کمېـدو سره بـه د دواړو هېوادونـو ترمنـځ سـوداګري هـم زیاتـه شي.

---

٤٩٦ دا اصطلاح په لومړي ځل د افغانستان رئیس جمهور ښاغلي اشرف غني په ۲۰۱۴ کال کې د ناټو په کنفرانس کې وکاروله

دغه د کمېشنکارانو له لارې روانه پروسه نه يوازې دا چې تر يوې يا يوې نيمې مياشتې پورې وخت نيسي، بلکې لګښتونه هم پرې ډېر راځي.

د دې پرځای که په هېواد کې د چين سفارت هغو افغان سوداګرو ته چې د دوی په شرايطو برابر وي، بايد دوی مستقيماً له سفارت څخه ويزې ورکړي. نه بايد چې دا کار د کمېشنکارانو لخوا وشي او يا له چين څخه کوم بلنليک ته انتظار واېستل شي.

- **د سوداګرۍ لپاره د نېغو اړيکو نشتون**

افغان سوداګر له يوې بلې ستونزې سره هم مخ دي، هغه د افغانستان او چين ترمنځ د سوداګرۍ د نېغې اړيکې نه شتون دی. اوسمهال له چين څخه د افغانستان واردات د منځنۍ اسيا، ايران او پاکستان له لارې راځي. که چېرې د افغانستان او چين ترمنځ د واخان له لارې نېغه ځمکنۍ لاره ټينګه شي، نو دا به په اوږدمهال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګريزه او اقتصادي اړيکې لا پراخې کړي[۴۹۷].

- **او بيا هم د ايغوري مسلمانانو خبره!**

چين په خپل ټول تاريخ کې په سينکيانګ کې د مسلمانانو له پاڅونونو سره مخ شوی. بيجينګ بايد خپلې اوسنۍ تګلارې د خپلو تاريخي تګلارو په رڼا کې جوړې کړي. په چين کې د مسلمانانو تشخص نه په زور ورکېږي او نه چين د يغوري مسلمانانو د کلتور په تباه کولو له مسلمانانو څخه ښه چينايان جوړولی شي، بلکې دغه حالت به مسلمانان نور هم بغاوت ته چمتو کړي او د نړيوالو مسلمانانو خواخوږي به هم د دغو همدينو مسلمانانو پر خوا ودرېږي.

چين ته په کار دي، چې په خپل هېواد کې مسلمانانو ته که بشپړه ازادي نه شي ورکولای، نو نسبي آزادي دې هرومرو ورکړي او نور په مُلايانو په پرانيستو بازارانو کې ډانسونه ونکړي،

دا پورتنۍ سپارښتنه موږ د يو مسلمان په توګه نه کوو، بلکې که چين ورته پاملرنه ونه کړي، نو پايلې به يې د چين لپاره تر ټولو ګواښوونکې وي. هغه هم په داسې حال

۴۹۷ له يو شمېر افغان سوداګرو سره د ليکوال مرکې (۲۰۱۵)

کې چې افغانستان او پاکستان په سیمه او په اسلامي نړۍ کې د نورو مسلمانانو لپاره تر ټولو زیات خواخوږي لري.

امریکا او د چین نور رقیبان به هم له دغه حالت څخه ګټه واخلي او چین به له دننه څخه د نورو ډېرو ننګونو سره مخ کړي.

## چین او افغانستان له یو بل سره په کومو برخو کې مرسته کولای شي؟

لاندې هغه برخې دي، چې چین پکې کولای شي له افغانستان سره مرستې او همکارۍ وکړي:

- **د وریښمو لار:** افغانستان له ۲۰۱۰ کال راهیسې د ترانزت په برخه کې د پاکستان پرته په نورو لارو غور کوي، څو نوې لارې له پاکستان څخه افغان ترانزت نور د سیاسي اخ و ډبونو تر فشار څخه خلاص کړي. له همدې ځایه ده، چې د اشرف غني له ولسمشرېدو سره کابل د چابهار پر بندر او د لاجوردو پر لارې کار ګړندی روان کړی.

د افغانستان د اقتصاد وزیر په اند د لاجوردو لارې له کبله د افغانستان تقریباً ۷۰ سلنه صادرات او واردات له جنوبي لارو څخه شمال-لویدیځ لارې ته واوړي (افغانستان-ترکمنستان-آذربایجان-جورجیا-ترکیه-اروپا)[۴۹۸].

- **د طبیعي منابعو استخراج:** افغانستان د خپل وروسته والي سره بیا هم په طبیعي توګه یو له غنیو هېوادونو څخه دی؛ خو له بده مرغه په اقتصادي، ټکنالوژیکي او د وړتیاوو په لحاظ په دې کچه کې نه دی، چې خپل طبیعي منابع په خپله استخراج کړي؛ ځکه نو، په دغه برخه کې د نورو همکاریو ته اړتیا لري. په دغه برخه کې چین له افغانستان سره څو ډوله مرسته کولای شي، لکه د طبیعي منابعو په استخراج کې همکاري، د طبیعي منابعو په راویستو کې د افغانانو وړتیاوې لوړول او په دغه برخه کې پانګونې کول.
- **په طبیعي آفتونو کې د افغانانو وړتیاوې او ظرفیتونه لوړول:** افغانستان لکه چین یو غرنی هېواد دی، چې هوایي ځواک یې د طبیعي آفتونو پرمهال د مرستو رسولو او خلکو ژغورلو په موخه لا ډېرې همکارۍ ته اړتیا لري.

۴۹۸ د ۲۰۱۵ کال د سپتامبر پر ۱۷مه نېټه په عشق آباد کې د افغانستان د اقتصاد وزیر پریزنتیشن

افغـان هوايـي ځـواک تـه بايـد نـه يـوازې دا چې لـه داسـې حالاتـو سره د مقابلـې پـه تـړاو ترينينـګ ورکـړای شي، بلکـې پـه دې تـړاو ورسره د چورلکـو او الوتکـو پـه توګـه ورسره مرسـتې هـم وکـړای شي. چيـن پـه دغـه تـړاو هـم لـه افغانسـتان سره مرسـتې کـولای شي، ځکـه چيـن د خپـل هوايـي ځـواک چورلکـې او وسـائل نـوې کـوي او شـونې ده، چـې د MI-17 ډېـرى چورلکـې بـه يـې بـې کاره پاتـې شي. دغـه هغـه چورلکـې دي، چـې افغانـان ورسره تقريبـاً بلـد دي او پـه دې اړه يـې لـه امريکايانـو څخـه وختـي ترينينـګ ترلاسـه کـړى دى[۴۹۹].

- **چيـن د پانګونـې لپـاره بهتريـن انتخـاب:** پـه ۱۹۷۹ کال کـې چيـن تـر ۱۶۷ مليـون ډالـرو پـورې (Foreign Currency reserves) درلـود؛ خـو د ۲۰۱۴ کال د جـون پـه مياشـت کـې د چيـن (Foreign Currency reserves) ۳.۹۹ تريليـون ډالـرو تـه ورسـېد او اوس تقريبـاً ۳.۸۹ ټريليـون ډالـره دي او پـه دې ډول چيـن د نـړۍ تـر ټولـو زيـات foreign Currency reserves لرونکـى هېـواد دى[۵۰۰]. پـه بـل اړخ کـې افغانسـتان، چـې اقتصـادي پرمختـګ يـې بهرنيـو پانګونـو تـه اړتيـا لـري. پـه دغـه برخـه کـې لـه افغانسـتان سره چيـن تـر ټولـو زياتـه مرسـته کـولای شي، ځکـه تـر ټولـو زيـات (Foreign currency reserves) لـري.

- **د سـولې پروسـه:** چيـن پـه افغانسـتان کـې يوازينـى هېـواد دى، چـې هـم لـه افغـان دولـت سره ښـې اړيکـې لـري او هـم پـرې طالبـان بـاور کـولای شي. طالبانـو لـه چيـن سره د اشرف غنـي لـه هغـې هڅـې څخـه هـم وړانـدې اړيکـې درلـودې، چـې پـر مـټ يـې اوس اشرف غنـي غـواړي چيـن د افغانسـتان د سـولې پروسـه کـې رادخيـل کـړي. طالبانـو تـه د يـوې نـږدې سرچينـې لـه مخـې، چيـن تـه دوه ځلـه د طالبانـو د قطـر اسـتازو سـفرونو تـر شـا همـدا موخـه وه، چـې چيـن تـه بـه د افغانسـتان د سـولې پـه قضيـه کـې د يـو نړيـوال ضامـن کوونکـي پـه توګـه رول ورکـول کېـږي. د دې ترڅنـګ افغـان دولـت هـم عمومـاً لـه چيـن سره د ۲۰۰۱ کال راهيسـې او پـه مشـخصه توګـه لـه ۲۰۰۹ کال راهيسـې ښـې اړيکـې درلودلـې دي. لـه دې سره چيـن هـم د يـو شـمېر لاملونـو لـه کبلـه چې پـه تېـر فصـل کـې

۴۹۹ Barnett R. Rubin, Are China and United States rivals or partners in Afghanistan?, Lecture at Peking University, 27 Oct 2014, Centre on International Cooperation.

۵۰۰ Russia Today, Era of record foreign reserve stockpile in China over: Economists, 12 Jan 2015, retrieved at 25 May 2015.

یې یادونه وشوه، د افغانستان د سولې په پروسه کې لیوالتیا اخلي. همدغه هغه ډګر دی، چې افغان او چین دولتونه له یو بل سره پکې همکاري کولای شي.

- **د ترانزت او اقتصادي الحاق په برخه کې همکاري:** دواړه هېوادونه د ترانزت په برخه او سیمه په یو اقتصادي الحاق کې د بدلولو په برخه کې هم له یو بل سره همکاري کولای شي. ځکه د اشرف غني د خارجي او داخلي سیاست یو مهم محور افغانستان د سیمې په ترانزتي مرکز بدلول دي. که چېرې افغانستان د اسیا ترانزتي مرکز جوړېدل غواړي، نو د چین ملاتړ ورته اړین دی، ځکه په سیمه کې د چین د ورېښمو نوې لاره، پاکستان-چین اقتصادي حوزه، ترکمنستان-افغانستان-تاجکستان-چین د غازو نللیکه، او د چین-قرغزستان-تاجکستان-افغانستان-ایران رېل پټلۍ دا ټول د چین ملاتړ ته اړتیا لري.
- **د زیربناوو جوړول:** د دې ترڅنګ چې چین له افغانستان سره مرسته کولای شي، هغه د زیربناوو جوړول دي. په دغه ډګر کې کار کول هم د دواړو لوریو په ګټه دی. که چېرې په افغانستان کې د زیربناوو ښه نظام شتون ولري، نو دا به چین ته ډېره اسانه کړي، چې په لنډ واټن کې ځان منځني ختیځ او د منځنۍ اسیا ځینو هېوادونو ته ورسوي او افغانستان ته به یې ګټه دا وي، چې د زیربناوو د جوړېدو له کبله به نور سکتورونه پرمختګ وکړي. د بېلګې په توګه معدنکاري او پانګونې به زیاتې شي او د فرعي سړکونو له کبله به هېواد په کرنیز ډګر کې غښتلی شي.
- **د چین د مسلمانانو د ستونزې په حلولو کې رول:** په چین کې د مسلمانانو او د چینایي حکومت ترمنځ د ستونزې په هواري کې څلور هېوادونه مهم رول لوبولی شي: ترکیه، سعودي، پاکستان او افغانستان. خو که د چین
- **د بیجینګ او ختیځ ترکستان ترمنځ په پخلاینه کې رول:** افغانستان به هغه مهال د بیجینګ او ختیځ ترکستان ګوند ترمنځ په پخلاینه کې ښه رول ولوبولای شي، چې له دې وړاندې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ روغه جوړه وشي. ځکه د ختیځ ترکستان ګوند اوس هم د داعش له راپورته کېدنې سره سره په افغانستان کې د طالبانو تر نفوذ لاندې دي؛ دوی اوس هم له

طالبانو سره بیعت لري!!

- **امنیت:** امنیت هغه بله برخه ده، چې دواړه هېوادونه پکې له یو بل سره همکاري کولای شي؛ ځکه ناامنۍ نه یوازې دا چې له یوې خوا په سنکیانک کې د چین ملي امنیت ننګوي بلکې په بل اړخ کې د بیجینګ لویو او سترو پروژو (پاک-چین انرژۍ حوزه او د ورېښمو نوې لاره) په لاره کې هم خنډونه جوړولای شي.

# ضمیمې:

## ضمیمه-۱

### معاهده مؤدت و عدم تجاوز متقابل

اعلیحضرت همایونی افغانستان و رئیس جمهور دولت جمهوری مردم چین نظر به حفظ و توسعه مزید صلح پایدار و دوستی عمیق بین دولت پادشاهی افغانستان و جمهوری مردم چین معتقد اند که تقویت روابط حسن همجواری و همکاری های دوستانه بین دولت پادشاهی افغانستان و جمهوری مردم چین با منافع اساسی مردم دو کشور و تحکیم صلح در اسیا و جهان مطابق است.

به این مقصد تصمیم گرفتند به اصول اساسی منشور ملل متحد و روحیه کنفرانس باندونگ معاهده هذا را عقد و به این منظور نماینده گان مختار خود را تعیین کردند:

از طرف اعلیحضرت همایونی پادشاه افغانستان سردار محمد نعیم معاون صدر اعظم و وزیر امور خارجه

از طرف رئیس جمهور جمهوری مردم چین مارشال چن ئی معاون صدر اعظم و وزیر امور خارجه

نماینده گان مختار فوق الذکر پس از معاینه اعتبار نامه های خود که آن را برای این مقصد درست و به شکل مناسب یافتند، به مواد آتی موافقت کردند:

**ماده اول:** دولتین متعاهدین استقلال و حقوق سیادت تمامیت ارضی یکدیگر را شناخته، احترام می کنند.

**ماده دوم:** طرفین متعاهدین علایق دوستی مسألمت آمیز را بین شان حفظ و آن را توسعه خواهند داد و متعهد می شوند تا کلیه منازعات شان را بدون توصل به قوه از طریق مذاکرات مسالمت آمیز حل و فصل شوند.

**ماده سوم:** هر یک از متعاهدین تعهد می کنند بر علیه یکدیگر تجاوز نکنند و به هیچ یک از اتحادیه های نظامی که علیه شان باشد، شرکت نکنند.

**مـاده چهـارم:** طرفیـن متعاهدیـن جهـت توسـعه و اسـتحکام مزیـد روابـط اقتصـادی و فرهنگـی بیـن دو کشـور متکـی بـه روحیـه دوسـتی و همـکاری و مطابـق باصـول مسـاوات و مفـاد متقابـل و عـدم مداخلـه در امـور داخلـی یکدیگـر موافقـت کردنـد.

**مـاده پنجـم:** معاهـده هـذا تابـع طـی مراحـل قانونـی اسـت و اسـناد مصدقـه آن بـه زودی ممکنـه در پیکنـگ تبادلـه خواهـد شـد.

معاهـده هـذا پـس از تعاطـی اسـناد مصدقـه آن فـوراً مرعـی الاجـرا گردیـده و بـرای مـدت ده سـال اعتبـار داد.

در صورتـی کـه یکـی از متعاهدیـن خواسـته باشـد ایـن معاهـده را فسـخ کنـد، لااقـل یـک سـال قبـل از ختـم دوره معینـه، ایـن معاهـده توسـط نـوت کتبـی بـه طـرف اطـلاع بدهـد، در غیـر آن بـرای یـک مـدت نامحـدود قابـل اعتبـاد خواهـد بـود. مـشروط برایـن کـه بعـد از انقضـای اعتبـار ده سـاله ایـن معاهـده، طرفیـن حـق داشـته باشـند از تصمیـم خـود بـرای فسـخ معاهـده یکسـال قبـل بـه صـورت کتبـی بـه طـرف مقابـل اطـلاع بدهنـد.

ایـن معاهـده بـه تاریـخ ۴ سـنبله ۱۳۳۹ مطابـق ۲٦ اگسـت ۱۹٦۰ در دو نقـل بـه السـنه فارسـی، چینـی و انگلیسـی در کابـل عقـد و بـه امضـأ رسـیده اسـت. مـتن همـه آن هـا مسـاویانه معتـبر اسـت.

نماینده مختار

اعلیحضرت همایونی پادشاه افغانستان

محمد نعیم

معاون صدر اعظم و وزیر امور خارجه

نماینده مختار

رئیس جمهور مردم چین

چن ئی

معاون صدر اعظم و وزیر امور خارجه

## ضمیمه-۲

### مسوده معاهده سرحدی بین دولت پادشاهی افغانستان و جمهوری مردم چین

به منظور تامین و توسعه مزید علایق دوستانه و حسن همجواری که خوشبختانه بین دو کشور آزاد و دارای حق حاکمیت افغانستان و چین موجود است.

مصمم به این که خط سرحد موجوده بین افغانستان و چین را در منطقه پامیرها بر حسب اساسات احترام به حق حاکمیت و تمامیت خاک همدیگر و عدم تجاوز متقابل و اساسات دهگانه کنفرانس باندونگ و با روحیه دوستی و همکاری و حسن تفاهم باهمی و به صورت رسمی تحدید و علامه گذاری کنند.

با عقیده راسخ به این که تحدید و علامه گذاری رسمی سرحد بین دو کشور صلح و امنیت این منطقه را مستحکمتر می گرداند.

بدین منظور تصمیم اتخاذ کرده اند که معاهده هذا را عقد کنند نماینده گان مختار شان را تعیین کردند:

از طرف اعلیحضرت پادشاه افغانستان

ډاکټر عبدالقیوم

از طرف رئیس جمهوری مردم چین

مارشال چن ئی

که ایشان صلاحیت نامه های همدیگر را ملاحظه و به و جه احسن مدار اعتبار یافته و به موادآتی موافقت کرده اند:

**ماده اول:** طرفین متعاهدین موافقت دارند که خط سرحد بین دو کشور اعتبار از قله یی به ارتفاع ۵۶۳۰ متر با کوردیناتی تقریبی ۳۷۰۰۳ شمالی و ۴۴۰۳۶ شرقی که نقطه نهایی جنوبی آن ست، امتداد آبریزه سلسله کوه مسئخ بین سرچشمه های رود آمو و رود و اخجیر قسمت های علیای رود واخان از یک سو و رود قره جقور سو-یکی از شعب رود تاشقرغان و از سوی دیگر سیر کرده از کوتل واخجیر (که در نقشه چینی به نام دبان واخجیر جنوبی ذکر شده)به ارتفاع ۴۹۲۳ متر از دبان واخجیر شمالی

(کـه تنهـا در نقشـه چینـی تـذکار یافتـه) از دبـان فوکتـورک غربـی (کـه تنهـا در نقشـه چینـی تـذکار یافتـه) از کوتـل قـره جلکـه کـه در نقشـه چینـی بـه نـام دبـان قوکتـورک کـه شرقـی یـاد گردیـده از کوتـل مهـمان پلـی (کـه در نقشـه چینـی بـه نـام دبانتـوک مـن سـو یـاد گردیـده) از دبـان هریـک تـاژ کـه تنهـا در نقشـه چینـی تـذکار یافتـه و (از کوتـل تقـر منسـو کـه در نقشـه چینـی بـه نـام دبـان کـوه گـردش کـول یـاد گردیـده) عبـور کـرده، برقلـه موسـوم پولوستوکرسـکی کـه (در نقشـه چینـی بـه نـام قلـه کوکراشـکول یـاد شـده) بـه ارتفـاع ۵٦۹۸ مـتر مـی رسـد.

سراسر خـط سرحـد چنـان کـه در ایـن مـاده تعریـف گردیـده اسـت، در نقشـه افغانسـتان بـه مقیـاس ۱:۲۵۳۴۴۰ بـه زبـان فارسـی و در نقشـه طـرف چیـن بـه مقیـاس ۱:۲۰۰۰۰۰ در زبـان چینـی ترتیـب گردیـده، نشـان داده شـده کـه ایـن دو نقشـه بـه معاهـده هـذا ضمیمـه گردیـده انـد. هـر دو نقشـه فـوق الذکـر دارای کلـمات فرعـی، امتـدادی و انگلیسـی مـی باشـند.

**مـاده دوم:** طرفیـن متعاهدیـن موافقـت دارنـد در هرجایـی کـه خـط سرحـد بیـن دو کشـور خـد آبریـزه را تعقیـب مـی کنـد، خـط تبغـه هـمان سلسـله خـط سرحـد محسـوب گـردد، و هرجایـی کـه خـط سرحـد از یـک کونـل (دبـان) عبـور کنـد، خـط تقسـیم آب خـط سرحـد محسـوب گـردد.

**ماده سوم:** طرفین متعاهدین موافقت دارند به این که:

۱. همیـن کـه معاهـده موجـوده مرعـی الاجـرأ مـی گـردد، یـک کمسـیون مشـترک علامـه گـزاری سرحـدی افغانـی و چینـی کـه مرکـب از عـده مسـاوی نماینـده گان و چندیـن مشـاور از هـر طـرف اسـت، تشـکیل داده خواهـد شـد، تـا سروی ثابـت خـط سرحـد بیـن دو کشـور و اعـمار علایـم سرحـدی بـه اسـاس متحویـات مـاده اول معاهـده موجـوده را در محـل انجـام داده و سـپس پروتوکـول مربـوط بـه سرحـد بیـن دو کشـور را تسـوید کـرده و نقشـه هـای سرحـد را کـه بـه صـورت مـشرح مسـیر خـط را بـا موقعیـت نشـانه هـای سرحـدی در روی اراضـی سرحـد توضیـح مـی کنـد، آمـاده کننـد.

۲. پروتوکـول و نقشـه هـای سرحـدی متذکـره پاراگـراف اول همیـن مـاده،

بعد از این که به امضای نماینده گان هر دو حکومت رسیده و مرعی الاجرأ می گردد، به معاهده موجوده ضمیمه گردیده و نقشه های سرحدی که توسط کمسیون مشترک علامه گزاری سرحد ترتیب گردیده اند در عوض نقشه های ضمیمه معاهده موجوده قبول می گردد.

۳. به مجردی که پروتوکول فوق الذکر و نقشه های سرحدی به امضا برسند، وظیفه کمسیون مشترک علامه گزاری سرحدی افغانستان و چین انجام می یابد.

**ماده چهارم:** طرفین متعاهدین موافقت دارند هرگونه اختلاف نظر که مربوط به سرحد باشد، پس از علامه گزاری رسمی سرحد بین دو کشور بروز کند به اساس مشوره دوستانه بین دو طرف فیصله می گردد.

**ماده پنجم:** ماهده هذا از روز امضای آن مرعی الاجرأ می گردد.

این معاهده به تاریخ ۱۳۴۲/۸/۳۰ خورشیدی برابر با ۱۹۶۳/۱۱/۲۲ میلادی در دو نسخه به زبان های دری و چینی و انگلیسی ترتیب گردیده که هر سه متن دارای اعتبار مساوی است.

داکتر عبدالقیوم

نماینده مختار دولت پادشاهی افغانستان

مارشال چن ئی

نماینده مختار جمهوری مردم چین

# ضمیمه-۳

## د افغانستان او چین ستراتیژیک تړون ۲۰۱۲

د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د چین ولسي جمهوریت ترمنځ د مشارکت د جوړېدو او ستراتیژیکي همکارۍ ګډه اعلامیه[۵۰۱]

د چین ولسي جمهوریت د جلالتمأب رییس جمهور هوجین تاو په بلنه، د افغانستان د اسلامي جمهوریت رییس جمهور حامد کرزي د شانګهای د همکاریو سازمان د مشرانو په دوولسمه غونډه کې د ګډون او له چین څخه د لیدنې لپاره د ۲۰۱۲ کال د جون له ۵مې تر ۸مې پورې دغه هېواد ته سفر وکړ او د جون په ۸مه یې د چین له رییس جمهور ښاغلي هوجین تاو سره ولیدل.

د دواړو هېوادونو رییس جمهورانو د دوه اړخیزو اړیکو او د علاقې وړ ګډو سیمه ییزو او نړیوالو موضوعاتو په اړه تفصیلي او په څرګنده ډول په ملګرې فضا کې د نظرونو تبادله وکړه او ستراتیژیکې همکاریو پر ګډې اعلامیې موافقې ته ورسیدل.

د افغانستان و چین ترمنځ د دوستانه اړیکو د لرغونتیا په پام کې نیولو سره، دواړه مشران پر دې همغږې دي، چې د ۱۹۵۵ کال د جنورۍ له شلمې نېټې راهیسې د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکي اړیکې ټینګې شوي د دواړو هېوادونو پرله پسې د سوله ییز ګډ ژوند پنځو اصولونو ته تل پابند پاتې شوی او په باور، ملاتړ او متقابل احترام پر بنسټ یې دوه اړخیز چلند کړی. پر همدې بنسټ د دواړو هېوادونو ترمنځ د لرغونې دوستۍ مزي مضبوط پاتې شوي دي. له هغې وروسته چې افغانستان په ۲۰۰۲ کال کې د سولې ټینګښت او بیا رغونې بهیر پیل کړی، د افغانستان او چین ترمنځ د اړیکو نوی فصل هم ورسره پرانیستل شوی دی. د سیاسي زیاتېدونکي باور او د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ پراختیا، ښه ګاونډیتوب او ښې دوستۍ دغه مشارکت او جامع همکاري د دواړو هېوادونو په ګټه تمامه شوې ده.

د دواړو هېوادونو مشران په دې نظر دي، چې سیمه ییز او نړیوال شرایط له جدي او

۵۰۱ د نقیب الله مل له کتاب (افغانستان او چین ډیپلوماتیکې اړیکې) څخه په مننې واخیستل شو.

پیچلو بدلونونو سره مل دي. د موجودو ننګونو د لرې کېدا او په سیمه کې د سولې، ثبات او انکشاف د ټینګښت لپاره باید دواړه هېوادونه خپلې دوه اړخیزو اړیکو ته له ستراتیژیک نظره وګوري او هغو ته لا پراختیا ورکړي. د همدغه هدف لپاره دواړه هېوادونه پر دې هوکړې ته رسیدلي چې د افغانستان او چین ترمنځ د ستراتیژیکې همکارۍ او مشارکت په نوم چوکاټ برابر کړي او د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ته دنده سپارل شوې ده چې د دغه مشارکت او ستراتیژیکې همکارۍ د تحقق لپاره د یوې کاري برنامې پر طرحې کار پیل کړي.

د دغې ستراتیژیکې همکارۍ د متحوا او د اساسي اصولو له مخې، د چین ولسي جمهوریت او د افغانستان اسلامي جمهوریت (له دې وروسته د لورو په نوم) دغو لاندې تفاهمونو ته ورسیدل.

۱. دواړه لوري غواړي چې خپلې همکارۍ او ستراتیژیک مشارکت د سوله ییز ګډ ژوند د پنځو اصولونو له مخې د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور د مندرجو موخو او اصولو او د نړیوالو قوانینو د منل شویو موازینو پر اساس او هم د چین د ولسي جمهوریت او د افغانستان اسلامي جمهوریت ترمنځ د ۲۰۰۶/۱۳۸۵ کال ښه ګاونډیتوب او دوستانه همکاریو معاهدې مندرجو اساسي اصولو نورو دواه اړخیزو اسنادو په رڼا کې رامنځته کړي.

دواړو لورو موافقه کړې، چې دغه همکاري او ستراتیژیک مشارکت د دواړو هېوادونو ترمنځ یوه دوامداره او جامع اړیکه ده چې د دواړو هېوادونو او د هغوی د خلکو اساسي ګټې خوندي کوي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د لرغونې دوستۍ د ټینګښت لپاره هڅې ګړندۍ کوي او په بېلابېلو سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او امنیتي برخو کې همکاریو ته لا پراختیا ورکوي.

د افغانستان او چین ترمنځ همکاري او ستراتیژیک مشارکت همدا راز په سیمه او له هغې څخه هاخوا د سولې، امنیت، ثبات او انکشاف په لاره کې ګټور تمامیږي.

۲. دواړو لورو موافقه کړې، چې په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، امنیتي برخو کې همکارۍ او هم د سیمې او نړۍ په کچه هماغه پنځه

ستونونه دي چې د افغانستان او چین ترمنځ مشارکت او ستراتیژیکې همکارۍ ته ټینګښت وربښي.

۳. دواړه لوري په دې باور دي چې په لوړه کچه تبادلات د دوه اړخیزو اړیکو د پراختیا لپاره د ځانګړې اهمیت لرونکي دي او ټینګار کوی چې متقابل سیاسي باور په واقعیت کې د افغانستان او چین د اړیکو بنسټ جوړوي. دواړه لوري به په فعاله توګه کار وکړي چې د نړیوالو او څو اړخیزو غونډو او پېښو په څنډو کې د رییس جمهورانو ترمنځ د غونډو تنظیمولو په شمول د دواړو هېوادونو د مشرانو ترمنځ تبادلاتو ته پراختیا ورکړي څو هغوی وکولای شي د دوه اړخیزو اړیکو او د نړیوالو او سیمه ییزو مهمو موضوعګانو او د ستراتیژیکو اړیکو د پراختیا لپاره د نظرونو تبادله وکړي.

دواړه لوري به د تفاهم او د متقابل باور د زیاتولو په موخه د حکومتونو، مقننه قواوو او د دواړو هېوادونو د سیاسي ګوندونو ترمنځ تبادلاتو او همکاریو ته پراختیا ورکړي، په ملي حاکمیت، یووالی او په ځمکنۍ بشپړتیا پورې د اړوندو موضوعګانو په باب د یو بل کلک ملاتړ کوي او اجازه نه ورکوي چې له قلمرو څخه یې د بل لوري پرخلاف هر ډول فعالیت ترسره شي.

د افغانستان لوري (د یو موټي چین) سیاست ته د احترام لپاره پر خپلې ژمنې باندې ټینګار کوی، څرګندوي چې د چین د خلکو ولسي حکومت یو قانوني نظام دی او د چین له ټولې خاورې استازیتوب کوي. افغانستان د تایوان، په تبت پورې د اړوندو ستونزو، سینکیانک او د ستر چین په ګټو پورې د اړوندو نورو مهمو موضع ګانو په باب د چین له دریځ په کلکه خپل ملاتړ څرګندوي.

د چین لوري یو ځل بیا د افغانستان د استقلال، حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي یووالي د احترام لپاره خپله ژمنه نوط کوي او یو ځل بیا د افغانانو د انتخاب پر حق باندې چې کومه لاره د خپل هېواد د انکشاف لپاره د افغانستان د شرایطو له مخې غوره کوی، ټینګار کوي او په افغانستان کې د ملي روغې جوړې له بهیر څخه خپل ملاتړ اعلانوي. د چین لوري باور لري چې افغانستان به ډېر ژر د خپلو خلکو په هوډ او د خپلو سیمه ییزو او نړیوالو

همکارانو په ملاتړ او همکارۍ په سولې، ثبات او انکشاف باندې برلاسي شي.

۴. دواړه خواوې موافقه کوي، چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او د چین د خلکو ولسي جمهوري دولت به د ۱۳۸۵ کال د موافقې له مخې د سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو او د سوداګرۍ او پانګې اچونې د پراختیا لپاره د نویو لارو چارو د لټولو په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

دواړه خواوې موافقه کوی، چې خپلې عملي همکارۍ به د انرژۍ د سرچینو، د بېخ بناوو د انکشاف، انجینرۍ او د کرنې په برخو کې پیاوړې کړي. د چین لوری یو ځل بیا په افغانستان کې په سوله ییزه توګه د بیا رغونې له بهیر څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. چین به د خپل توان په چوکاټ کې د تل په څېر له افغانستان سره مرسته وکړي او د چین ځواکمن شرکتونه به د افغانستان په جوړولو او انکشاف کې برخې اخیستلو ته وهڅوي.

د چین لوري اعلان وکړ چې د چین حکومت به د ۱۳۹۱ کال لپاره د افغانستان دولت سره ۱۵۰ ملیونه یوان بلا عوضه مرسته وکړي. افغان لوری د افغانستان د سولې او بیا رغونې لپاره په تېرو اوږدو کلونو کې د چین د مخلصانه مرستو قدرداني کوی او د دغه هېواد له نویو ژمنو او مرستو یې مننه وکړه.

۵. دواړو لورو څرګنده کړه چې افغانستان او چین د دوستۍ او دوستانه تعاملاتو اوږده مخینه لري. د دواړو هېوادونو ترمنځ ولسي تبادلات له سالم بنیاد څخه برخمن دي او د لوړ اهمیت لرونکي دي. دواړه خواوې په فرهنګي، تعلیمي، روغتیا، رسنیزو او په نورو بېلابېلو برخو کې د همکاریو د پراختیا لپاره هڅه کوي او د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ د تفاهم او د دوستۍ د لا زیات ټینګښت لباره په بېلا بېلو بڼو ولسي تبادلاتو ته پراختیا ورکوي. دواړه خواوې به په پورته برخو کې د همکاریو د پراختیا لپاره مناسبه فضا رامنځته کړي. د چین لوری به د افغانستان د فني او تخنیکي کار کوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه برابر او هغو ته به دوام ورکړي، لا ډېر فرصتونه به ځوانانو ته د تحصیلي بورسونو په شمول هغه چې د حکومت لخوا

تمویلیـږي برابـر ترڅـو پـه دې ترتیـب سره د افغانسـتان د انکشـاف او پراختیـا لـه بهیـر څخـه لا ډېـر ملاتـړ تـرسره شي.

٦. دواړه لـوري ترهګـري، افراطګرايـي، بېلتـون غوښـتنه او سـازماني جرمونـه چـې پـه هـره بڼـه وي پـه کلکـه مـردود ګڼـي. دواړه خـواوې موافقـه کـوي، څـو خپلـې تبادلـې او همـکارۍ پـه امنیتـي برخه کـې د فراملي ګواښـونو پرخـلاف لکـه تروريـزم، غيـر قانـوني کـډوالي، نشـه يـي توکـو قاچـاق او وسـلې پرضـد د ګـډې مبـارزې لـه لارې پيـاوړې کـړي او د اسـتخباراتي معلوماتـو او د سرحداتـو د مديريـت د همکاريـو کچـې تـه لوړتيـا ورکـړي. دواړه خـواوې بـه همـدا راز د سـاري ناروغيـو د وقايـې، لـه طبيعـي پېښـو څخـه د مخنيـوي او د هغـو د کمښـت پـه لاره او پـه نـورو غيـر امنيتـي برخـو کـې خپلـې همـکارۍ ټينګـوي. د چيـن لـوری پـه قاطـع ډول د تروريـزم او نشـه يـي توکـو پرخـلاف د مبـارزې پـه لاره او د مـلي ثبـات د سـاتنې پـه برخـه کـې د افغانسـتان لـه هڅـو ملاتـړ کـوي او لـه نړيوالـې ټولنـې غـواړي چـې د افغانسـتان لـه دغـو هڅـو ملاتـړ وکـړي.

د افغانسـتان لـوری درې مـردود ځواکونـه لکـه ترهګـري، افـراط ګرايـي، او بيلتـون غوښـتنه سره د مبـارزې پـه لاره کـې لـه چيـن څخـه خپـل کلـک او دوامـداره ملاتـړ يـو ځـل بيـا څرګنـدوي او پـه افغانسـتان کـې بـه د چيـن د اتباعـو او چينايـي بنسـټونو خونديتـوب لپـاره محسـوس اقدامـات تـر لاس لانـدې نيـسي.

۷. دواړو خـواوو څرګنـده کـړه چـې د سـيمې او نـړۍ پـه حالـت کـې لـه پراخـو او پيچلـو بدلونونـو سره لـه مخامـخ کېـدو سره سره افغانسـتان او چيـن خپلـې همـکارۍ او همغـږي د ملګـرو ملتونـو د سـازمان او د څـو اړخيـزو موازينـو لـه مخـې پراخـوي او لـه يـو بـل سره بـه پـه تمـاس کـې وي او خپـل دريـځ بـه د مهمـو سـيمه ييـزو او نړيوالـو موضـع ګانـو پـه اړه هماهنـګ سـاتي. دواړه لـوري بـه د اسـيا د جنـوب د همکاريـو سـازمان (سـارک) پـه چـوکاټ کـې خپلـې همـکارۍ او همغـږۍ لا پراخـوي.

د چيـن لـوری د شـانګهای د همکاريـو پـه سـازمان کـې د ناظـر غـړي پـه شـمول د افغانسـتان لـه پـراخ رول څخـه هرکلـی کـوي او د سـيمې لـه هېوادونـو سره د همکاريـو د پراختيـا لپـاره د افغانسـتان لـه هڅـو ملاتـړ کـوي.

دواړه لـوري همـدا راز د اسـتانبول د بهيـر پـه چـوکاټ کـې چـې موخـه يـې پـه افغانسـتان او ټولـه سـيمه کـې د سـولې، ثبـات او انکشـاف د ملاتـړ لپـاره د سـيمې پـه کچـه د بـاور جوړونـې د فضـا رامنځتـه کـول دي، د همکاريـو د دوام لپـاره خپلـه ژمنـه تکـراروي.

۸. د افغانسـتان او چيـن ترمنـځ د مشـارکت او سـتراتيژيکو همکاريـو لـه رامنځتـه کولـو څخـه هـدف د دواړو هېوادونـو ترمنـځ د همـاغـې لرغونـې دوسـتۍ او همـکارۍ لا پياوړتيـا ده. دواړه خـواوې د سـيمې د هېوادونـو انديښـنې او معقولـې ګټـې منـي او هغـو تـه احـترام کـوي او هـم د سـولې، ثبـات او د سـيمه ييـزې پراختيـا پـه لاره کـې يـو لـه بـل سره کار کـوي. دغـه همـکارۍ پـه هېـڅ ډول د درېيـم لـوري پرخـلاف هـدف نـه تعقيبـوي.

۹. افغـان رييـس جمهـور حامـد کـرزی د شـانګهای د همـکارۍ سـازمان د غـړو هېوادونـو د مشرانـو پـه دوولسـمه غونـډه کـې د ګـډون او د چيـن څخـه د ليدنـې لپـاره د چيـن لـه رييـس جمهـور هوجيـن تـاو لـه بلنـې مننـه وکـړه او د چيـن لـوري تـه يـې د دغـې غونـډې د بريـاليتـوب لـه املـه د مبارکـۍ مراتـب وړانـدې کـړل

بيجينګ، د ۲۰۱۲ کال د جون اتمه

پای

د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# افغانستان او چین

## دوه اړخیزې اړیکې (۱۹۵۵ - ۲۰۱۵)



احمد بلال خلیل

افغانستان او چین

دوه اړخیزې اړیکې (۱۹۵۵ - ۲۰۱۵)

احمد بلال خلیل

Center for Strategic and Regional Studies

# Afghanistan and China

## The Bilateral Relations (1955-2015)



Ahmad Bilal Khalil